# مخکتاب

## د فیسبوک دلیکنواو بحثونو ټولګه

شاه محمود میاخیل

کال ۱۳۹۳

کتابښود:

د کتاب نوم: مخکتاب

لیکوال: شاه محمود میاخیل

لومړی چاپ: ۱۰۰۰ ټوکه

د چاپ ځای:

ډیزاین: محمدعباس صافی

د چاپ حق محفوظ دی

بسم الله الرحمن الرحيم

# لړلیک


| | |
|---|---|
| سرلیک | مخ |
| **لومړۍ برخه** | |
| ښه حکومت داري | ۳ |
| **دویمه برخه** | ۲۰ |
| دمیډیا اغیز | ۲۱ |
| اصلی ځیره | ۳۴ |
| چرګه مخکې پیدا شوی که هګۍ | ۳۶ |
| د افغانانو ماغزه ډیر قیمتي دي | ۳۹ |
| د بن او قطر د خبرو شباهتونه | ۴۴ |
| پالیسۍ (تګلارې) | ۴۶ |
| د ناوی او زوم پرته واده | ۴۷ |
| نظر ورکوونکې مجرم نه دی | ۵۱ |
| په ما کې هم خبری کیږی | ۵۲ |
| د افغانستان متوسطه طبقه یا میډل کلاس | ۵۴ |
| دیموکراسي | ۵۸ |
| زما پری سر نه خلاصیږی | ۶۰ |
| د جګړی پای | ۶۳ |
| بیروکرات او سیاست مدار تر منځ توپیر | ۶۸ |
| اوښان او فیلان په بډه وهل | ۷۰ |
| هیرول او ښښل | ۷۱ |
| د مغزونه د عضله کار اخستل | ۷۲ |
| څنګه د چا توصیف وکړو او څنګه چاته | ۷۴ |
| فوځی رقابت | ۷۸ |
| په سیاست پوهیدل | ۸۷ |

# لړلیک

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| ښه کار کوئ د مانه پوښتنه مه کوئ | ۸۹ |
| د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ د پوهنی مدیر | ۹۲ |
| د افغانانو د توازن حس خراب شوی دی | ۹۴ |
| سیاست لوبه ده | ۹۸ |
| ایا د سیاست شاوړي اوسو او که په سیاست | ۹۹ |
| نن ډیر خفه یم | ۱۰۱ |
| د خره مینه لغته ده | ۱۰۹ |
| قومی او سیاسي ټیکه داران | ۱۱۲ |
| د مشر لالا په خاطر دلته راغلی دی | ۱۱۴ |
| د سولې نړیواله ورځ | ۱۱۶ |
| مثبت تغیر څنګه راتللی شی؟ | ۱۱۹ |
| مایوسي د کرکټ ټیم د استقبال په اړه | ۱۲۵ |
| د وټ اچولو اهمیت | ۱۲۸ |
| څنګه ماهي په افغانستان کې نیول کیږی؟ | ۱۳۰ |
| وایي سیاسي اشتباه تلافي نه لري | ۱۳۲ |
| اوس هم لا وخت تیر نه دی | ۱۳۴ |
| دا د غمیزو وطن دی | ۱۳۷ |
| د لوی اختر مبارکي | ۱۴۰ |
| د خان عبدالولي خان سره یادګاري عکس | ۱۴۱ |
| د لوګر والي ارسلا جمال په یاد | ۱۴۳ |
| مړ ولس مړي لمانځي | ۱۴۴ |
| د پښتو ژبې د محاوره لپاره څومره لغاتونه | ۱۴۸ |
| انتخابات وسیله ده که هدف؟ | ۱۴۹ |

# لړلیک


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| د ښځو حقوق په اسلام کې | ۱۵۰ |
| د فساد کچه څنګه کمیدی شي؟ | ۱۵۲ |
| یوه مهمه تاریخي قصه | ۱۵۴ |
| د ځوانانو ستونزې په راتلونکې کې | ۱۵۷ |
| د فقر ریښې په افغانستان کې | ۱۶۲ |
| د جلال آباد ښاریانو ته زیری! | ۱۶۵ |
| د حاجی ګل کریم سره غرمه | ۱۶۶ |
| کونړ سفر | ۱۷۵ |
| د ملنګ جان قبر | ۱۸۰ |
| د کابل امنیتي تدابیر د ضرورت په اساس | ۱۸۴ |
| دوه وړې تاریخي قصې | ۱۸۶ |
| د طوطیانو مصوونیت په استرالیا کې | ۱۸۹ |
| که دا هنګک او بنګک وی نو خدای پاک دی عاقبت | ۱۹۰ |
| د پروفیسور عبدالرسول امین د مړینې څلورمه کلیزه | ۱۹۵ |
| د شطرنج لوبه روانه ده | ۱۹۸ |
| مل هم چېغي وهی او غل هم | ۲۰۰ |
| مرده یک ګپ است | ۲۰۲ |
| نیوکې یا انتقاد زما په لیکنو | ۲۰۴ |
| د نیلسن منډیلا مړینه | ۲۱۱ |
| د امنیتی تړون په هکله څو خبری | ۲۱۲ |
| ایا یوازې پوهه، عادتونه او خصلتونه | ۲۱۷ |
| د افغانستان د پوهنتونو د زړو استادانو تعصب | ۲۲۰ |
| د ځوانانو بی شمیره ستونزی | ۲۲۵ |

# لړلیک


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| احزاب ولی رشد نه کوی؟ | ۲۳۰ |
| تجربه یعنی څه؟ | ۲۴۳ |
| دوه تجربې د روغتون د بستر نه درسره شریکوم | ۲۴۵ |
| پیژندل د دوست او دشمن | ۲۵۳ |
| پنځه ځوانان شهیدان شول | ۲۵۶ |
| د کونړ د ځوانانو شاعرانو او لیکوالانو سره خبري | ۲۵۹ |
| د افغانانو پنځه اساسي ستونځي | ۲۶۲ |
| په ساده ژبه | ۲۶۷ |
| د افغانانو حال | ۲۷۰ |
| هم ګوند لري او هم د ګوند په نامه شرمیږي | ۲۷۲ |
| د انتخاباتي بهیر پیل | ۲۷۵ |
| د روسی فدراسیون په سوشي ښار کې د | ۲۸۲ |
| د افغانستان مشکل د مدیریت دی نه د نظام د | ۲۸۶ |
| څوک زیات محتاج دی؟ | ۲۸۸ |
| د افغانستان نه د شوروی اتحاد د قواو د وتلو په | ۲۸۹ |
| وایي که د توپک نه زړه بدوې نو ښه ورته | ۲۹۱ |
| د کونړ ولایت د غازی آباد په ولسوالي کې د ملی اردو د | ۲۹۳ |
| افغانستان ټیم د کرکټ لوبه د ایشایي کپ په | ۲۹۵ |
| د بعضي ملکانو ملکی ګرمه ده خو وټ نه لري | ۲۹۶ |
| ولې مو د ډاکتر صیب اشرف غنی نه ملاتړ وکړ؟ | ۲۹۸ |
| د پای خبره | ۳۰۴ |

# مخکتاب

## د فېسبوکي لیکنو او بحثونو ټولګه

ښاغلي لیکوال شاه محمود میاخېل یو غوره نوښت کړی دی. د خپلو فېسبوکي لیکنو او پر دغو بیلا بیلو لیکنو او یادښتونو یې د نورو کسانو نظرونه او نیوکې هم رااخیستي او د یوې ټولګې په بڼه یې د هغو د خپرېدو تکل کړی دی. زما په نظر دغه ګام یې له څو اړخونو د پام وړ دی:

۱. فېسبوک (یا مخکتاب) په ټولنیزه میډیا کې تر ټولو مشهوره او د اړیکو نوې اغېزمنه او بېړنی وسیله ده. په افغاني ټولنه کې هم اوس فېسبوک د اړیکو هر اړخیزه وسیله شوې ده، خو لا هم داسې کسان ډېر دي چې تر اوسه دغې ټولنیزې رسنېزې وسیلې ته لاس رسی نه لري. زه فکر کوم چې د دغو په زړه پورې بحثونو په چاپي بڼه حېرول به د دې امکان پیداکړي چې د غه نظرونه او بحثونه له فېسبوکي نړی څخه بهر هم هغو کسانو ته ورسېږي چې فېسبوکي امکانات نه لري او دغه بحثونه یې هلته نه دي لوستي.

۲. بله خبره دا ده چې کله کله په فېسبوکي لیکنو کې له بده مرغه داسې لیکنې، نظرټکي یا کمینټونه او بحثونه هم مخې ته راځي چې رسنیز معیارونه او آن د کلام عفت ته پکې پام نه وي شوی. هغه لیکنې د زړونو د تشولو لپاره وي او انساني، افغاني او رسنیزو ارزښتونو ته پکې پام نه وي شوی.

د ګران دوست شاه محمود میاخېل لیکنې په دې لړ کې دغو ټولو ارزښتونو ته په توجه کښل شوې دي. په توګه نو د فېسبوک فعالانو او لیکونکو ته هم ور ښیي چې دغو لیکنو ته هم باید پوره پام وشي او دغه لیکنې هم باید د بشپړ مسوؤلیت له مخې وشي .

۳. په د غه ټولګه کې د ورځې تاوده مسایل او مهم موضوعات راغلي او خپاره شوي دي. دغه راز د ښې حکومتدارۍ په اړه اړین ټکي په تفصیل سره راغلي دي. دا هغه موضوعګانې دي چې زمونږ په ټولنه کې پرې تاوده بحثونه کېږي، خو غوره کار دا دی چې جدي بحثونه ته وړانې شي. په دې ټولګه کې د دغه ډول جدي او دقیق بحث بېلګې وړاندې شوې دي.

په داسې حال کې چې ښاغلي میاخېل ته د دغې ټولګې د خپریدا مبارکي وایم، په چاپې ټوګه د داسې یو کتاب خپرول یو له نوښته ډک ګام راته ښکاري او هیله من یم چې عام لوستونکي یې هم په لېوالتیا ولولي.

په درنښت

**زرین انځور**

**کابل،** ۱۳۹۲/۱۲/۲۴ ل

۲۰۱۴/۳/۱۴ ع

## دا مخکتاب

زموږ قدرمن دوست ښاغلي شاه محمود مياخېل پرخپل مخکتاب (فيسبوک پاڼه) د خپلو ورځنيو يادښتونو او ليکنو ټولګه چمتو کړې او ديوه ښه نوښت لاره يې پرانيستې ده.

ما وخت ناوخت دښاغلي ليکوال دا پوستونه دهغه پرپاڼه لوستل، چې د ځينو نورو همداسې ګټورو ليکنو په ګډون مې يو ارمان دا و، چې يوازې د بريښناييزو رسنيو پر پاڼو پاتې نه شي او مکتوبه او مطبوعه بڼه هم ومومي.

مياخېل صاحب د سياست، ټولنپوهنې، اخلاقو، فرهنګ، ولسي پوهې، سيمه ييزو حالاتو او خپلو شخصي تجربو محصول ګڼ يادښتونه ليکلي دي، دا ځاځکی ځاځکی دا دی درياب شو چې تاسو هم د خپلې خوښې مرغلرې په کې موندلای شئ.

د دې کتاب يوه ځانګړنه داده، چې (ازهرچمن سمنې  و ازهر دهن سخنې) دی. ددې يادښتونو ليکوال نړی لېدلې ده، د مډرن ژوند تجربه لري، د افغانستان په سياسي، امنيتي او ټولنيز ژوند کې د عملي کار تجربه لري،  د مطالعې او پوهنيزو شننو په يو مرکز کې کار کوي، د وروستيو پېښو نږدې ځارونکی پاتې شوی دی، د خپل ولس ترمنځ او په کلي کې د ژوند حکمت ورسره دی، له فرهنګي کړيو سره ملګرتيا لري او د مطالعې نعمت ور په برخه دی، دا چې ټول سره يوځای شي، د يوه وګړي ذهن په يوه چټک توليدوونکي ميکانيزم بدلوي، چې نوي افکار، طرحې او نظرونه راپنځوي، داسې نظرونه او مفکورې نورو ـ په تېره بيا ځوان نسل ـ ته خورا په زړه پورې او ګټورې وي.

کيدای شي د نورې ټولنې به داسې ليکنوته هومره اړتيا ونه لري، لکه موږ يې چې د لاندينيو لاملونو پر بنسټ ورته لرو:

۱- افغانستان تر کړکېچه د راوتلو په حال کې هېواد دی، موږ په داسې تاريخي دوره کې د منظمو فکري محورونو رامنځته کولو او پرې راټوليدلو ته اړتيا لرو،

موږ که خپلو ملي ارزښتونو ته بېرته ورګرځو، که ملي یووالی غواړو، که د یوې ریښتینې سولې لپاره نظر ورکوو یا هم درفاه او سوکالۍ لارې لټوو، که د مثبتو سیاستونو په لټه کې یو، نو ټول د عامپوهاي له همداسې یوې لارې ترسره کېدای شي.

۲- همدا اوس د هېواد تر پنځوس سلنې پورته شمېر وګړي (ځوانان) دي، مانا یوه لویه برخه نفوس ټولنیزې روزنې ته اړتیا لري، یوازې ښوونځي او پوهنځي نه شي کړای دا اړتیا پوره کړي، باید د پوهاوي نورې لارې هم ولټول شي، ټولیزه میډیا او برېښنا پاڼې یې غوره وسیلې دي، ځکه نو فکر کیږي، چې د دغه ځوان نسل فکري تغذیې ته له همدې کړکیو څخه لاره پرانیزو.

۳- موږ افغانان ترنورو ډیر د خپلو تجربو تبادلې ته اړتیا لرو، د علومو او پوهنو په دې پراخه او ګڼ اړخیزه نړۍ کې په داسې وران ویجاړ حالت کې د نړیوالتوب په چټک کاروان پسې ځانونه نه شو ورسولای. ځکه خو د ښاغلي میاخېل په څېر ګڼ اړخیز شخصیتونه کړای شي، د خپلو کاري او پوهنیزو تجربو په رالېږدولو سره د راروانو نسلونو لپاره بشپړ بېلګه یی مواد رامنځته کړي او په دې توګه خپل ملي رسالت ترسره کړي.

زموږ د دغه ښاغلي لیکوال عمومي روحیه عمل ته د خلکو هڅول دي. ماته د دوی دغه پیغام د دوی په لیکنو کې د یوه (موتیف) په توګه ښکاره شو.

په یوه لیکنه کې چې (څنګه له شعارونو تېر شو؟) نومیږي لولو چې څنګه د هندوستان یوه ټولنیزه تجربه کټ مټ په افغانستان کې هم تطبیقیدای شي . لیکوال د بېلابېلو سیاسي - کلتوري چاپیریالونو تجربې زموږ ترمخې ږدي او هڅه کوي د خپل ولس دویښتیا او روښانتیا لپاره لاره هواره کړي.

یوبل ځای لولو:

(خاموش اکثریت همیشه په تحولاتو کېڅه رول نه لري یوازې د کونډو ښځو غوندې ګیلې او کیسې کولای شي، سیاسي مطرح کېدلو کې هغه څوک مطرح دي، چې ډله ټپله لري، فعاله دي او دریځ لري ...) تاسو ګورئ، چې لیکوال

غواړي ولس له بېتفاوتۍ، تشو ګیلو او بې انسجامه سیاست څخه لاس پر سر کړي او د متشکلو ، هدف مندو او عملي سیاستونو لاربښوونه ورته وکړي.

ډېره ځله له لیکنو سره ټوکې، کیسې، خاطرې، وجیزې او د لویانو خبرې ملې دي، دغه تنوع او لیکنی سینګار چې له لنډیز او ایجاز سره یوځای شي، د لیکنو د لوستلو پر مهال د ستومانۍ مخه نیسي.

د لیکوال ژبه ساده او روانه ده، غواړي په هماغه ژبه لیکل وکړي، چې هره ورځ پرې خبرې اترې کوي، له تعقید او بېځایه ایطال څخه ځان ساتي او په دې توګه د منځني او حتی ټیټ سواد خاوند لوستونکي هم کړای شي، له دې لیکنو څخه هدف او خوند دواړه واخیستلای شي.

زه د ښاغلي میاخیل دغه زیار ستایم، نوښت یې په زړه پورې ګڼم او ځوانو لوستونکیو ته یې د دقیق لوست او د پند وخوند اخیستلو سپارښتنه کوم .

دفکر او عمل اراده مو پیاوړې
څېړندوی عبدالغفور لېوال
۱۳۹۲ کب - ۱۰
کابل - دعلومو اکاډمۍ

## تقریظ

ﷲ تعالی انسان د عقل او منطقی تفکر په ورکولو سره د کرامت د تاج لایق ګرځولې دی. سربیره پر دې یې دا توفیق ور په برخه کړی دی چې خپل فکر او خیالونه د کلامي سمبولونو له لارې نورو انسانانو ته ولیږدوي. د همدې الهې موهبت په مرسته د یو بل په زړونو کې ځانونه ته ځایونه پرانیزي، خو که چیرې د دې سمبولونو په لیږد رالیږد کې بې غوري یا بې پروایې وشي، کیدای شي د ډیرو سرخوږیو لامل وګرځي.

له وینا یې پوهاوي څخه په اوچته کچه که انسان وکولای شي خپل فکرونه او خیالونه په لیکلي او کتابي بڼه څرګند کړای شي دا به د ده لپاره تل پاتي یاد ګار شي.

کتاب او کتابت د کلتور او اند تمدنونو د انتقال غوره وسیله ده.

د بشر په تیر تاریخ کې هغو ټولنو چې خپلې تجربې او انګیرنې نه دي لیکلې، د بشري تمدن په پرمختګ کې د پام وړ برخه نلري.

کتاب او کتابت د یوه نسل اړیکې له راتلونکو سره نښلوي.

په حقیقت کې د پوه او تعلیم یافته کسانو یوه مهمه دنده دا ده چې له خپل ټولنیز او طبیعی چاپیریال څخه خپلې انګیرنې او تحلیلونه راتلونکي نسلونو ته په ادبی بڼه انځور کړي څو هغوی د لیکوال د زمانې څخه سم تصور تر لاسه کړي

میا خیل صاحب ته په کوچنیوالي کې د ده مبارک پلار د زیرک لقب ورکړی و ده په خپل هر کار کې خپله زیرکي ښودلې ده.

دلته د ده دا زیرکي زه ستایم چې د خپل فیس بوک لیکنو ته یې کتابي بڼه ورکړه څو نور لوستونکي چې فیس بوک ته لاس رسی نلری ور څخه بې برخې پاتې نشي.

څرنګه چې د معلوماتو او تجربو شریکول له نورو سره د ټولنې د کلتوري بډاینې سبب ګرځي، میا خیل صاحب په دې کار سره د ټولنې د کلتور د بډاینې په برخه کې خپله ونډه په ښه شان تر سره کړه. زه باور لرم چې د ده لیکنې او په تیره د ده دا کتاب به ډېر کسان په مینه ولولي ځکه یو خو د ټولنې هغه څرګند حقیقتونه یې لیکلي دي چې ګڼ شمیر ورسره مخ دي.

بله دا چې د ده نثري ژبه د هر پښتو لوستونکي لپاره د پوهیدو وړ ده. د ده د لیکوالۍ لوی کمال دا دی چې تل د خلکو په ژبه لیکي.

په لیکنو کې یې تکلف نه لیدل کیږي.

تل وړ او مناسبې کلیمې کاروي او هیڅ کله خپل د زړه خبره د کلیمو لپاره نه جار باسي.

د ده د خپلې دې ټولګې په ځینو ځایونو کې د لوستونکو د ذهني هڅونې په موخه هغه بحثونه هم راوړي دي چې پکې د موافقو او مخالفو نظرونو څرګندونې شوي دي.

زه د ده دا هڅه ستایم.

د اوسني زمانې لوستونکو لپاره یې په زړه پورې بولم او د راتلونکي نسلونو لپاره د اوسني زمانې یو ښه انځور کیدای شي.

هیله ده چې دا اثر په هماغسې ښکلې بڼې سره چاپ شي چې له منځ پانګې سره یې همغږي ولري. او ټول د لیکوال له ژورو تجربو څخه ګټه پورته کړي.

پوهندوی غلام دستګیر خاورین

۱۳۹۳ هجری شمی

۲۰۱٤ میلادي کال

## بسم الله الرحمن الرحيم

### د سر څو خبرې

دا کتاب دوه برخې لري. لومړۍ برخه يې د ښه حکومتدارۍ په هکله زما يوه مقاله ده چې د دې مقالي مينه والو په مختلفو مجلو او د انترنيت په سايټونو کي خپره کړې ده. دا مقاله ما ځکه دلته بيا چاپ ته وسپارله چي زما د فيسبوک دليکنو او بحثونو موضوع په ښه حکومتدارۍ را څرخي نو دا مې اړينه وبلله چې دا مقاله د مقدمه په شکل په سر کې راشي او درانه لوستونکي زما ټولې ليکنې د همدې اړخه و څيړي او بحث پرې وکړي.
د دې کتاب دويمه برخه ليکنې د فيسبوک له لارې خپرې شوي ليکني دي چې سلهاو تبصرې، وړانديزونه او نيوکې پرې د فيسبوک دوستانو او ملګرو کړې وې نو ما دا ليکنې د کتاب په شکل چاپ کړې ترڅو هغه لوستونکي چې انتر نيت ته لاسرسی نه لري او يا د ما سره په فيسبوک کې انډيوالان نه دي هم ترې ګټه واخلي. د فيسبوک دليکنو دا لړۍ روانه ده او په راتلونکې کې هم دا ليکني دوام لرۍ. زه د ټولو هغه دوستانو نه چي زما په ليکنو يي نيوکې کړي او په دې بحثونو کې شريک شوي دي د زړه له کومې مننه کوم. زه د ټولو دوستانو نظرياتو او ښه نيت ته په درنښت سره ګورم ولو که زمونږ تحليونونه، لرليد او وړانديزونه سره متفاوت هم و. زما دا ليکنی هميشه ډيری مختصرې وې او که تفصيل ته ځو نو په هره ليکنه بانديېو کتاب ليکل کيداې شي. زما په دې لیکنو

کې يو پيغام شته او دا زما د ژوند د تجربو، د خپلې ټولنې نه برداشت او ټولنيز مشکلاتو په اړوند ليکنې دي چې وړانديزونه هم پکې شته دی. د دی کتاب بل مقصد دا دی چې مونږ بايد د خبرو اترو، نېوکو او وړانديزونو تحمل ولرو او بحثونه زمونږ د اصلاح په خاطر وي نه دا چې د بحثونو پايله مو په لا زياتو کودورتونو او زړه بداويو باندې تمام شي. تحمل او انتقاد پذيري کورنې او تولنيز ژوند مخ په وړاندې بيا يي.

دا ټولګه تاسې درنو دوستانوته وړاندې کوم داچې دا ليکني ښې دي او که نه، زه هم پرې نه پوهيږم خو دا زما د زړه خبرې دي او خدای دې وکړي د لوستونکو خوښې شي او زمونږ ځوان نسل ترې ګټه پورته کړي.

همداشان د دی کتاب په تصحيح کی محمد حسن حسام صيب چې شاعر، ليکوال او قومي مشر هم دی زيات زحمت ګاللی او خپل قيمتي وخت يي د دې کتاب په تصحيح کی لګولی دی، د زړه د کومې ترې مننه کوم.

د دی نه برسيره اسدالله ساحل د دې کتاب په چاپ او کمپيوتري تصحيح کې ډير زيار ګاللی په خاصه توګه ترې مننه کوم چې په ورين تنديي دا کار وکړ نو په ځوانی دې برکت شي او د الله تعالی د درباره ورته اوږد عمر او ښه ژوند غواړم.

په مينه او درنښت

شاه محمود مياخيل

# لوەڕی برخە بنە حکومەتداری

## ښه حکومت داري

۱۳۹۱- جوزا

**د ښه حکومت دارۍ ځانګړيتوب:**

د ښې حکومت دارۍ د اهميت او ځانګړيتوب په هکله په اسلامي، معاصرو او قد يمو علوموکې ډير تاکيد شوی دي. ښه حکومت داري ټولنه کې ثبات ،د انساني حقوقو مراعات، سولې او انکشاف ته لاره هواره وي.

د ښه حکومتدارۍ اصلي ستنه په يوه ټولنه کې اجتماعي عدالت دي. په قران شريف کې د ښه حکومت دارۍ په اړه ډير تاکيد شويدي. په سورت مايده کې راغلي دي: عَلى أَلاَّ تَعۡدِلُوا اعۡدِلُوا هُوَ أَقۡرَبُ لِلتَّقۡوى وَاتَّقُوا اللّهَ إِنَّ اللّهَ خَبِيرٌ بِما تَعۡمَلُونَ (۸) ژباړه: عدل (انصاف ) وکړئ تاسې ! هم دا عدل ډير نږدې دی تقوا او پرهيزګارۍ ته . همدا شان په سوره ال عمران کې الله جل جلاله فرمايي: وَشاوِرۡهُمۡ فِي الۡأَمۡرِ (۱۵۹) يا پيغمبره له خپلو ملګرو سره مشوره وکړه . او په سوره شورا (۴۲:۳۸) کې الله تعالی فرمايي: (وَأَمۡرُهُمۡ شُورى بَيۡنَهُمۡ ) ژباړه: د مسلمانانو يو صفت دادی چې خپل ترمنځ په کارونو کې سره مشوره کوي . او يا په سوره نسا ايت(۴:۵۸) کی الله تعالی فرمايی: إِنَّ اللّهَ يَأۡمُرُكُمۡ أَنۡ تُؤَدُّوا الۡأَماناتِ إِلى أَهۡلِها وَإِذا حَكَمۡتُمۡ بَيۡنَ النَّاسِ أَنۡ تَحۡكُمُوا بِالۡعَدۡلِ إِنَّ اللّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمۡ بِهِ إِنَّ اللّهَ كانَ سَمِيعاً بَصِيراً (۵۸) بیشکه الله

امر کوي په تاسې (ای مومنانو ) د دې چې وسپارئ تاسې امانتونه اهل د امانت ته اوچې کله د خلکوترمنځ فیصلې کوی باید په عدالت فیصله وکړی.

همدا شان نهه پیړۍ د مخه داسلام لوی عالم ابن قطیبه ویلي : له پوځ پرته حکومت نه شي جوړیدای ، پوځ پیسو ته اړتیا لري، پیسې بې له انکشاف نه نشي لاس ته راوړلې او انکشاف بې له ښې اداری یا حکومتدارۍ نشي راتلای.[1]

په ۲۰۰۲ م کال کې د ملګروملتو مشرکوفي عنا ن د ملکروملتو عمومي غونډې ته وویل چې په نړۍ کې د انکشاف د پراختیا او سولې لپاره ترټولوغوره لامل په سیمه ییز ، ملي اونړیواله کچه ښه حکومتداري ده.

که مونږ د افغانستان تیرو دري څلور لسیزوته چې زمونږ په منځ کې ژوندی تاریخ دي، نظر واچوو نو دجګړواصلي لامل د وارد شوو ایډیالوژیواو مداخلو ترڅنګ د ښه حکومتدارۍ نه شتون و اودا خلا اوس هم شته. د ښه حکومت دارۍ د نه شتون په صورت کې اجتماعي عدالت له منځه ځي ظلم او زیاتي اوج ته رسیږي. کله چې اوج ته ورسیږي نو د ملك د له منځه تلولو، د حکومتونود

[1]http://www.nps.edu/programs/ccs/Docs/Pubs/unands_Jan.pdf (last accessed 18 October 2011)

راپرزیدواو د داخلي جګړو ویره هم رامنځ ته کیږي .وایي چې ان(الله ینصر الدولة العادلة وان کانت کافرة (ولا ینصر الدولة الظالمة وان کانت مؤمنة)[2] یو ملك د کفرلاندی پاتې کیدای شي خو نه د ظلم لاندی. په بل ځای کې راغلي دي : (با لعدل قامت السموات و الارض)[3] د عدل په وسیله ځکمه او اسمانونه ولاړ دی او په خپل مسیر باندی حرکت کوی.

**د ښه حکومت داری تعریف:**

د ښه حکومت داری په هکله نړیوالې اداریې لکه د ملګرو ملتونو انکشافي اداره (یو ان ډی پي)، اروپایي ټولنه ، نړیوال بانك، معاصر(نوو) او قدیم (پخواني) پوهان، ځانګړي تعریفونه لري. همدا شان په اسلامي علومو کې هم د ښه حکومت داری ځانګړي تعریفونه او بیلګي په ښښه شوي دي چې مخکې یې یادونه وشوه. دلته څوتعریوفونه د بیلګې توګه درسره شریکوو.

١.شفافیت، برخه اخستنه، احتساب، موثریت اوهم آهنګي د حکومت داری په ټولوسطوحو کې .

[2]شیخ الاسلام ابن تیمیه په مجموعه الفتوا ۶۳/۲۸ کې ذکر کړې
[3] الألوسي په روح المعاني":۱۰۱/۲۷ : کې مرفوع حدیث بللی

۲.په یو ملك کې د خلکودښه ژوند کولو لپاره په ادارو کې د قدرت استعمال.
۳.تفاهم، مساوات، قانون حاکمیت او په تصمیم ګرۍ کې د ټولو پرګنو ونډه اخستنه .
۴.په عمومي توګه ښه حکومت داري په ټولو رسمي او غیر رسمي ادارو کې د کلتور، روایتونواو اصولو مجموعه ده چې څنګه دوی خپل قدرت استعمالوی، څنګه د خلکو غوښتنو ته غوږ نیسي او څنګه د خلکو ستونزو دحل په موخه پریکړې کوي.

که پورته تعریفونه وڅیړو نو ښه حکومت داري پروژه نه ده بلکه یوه پروسه ده اوکه د دې تعریفونونه خلاصه یا نچوړ راوخلو نو ښه حکومت داري د تصمیم نیونې، برخه اخستنې، او احتساب پروسه ده چې ټولو دولتي او غیر دولتي ادارو او ټولنو ته راجع کیږی. په ښه حکومتدارۍ کې د ټولنې هر وګړی برخه او ونډه لري . د بیلګه په توګه حکومت باید ښه چارواکي وټاکې ، ولس باید ښه وکیلان یا استازي وټاکې او همدا شان ښه وکیلان ښه چارواکې او قضاییه قوه ټاکي. ښه حکمتداری د زنځیر کړیو ته ورته لړۍ ده چې یو کار یې له بل سره تړلی دی او د موټر دماشین په توګه ټولي پرزي سره همزمان باید کار وکړي تر څو موټر په حرکت راشي او بیا ښه ډریور ته ضرورت دي چې د موټر نه موثره ګټه د ولس په نفع تري واخلي.

**د بدې یا نا سالمی حکومتدارۍ انجام یا پایلی په لاندی ډول دي:**

د نا سالمی حکومتدارۍ په پایله کې ټولنه دلاندې ناخوالوسره مخامخ کیږي [4]:

۱. د نا سالمی حکومتدارۍ لومړنی اغیز اداری فساد، رشوت او بډی اخستنه ده. له قدرت څخه نا وړه ګټه اخستنې ته فساد وایي . بډې اخستنه، بډې ورکول او تر منځ یې وساطت یا منځګړیتوب کول دری واړه په اسلام کې، د افغانستان په قوانینو او هم د ولس په منځ کې ناوړه عمل ګڼل کیږي. نو ځکه رسول الله صل الله علیه وسلم فرمایي:الراشی و المرتشی و الرایش، الذی یمشی بینهما . [5]

۲.د ناسالمی حکومتدارۍ په موجودیت کې همیشه د عامه ښیګڼو لپاره د منابعو کمښت رامنځ ته کیږي خلك پانګونې ته زړه نه ښه کوي چې په پایله کې اقتصادې پرمختګ له رکود سره مخامخ کیږي او ولس هم ډول ډول ستونزې ګالي .

---

[4]دنا سالمی حکومت دارۍ دغه لاندی په ګوته شوی ټکی د امریکا د مشهوره پوهنتونستنفورد استاد پروفیسر لیری دایموند د لیکچر برخه ده چې مونږ ته یي په ۲۰۰۶ م کال کې چې ما هلته فیلوشیپ کاوه راکړی و.

[5]رواهأحمد ۲۷۹ وابنأبیشیبة ۶ / ۵۸۷ رقم ۲۱۳۳ والحاکم ۴ / ۱۰۳ والطبراني ۱ / ۸۸ والبزار ۲ / ۱۲۴ رقم ۱۳۵۳ .

۳. کله چې اداري فساد عام شي نود ژوند د هرکار لپاره باید ولس باج یعنی بډې ورکړي .

۴.د دولت مال خپل نه ګڼل د نا سالمی حکومت دارۍ مهمه برخه ده. مونږ او تاسی په موجوده حالاتو کې ګورو چې دولتي مالونه لکه موټر، ودانۍ ، باغونه او یا نور وسایطو نه څنګه ناوړه ګټه اخستل کیږي دوی دغه توکي او اموال خپل ملکیت نه ګڼي نو ځکه خو يې په استعمال کې هم له احتیاط نه کار نه اخلي. د دولتي مالونو په ساتنه کې څنګه چې یو تن د خپل مال نه ساتنه کوي هماغسي ساتنه او پاملرنه باید د دولتي مالونو نه هم وشي. خو دافسوس ځاي دي په عوض د دی چې د دولتي اموالو ساتنه وشي نو دا اصطلاح ویل کیږي چې د سرکار مال دی وهه يي او پروا يي مه کوه . حال دا چې په پخوا وختونو کې به دا اصطلاح وه د سرکار یا دولتي مال درد لري خو مرګ نه لری او که څوك به د دولت پوروړی یعنی باقي و نو د هغه کورنۍ به هم مجبوره وه چې د دولت باقي ورکړي او که نه ټول جایداد یا ملکیت به يې ضبط کیده.

۵.د ناسالمی حکومتدارۍ په پایله کې بی باوري زیاتیږ ي او اجتماعي بې اعتمادي رامنځته کیږ ي. اوس مونږ ګورو چې دولت په خپل ولس او ولس په دولت باور نه لري او د هرې ورځ په تیریدو سره د ولس او دولت ترمنځ واټن زیاتیږي.

۶.د ناسالمی حکومتدارۍ په موجودیت کې اجتماعی شخړې زیاتیږی. مونږ ګورو چې زمونږ په سیموکې کورنۍ او اجتماعي شخړې زیاتې شوي دي چې نه د حکومت تروسی پوره ده چې دا شخړې حل کړي او نه پرې د ولس وس رسیږ ی چې ښه بیلګه یی د شنوارو شخړه ده چې په لس ګونو کسان په خالي ډاګ باندی ووژل شول او اوس هم لاحل شوی نه ده.

۷.کله چې نا سالمه حکومتداري اوج ته ورسیږي نوپه دولتي ادارو(حکومت، پارلمان او قضا) باندې اعتماد کمیږ ي. نه یواځې د دی ادارو فعالیت او هلی ځلی په ټپه دریږ ي بلکې دغه اداري خپل ترمنځ د یو بل د فعالیتونو د خنثی کولو هڅې کوي چې په موجوده حالت کې مونږ دا وضیعت په افغانستان کې ګورو.د دې پر ځای چې د دولت دري ګوني قواوې یو بل حمایه کړي پر یو بل تورونه لګوي او دکارونو د پر مختګ په مخ کې خنډونه را پورته کوي چې دې کار د حکومت اثر ته ډیر زیان اړولی دی .

۸. باالاخره د نا سالمې ادارې په موجودیت یا شتون کې د ولس اقتصادي وضعیت لاپسې خرابیږ ی، بشري او مدني حقوق د پښنو لاندې کیږی او امنیتي وضعیت دومره خرابیږ ی چې د دولت د سقوط سبب هم ګرځي.

خدای دی وکړي چې مونږ دې وروستۍ مرحلې ته ونه رسږو ځکه چې د نظام یا د دولت په ړنګیدو کې د ملت خیر نه شته دی او مونږ ټول باید د نظام د ښه کیدو لپاره هر یو په خپله ساحه کې او تر خپلی وسي کار وکړو. زما په اند د نه نظام نه بد نظام هم ښه دی ځکه مونږ او تاسي د نویمې لسیزی حا لات لیدلي چې د نه نظام په صورت کې ملوك الطوایفی او پاټك سالاری وه او د ولس مال، عزت او ناموس خوندی نه و.

دا چې د ښه حکومتدارۍ په تعریف او ښیګنو اوهم د نا سالمی حکومتدارۍ په پایلو او عواقبو باندی یو څه رڼا واچول شوله نو د ښه حکومتدارۍ په ابعادو باندی رڼا اچول ضروری ده.
نړیوال بانك د ښه حکومتدارۍ لپاره دری جامع یا هر اړخیز ابعاد ټاکلی دی:
۱.سیاسي
۲.اقتصادي
۳. دولتی موسساتوته احترام
دلته د پورته درې اړخونوپه اړه تفصیل ته ضرورت لیدل کیږ ی.

**اول: سیاسی اړخ:**

د ښه حکومت دارۍ سیاسي اړخ د قدرت نیولواو انتخاب پروسه د ه چې په یو ملك کې منتخب او یا انتصابي دولتي چارواکې څنګه د خدمت لپاره ټا کل کیږ ی. که په یو هیواد کې

دولتی چارواکې د یوی سالمې او شفافې پروسه له لارې وټاکل شي نو د ښه حکومتداری د ښه والي نښې او نښانې د همدې پروسې نه پیل کیږي. په سیاسي پروسه کې د ولس رول ډیر مهم دی چې څنګه خپله رایه یو پوه، امانت ګر او د ولس خدمت ګار شخص ته ورکړي. ځکه پوهه، امانت داري او خدمت درې واړه سره تړلي دي . که یو شخص پوه وی خو امانت داره نه وي نو بیا هم د ولس په درد نه خوري او که یو شخص پوه او امانت داره هم وي خو د خدمت جوګه نه وی نو بیا هم دولس په درد نه دوا کیږی. یو شخص باید هم عقل ولری او هم احساس. ګل پاچا الفت صیب عقل د ګوډ سره او احساس د نابینا انسان سره مقایسه کوی. یعنی که یو څوك عقل ولري خو احساس د خدمت کولو ونه لري نو داسی دی لکه ګوډ چې چیرته نه شي تللی او د خدمت جوګه نه دی او که څوك احساس ولري خو عقل ونه لري نوداسی دی لکه ړوند چې سر یي خامخا پر یو ځای لګي او ژوبلیږ ي. نو عقل او احساس باید سره ملګري وي .

کله چې حضرت یوسف علیه وسلم د مصر پادشاه ته ورغی او د خوب تعبیر یی ورته وکړ نوورته یې وویلې چې (انی حفیظ علیم )

[6]یعنی د مصر د خزانوچارې ما ته راوسپاره ځکه چې زه هم امانت داره یم او هم په دی چارو پوهیږم.

دا چې موږ په افغاني ټولنه کې د مشر دټاکلو لپاره د افغاني دود له مخې ډیرې وړ لارې چارې لرو نو افغان ځوانان باید دخپل مشر د ټاکنې په پروسه کې بې تفاوته پاتې نه شي او په جرګه ،مرکه او هم دانتخاباتو په پروسه کې خپله ونډه واخلي .

**دویم: اقتصادی اړخ:**

په اقتصادی اړخ کې دیو دولت ظرفیت د دی یوري تړلي دی چې څنګه خپله منابع او عایدات راټول او هغه په سمه توګه د یوه صحیح پلان او پالیسۍ له لارې مصرف کړي. مونږ ګورو چې په تیرو دری لسیزو کې افغانستان ته د شرق او غرب او هم د عربو او عجمو په سل ګونو میلیارده ډالره، روبل، ریال، او کلدارې راغلې خو دا چې زموږ د وخت حکومتونواو زوراکانو سالمه اداره او سمې پالیسۍ د دې مرستو د لګښت لپاره نه درلودې نوسمه ګټه ترې وانه خستل شوه او افغانستان اوس هم دنړی د فقیرو هیوادونو په لړ کې دی. په اقتصادی او انکشافي بحث کې ویل کیږ ی چې د یو ملك پرمختګ یواځې د دې پورې اړه نه لري چې زیاتې طبیعي زیرمې او منابع ولري ځکه ډیر داسې

---

[6]سوره یوسف ایات نمبر **۵۵**

هیوادونه شته چې ډیرې طبیعي زیرمې لري خو د دنیا فقیر او وروسته پاتې هیوادونه دي او د نا امنه هیوادونو په لړ کې راځی چې ښې بیلګی یې د کانګو، سوډان او نایجیریا هیوادونه دي. اما ډیر داسې هیوادونه شته چې طبیعي زیرمې نه لري خو د نړی د پرمختللوهیوادونو له ډلې څخه دي لکه جاپان او دوبۍ.

که مونږ اسلامی تاریخ ته نظر واچوو کله چې بیت المال کې خیانت نه کیده او مالیه (زکات او عشر) سم ورکول کیده او بیرته د ولس د ښیګڼی لپاره مصرفیده یعنی حکومتداري ښه وه نو اسلامی نړۍ مخ په پرمختګ روانه وه اواسلامی علماءو په نوي نوي ایجادونه کول خوکله چې په بیت المال کې خیانت پیل شو، حکومت داري نا سالمه شوه او د مالیه ورکړې نه ډډه وشوه نو اسلامی هیوادونه مخ په تنزل شول.

**دریم : دولتي موسساتو او قوانینوته د احترام په سترګه کتل:**

دریم مهم اړخ د ښه حکومت دارۍ د دولتي ارګانواو هم د ولس له خوا دولتي موسساتو او قوانینو ته د احترام په سترګه کتل اودهغې منل خورا مهم دي. د افغانستان د اساسي قانون په اساس د دولت د درې ګونو قواو مسولیتونه او صلاحیتونه په ګوته شوي دي. که پارلمان کوم تصمیم نیسي باید اجراییه قوه هغه ومني او د مقننه قوه فیصلې باید تطبیق کړي ولو که د هغوی فیصلې د اجرائیه قوه په تاوان هم وي. همداسی مقننه قوه

هم باید د اجرائیه قوه نظارت وکړي نه چې د اجرائیه قوه په چارو کې مداخله وکړي. د مقننه قوه صلاحیت دی چې وزیرانواو قضاتو ته د اعتماد رای ورکړي او یا دوی صلب د اعتماد کړي خو د وکیلانو فیصلې او رای باید د تنظیمي، قومي او یا شخصي ګټو په بنیاد نه وي بلکه د اهلیت، خدمت اوصداقت پر بنیاد وي. همداشان که قضا کومه فیصله کوي نو طبعی خبره ده چې دقضا فیصلې به د یوي خوا په ګټه اودبلی خوا په تاوان وي خو اجرئیه قوه با ید د قضائیه قوه فیصلې تطبیق کړي. خو قضا ئیه قوه هم باید هیڅ سمتي، قومي او یا شخصي ملحوظات په نظر کې و نه نیسي. د دولتی چارواکوفیصلې باید د عامه ښیګڼواو په ټول ولس باندی یوشان تطبیق شي نه چې د مور میرې سلوك وکړي.

همداشان ولس هم د قوانینو په تطبیق کې خورامهم رول لري اودوی یواځې باید د پولیسواو یا دولت له ویرې په زورقوانین ونه مني بلکه ذهناً دې ته حاضر شي ، چې په یوه متمدنه ټولنه کې ژوند کوي او که د قوانینو نه سرغړونه وکړي نو خامخا جزا ګوري نوباید د مقرراتو او قوانینو په عملي کولو کې مرسته وکړي نه چې د هر سر غړوني لپاره باید سړی عدلي او قضایي ارګانونو ته راوکښنیل شي ځکه د هري قضیه په تعقیب او تطبیق کې دولت مالی لګښتونو ته ضرورت لري او په دي توګه به د دولت مال چې

په حقیقت کې د ولس مال دی بیځایه نه مصرفیږي او په عوض د دې به دغه پیسې د ولس د ښیګڼې لپاره په مصرف ورسیږ ي.

مونږ د لیکل شوي قوانینو ترڅنګ، ډیرنا لیکلي قوانین او اصول په کور، کلی او ټولنه کې هم لرو چې هغه هم په ښه حکومت دارۍ باندی اغیز لري. د بیلګه په توګه د یوبل سره مرسته، د مشرانو احترام، په عامه کارونو کې برخه اخستل چې مونږ ورته اشر وایو خورا مهم دودونه دی. حتی پخوا به د سړکونو، ښوونځیو او دولتي ودانیو جوړول او یا د خپلې سیمې او کلي امنیت ساتل هم په بیګار کې داخل وه او خلکوبه په کې برخه اخسته. نوپه دی توګه پخوا خلکوآرام ژوند درلوده که څه هم په پخوا وختونو کې اقتصادی ژوند او د علم سطحه یا کچه د اوس نه ډیره ټیټه وه خو زمونږ مشرانو زمونږ په پرتله آرام ژوند درلوده ځکه چې پخوا حکومتداري ښه وه اوخلکو په ښه حکومتدارۍ کې برخه اخسته او هم قناعت و. پخوا نه دومره کمکونه و او نه دومره انجوګاني. ځکه مفتی پیسی راتګ او د دی پیسو نه بیځایه ګټه اخستنه د ولس په روان تاثر لری اوولس مفت خوره اموخته کوي او د مفت خورۍ نه ځانونه خلاصول دومره سخت دی چې څنګه روږدي کسان د مخدره موادو د استعمال نه ځانونه خلاصوي .

**دپای خبرې** :

زما په اند د غربي نړۍ د پرمختګ اصلي پنځه علتونه زه په ګوته کولای شم چې په حقیقت کې دوی دا د اسلامي اصولونه اخستي دي او د ښه حکومتدارۍ پورې اړه لري:

۱.د ټکس یا مالیې سیستم دی چې حکومت د خپل ولس نه مالیه ټولوي او تر زیات حده حکومت مالیه بیرته په شفافه توګه د خپل ولس د ښیګڼو لپاره مصرفوي. په اسلامي سیستم کې زکات او عشر هم د ټکس یو سیستم دی او کله چې زکات او عشر په سمه توګه راټولیده او په بیت المال کې خیانت نه کیده نو مسلمانان هم پر مخ روان و.

۲. په امریکه کې شعار دا دی چې یو نسل بل نسل ته کارکوي. یعني تیرو نسلونو که څه کړي د هغه نه مونږ ګټه اخلو او مونږ چې څه کوو نو دهغه نه به زمونږ راتلونکی نسل ګټه پورته کوي. دا عمل د هغه مقوله مفهوم دی چې علی (رض) ته منسوبیږ ی چې وایي د د نیا کار داسي کوه چې هیڅ نه مرې او د اخرت کار داسي کوه چې سبا مرې . خوافسوس زمونږ په منځ کې دا رواج ده چې د کوم کار نه زه ګټه نه اخلم نو ماته یي څه او یا که یوه ژرنده اوړه پیدا کړو نو بیا لاس تر زنې ناست یو ترڅو مو چې هغه نه وي خلاص کړي نور کار نه کوو. مګرپر مختللي هیوادونه په

موجوده پرمختګ قانع نه دي اوپه دې  هڅه کې دی چې نور پر مختګ هم باید وکړي.

**۳**.غربي نړي همیشه په دی فکر ده چې دوی به خپل وطنونه پخپله جوړوي  او بل چا ته به  سترګې په لارنه دي خو مونږ په دې  فکر یو چې نوربايد مونږته هر څه وکړي. په پښتو کې متل دی وايي چې ته حرکت وکړه خدای به په کې برکت واچوي. که مونږپه رښتيا د وطن د جوړيدو فکرپه خپل ځانونو کې پيداکړونوبيا خدای په کې برکت اچوي.

**۴**.غربي نړۍ د پرمختګ بل دليل د قدرت نه ميراثيتوب کې ګوري. کله چې په اسلامي هيوادو کې قدرت ميراثي شونوپيشرفت هم ختم شو ځکه چې د حکومت ټولې  منابع د پادشاهانود عياشي او يا د هغوی د قدرت ساتلو په مقصد مصرفيدې نه د ولس د خدمت لپاره. نوځکه په اسلامي  او غيراسلامي  هيوادونو کې چې چيرته قدرت ميراثي  دی وروسته پاتې دي.

**۵**.د بيان آزادي. د بيان آزادي  په يوه ټولنه کې خورا مهمه ده البته د بيان آزادي دې  ته نه وايي چې يو بل ته سره ښکنځلی يا دښنمي  وکړو . د بيان آزادي  د يو بل نظريانو او انديښنو ته غوږنيول او د ستونځو د حل لپاره يوه معقوله لار پيدا کولو ته

وايي. د نظر اختلاف او حتى سياسي رقابت او دښمنۍ سره بايد فرق ولري. متاسفانه زمونږ په ټولنه کې سياسي رقابت او د نظر اختلاف د دښمنى سره پرتله کيږي او د يو بل سره دښمنى پرې کوي. مونږه په خپله ټولنه کې ګورو چې د انتخاباتو د راى ورکولو په پروسه کې څومره دښمنۍ رامنځ ته کيږ ي حال داچې په پرمختللې ټولنې داسې نه دي . يوه ورځ حضرت عمر(رض) خطبه ويله نو سلمان فارس غوندي فقير صحابي ور پورته شو او ورته وويلې : عمره مونږ ستا خطبه نه اور. او ستا اطاعت نه کوو! حضرت عمر (رض) خپله خطبه بس کړه او د منبر نه راښکته شو او ورته يي وويلي چې ولې زما خطبه نه اورې ؟. سلمان فارس (رض) ورته وويل چې مونږ ستا خطبه ځکه نه اورو چې تا بې عدالتي کړې او د يو غير عادل سړي خطبه اوريدل نا روا دي. حضرت عمر (رض) ورته وويل چې ما څه بى عدالتي کړې ده. ده ورته وويل چې کله مونږ ټوټه (تکه) تقسيموله نو ټولو مساوي حصه واخستله خو د هغې کپړې نه زمونږ کالي (جامې) سمى نه دى راغلى او ستا جامي اوږدى دي نو تا زياته کپړه اخستې ده نو تا بې عدالتي کړى ده. حضرت عمر(رض) ورته وايي چې د دى اعتراض ځواب به زما زوي عبدالله درکړي. د حضرت عمر(رض) زوى پاڅيږ ي او وايي چې تاسې ګورى چې زما زړې کپړې په غاړه دي او ما خپله برخه سهم خپل پلار ته ورکړى دى ځکه چې دى د صورته (د قد نه ) غټ و او د هغه کپړى نه يي جامي نه

کیدلي او هم امیرالمومنین دی  نو جامې یي باید سمې  وي. سلمان فارس د دې  وضاحت نه ورسته نه عذر او نه عفوه غواړي او ورته وایي نو ښه ده اوچت شه او خپله خطبه ووایه. که پورته بیلګي ته نظر واچوو نو دا د بیان د ازادۍ  یوه لویه نمونه ده څکه یوعادي صحابی څنګه په خپل مشر، امیر یا پادشاه باندی د اعتراض کولو جرئت لري او مشر، امیر یا پادشاه ورته څنګه غوږ نیسی.

د ښه حکومتدارۍ بحث یو ډیر مهم بحث دی او زیات تفصیل ته ضرورت لری خوپه پورته توګه ما یي خلاصه یا نچوړ دلته راوړی او په وړوکې  مقاله کې مې ځا ي کړی دی. امید دی چې زمونږ ځوان نسل تری څه زده کړی او په ورځنی ژونه کې تری ګټه پورته کړی. بی له ښې حکومتدارۍ په یوه ټولنه کې ممکنه نه ده چې امن اوانکشاف راشی.

# دويمه برخه
# د فيسبوک ليکني

**د میډیا اغیز**

دې کې هیڅ شك نشته چې میډیا اغیز لري خو د میډیا اغیز په دوه شیانو پورې اړه لري چې خبرونه او تبصرې یې د مؤثقو منابعو په حواله وي او هم د وخت د ضرورت په بنیاد او د دېبرسیره خلکو ته د سم لوري یو څه لارښوونه هم وکړي یا د ښو سر مقالو په لیکنو او یا د صحیح کارپوهانو د نظریاتو له لارې. که دا دوه کارونه میډیا ونه کړي نو بیابه دوی هم د ها ها پسي روان وی او ولس به د ناسالمو معلوماتو په تورتم کې لاپسي لا لهانده او لار به ترې ورکه کړي. اوریدونکو، لوستونکو او لیدونکو د میډیا ته هم دا په کار ده چې د سم او ناسمو معلوماتو یو څه چاڼ وکړي،خو چې ګورم زموږ ټکړه او پوه کسان هم اوس په دې مشکلاتو اخته شوي چې هر خبر او اوازه خبر ګڼي . دلته می یوه قصه راپه یاد شوله یو وخت زه خبریال وم او د هغه وخت یو مهم راپور می نشر کړ چې په پاکستان کې د راولپنډی د موقت حکومت کېسه ګرمه وه نو په هماغه ورځ، یوه مجلس کې وم چې زما په راپور یې تبصره کوله د مجلس ځینو ګډونوالو زهله نږدې پیژندم ، ما هم د یوه کس په خبرو کې چې زه یې نه پیژندم مداخله وکړه چې دا ستا خبره سمه نه ده خو هغه کس چې زما په خبر یې تبصره کوله ماته یې وویلی چې ته خبر نه یې ما د امریکا غږ نه دا خبر واوریدیعنې ماته یې زما خپل خبر تشریح کاوه او زه چې ورته نغد ناست وم زما خبره یې نه منله. مطلب د دې خبرو

مېډا دی چې هره خبره چې له میډیاراووځي باید سمدستي قضاوت پرې ونه کړو او لږ څه نور ریسرچ یا تفکر باید پرې وکړو. تاسي پکې څه وایي؟

**ویل او نه ویل**

یو عالم وایي؛ دو چېز تیرگی عقل است، گفتن در وقت خاموشی و خاموشی در وقت گفتن؛ یعنې د خبرو په وخت کې نه ویل او دنه ویلو په وخت کې بیځایه او زیاتې خبرې د ناپوهۍ بیلګه ده. نن سهار مې د ننګیالي یوسف زي دفیس بوك په پاڼه یو مطلب ولوست او په زړه پورې و نو دهغه د خبرو په تائید مونږ بایدیو ځوك یایو قوم په دې ملامت نه کړو چې ولې منظم دی او یا دځانونو لپاره کار کوي. دا دهر قوم او د هر چا حق دی چې د ځانونو لپاره کار وکړي خو مونږ باید د ځانونو نه پوښتنه وکړو چې ولې مونږ منظم کېدای نه شو او هم د ځانونو لپاره کار نه شو کولی ځکه سیاست او قدرت د هغه چا دی چې منظم دي. دا به پرېږدو چې ولې دولت زموږ لپاره کار نه کوي او دا به د تاریخ قضاوت ته وسپارو ځکه دهر دولت کړنې باید په اجتماعي عدالت ولاړې وي او هم دقانون حاکمیت باید په ټولو باندې یوقسم تطبیق کړي. ما سره هم د منظم کېدو کومه ځانګړې فرموله نشته ځکه د پښتنو ډېر تکړه مشران لکه خوشال خان هم په اخرکې د خپل قوم او د خپلی کورنۍ نه بیزاره و ویلې یې چې توبه د ننګه او توبه د

جنګه. که مونږ د ننګ لپاره نوی تعریف پیداکړو او د جنګ نه لاس واخلو نو شاید مونږ منظم شو او نورې ګیلې به نه کوو. نوی تعریف به دا وی چې د اوسني عصر د تقاضاو پر بنیاد خپل ځان، ماشومان، کلي او کور په علمي لحاظ پر مخ بوزو او فکري انکشاف رامنځ ته کړو شاید نتیجه ورکړي او د جنګ او توربېله صفتونو تیر شو او د تفاهم، تحمل او سالم ډیالوګ لاره پیدا کړو.
تاسي په کې څه وایي؟

**څنګه له شعارونو تیر شو؟**

څنګه له شعارونو تیر شو عمل ته ور ودانګو: پرون ما په فیسبوك کې ننګ او غیرت ته د اوسنۍ شرایطو پر بنیاد دیو نوي تعریف پیداکولو په هکله یو څه لیکلي و او ډیرو دوستانو پرې ښې تبصرې لیکلې وې چې له ټولو مننه کوم. په ۴۰مه او ۵۰م میلادي لسیزو کې په هندوستان کې چې پاکستان هم په کې شامل و د زده کړې کچه ټیټه وه نو دوی یو شعار پیدا کړ چېEach one Teach Oneیعنې هر باسواده بایدیو بې سواده با سواده کړي. که په ملك کې لس میلونه با سواده یو یو کس باسواده کړي په یوه کال کې او یا په کمه موده کې نو لس میلیونه با سواده کولی شی حال دا چې دولت په ټول امکاناتو سره لس میلیونه کسان په یوه کال کې با سواده کولی نه شي،مونږ داسېیو بهیرته اړتیا لرو چې هر تن یو کس با سواده کړي، د هغه

ذهنیت روښانه کړي او د تفاهم او سالم دیالوګ له لارې په خپل شاوخوا کې کار وکړي نو ایا مونږ به په شریکه یو لوی مثبت تغیر ته زمینه نه وي برابره کړي؟

**فکر او عمل**

په نورو هیوادونو کې اول خلك فکر کوي بیا **عمل** خو افغانستان کې خلك اول **عمل** کوي بیا وروسته فکر کویچې ښه مو کړي دي که بد یعنې انجام شده **عمل** باندې تبصرې کوو. نو ښه به دا وي چې لومړی له فکر او سوچ کار واخلو او سمدستي قضاوتونه ونه کړو دا اسلامي حکم هم دی چې ژر فیصلې مه کوئ ګوندې بیا به په خپلو کړو پښیمانه شئ (د تفصیل لپاره سوره حجرات، ۲۶ مه سیپارې ته مراجعه وکړئ) تاسي په کې څه وایي؟؟؟

**پاکستان څومره د ډیورند د کرښې نه راننوتلی دی؟**

کله چې مونږ په ۱۳۵۸ کال کې پاکستان ته مهاجر کېدلو نو د پاکستان د ملیشو پاټك یاچېك پوست په ګند آب سمیهکې و او تر خاپښ کنډو پورې یوه لیکه سرِ ك راغځیدلی و چې دې خوا د خویزو قوم پاکستان ته اجازه نه ورکوله چې د دوی په خاوره کې نور داخل شي. د خاپښ کنډو او ګوشتې تر منځ تقریبا ۱۸ ساعته پیاده مزل دی او که په کېلومتر دا مسافه واړول شي نو تقریبا ۳۰-۲۰کېلومترو هم زیاتیږی یعنی دومره واټن پاکستان د ۱۲۵۸ کال راپدې خوا نور هم داخل د افغانستان ته راننوتلی دی.

د پاکستان ادعا دا ده چې د ډیورند کرښه د خویزو د قوم برید دی داچې افغانان د ډیورند کرښه مني یا نه منی جدا خبره ده خو د خویزو د قوم برید د خاپښ کنډو دی نه د ګوشتې د سیمی سره د خویزو منطقه. ځکه د مومندو د قومي بریدونو پر اساس، د ورسك نه تر یکه غونډ پورې دترکزو برید دی، د یکه غونډ نه تر خاپښ پورې د حلیم زو برید دی، د خاپښ نه تر کوداخیلو پورې د خویزو برید دی او د کوډاخیلو نه تر کامه او ګوشتېسیمې پورې د بیزو برید دی. د خویزو قوم وروسته د ګوشتې په سیمه کې ځمکې اخستې او دا سیمه د خویزو په نامه هم یادیږي خو د دې معنی دا نه ده چې د خویزو برید ګوشته دی. د خویزو د قوم برید خاپښ کنډو دی او ځمکه او جایداد هر څوك هر چېرته اخلي.

**د ثور اومه او اتمه**

د ثور اومه او اتمه راروانه ده، څوك مړي غندي او څوك مړي ستایي خو زه وایم مونږ د ستایلو ډیر کم څه لرو ځکه که لږ ژور فکر وکړو هر شخص او یا مشر شاید ارماني فکرونه لرل یایې لري خو که د ارمان د لاسته راوړلو لپاره دیو ملك مشر یا زعیم عملي پلان ونه لری نو بیا ارماني مشران ولس د سختو څپو سره مخامخ کوي او ولس او وطن له ګړنګونو غورځوي. زما په اند مونږ همیشه د ارماني مشرانو ستاینې ډیرې کوو. هر مشر چېخپل ارمان پوره نه کړای شي ماته ناکام مشر ښکاري او د

ناکامو مشرانو، دومره ستاینه نه ده په کار چې مونږ يي کوو او نه دومره غندنه پکار ده چې پری سر ماتوو. تاسي په کې څه وایي؟

## د وطن لپاره کار

زه فکر کوم چې زمونږ د وطن فعالینو (هر څوك چې وي، شخص، ډله، ګروپ، ټیم.....) څو لسیزې هم د ځآنونو لپاره او هم د خپلو ډلو لپاره ښه او بد ټول وکړل نور به بس نه وي چې دا صاحبان د تبلیغیانو په شان راتلونکې یو کال لپاره د وطن لپاره کار وکړي؟

## زما پرې سر نه خلاصیږی

ورونو زما پرې سر نه خلاصیږي چې پښتو یوازی ژبه ده او که پښتو پښتونولي هم ده؟ بعضې کسان پیژنم چې نه پښتو ویلی شي او نه د پښتونولۍ پر لاره روان دي خو په مجلسونو کې داسې اکټونه کوي چې ګوندې همدوی د پښتنو واقعي مدافعان دي او زمونږ ځوان نسل په احساساتو کې غرقوی. ګورئ دې ډله کسانو کې زمونږ ډیر ټکړه شاعران او لیکوالان هم شامل دي نومونه یي نه اخلم خو ډیر یې له هیواد بهر اوسیږي ، تشې خبرې کوي او کورنۍ عقدې لري نو ښه به دا وی چې زمونږ ځوان نسل د راتلونکې په اړه فکر وکړي او تعلیم له لحاظه باید ځانونه تر ټولو مخکې کړی په هسي شعارونو څه نه کیږي.

د عکس په بنیاد قضاوت وکړئ



پرون باران و دا د دهمزنګ سیمه کې اوبه ولاړي وي چې د کابل د سیند نه ډیره کمه فاصله لریخو ښاروال صیب په دینه توانیږي چې د کابل سیندته د دې اوبو د ورتګ لپاره لار پیدا کړي. په همدې شپه پهیو ځای کې میلمه وم یو تن چې بیسواده راته وویل چې ما بیسواده ښاروال کړې زه به درته په ډیر اسانه د کابل لښتي د کابل سیند سره وصل کړم دا خو څه مشکل کار نه دی خو دوی نه غواړي چې ښار سم جوړ کړي. تاسې د دې عکس په بنیاد قضاوت وکړئ دا د کابل ښاردی چې پرون د ښار په هرې کوڅي کېهمداحال و.

## د غمونو خبرونه مې نه خوښیږي

د غمونو خبرونه مې نه خوښیږي ډیر زیات مې لیدلي او اوریدلي دي په تیرو پنځه دیرش کلونو کې له خپله کوره نیولیې ترکلي، ولسوالۍ، ولایت او ټول وطن پورې په لس ګونو نیږدې خپلوان او دوستان او وطنداران پیژنم چې خپل ژوند یې په بیلا بیلو ډولونو له لاسه ورکړی او ډیرې کیسې یې راسره دي خو بیا هم دفراه پیښې چې په محمکه باندې حمله وشوله چې لس ګونه بی ګناه کسان پکې شهیدان او لس ګونه نور ټپیان شول ، ډیر وځورولم چې ولې زموږ وینه دومره زیاته ده چې هره ورځ بی هدفه تویږی. خدای دی ورحمیږی په دې وطن او په دې خلکو.

### د ملانصرالدین کیسه

وایيیوه ورځ ملا نصرالدین په خره سپور و او خره منډې وهلې . چا ترې پوښتنه وکړه چې ملا صیب په کوم طرف روان ي؟ ملا صیب ورته ویلېله ماځه پوښتنه کوې له خره پوښتنه وکړه چې په کوم لورې روان دی. زه خو نه پوهیږم چې د افغانستان حالات په کوم طرف روان دي که ستاسې پرې سر خلاصیږي کولای شئ له ما اوفیسبوک له دوستانو سره یې شریك کړئ . په یو څه چې زه پوهیږم هغه دا دیچې تل به افغانستان وی او تل بهافغانان وي.

## د غوايي ښکرونه

وايي په يوه سيمه کې د غوايي ښکرونه په کټوهکې ننښتي و نو د کلي خلك راټول شوي و ،چې څه وکړي. يو تن ورته وويلي . چې په فلاني ځای يا کلي کې ښه کار پوه دی له هغه نه مشوره واخلئ . کله چې کارپوه صيب ته مسله رسيدلې وه نو هغه ورته ويلي و چې دا خو څه خبره نه ده د غوايي سر پريکړئ . کله چې خلکو د غوايي سر پريکړ، بيا هم د غوايي ښکرونه په کټوه کې بند پاتې و ، يو بل چا وويلې ،چې دې بله سيمه کې يو بل ډير ښه کار پوه شته له هغه هم مشوره واخلئ چې اوس څه وکړو . دويم کارپوه ورته وويلې ، چې اوس کټوه ماته کړئ نو د غوايي‌ښکرونه به له کټوې خلاص شي، باالاخره يې هم کټوهماته کړه او هم يي غوايی حلال کړ. زموږ کار پوهان بعضېوخت مشرانو ته همداسې مشورې ورکوي.مونږ بايد له اوله پخپله فکر وکړو بې له دې چې سمدستي د کارپوهانو په مشورو عمل وکړو. زه چې کله د بعضې کارپوهانو خبرې په تلويزيونو کې اورم که عملې شي نو خدای خبر چې عاقبت به د دی وطن او خلکو څه وي ؟.

## په خپلو بچو څه وکړو ؟

ډير کلونه د مخه د پيښور په ناصر باغ کمپ کې د روسانو د يرغل وروسته د افغانانو د بيلابيلو کمپونو د مشرانو ترمنځ يوه ډيره لويه غونډه جوړه شوې وه. غونډه کې دا پوښتنه مطرح وه

چې ولې د مجاهدینو مشران سره اتفاق نه کوي ؟ د عدم اتفاق لپاره هیڅ دلیل نه و او یوازنې دلیل خود خواهې او شخصې ګټې وي. د غونده په منځ کېیو مشر وویلې چې مونږ خپلو بچېو سره له سختو مشکلاتو سره مخامخ یو. افغانستان کې مو کوشش کاوه چې خپل بچې مکتبونو ته ولیږو چې تعلیم یافته شي تر څو د خپلې کورنۍ ، ولس او وطن په درد وخوري خو ټول رانه کمونستان شول چې زموږ په درد رانغلل. دلته پیښور کې مو مدرسو ته مخه کړه چې بچې مو دینی سبق یاد کړي ټول رانه وهابیان شول او څنګه چېزموږ کمونستانو بچو په موږ پورې خندل اوس دوی هم په موږ پوری خاندي نه پوهیږو چې په خپلو بچو څه وکړو. اوس مونږ هم نه پوهیږو څکه د دیموکراسۍ دور رانه هم خراب شو او بچې مو راپوري تر اوسه خاندي. قضاوت د ثور اومې، اتمې ، د جدي شپږمه اود سپتمبر ۱۱ به تاریخ ته پریږدو ، خو زما په اند د هر دور ښو ته باید ښه او بدو ته باید بد ووایو که دا ونه کړو نو مونږ به د تیرو او راتلونکو نسلونو سره جفا کړي وي.

**مقتدیانو ته د ملا صیب تقریر**

وایییوه جمعه ملا صیب منبر ته پورته شو له خپلومقتدیانو یي پوښتنه و کړه ، چې پوهیږئ که نه؟ مقتدیانو ورته وویل هو پوهیږو. ملا صیب له منبر ښکته شواو ورته یي وویلې داچېتاسې

پوهیږئ نو پوه خلکوته تبلیغ نه دی پکار. بله جمعه چې ملا صیب بیا منبر ته جګ شو بیایي له خپلو مقتدیانو پوښتنه وکړه چې پوهیږئ که نه؟ دا ځل ورته مقتدیانو وویلې نه پو هیږو. ملا صیب بیاله منبر ښکته شو او ورته وویلې و چې داسي نا پوه او جاهل امت ته تبلیغ نه دی پکار. دریمه جمعه چې بیا منبر ته جګ شو ، بیایي خپله پخوانۍ پوښتنه تکرار کړه.داځل نیمایي مقتدیانو ورته وویلېپوهیږو او نیمایي وویلې نه پوهیږو. ملاصیب وویلې اوس مو زما کار اسانه کړ هغه چې پوه دي دا جاهل دې پوه کړي.د افغانانو کیسه همداسې ده هر یوته ځان من او پوه ښکاري خو بل پوهولي نشي . تر څو چې مونږ د افهام او تفهیم ژبه پیدا نه کړو، د یو بل سره همکاري او کار کول مشکل دی. پښتو کې متل دی چې هیڅ داسې وسکه (کشمش) نشته دی چې لشکه (ډکې یا ساقه) و نه لري. هر څوك یو څه مثبت او منفي ټکي لري او هیڅوك کامل نشته ځکه دا صفت یوازی الله لره دی خو هغه څوك چې زیات ښه صفات لري ولو که یو څه نیمګړتیاوې هم ولري باید سره یو شو او د وطن د ثبات او هوساینې لپارهسره کار وکړو.




پرون په امریکه‌کې له زوی سره په موټر کې سپور وم چې دا لوحه می ولیده چې پرې لیکل شوي و کار واش اینډ ډاګ واش (Car Wash and Dog Wash) د موټرو او سپویو د وینځلو ځای.

د خدای ببنلي حضرت باز استاد خبره مې راپه یاد شوله: د مهاجرت په وختونو کې په کچه ګړۍ‌کمپ کې اوسیدو حضرت باز استاد هم هلته اوسیده یوه ورځ ورسره د څو احساساتی حزبیانو بحث شو ورته یې ویلې ، چې ته د پیر صیب (سید احمد ګیلانی) صفت کوې خو هغه خپل سپي ته خیمه وهلې او پکې یې (بادپکه) هم ورته لږولې دی حال دا چې مهاجر په کمپونو کې د

ګرمۍ له لاسه سوځي . حضرت باز استاد ورته وویلی چې د پیر صیب سره خو د سپي قدر شته خو د تاسي سره د انسانانو قدر او قیمت نشته. افسوس دا چې مونږ ته د خپلو ورونو مسلمانانو او انسانانو وژل نصوار هم نه ښکاري حال دا چې په نوره نړۍ کې د حیواناتو قدر هم زموږ په پرتله له انسانانو نه زیات دی.

**نه خلکو سره ښه کوم نه بد**

یو عالم وایيچې زه نه د خلکو سره ښه کوم او نه بد. هر څه چې کوم د خپل ځان سره یي کوم. مونږ که ښه کوو او که بد دا ټول د ځانونو سره کوو نو په کار دا ده چې د ځانونو سره ښه وکړو نه بد.

## اصلي څیره

**چې اصلي څیره د چا ښایي هر چاته**

**اقتدار دی اقتدار دی اقـــــتدار**

د یو مشر یا چارواکي څیره هغه وخت خلکو ته ښه معلومیږی چې د قدرت په وخت کې ښه کوي او که بد. بې قدرته هرسړی د پاکۍ او خدمت ټینګ وهي.

## د تفاهم ژبه نه لرل

زما په اند دافغانانو اصلي مشکل د تفاهم ژبه نه لرل او خود خواهي ده باالخاصه چې کله کوم یو د قدرت په ګدۍ کېنیبیا خو فکر کوي چې ګوندې نه مرګ لري او نه بل ځای چې څه وکړي او تر تله به هم ژوندی وي او هم به د قدرت په ګدۍ ناست وي.

## ننګ اوجنګ

وايي ننګ په غله اوجنګ په وسله کېږی ایا دا پخوانی متل اوس هم د تطبیق وړ دی که نه؟ د ننګ، غلې (دانې) او وسلې مطلب په اوسني وخت کې څه دی؟ زما په اند بیا هم د نن وخت او هم د پروني وخت ننګ به همدا وي چېیو کس، ولس او ملت باید نورو ته محتاج نه وي او چې احتیاج نه اوسي نو بیا څوك د چا پروا نه لري.

د جنګ په هکله زموږ بعضی کار پوهان وایيچېزموږ امنیتي ځواکونه د راتلونکو امنیتي ګواښونو ځواب نشي ویلی ځکه چې زموږ امنیتي فوځونه په لویو وسلو لکه توپونو، ټانکونو او هوایي ځواك سمبال نه دي. زما په اند زموږ دا کار پوهان چې اکثره یي د تیرو رژیمونو جنرالان هم دي، زه ترې دا پوښتنه کوم چې تیرو رژیمونو خو هر څه درلودل او حتی د ډاکټر نجیب الله د رژیم د سقوط په وخت خو د دوی سره په سل ګونو ډوله الوتکې ، په زرګونو ټاکونه، توپونه، سکاد او داسې نورې وسلې هم وې نو ولې د ډاکټرنجیب الله رژیم سقوط وکړ؟ دویم دا چې زه فکر نه کوم چې امریکا یا بل هیواد دې مونږ ته په هغه اندازه وسلې راکړیچې د ګاونډیانو سره مقابله وکړای شو او نه د دې امکان شته چې مونږ د وسلې سیالي د ګاونډیانو سره وکړای شوځکه زموږ دواړه ګاونډیان د وسلو په لحاظ ډیر پرمختلې وسلې لري تر اتومي وسلو سمبال دي او یا سمبالیږي .نوسوال دا دیچې څه په کار دي؟ همیشه فوځ او پولیس د تهدید په پرتله زیاتیږی او کمیږي که مونږ تر څو امنیتي تهدید کم نه کړو فوځي رقابت او زیاتې وسلې څه نه شي کولای. زموږ لوی تهدید حکومت سره د خلکو نه همکاري ده تر څو چې دخلکو او دولت ترمنځ واټن کم نشییوازې وسلې څه نه شي کولی.

**چرګه مخکې پیدا شوی که هګی؟**

په تیرو دوه درې ورځو کې ما یو دوه تبصرې په فیسبوك کې لیکلې وې چې زیاتو دوستانو او ملګرو پرې مثبتې تبصرې کړې وې او هم دوه درې مشرانو او دوستانو څه نیوکې او پشنهادونه درلودل چې د حیات صیب او الوتان صیب پیشنهادونه دا و چې که کاري پلان او تشکیل نه وي نو څه نتیجه نه ورکوی او هم په دې حکومت سر خوږول نه دي په کار. دایي هم لیکلي و چې که ځاځکي سره یوځای نشي بیا هم څه نتیجه نه ورکوي. دا دواړه نیوکې او پیشنهادونه ډیر په ځای دي. دا باید دوستانو ته ووایم چې زه په حکومت کې نه یم او نه د حکومت نه دفاع کوم او د حکومت نه د دفاع کولو ډیری بیلګې شته خو په هر حال مونږ یو سالم حکومت او سالمې اداره ته ضرورت لرو او بې له حکومته هم نه کیږي.

راغلو دی ته چې څنګه سره یو ځای شو؟ که یو ځای کېدل اسانه وی ، نو اوس به وخته شوی وای او مونږ او تاسي به مزی کولې خو اسانه کار نه دی ځکه یوازی په ویلو، مرام نامو او تشکیلاتو هم کار نه کیږی ځکه که مونږ د ټولو احزابو او ډلو مرام نامې وګورو ډیر بد څه په کې نشې پیدا کولی خو سوال دا دی چې ولې نشي کولی چې کامیاب شي؟

درې عمده داخلي مشکلات دوی لري: اول نا سالمه رهبری، دویم عدم اعتماد په خپلومنځو کې، دریم ولس ته د خپل ګوند یا ډلې اهداف نه تشریح کول ،چې د ولس ملاتړ تر لاسه کړي . په خارجی عواملو او مداخلو څه نه وایم ځکه داخلي اړخونه یې ډیر مهم دی.

څنګه کولی شو چې دا درې تشې ډکې کړو؟ د مشرتابه خبره دلته د چرګې او هګۍ مسله ده. چرګه مخکې پیدا ده که هګۍ؟ ایا مونږ اول چرګه پیدا کړو چې هګۍ واچوي او که هګۍ پیدا کړو چې چرګان او چرګي ترې پیدا شي. دویمه مسله د اعتماد ده چې څنګه پر یو بل اعتماد وکړو په داسې وخت کې چې په تیرو پنځه دیرش کلونو کې دومره بی اعتمادي رامنځته شوې چې د سیاسي اهدافو لپاره دوه درې نږدې ملګري او حتی خپلوان هم په یوه لاره نه ځي. نوزما پشنهاد یا وړاندیز دا دی لومړی شناخت مهم دی، بیا تفاهم او وروسته همکاري پیدا کیدای شي چې ځاځکي دریاب شی. اوږده لار ده خو بیا هم ماهي که هر وخت له اوبو راوکاږې نو تازه دی . شناخت یوازې د فیسبوك په خبرو او ملګرتیا نه کیږی ځکه خو زیات شناخت ته ضرورت دی څو شك او شبهی ته ځای پاتې نشي تر څو یوه سمه او سالمه حلقه چې مشترکې موخېیا اهداف ولري رامنځ ته شي بیا نو ددی حلقو د پراخوالي لپاره کار په کار دی. که دا حلقی څومره زیاتې او پراګنده هم وي فرق نه کوي امیددی چې د هغو حلقو ترمنځ چې موخې سره نږدېوي تفاهم

وشي او په عمومي شیانو کې سره یو ځای شي. نو کله چې دې حلقو قوت پیدا کړ نو د اوبو په شان ځان ته مسیر پیدا کولی شي او مشرهم پیدا کولی شي. خو یو شرط لري چې زاړه او ازمایل شوي فکرونه نه وي باید د شرایطو په نظر کې نیولو سره نوې تګ لاره وي.

زما وړاندیز د پورته خبرو په رڼا کې دا دی چې هر څوك دې د خپل په شاوخوا ماحول کې سره راټول شي، وړې حلقې دې جوړې کړي، ځانونوته دې ډیر مشخص او عملي کېدونکې اهداف وټاکي نه ارماني اهداف چېترڅوهویت پیداکړي او بیا دې هر څوك په دې لټه کې شي چې چېرته دا حلقې شته اوڅنګه سره نږدې کېدای شي او څنګه سره د دویمشترکه اهداف عملي بڼه خپلولی شي. نو بیا دا حلقي دزنځیر د کړیو په شان سره یوځای کېدای شي. داسي حلقې او د ځوانانو او نورو ډلو تر منځ همغږي د افغانستان په هر ولایتکې شته دی چې په خپل ابتکار، بې له نورو د مرستې او لاربنوونو جوړې شوې دي او کار کوي. د بیلګې په توګه په ننګرهار کې د ځوانانو څو ټولنې سره یو ځای شویدي او د یو مکتب واټرپمپ خراب و د هغه لپاره یې ۴۰ زره افغانی راټولې کړې وې او هغه یې جوړ کړیدی. دا ټولنی چې دومره همت لري نو دوی داهم کولی شيچې باالاخره په یو سیاسي خوځښت کې هم فعاله ونډه واخلي . په سیاسي علومو کې یوه اصطلاح ده

چې وايي سیاست محلي دی نه ملي. که په محل کې دې څوك ونه پېژني، څوك دې په خبره غوږ ونه خوځوي نو هیڅکله په ملي سیاست کې هم رول نه شي لوبولی. زموږ هغه مشران چې نومونه یې اخستل کېږي او امید ورته شته دی چې څه به وکړي او څه نشي کولای ځکه چې دوی محلي نفوذ او محلي سیاست کولو ته جوګه نه دي خو په مقابل کې دا نورچې امید ورته نه کېږي محلي نفوذ لري او هم د محلي سیاست په چل پوهیږي هر څه یې په خپله ولکه کې ساتلي دي. خبره رانه ډیره اوږده شوه خو که تاسي کومه بهتره لار لری،کېدای شي چې د د وستانو سره یې شریکه کړئ. دا و زما تور توتان له تاسیقربان.

**د افغانانو ماغزه ډېر قیمتي دي**

یو اخبار کې مې ډیر ښخوا لوستي و چې یو دوکاندار (هټیوال) د انسانانو ماغزه خرڅول. دې سړي سره درې قسمه ماغزه و: امریکایي، اروپایي او افغاني. د امریکایي ماغزوبیهیوه چېټاکی یعنېیو خورد په پنځوس ډالره، د اروپایي ماغزو یوه چېټاکې په سل ډالره خو د افغاني ماغزو بیه پنځه سوه ډالره یعنی د امریکایي او اروپایي ماغزو په پرتله څو چنده زیاته وه. نو یوکس د هټیوال نهپوښتنه کړې وه چې ولې د افغاني ماغزو بیه د نورو په پرتله ډیره لوړه ده. دوکاندار چې د افغاني ماغزو ترڅنګ یې لیکلي و چې دا ماغزه سوچه دي د پوښتنې په ځواب کې لیکل

شوي تختې ته اشاره وکړه یعني استعمال شوي نه دي نو ځکه یې بیه د نورو په پرتله لوړه ده او دا نور ماغزه استعمال شوي دي نو د زړو او استعمال شوو ماغزوبیهیا ارزښت په طبیعی توګه ټیټ وي. سوال دا دی چې ایا مونږ د خپلو ماغزو او استعدادونو نه پوره ګټه اخستې او که نه؟ زما په اند مونږ ډیر کم فکر کوو او د خپلو ماغزو نه په سمه توګه کارنه اخلو او که کم یا زیات یې استعمالو هغه هم ډیر په منفي شیانوباندې.

**زما مفکوره**

د ۲۰۱۳م کال د جون په ۱۶مه زه له امریکې نه کابل ته راستون شوم د فیس بوك ملګرو ته مې ولیکل چې زه په خیر بیرته راغلم نو یو ملګري راته ولیکل چې په خیر راغلې هیله ده چې د ځان سره به دېنوې مفکورې او پروګرامونه هم راوړي وي ما ورته په ځواب کې دا لاندې څو ټکي ولیکل:

ګرانو دوستانو له هرکلي مو مننه زما مفکوره زړه خبره ده چې که د موټر انجن خراب وي که ډریور یې سل ځله بدل رابدل شي دا موټر چېرته نه ځي. د بیلګه په توګه د مریض علاج هغه وخت ښه کیدای شی چې مریض د ډاکټر سره همکاري وکړي او ډاکټر هم د مریض نه سمې پوښتنې وکړي او ښه غوږ ورته کېږدي چې سم تشخیصیي وشي او سمه دوا ورکړي ، خو بیا هم مریض باید دوا او د ډاکټر هدایت سم عملي کړي چې ښه شي او که دوا یې ونه

خوږه نو مرض یي بیابابیږی کوي او بیا ورته قوي ډوز په کار دی. داچې ډاکټر هم سم نه وي، تشخیص هم سم نه وي او دوا هم جعلي وي او په دېکې ، مریض لغتې هم وهي نو څه فکر کوئ چې مریض به ښه شي او که نه او که مرض به یي نور هم زیات شي؟ زما په اند افغانان باید پخپلو کې ځانونو ته د حل لار پیداکړي چې د دې ساري مرض نه ،چې څو لسیزې یي دوام وکړځانونه خلاص کړي او که د نورو په تمه کېنو نو کېدای شي چې دا شړی وړی نه شي.

**د سینوهه کتاب**

ډیر محترم مشر حسن حسام صیب راته یو کتاب راوړ چې نوم یي شینوهه دی او د دانش د خپرندویه ټولنی له خوا چاپ شوی دی کتاب ډیر پنډ دی خو په ډیره خوږه ژبه د ډاکټر صیب عیسي ستانکزي له خوا ترجمه شوی دی. دغه کتاب د فرعون د ډاکټر له خوا د میلاد نه ۱۵۰۰ کاله د مخه لیکل شوی دی خو د اوس وخت د حالاتو سره باالکل صدق کوي. زما خوښ شوی دی نو دوستانو ته یي هم د لوستلو وړاندیز کوم کېدای شي ستاسې هم خوښ شي:

لیکوال په سریزه کې لیکي چې: زه باوری یم چې انسان نه بدلیږي؛ که څه هم یو لك کلونه پرې تیر شي. که یو انسان په سیند کې ډوب کړې او بیایي راوباسې نو چې جامېيې وچې شبهماغه

مخکېنی انسان به وي. که یو سړی له غمونو سره مخ کړې پر خپلو کړو به پښیمانه شي خو کله چې له غمونو خلاص شي، بیرته لومړني حالت ته ورګرځي او د پخوا په شان کبرجن او بیرحمه وي. څرنګه چې د ځینو شیانو رنګ او بڼه بدلیږی، د ځینو قومونو ژبې بدلیږي او نوی جامې او خواړه چې پرون نه وول دودیږی، نو خلك فکر کوي چې نن د پرون سره توپیر کوي. خو زه پوهیږم چې داسې نه ده او په راتلونکې کې هم د نن په شان څوك رښتیا نه خوښوي...زه دغه کتاب له دې امله لیکم چې پوهه راسره ده او پوهه د تیزاب په څیر د انسانانو زړه خوري او که انسان خپله پوهه نوروته ونه لیږدوي نو خپل زړه یي له منځه ځي....... ما په خپل عمر کې ډیر شیان ولیدل، ما وکتل چې زوی خپل پلار وواژه، ومې لیدل چې بیوزلو د شتمنو پر ضد او ان د خدایانو پر خلاف پاڅون وکړ. داسې کسان مې ولیدل چې یو مهال یي په زرینو لوښو کې شراب څښل خو داسې وخت هم راغی چې د سیند په څنډه کې یي اوبه څښلې. ومې لیدل چې خپل زر یي په تولو( د طلا وزن کول) تلل خو یوه ورځ یې خپله ښځه د یوه مسې بنګړی لپاره په تور پوستو وپلورله او دا کار یي هم د دې لپاره وکړ چې د خپلې همغې ښځې ماشومانو ته ډوډۍ واخلي.

پخوا زما ځآی د فرعون په ماڼۍ کې و او د هغه په ښی اړخ کې به ناست وم، ډیرو مخورو چې سلګونه مریان به یي درلودل ماته

غوړه مالي کوله او ماته به يي ډالۍ راکولې. نن سبا په دغه ځای کې چې د ختيځ سمندر څنډي دي، ژوند کوم، شتمني مې راسره ده او هماغه ډول بډای يم او مريان مې لاس په نامه راته ولاړ وي. دا چې زه يي د مصر د طبس ښاره تبعيد کړم او دلته يي راوستولم، ټول د دې لپاره وو چې زه په ژوند کې هر څه لرم خو غوارړم داسي شی تر لاسه کړم چې د تر لاسه کولو لپاره يې بايد انسان هر څه له لاسه ورکړي.

ما غوښتل چې حقيقت واکمن وي او درواغ، ريا او چل ول له منځه لاړشي، خو په دې نه پوهيدم چې د انسان په ژوند کې د حقيقت واکمنول ناشونی کار دی او هر څوك چې رېښتيا وايي او غواړي په رېښتينولۍ کې ژوند وکړي، بايد هرڅه له لاسه ورکړي او زه بايد ډير نيکمرغه سړی واوسم چې تر اوسه مې خپله شتمني ساتلې ده...

**د بن او قطر د خبرو شباهتونه**

د جون د میاشتی ۲۰مه ۲۰۱۳ م کال

یو ملګري راته نن په ایمیلکې د بون او قطر د خبرو شباهتونه رالیږلي و: په یوه برخه کې یي لیکلي و چې: په بون کې خاموش اکثریت (افغان ولس) له پامه غورځول شوی و په قطر کې هم غورځول شوی دی. ما په ځواب کې ورته داسې ولیکل:

خاموش اکثریت همیشه په تحولاتو کې څه رول نه لري یوازې د کونډو ښځو غوندې ګیلې او کېسې کولی شي. سیاسي مطرح کېدلو کې هغه څوك مطرح دیچې ډله ټپله لري، فعاله دي او دریځ لري. خاموش اکثریت ته بعضې وخت اکثریت نا ملموس یا بې خاصیت هم ویلی شو او پخواني خلقي نظام کې ورته مرتجعین هم ویل کېدل.

**د پورته نوشته په هکله د یو ملګری د انتقاد په اړوند ما ولیکل:**

جناب شمس صاحب ګفتنی و پیشنهاد شما معقول است اما این الفاظ یاد شده از جمله تاریخ ما است. به هر حال اګر ګروپ های سیاسي فعال در يك مملکت باشد در ان صورت میتواند که جلو خود سری ها ګرفته شود. هر نظام و حکومت باید اپوزیسون قوی داشته باشد تا یکدیګر را کنترول و جلو غیر قانونی بودن را باید بګیرد. اګر ګروپ های فعال سیاسي نه باشد، در انصورت اشخاص، اکثریت اش غیر فعال و غیر موثر میاشد و يك عده

اقلیت خا صتا جوانان زیر نفوذ گروپ های که به ضد منافع ملی کار میکنند، میاید و به راه بد سوق میشود. اگر ما دهه دیموکراسي را مطالعه کنیم، تغیر در نظام و رشد احزاب و گروپ ها ضرورت بود ولی نخبه ها نتوانستند که گروپ ها یا احزاب ملی را به میان بیاورد بخاطر دلایل مختلف، جوانان به گروپ های افراطی چپی و راستی تقسیم شدند و نتایج ان تاریخ زنده سي و پنج سال گذشته است. من نمی گویم که این جوانان ولو که چپ وراست بودند نیت بد داشتند که ملك خود را به این حالت کشانید بلکه احساس داشتند اما امادگی به رهبری مملکت خود نداشتند واله دست دیگران شدند. به هر حال این طور بحث ها باید ادامه پیدا کند تا ازیکدیگر بیاموزیم و تحمل انتقادات و انگشت نما کردن خطایا خود را باید به پذیریم. از توصیه نیك تان يك جهان تشکر اما بعضی وخت که يك کس چیزی نوشته میکند شاید احساسات خود را در نوشته ها نظر به شرایط شنیدن و یا خواندن بعضی چیز که د ماحول اش به وقوع میپوندد، اظهار مینماید. معذرت ما را بپذیرید اگر نوشته من زشت بوده باشد.

**پالیسۍ (تګلارې)**

۲٦ جون ۲۰۱۳ م کال

تیره شپه د یو لوی دولتي چارواکي د ځوی واده ته بلل شوی وم او زما د میز په شاوخواکې هم ډیر ګڼ شمیر دولتی چارواکې و د خبرو اترو په ترڅ کې یوه چارواکي په یو بل نیوکه وکړه چې تا څنګه تیره ورځ په سیمنار کې وویلې چې تر اوسه پورې تاسییوسل او دولس پالیسیانې جوړې کړي دی؟ دا دومره پالیسي په چا عملي کوئ، ښه به داوه چې لږې پالیسۍ مو جوړې کړې وې خو چې د تطبیق وړ وې. دا رښتیا خبره ده چې د ډیر ښه قانون نه چې تطبیقي جنبه ونه لري، نیمګړی قانون ښه دی چې تطبیقي جنبه ولري. یعنې د اډیالیزم نه ریالیزم ښه دی.

**دناوی او زوم پرته واده**

۳۰ جون ۲۰۱۳ م کال

**دوستانو! ایا داسې واده مو لیدلی چې نه په کې د زوم درك لرېږی او نه د ناوې څه پته شته دی. که لیدلی مو نه وي نو همدا اوس چې څه په افغانستان کې راوان دي د ورته واده یوه بیلګه ده. هره ورځ میلمستیاګانې ورکول کېږی، موټرې اخستل کېږی، قسماقسم ورېږ او غټې غونډېکېږي او هره غونډه او میلمستیاو کې دا لاندې څو خبرېکېږي:**

**۱.د دې لپاره چې افغانستان بحران ته لاړ نشي او په راتلونکې کې ثبات وي او ۲۰۱۴ په خیر تیر شی نو د انتخاباتو نه بل لار نشته.**

**۲.ښه نو څوك کاندید دی، د کاندید درك نه لرېږي خو په ملي اجماع، په ټیم جوړولو، په ایتلافونو او داسي نورو پټو معاملو باندې کار روان دی.**

**۳.ښه نو کله به ولس ته اعلانیږي چې چا د چا سره نکاح تړلې ده، کوم د فوټیبال ټیم به د بل ټیم سره مقابله کوي او کوم ایتلاف به په بل ایتلاف باندېیرغل او حمله کوي. نو بیا هم پته نشته دی**

د پورته ابهاماتو په رڼا کې ما ته یو څه نور سوالونه په زړه کېږی او فکر کوم چې زموږ دوستانو سره به هم همدا سوالونه وي:

۱.ایا دا ملي اجماع، ټیم جوړول او ایتلافونه د دې لپاره دي چې د افغانستان د ثبات او ښه راتلونکې لپاره به کار کوي او که یوازې غواړي چې د افغانستان چوکۍ او د غنیمت مالونه په خپلو منځو کې تقسیم کړي؟

۲.ایا د دې امکان شته دی چې ټول ملت په یوه کاندید توافق وکړي؟ زما په اند د دې امکان نشته دی

۳.ایا موجوده حالت د تایدوړ دي که نه؟ زما په اند موجوده حالت د تحمل وړنه دي ځکه حالات دومره بد سترګۍ ته رسیدلي دي چې د کابل په ښار کې د یو وکېل طرفدار په پولیسو حمله کوي، اوه کسه وژني او ۱۵ زخمیان کوي، بل وکیل پولیس ډبوي او یوشمیر کسان د مظاهرې په نامه یو والي په هوا کوي او بل والي مجبوریږي چې استعفا ورکړي.

۴.ایا د سولې خبرې به نتیجه ورکړي او که نه؟ زما په اند په دا رقم چې د سولې خبرې په پراګنده شکل روانې دي د ۲۰۱۴ پوری هیڅ نتیجه نه ورکوي. یواځنۍ پایله به یي داوي چې که ضمنییو څه توافق وشي د جنګ او وژنې کچه که راټیټه شي دا به هم ښه وي.

**۵**.باالاخره انتخابات به وشي که نه؟ زما په اند بي له انتخاباتو هم چاره نشته دی خو نیمګړي او د درغلیو نه ډك انتخابات به هم د افغانستان په ګټه نه وی.

د دی ټولو ابهاماتو تر څنګ دې کې شك نشته دی چې د موجوده نظام دوام او بقا مهمه ده خو په موجوده پالسیوکې مثبت تغیر باید حتمي وي او که راتلونکی هم د موجوده پالسیو دوام وي نو بیا دی خدای خیر کړي دې ملت ته. نو چې څه به کېږي؟ بیا هم زما په اند دوه قوي ټیمونه، ایتلافونه او ډلې به رامنځته کیږی چې یو ډله به د موجوده پالسیو دوام غواړي او بله ډله به د موجوده پالسیو مثبت تغیر غواړي؟ خو دواړه حالته د ټیمونو د رهبرۍ د اعتبار پوری اړه لري چې ایا ملت ته امید ورکولی شي که نه؟

د مرحوم الفت صیبیوه خبره می رایاد شوله چې د انتخاباتو په هکله یي کلونه پخوا لیکلي و: ایا ملت په خپل درد پوهیدلی دی که نه؟ ځواب کې یې لیکلي و، چې په انتخاباتو کې به معلوم شي. ایا د دې دورې وکېلان به د تیرې دورې نه بهتره وي که نه؟ په ځواب کې یي لیکلي و چې په انتخاباتو کې به معلوم شي.
همداسي نور....

زما پوښتني دا دي چې د کاندید په نظر کې نیولو نه پرته ، تاسې د کومې ډلې طرافدار یاست؟ یعنی دوام د موجوده پالیسو غواړئ که تغیر. ایا تاسي به ننداره چېان اوسئ که لوبغاړي؟

## نظر ورکوونکي مجرم نه دی

د جولای اول، ۲۰۱۳ م کال

د دوه شیانو باید فرق وکړو. یو جرم دی چې مجرم د قوانینو او حدوداتو په چوکات کې باید مجزات شی تر څو نور ترې عبرت واخلی. البته جزا هم د یوی با اعتباره محمکه له خوا نه د یو لاروی له خوا. بله خبره د نظر ده. هر څوك د خپلی تجربه، علم او حوادثو او چاپیریال په رڼا کې د نظر حق لری او هر څوك د خپل لرلید په رڼا کې نظر ورکوی او دا د دوی حق دی چې د خپل نظر اظهار وکړی خو څوك چې نظر ورکوی هغه مجرم نه دی چې جزا ورته تعین کړو او یایي توهین کړو. که سمه خبره یي نه وی کړی او د بل نظر ترې معقول وی نو کېدای شی چې خپل نظر ورسره شریك کړو او یا هغه په سم دول وپوهول شی. د اسلام په چوکات کې هم مسلمانان د دی نه منع شول چې د نورو خدایانو ته سپك نظر مه کوی ځکه بیا به هغوی ستاسي حقیقی خدای ته هم سپکې سپوری ووایي.

## په ما کې هم خبری کیږی

د جولای دویمه نیټه،کال ۲۰۱۳ م

د یوی نجلی واده و خو خور یې ډیره زیاته خوشاله ښکاریدله نو چاترې پوښتنه کړی وه چې واده دې د خور دی خو خوشاله ته ډیره یې څه خبره ده؟ نجلی ورته وویلې ، خوشاله ځکه یم چې په ما کې هم خبری کیږي.

دې ورځو کې چې د انتخاباتو سیزن دی بلا ډیرې اوازېخپریږي چې فلانی کاندید دی او نور ټول د هغه سره ولاړ دي. فلانی او فلانی یې معاونین دي د کابینې غړییې فلانی او فلانی دي خو که رشتیا درته ووایم دې اوازو او انګازو د خلکو نه لاړ ورکه کړې ده. هر څوك چې غواړي ځان یا کوم ملګری مطرح کړي نو خپلو دبله مارانو ته وایي چې دا او داسې اوازی خپري کړي، په فیس بوك کې ولیکه چې ورته امکانات شته حال داچې که د دې احتمالي کاندیدانو دهواداړانو فیس بوك وګورې نو د لسو نه تر شلو کسانو پورې به څوك له دې نظر سره اویا هم له نوموړي کاندید سره علاقه نه وي ښودلي حال دا چې د جمهوري ریاست یو کاندید لپاره په نوې لایحه کې د یو لك نفرو امضا ګانو راټول ضروري دي. که مو په یاد وي په تیرو انتخاباتوکې د جمهوری ریاست کاندید ته لس زره امضاګانې په کار وې خو وروسته ډیرو محترموکاندید صاحبانو لس زره رای هم نه وې پوره کړې. یوه

قصه مې راپه یاد شوله وایي چې د یو سړي میرمن به همیشه ټوله غوښه چې خاوند به یې کور ته راوړه پخپله خوړه او خاوند بیچاره ته به یې هسې هډوکي او شورا پرېښودله. یوه ورځ ترې خاوند پوښتنه وکړه ، چې ما خو دوه کیلو غوښه راوړې وه نو دا غوښه څه شوله؟ میرمن ورته وویلې چې غوښه خو پیشو وخوړه. خاوند یې ژر پیشو راونیوله او هغه یې په تله کې واچوله چې ګوری پیشو دوه کیلو ده نو خاوند یې د خپلې میرمن نه پوښتنه وکړه، که دا پیشو وي نو غوښه څه شوله او که دا غوښه وي نو پیشو څه شوله؟

خو تر کومه حده چې زه معلومات لرم تراوسه پوری هر څوك ځانته ولاړ دی هڅ یو احتمالي کاندید د بل احتمالي کاندید سره توافق ته نه دی رسیدلی نو ځکه یو هم ډګر ته نه شي راوتلای.

## د افغانستان متوسطه طبقه یامیډل کلاس

د جولای د میاشیت دریمه، ۲۰۱۳ م کال

د اقتصاد ، سوسیالوژۍ اوسیاسي علومو په استناد یوه ټولنه هغه وخت د ثبات خواته ځي چې د هغه ټولنی میډل کلاس یا متوسطه طبقه زیاته یا ښه رشد وکړي یعنی هرمی شکل د ټولنی چې قاعده یي پراخه او سریي وړوکي وي په مخروطې شکل بدل شي چې دواړه سرونه د مخروط وړوکې او منځ یي پراخه وی. دا ځکه چې د یوې ټولنې د بې ثباتۍ سره همدا طبقه ډیرزیان ګوري. که په یوه ټولنه کې بی ثباتي راشي نو سرمایه داره طبقه تښتي او خپله سرمایهیا پانګه وکاږي او یایي په بل ځای کې چې زیاتې ګټې وي هلته پانګونه کوي. غریبه طبقه که زیاته وي هغه هم د حوادثو او واقعاتو اړوند بې تفاوته وي او د خپلی غریبۍ او خوارۍ پسې ورکې وي او فکر کوي چې هر ځومرهتحول راشي نود دوی په ژوند کې څه تغیر نه راځي اودوی د قدرت او انکشاف د حرم په قاعده کې واقع وي. د افغانستان د تیرو درې څلور لسیزو او همدا اوس همدا حال دی چې بعضی دومره پیسه دار دي چې نه پوهیږي چې خپلي پیسې څنګه مصرف کړي او غریب دومره غریب دی چې د غریبۍ پسي ورك وي.

دا چې د افغانستان متوسطه طبقه ډیره کمه ده نو ځکه دوی څه کولی نه شي حتی هغه کسان چې یو څو روپۍ معاشونه لري او په

موسساتو کې کار کوي دوي هم د دې توان نه لري چې د ملی مسلو لپاره سره راټول شي او د تبلیغیانو په شان یوکال بې له معاشه د خلکو سره کار وکړي تر څو داسې قوت رامنځته شي چې د فشار د الې په توګه سیاسي مسیر ته تغیر ورکړي. هغه څیرې چې په سیاست کې برخه اخلي او فعال دي دا هغه څیرې دي چې په ګډوډۍ کې خپل خیر ګوري او نور هم پړسیږي او د دوۍ ټولې فیصلې د خپلو ګټو د بقا لپاره دي خو دا فعالین ډیر زیرکه هم دي کله چې ملیبا بین المللي فشار زیات شي دوی سره متحد شي خو چې فشار کم شي بیا هر یو خپل پخوانی ناروا کارونه بیا پیل کړي.

که مونږ فکر وکړو دافغانستان متوسط طبقه چې ملك، سپین ګیري، خان او متنفذین و د تیرو دیرش څلویښت کلونو راهیسې د هر رژیم له خوا په جلاجلا نومونو ډیر سخت وټکول شول او د دې طبقه رول ییډیر کم رنګه او یا په بعضی ځایونو کې له منځه وړی دی. د افغانستان د دریو ستنو (دولت، قومي مشران او متنفذین، او علما او روحانیون) څخه یوه مهمه ستن همدا طبقه ده. ترڅو چې دا طبقه تقویه او د نغرید پښو دا ستن جوړه نه شي په دې نغریکې به اور ونه لږیږي او کټوه به پرې پخه نه شییعنې ثبات به رامنځته نه شي.

**د فیس بوک یوتن ملګری محمد داود داود زما د پورته خبرو پا ارتباط داسي ولیکل**:

**محترم میاخیل صاحب**: تا دې راته دنورومخلصو مخکښنو اووطنپالو او ملت پاله ورونوسره ژوندی اوګړندی لري چې همیشه ښې مسلې اوموضوع ګانې څیړې. زه ستا دنظر سره ترډیره بریده روغ یم او یقیناً چې په یوه ټولنه کې هر هغه کس د ټولنو دناخوالو ښکارکېږي چې هغه دپرمختګ په حال کې وي. کوم خلك چې په صفر ولاړوي او یا هم هغه چې سرمایه اوداراییي لایتناهي ته رسیدلي وي په کمه اندازه د طوفانونو او بلاګانوسره مخامخ کېږي. سرمایه دار خپله مخه کوي او تښتي او څوك چې په صفر ولاړدی هغه ډیرپام ورته نکوي او بیروني فکتورونو ته هم ډیر فکر نکېږي. خو یوشی چې دلته یي زه یادونه وکړم هغه داده چې هغه څوك چې په صفر ولاړدي تر ډیر وخته پورې په همدغه صفر پاتېکېږي اوممکن دپرمختیا چانس ورته ډیر ناوخته برابرشي او یاهم ورته ناشوني شي. له بله پلوه که دغه برخه دجامعی چې په صفر ولاړه ده که چیرې دیوی داسي عقیدې او مفکورې خاوندان وي چې ددوی فکر د بیروني عامل (اشغالګر او یا هم متشبثین) دفکر او عقیدې سره په ټکر کې وي نو پدغه وخت کې دوی په صفر نه پاتي کېږي بلکه ممکن لاړیات عمق ته لاړشي چې خپل ژوند او دخپل ټول فامیل ژوندیي دنابودی سره مخامخ شي چې دافغانستان جهاد ئي یوښه مثال دی.

**ما بیا د داود صیب په خواب کې داسي ولیکل:**

داود صیب زه ستاسي د خبره سره باالکل متفقه یم چې ښکته طبقه ډیر ژر په ډیرو کمو او نا څیزو پیسو باندېد پردو د لاس اله ګرځي چې ټولنې ته ډیر زیان رسوي څکه دوی سره یوازې د مانښام غم وی خو دا نه ګوریچې سبا ته دوی بیا هم همداسي پاتې وي او که نه. زما مطلب همدا دی چې باید د متوسطې طبقې کچه زیاته او د ټیټې طبقې کچه کمه شي. که وګورئ هندوستان اوس ۴۰۰ میلونه متوسطه طبقه لري حال دا چې ډیر غریب هم لري خو دا متوسطه طبقه  په دغه لوی ملك چې بیلا بیل مذهبونه او ډلې پکې  دي د ګډوډۍ نه ساتي. څومره چې د متوسطې طبقې کچه زیاتیږي هماغومره په ملك کې  ثبات هم زیاتیږي. دا پورته خبرې په اوس حالت کې  ایډیل حالت ښکاري ځکه مونږ لاتر اوسه پورې د ښه حکومتدارۍ الف ب هم نه ده پیل کړې.

## ديموکراسي

د جولای څلورمه، ۲۰۱۳ م کال

دا د انسان طبعي غريزه ده  چې د الفاظوتعريف او تحريف وکړي نو ځکه د ديموکراسۍ تحريفي تعريف په افغانستان کې د عامو وګړو او حتی د خاصو او تعليميافته کسانو په منځ کې داسې دی چې د چا څه خوښه وی هغه دې کوي خو که د لغوي تعريف نه تير شو  ديموکراسي د قانون حاکميت دی په ټولو خلکو باندېيو شان دی، مشران او دولتي چارواکې به ټول ولس ته احتساب ورکوي، همدا شان دولتي او خاصتا منتخب مشران د مشروع او منل شوې پروسې له لارې په منظمه توګه د قانون په اساس په خپل وخت په ازاده، شفافه او د ويرې نه پرته د خلکو له خوا ټاکل کېږي. انتخابات د ديموکراسۍيو وړوکی جز دی خو په  افغانستان کې دا اصل هم سم عملی نه شو نو تاسې ووايي چې ايا افغانستان کې ديموکراسي شته که نه؟ په موجوده شکل باندې چې څه روان دي دا د انارشۍلورته پرمختګ دی او انارشۍ په ټولنه کې  ډير زيات مصيبتونه راوړي.

**يوتن رفيع الله نيازي داسي ليکلي و:**

ښاغلی مياخيل صاحب ډيموکراسي هغه چاړه ده، چې غرب او سيکولران پرې ځانته منې سپينوي او خوری يې، خو موږ پرې په ګيډه کې  وهي. زموږ تيروتنه دا ده چې پردۍ چړې ته تمه کوو. که

دا ديموکراسي وي، چې د خلکو په رايه ټاکل شوي حکومت د امريکا په اشاره وپرزيږی او د نړۍ او په خاص ډول غربي نړۍ فوځي کودتا ونه غندي نو دا ديموکراسي څه معنا لري؟

**ما يی په خوب کې داسي وليکل چې په دی ورځ په مصر کې د محمد مرسي حکومت راپرزول شوی و:**

جناب رفيع الله صيب! زه فکر نه کوم چې الفاظ د چا ميراث دي. ديموکراسي د غرب او شرق د کلمو نه مخکې کارول شوې ده. که زما پورته الفاظ لږ په دقت ولولۍ نو ښه به وي ځکه که مونږ د قانون د حاکميت سره مخالف اوسو بيا خو به د ځنګل قانون حاکم وی همداشان احتساب او داسې نور. په هر حال هر څه دوه اړخه لري خو دا خلکو پوری اړه لري چې څنګه ترې سمه استفاده وکړي. مونږ پخوا داسې فکر کاوه چې هر څه د شوروي اتحاد په لاس کې دی او اوس داسي فکر چې څه امريکا وغواړي هغه کيږی فکر کوم داسې هم نه ده. که ملتونه خپل تقدير پخپله بدل نه کړي نو نور څوك يي ورته نشی بدلولی او دا شرعي مسله هم ده چې يوقوم کې تر هغه وخته تغير نه راځی چې تر څو پخپله په ځانونو کې تغير رانه ولي. بيا هم ستاسې نظر د قدر وړ دی.

## زما پرې سر نه خلاصیږي

د جولای د میاشتې اتمه نیټه ۲۰۱۳ م کال

**په اسلام کې قوي مسلمان هغه څوک دی چې یو څوک په لاس له بدو کارنو منع کړي که دا نه شي کولای نو په ژبه خودې نصیحت ورته وکړي چې منع شي او که دا هم نه شي کولای نو لا اقل خو دېترې زړه بد کړي. زما زړه له ډېرو لوړ پوړو چارواکو نه په دې بد دی چې هم د دې حکومت او دولت غیبت کوي او هم په دولت کې ناست دي او که خبره راشي بیا وایي چې د دوي د خبرو مطلب داسې او داسې نه و او خیال کوي چې دا ملت ناپوهه دی او د دوی په خبرو نه پوهیږي. دا ناڅوان دولتی چارواکې که واقعا د دې موجوده پالیسیو سره مخالفت لري نو استعفا دې ورکړي او له دولت سره دې مقاطعه وکړي بیا چې هر څه وایي فرق نه کوي خو دا ډېره بده ده هم چوکې ، موټر او نور امتیازات د لاسه نه ورکوي او هم د خپل ځانونو پسې بد وایي ځکه دولت خو د همدوی نه جوړ شوی دی. سرمې پرې نه خلاصیږي خو زما په اند دوی په خپلو ځانونو پسې ملنډې وهي او نه پوهیږي چې څه ووایي او د چا پسېیېووایي. زما په اند د نورو عواملو برسیره، د موجوده سردرګومیو، یو مهم عامل د لوړو پوړو چارواکو متضادې څرګندونې دي.**

**امان هوسا صيب زما د پورته ليکنې په هکلکه داسې ليکلي وو:**

ګران مياخيل صاحب:يو ه لرغونی هندی وجيزه ده چې وايي (غولونکي په واقعيت کې خپل ځان غولوي) نو دوی اوس خپل ځانونه غولوي ،او سبا که چېري واقعيتونه راځي بيا به پې مخونه تور وي، ټول خلک ناپوهه نه دي

**همداشان محترم وهاب صديقي صيب داسې ليکلي و:**

جناب محترم مياخيل صاحب باعرض سلام شما به يك موضوع خوبی پرداخته ايد ، اما يکچېزی که باقيمانده آن اينست که اکثراشخاص که درچوکې های بلند حکومتی کارميکنند درهنگام برحالی شان هيچچېزی دررابطه به نواقص کارکردهای دولت نميگويند اما هنگاميکه از سمت های معاونيت رياست جمهوری، وزارت خارجه، رياست عمومی امنيت ملی وچوکې های ديگر عزل ميگردند باز عقب دولت بدگوئی راشروع ميکنند ، ودولت را درنزد مردم به چهارمذهب کافر نشان ميدهند همچنين اشخاصی ديده شده تاوقتيکه درچوکې های بلندرتبه مقرر نباشند انتقادهای شديد شان بالای دولت وکارکردهايش جريان داشته ميباشد اما حينيکه درچوکې بلندپايه نصب گرديدند باز هرچېزی درست ميباشد حتی يك کلمه هم دربارهٔ نواقص کارکردهای دولت نميگويند نميدانم که علت آن چېست ؟ درباره کسانی که شما لطف فرموده ايد اين عده اشخاص بخاطر

امتيازات دالری وغيره عوايد که دارندازچوکۍ های شان استعفا نمیدهند درضمن به ملت نشان میدهند که اینك ما باوجود اینکه دردولت کارمیکنیم بازهم میتوانیم بخاطر رفع نواقص انتقاد کنیم آنها میخواهنددرچشم ملت خاك بپاشند اما نمیدانند که حالاملت بیداربوده همهٔ این مداری هارا بهتر میشناسند.

**د صديقی صيب په ځواب کې ما بيا داسي وليکل:**

جناب صديقي صاحب! از وضاحت شما یك جهان تشکر. کار کردن در حکومت یا دولت و یا رفتن هم از حکومت ګناه نیست. این مروج است در دنیا که کسي با یکتیم حاکم حکومتی کار میکند باید از پالیسي های حکومت دفاع کند و اګر دفاع نمی کند و موافق با پالیسي ها نیست این شایبه اشخاص کې در مقام های بالا کار میکند نیست که بر ضد حکومت یا تیم حاکم بد بګوید در حقیقت بالای ناکامی های خود اعتراف میکند و بالای خود بد میګوید. اما متاسفانه تیم لیدر هم این جوانی را نه دارد که این ها را از تیم خود بکشد. نه اش خوب است ونه چمچه.

## د جګړې پای

۱۵ جولای ۲۰۱۳ م کال

د دنیا ټولې جګړې او په خاصه توګه شورش په درې ډول ختمیږییا د پای ټکې ورته ایښودل کیږي: اول دا چې شورشیان غالب شي، دویم مقابل لوری یعنی حکومت غالب شي په شورشیانو باندې او دریم ډول یي د سولې، مذاکراتو یا خبرو اترو له لارې د جګړه پایله ده. د رند تحقیقاتي ګروپ یوه احصاییه ښایي چې د دویمې نړیوالې جګړې نه وروسته د دنیا له۸۹ شورشي جګړو څخه، په ۲۸ جګړو کې حکومت غالب شوی، په ۲۶ جګړو کې شورشیان غالب شوی، ۱۹ جګړېد خبرو اترو له لارې حل شوي او د ۱۶ جګړو پایله لاتر اوسه پورې معلومه نه ده. دا راپور ښایي چې اکثره جګړې د ۱۶-۱۰ کلونه نیولې چې ختمې شوي دي البته په عواملو یي دلته نه غږیږم چې څنګه دا جګړې پای ته رسیدلي دي.

شورشیان هغه وخت بریالي شویدي چې د دوی بهرني حمایت تراخره دوام کړی او د خلکو اعتماد په حکومتونو د نا سالمې حکومتدارۍ له وجهې کم شوی دی. همدا شان حکومت په شورشیانوهغه وخت بر لاسی شوی دی چې شورشیانو بهرنی ملاتړ له لاسه ورکړی او د خلکو اعتماد او باور په حکومت باندې د ښه حکومتدارۍ له وجه زیات شوی دی. د خبرو له لارې مسایل هغه وخت حل شوي چې دواړه خواوې او هم د دوی بهرني پلویان

دې پایله ته رسیدلي چې نور نو جګړه فایده نه لري او یوه خوا هم جګړه نه شي ګټلی نو بیا د صلح خبرو پر مختګ کړی دی.

که مونږ د افغانستان تیرو ۳۶ کلونو ته نظر واچوو نو په افغانستان کې دا څلورم شورش یا جګړه ده چې روانه ده. اوله جګړه د مجاهدینوجهاد یا جګړه وه چې له ۱۹۷۸ م کال څخه پیل او په ۱۹۹۲ م کال کې پای ته ورسیده چې څوارلس کال یې ونیول. دویم شورش یا جګړه د مجاهدینو خپلمنځي جګړه وه چې له ۱۹۹۲ م کال څخه پیل او په ۱۹۹۶ م کال کې د طالبانو د راتګ سره پای ته ورسیده چې څلورکاله یې دوام وکړ. دریم حرکت د طالبانو پرضد د شمال مقاومت و چې له ۱۹۹۶ م کال څخه تر ۲۰۰۱ م کال پورې دوام وکړ چې د نړیوالو په مداخله د طالبانو حکومت راوپروزول شو چې پنځه کاله یې دوام وکړ. څلورم حرکت یا شورش د موجوده حکومت پر ضد دی چې د ۲۰۰۳ م کال نه راپدې خوا پیل شوی چې لس کاله کېږی اوس هم روان دی او پایله یې معلومه نه ده. په عمومي توګه دېکې هیڅ شك نشته چې هر څوك په خوله سوله غواړی او وایي چې سوله ښه شی دی خو د پورته معلوماتو په رڼا کې ایا دافغانستان جګړه به د خبرو اترو له لاری حل شي که نه؟ د تیرو پنځه دیرش کلونو د تجربي نه ماته دا جوتیږي چې د افغانستان مسله یوازی د خبرو اترو له لارې نه حل کیږي. ائتلافي حکومتونه نتیجه نه ورکوي ترڅو چې د خلکو باور او اعتماد په حکومت زیات نه شي او حکومتداري ښه نه شي.

**د پورته لیکنې اړوند دوستانو دا لاندی لیکنې کړې وې:**

**عنایت سا پي لیکلی و:**

میاخیل صیب په زړه پورې موضوع ته مو اشاره کړې. په تیرو څلورو مواردو کې چې تاسو ورته اشاره کړې، درې خو یې د جګړې پر زور حل شوي دي، او درې واړو کې یې برحال حکومتونه نسکور شوي دي، او د اوسني شورش په اړه زه په دې اند یم، چې که د حکومت اوسني چارواکې همداسي بی ستراتیژۍ مخ ته روان وي، فساد همداسي د پرمختګ پر خوا درومي، کارونه همداسې د نااهلو په لاس کې وي، داخلي باغیان او یاغیان همداسې سرې سترګې ګرځي، اوحکومت دیو او بل چا د خوشالولو لپاره ځان د نړیوالې ټولنې څخه لرې کوي، او له فرصتونو څخه ګټه نه اخلي، د ملي مصالحو په پآم کې نیولو سره یو غښتلی خو پریکنده پلان نه جوړوي، نو بویهچې دا حالت بیا هم را روان دی. د قطر دفتر خو یې تړلی دی..خو که چېرته دولت د نړیوالی ټولنی په ملاتړ او د هیواد دننه د غښتلیوو او ملي فکر افغانانو په مشوره هم د سولې‌او هم د ملي متوازن انکشاف ستراتیژي جوړه او په داخلي یاغیانو چې هر وخت په نشه کې تیشه وهي، سترګی را وباسي او کار اهل کار ته وسپاري او له شفافی تګلارې سره د سولې خبرو ته چمتووالی وښایي .نړیوال ملاتړ راخپل او د مخالف لوري قناعت او باور تر لاسه کړي، نو کېږي چې د سولې له لارې دا غمیزه پایته ورسیږي، او که نه مخالفین خو وایيچې زه دې پوزه غوڅوم او ته وایي ماته چارګل راوړه.

**عزت الله شمسزی لیکلی و:**

افغانستان یو له هغو هیوادونو څخه دی چې سیاسي ثبات یې له منځه تللی، که په جګړه کې ښکېله هره ډله کامیابه هم شي بیا هم د جګړو وېره شته، واقعیت دادی چې په دې ځمکه کې له سوونو کلونو راهیسې دوه یا درې ځلې قدرت په سوله ییزه توګه له یوه مشر نه بل ته انتقال شوی نور نو د قدرت انتقال له جګړو سره مل و، چې هرې جګړې بیا بله زېږولې ده. سیاسي ثبات یا په معجزه راګرځي او یا هم هغه وخت چې د یوه هېواد وګړي په رښتینولۍ سره په خپل هېواد کې ارامي، سوله او پرمختیا ته کار وکړي. اوس مهال خو موږ په دغه پوزیشن کې نه یو چې ملي منافعې او د خپل ولس خوشحالي تر خپلو شخصي ګټو غوره وبولو، نو فلهذا دا وړاندوینه څوك نه شي کولی چې د افغانستان جګړه به څنګه ختمه شي، دوام به وکړي او راتلونکې زمانه به موږ کومې خواته بیایي.

**او ښاغلی عبدالرحیم نوښتګر لیکلی و:**

میاخیل صاحب ډیرې په زړه پورې موضوع ته مو اشاره کړې او جالب معلومات مو راته د سولې په اړه وړاندې کړي دي، زما په اند افغانان د جرګې په نامه یو تاریخي دود لري چې موخه یې جنګ جګړه په سوله اړول دي له کوم دود څخه چې بیا نور ملتونه محروم دي، دا چې هغوی جګړې په سوله ختمې کړې موږ خو یې

ارو مرو ختمولای شو خو زموږ ستونزه د جګړې له کربښې اوښتې او په یو داسې بحران بدله شوې چې بیلابیلسیمه ییز او نړیوال ابعاد یې پیدا کړي دي، د عمل ابتکار تر ډیره بریده د افغانانو له لاسه وتی دی، کله چې د عمل ابتکار د افغانانو لاس ته بیرته ورشي او د بحران نړیوال او سیمه ییز ابعاد کمزوري شي انشاءالله چې سوله او ټیکاو به هم تامین شي.

**ښاغلی وهاب صدیقی صیب لیکلی و چې:**

محترم میاخیل صاحب: په تېرو څو لسیزو کې خارجی لاسونه دافغانستان به خلکو کې دومره تفرقې اچولي چې یو بل ته دوروړئ لاسونه نه ورکوي خدای خبر که دخبرو اترو له لارې دا لانجه حل شي که خدای (ج) پر مونږ باندې ورحمېږي او یو پوه ، صادق اوریښتینی انسان اومسلمان راودانګي اوټول ملیتونه او متخاصمې ډلې سره بسیج کړي ترڅو ددې ناورین څخه خلاص شو.

## بیروکرات او سیاست مدار تر منځ توپیر

د جولای دمیاشتی ۱۶مه، کال ۲۰۱۳ م

درنو دوستانو! تقریبا شل کاله پخوا ما یو مضمون د پورته عنوان لاندې په مجاهد ولس اخبار کې چې د ولسمل صیب له خوا د ناروې نه خپریده لیکلی و. په هغه وخت کې د پادشاه د راتګ خبرې ډیرې وې خو په اوس وخت کې هم د تطابق وړدی. زما منظور دا و چې پادشاه سیاست مدار نه دی او خطر نه قبولوي نو ځکه څه نه شي کولای. مونږ په افغانستان کې سیاست پوهان او بیروکراتان لرو خو سیاست مداران ډیر کم لرو. سیاست مداران همیشه ځانونو ته یوه لار تعینوي هغه که ښه وییا بده خو په هغه لار ځي او خطرات قبلوي. د سیاست مدار مثال داسې دی چې یو لامبوزن په دریاب کې ورګډیږي که ښه لامبو ییباده وي نو د دریاب نه تیریږي او خپل مقصد یعنی ساحل ته رسیږي او که ښه لامبو ییباده نه وه نو په دریاب کې غرقیږي او د ناکامۍ سره مخامخ کیږي. همداشان بیروکراتان هم که په چوکۍ دېکښنول نو ښه کار کولی شي خو د سیاست له لارې چوکۍ پخپله ګټلی نه شي. همدا علت دی چې زموږ ټولنه د ښه سیاست مدارانو د فقدان په ناروغۍ اخته ده. هغه څوک چې سیاست کوي هغوی د سیاست په بده لار روان دي او نه شي کولای چې دا ډوبه بیړۍ ساحل ته سمه ورسوي خو داسې ښکاري چې دوی هم ځانونه غرقوي او هم ملت ځکه هر مابنام دا ناکامه سیاست مداران سره کښني او یواځې د خپلو ځانونو د بقا لپاره طرحېسره جوړوي خو دوی په دې خبره نه یوهیږي چې د دوی بقا هم د ملت د بقا سره

تړلې ده که دا ملت دوی سره نه وي نو بیا به دوی غرونو ته خېژي خو دا ځل د دوی د باربونه (د بار بنه) ډېره درنده ده شاید غرونو ختلو ته هم ونه رسیږي.

## اوښان او فيلان په بده وهل

د جولای میاشتی ۲۱مه نیټه کال ۲۰۱۳ م

پښتو کې متل دی وايي چې څوك اوښان ساتي نو دروازې لوړې ږدييعنې د دروازو جوړول بايد د ضرورت سره مطابق وي که څوك غواړي اوښان وساتي نو بايد دروازې هم د اوښ په تناسب لوړې جوړی کړي. او که څوك فيلان ساتي نو بيا خو يې دروازې نه يوازې لوړې بلکې پلنېهم وي. خو متاسفانه مونږ هم اوښان ساتو او هم فيلان خو دروازې مو ټيټې او وړې دي او غواړو چې دواړه په بده ووهو حال داچې د اوښانو او فيلانو په بده وهل به مونږ ته مشکله وي. واي :چتی (ډيره وړه مرغی ده) کله د شپې ويده کېږي نو خپل پښې اسمان ته پورته نيسي او داسي فکر کوي چې اسمان ده په خپلو نازکو او وړو پښو باندی ټينګ کړی دی. افغانان بايد د خپلې وسې مطابق خبرې وکړي ځکه دوی په دې موقف کې نه دي چې د سيمې او دنيا سياسي مسير ته تغير ورکړي. هغه څه چې افغانانوته په کار دي هغه دا دي چې د افغانستان خلکو په ګټه څه کولی شي او څنګه له موجوده فرصتونو ګټه پورته کولی شي.

## هیرول او بښل (Forget and Forgiveness)

د جولای د میاشتی ۲۷مه نیټه کال ۲۰۱۳ م

**درنو دوستانو!**

**هر انسان د سهوې او ګناه سره مخامخ کېږي او همدا علت دی چې د الله تعالی د توبې دروازې د قیامت تر ورځې پورې بیرته دي او که مسلمان په سمه توګه توبه وکاږي نو الله تعالی یي توبه قبلوي. په متمدنه ټولنه کې هم ببښل او اشتباه منل کېږي خو د افغانانو په قاموس کې هیرول او ببښل نشته دا خو لاپرېږده چې راتلونکې نسلونو ته هم د تیر نسل پیغور پاتې وي. که کار کوي نو اشتباه به خامخا کوي او که هیڅ نه کوې نو بیا خو اشتباه نه کوو. زما په اند په دی وخت کې که د انسان ښه په اشتباه زیات وي نو هغه ښه انسان دی او په یو څو وړو اشتباه ګانو مونږ باید خلك محاکمه نه کړو.**

## د مغزو نه د عضله کار اخستل

د اګست لومړی نیټه، کال ۲۰۱۳ م

پرون مې له یو ډیر محترم او دانشمند مشرپروفیسور علی احمد جلالی سره کتنه درلوده ، راته یي وویل چې متاسفانه په تیرو څو لسیزو کې افغانانو د خپلو مغزو نه د تفکر او تدبیر پر ځای د عضلې کار اخستی دی. ما لپاره ډیره عجیبه او نوې خبره وه چې عضلې قوي وي خو بې له تفکره د عضلې نه کار نه اخستل کېږی. د تفکر او تدبیر قوت د عضلاتو د قوت نه په زرهاو مراتبه زیات دی یعنې تفکر عضلات رهبري کوي. نو دا به ډیره پر ځای وي چې مونږ د خپل راتلونکې حالاتو په هکله زیات د تفکر او تدبیر نه کار واخلو نه د خپلو عضلاتو په قوت وویاړو او باالاخره ځانونو ته دومره دوشمنان پیدا کړو چې بیازمونږ عضلات بیچاره هم د مقابله نه عاجز شي. د هغه یو کس نقل مې راپه یاد شو چې چا ځملولی و نو ویلې یي چې ته خو می پریږده زه به درسره بیا ګورم. کله یې چې پریښودو نو بیا چې راجګ شو بیا یې لاپې پیل کړې هغه بل سړي بیا راځملوه او ویې ډباوه نو هر ځل به ییچې ځملاوه، ده به همدا ویلې ته خو ما پریږده، زه به درسره ګورم، نو په همدې شکل یي هغه په څو کراتو ځملاوه. افغانانو او خاصتا پښتنو باندی همدا حال دی چې همیشه دوبول کیږي. که افغانان غواړي چې د ډبولو نه خلاص شي نوباید د راتلونکې په هکله د زیات تفکراو تدبیر نه کار واخلي ځکه زمونږ

ځینېکسان شته چې د خپلو ورونو د احساساتو نه د مقطعي، شخصي اولنډ مهاله ګټو په موخو استفاده کوي  او زه فکر کوم چې دا به زمو نږ د ولس سره لویه  جفا وي چې څوك د خپل ولس له  احساساتو نه د ځآن په ګټه سو استفاده کوي.

**محترم احمد فهیم حکیم د پورته لیکنې به هکله دا لاندې تبصره کړې:**

جناب میاخیل صاحب، بسیار گل گفتی. همین تبصره خودت مرا بیاد گفته کسي انداخت که میگفت "...برای ما این مهم است که چطور می خواهیم زندگی کنیم: اگر میخواهیم که دریك جامعه انسانی زندگی کنیم پس باید به عقل و عقلانیت تکیه و باور داشته باشیم، و اگر صرف به زور اتکا کنیم بدون شك خودرا به زندگی جنگل و حیوانی نزدیك ساخته ایم و ازجهان انسانی دور شده ایم"!

**همدا شان ښاغلی اجمل نور صیب داسي لیکې و:**

میاخیل صیب ستاسې په دې لیکنې راته د غني خان یو شعر رایاد شو چې وایي:

زور هسې پیغور شي چې همت ورسره مل نه وي
ورك هغه مشال شه چې تیاره شي او دی بل نه وي
نو دا واقعیت دی چې بې فکره زور تل پیغور کیږي.

## څنګه د چا توصيف وکړو او څنګه چاته ستر او ملي شخصيت ووايو ؟

د اګست د مياشتی ۱۱ نيټه، کال ۲۰۱۳ م

نن مې په فيسبوك کې د يو چا عكس وليد چې د فيس بوك يو ملګري پوست کړی و او د ملي شخصيت لقب يي ورته ورکړی و حال داچې همدا جناب تر يوه حده زه هم ډير ښه پيژنم ځکه چې په تفرقه اندازۍ، غلا او د دې موجوده ناکامه پاليسيو په دوام کې خورا زحمت ګاللی او فعاله ونډه يې درلودلې ده. نو ما ته دا درې سوالونه راپه زړه شول:

۱. د ملی شخصيت تعريف څه دی؟ زياتی پيسي درلودل، لويه چوکۍ درلودل؟ او که نور څه؟
۲. د محلي او ملی شخصيتونو فرق څه دی؟ ايا محلي شخصيتونه ملي شخصيتونه بللی شو او که نه؟
۳. د ټولونه مهمه خبره دا راته ښکاري يا خو داسې ده چې زموږ د فيسبوکي ملګرو د ملي شخصيتونو معيارونه د ولس او د ملي شخصيتونو له معيارونو سره توپير لرياو ياخو د دويديدګاه (لرليد) د ولس د ديدګاه سره توپير لري او که څنګه؟

په هر حال دا او داسې نورې پوښتنې زما په فکر کې راغلي نو ځکه مې له تاسي سره هم همدا انديښنې شريکې کړې. ښايي

تاسې به پورته پوښتنو ته خپل ځوابونه ولرئ خو زه خپلې اندیښنې له تاسې سره په لاندې ډول شریکوم:
که مونږ د ملي کلمې نوم د یو چا د شخصیت سره یادو نو باید هغه شخص ملي طرز تفکر ولري. د کلي والۍ، محلي اوسیمه ایز چارچوکاټ نه راووزي او ټول کړه او وړه یي په ملي کچه وي. په مشترکه جغرافیه‌کې چې اوسیږو باید داسي فارمولې رامنځته کړو چې ملي وحدت، ملي سوکالي، ملي اجتماعي عدالت، او ملي مشترك ارزښتونو ته کار وکړو . که دا نه وي نو بیا مونږ ملي شخصیتونه نه لرو او هر څوك د خپلو محلي او شخصي ګټو لپاره کار کوي. لکه څنګه چې مونږ د نورو قومونو په مشرانو اواشخاصو داتورونه لږو چې هغوی ملي فکر نه کوي نو بیاخو هغوی دا تورونه پر مونږه هم لږولی شي.

جمهوري ریاست، وزارت او ولایت مقامونه د چا نه ملي شخصیتونه نه شي جوړولای که داسې وی نو مونږ په تیرو څلور لسیزو کې هرڅه په خپلو سترګو ولیدل چې زمونږ او ستاسې ترمنځ ژوندی تاریخ دی. ډیرکلونه پخوا مې په یو اخبار کې د امان الله خان سره مرکه لوستې وه چې خبریال ترې پوښتنه کړې چې یو وخت ته پادشاه وې، لوی شخصیت وې خو اوس په ایټالیاکې په یوه وړوکي کور کې اوسیږې نو څه فکر کوې. امان الله خان په ځواب کې ورته ویلي و چې لویي په مقام او چوکۍ کې

نه ده لوي د خپل ولس په خدمت کې ده او ایټالیا ما ته د هوټل په شان ښکاریچې شپې او ورځې په هوټل کې تیروم. دا سمه ده چې لویي په چوکۍ او مقام کې نه ده بلکه چوکۍ او مقام وسیله ده د ملي شخصیت جوړولو لپاره. ځکه مونږ په نړۍکې ډیر داسي مثالونه لرو چېیو کس هیڅ څوکۍ او مقام نه دی درلودلی خو د نړۍ دخلکو په منځ کې ډیر لوی او ستر مقام لري. همدا شان پیسې هم د ملي شخصیت جوړولو معیار نه دی.

محلي شخصیتونه ملي شخصیتونه ګرځیدلی شي که د محل نه ملي سیاست ته راووځي که نه محلي شخصیتونه به په محلي کچه پاتې وي خو دا د دې معنا نه ده چې محلي شخصیتونه رول نه لري بلکې رول یي د محل په چارچوکاټ کې وي. په سیاسي علومو کې وایي چې سیاست محلي دی نه ملي. دا په دی معنا ده چې که په کلي او کور کې دې څوك ونه پیژني نو ولسوالۍ او ولایت په کچه دې څوك نه پیژني او که د ولسوالۍ او ولایت په کچه دې څوك ونه پیژني نو په ملي کچه دې څوك نه پیژنی. که خپلو سیمو محلی شخصیتونو ته نظر واچوو نو زموږ زیات محلی مشران ملی چوکېو ته رسیدلي دي خو دا چې ملی اجنډا یي نه درلوده نو ملی شخصیتونه ترې نه دی جوړ شوي.

معیارونو کې به څه فرق نه وي ځکه خدمت، سیاسي او شخصي تقوا شاید هر چاته معیار وي خو د یو چا د شخصیت او اعمالو نه

پوره اګاهی نه درلودل بعضې وخت د یو چا په شخصیت باندې منفي او یا مثبتې تبصرې، د دې علت ګرځیچې د قضاوتونو تر منځ تضاد رامنځ ته کړي.

کېدای شیچې د دې لیکنې په ویلو مې ستاسي سر په درد کړی وی خو زما د پورته زیاتو خبرو نچوړ دا دی چې مونږ باید ټولو مسایلو ته باید ملي تعریفونه او ملي معیارونه پیدا کړو او بیا که څوك د دغه تعریفونو او معیارونو په چوکاټ کې کار وکړي نو بیاکه ملي شخصیتونه ورته ووایو نو ښه به وي. بې پراشوته باید د غره د سر نه ځان ونه غورځوو.

## فوځی رقابت

د اګست د میاشتی دیارلسمه نیټه کال ۲۰۱۳ م

ډیری دوستان په دې فکر دیچې که یو ملك زیات فوځ او وسلې ولري نو کولای شي چې په ملك کې امنیت تامین اود خارجي مداخلو او تهدیداتو مخه ونیسي. خو زه د دې نظر سره موافق نه یم ځکه فوځ همیشه د بهرني تهدید په نظر کې نیولو سره کمیږي او زیاتیږي.فوځ په زیادتره هیوادونو کې د یو هیواد په سلو کې دیرش او حتی په بعضې هیوادونو کې تر اویا او نوی سلنو پورې د یو ملك بودجه مصرفوي. که مونږ د افغانستان تیرو څو لسیزو ته نظر واچوو نو د زیاتو وسلو په راتګ سره زموږ ملك ته تهدیدات لومړی د شرق او غرب د سړې جګړې له امله او وروسته په سمیه کې د نورو د نیابتی (Proxy War) جګړو له امله زیات شوي و. که مونږ تیرو لسو کلونو ته نظر واچوو نو په اقتصادي ډګر کې د اتیا میلیاردو ډالرو په اندازه او په نظامي ډګر کې په سلګونو میلیارده ډالره مصرف شول. په دی بحث نه کوو چې څنګه د دې پیسو نه بهرنۍ او داخلي مافیایي کړیو ګټه اخستې ده. پخواني شوروی اتحاد زیات فوځ په درلودلو او نظامي رقابت له امله سقوط وکړ او د سویس هیواد چې بهرنی تهدید نه لري، هیڅ فوځ نه لری. زموږ هیواد لپاره بهرنی تهدید د پاکستان او ایران نه دي خو د داوړو هیوادونو سره مونږ نظامی رقابت نشو کولای. ایران تیل لري او پاکستان د سیمی د تهدید له وجهې او

خاصتا د افغانسان د ګډوډۍ له برکته په تیرو څو لسیزو کې د امریکا نه ګټه واخستله، اوس دواړه هیوادونه اټومي وسلې لري او مونږ په خپلو امکاناتو ورسره رقابت نشو کولای. مونږ لپار کم او موثره پولیس او فوځ پکار دی چې د هیواد داخلي امنیت وساتي. خارجي تهدید مخه د یوې سمې خارجي پالیسي په درلودلو له منځه تللی شي. که دا نه وي زیات فوځ به د افغانانو به اوږو بار وي او همیشه به کودتاګانې وي.

**زما د پورته لیکنې په هکله داکټر صیب ابراهیم شنواري په بیلا بیلو تبصرو کې لیکلي و:**

میا خیل صیب مننه چې زیاتره نوي فکرونه د بحث لپاره وړاندې کوئ او د ځینو په شان فیس بوك یوازې د خپلو انځورونو د خپرولو لپاره نه کاروئ. زه درسره په یوه نظر کې شریکیم: هغه دا چې وسلې یوازې د هیوادونو امنیت نشي راوستلی. په افغانستان کې تل د ملا، ملك او دولت مثلث تر منځ اتحاد امنیت راوستی دی. اوس ورو – ورو دا مثلث د ملا، ملك، دولت او روشنفکر په مربع بدلیږي.

خو د نیابتی جګړې خبره ماته سیاسي ښکاري. هغه دا چې په افغانستان کې **۴۵** هیوادونه عملا په جګړه بوخت دي. د جګړې عنوان یې له القاعده او تروریزم سره جګړه ده. القاعده **۵۰** تنه پاتې دي او پنځوس کوماندویان یا سپیشل فورس ورته پکار دي،

نه ۱۵۰۰۰۰ عسکر او د کال سل بیلیونه ډالر مصرف. فکر کوم دا د میډیا زور دی چې دې جګړې ته د هند او پاکستان د نیابتي جګړې نوم ورکوي.

۷۵۰ طالبان ځانمرګو بریدونو ته حاضر شوي دي، چې د نړۍ په تاریخ کې بې مثاله دي او وي به او لا یې شمیر ډیریږي. له کرزي صیب نه چا پوښلي وو چې که دا طالبان ستا ورونه، ولس او د یو ملت او قوم خلك وي نو څنکه یې پاکستان ستا پر خلاف ځان وژنې ته تیارولی شي خو ته یې له ځان سره ورورۍ ته نشې تیارولی؟ دا هغه پوښتنه ده چې ډیر فکر غواړي. کله چې افغان دولتونه خپل ولس نشي رضا کولی او دنړۍ د ۴۵ تر ټولو پیاوړو هیوادونو په حضور کې امنیت نشي راوستلی نو نوم ورته د نیابتی جګړې ورکوي.

**همدا شان ښاغلی فریدون خوزون لیکلي و:**

افغانستان په ستونزو کې راښکېل هېواد دی. غرنیز جوړښت او له ګاونډیانو سره پراخې خلاصې پولې یې د نا امنۍ او بې ثباتۍ یو عمده لامل دی، چې په بدل کې یې نه سالم حکومت لري او نه هم روزل شوی او کافي پوځ. منم چې د پوځ ډېرښت هغه هم د داسې پوځ چې نه روزل شوی وي او نه سمبال شوی او یوازې په کمیت یې بسنه شوي وي د افغانانو په ګټه نه دی؛ خو کله چې موږ د یوه ستر پوځ درلودونکې اوسو دا به ورسره حتمي وي چې په کابل

کې به یو سالم حکومت رامنځته کېږي، هغه به یوه پیاوړې او روښانه بهرنۍ پالیسي او په کور دننه پنځه کلنه ستراتېژي جوړوي، د هېواد بنسټونو جوړولو او رغولو ته به پام کوي او دا سالمه اداره په راس کې د یوه مدبر، پوه، وړ او رښتیني عادل شخص ته اړتیا لري. کله چې موږ اداره جوړه کړه، کولای شو پوځ جوړ کړو، بهرنۍ پالیسي جوړه کړو، اقتصاد ورغوو او په هره برخه کې پرمختګ وکړو. موږ چې د لوی پوځ هیله کوو دا هیله هغه مهال پوره کېدای شي، چې کابل کې یوې منظمې، سالمې او رښې اداري حاکمیت خپل کړی وي چې موخه یې یوازې خلکو ته خدمت وي نه د اوسني حکومت په څېر چې تر بوسو لاندې اوه تېروي او جېبونه ډکوي.

شینواری صیب فکر کوم د ډرامې دغه لوبغاړي بې واکه او اصلي واك له ډایرکټر یا ډایرکټرانو سره دی، چې غواړي په بېلابېلو نومونو او بڼو خپلو موخو ته ورسېږي، که نه د بوش یوې خبرې له مشرف لاره ورکه کړې وه. بله د کرزي له دې خبرې بله کره خبره څېرته ده چې: ((د ترهګرو ځالې هاخوا دي او باید هلته ورسره مبارزه وشي))

**ښاغلی سید اکرام افضلی لیکلي و:**

زه تاسو سره موافق یم میاخیل صیب. آیا څوك داسې یوه بیلګه راکولای شي چې د افغانستان اردو د تاریخ په اوږدو کې د

افغانستان نه دفاع کړي وي. زه خو يې چې ګورم اردو له افغان وژنې او خارجي استعمار ته د زمينې مساعدولو پرته بل ډير څه نه دي کړي.

**د پورته تبصرو په ځواب کې ما وليکل چې:**

دوه ورځې د مخه ما د فوځي رقابت په اړوند يو څه ليکلي و چې بعضې دوستانو او ملګرو پرې خپلې تبصرې او نطريي ليکلې وې چې د هر يو نظر په خپل ځای د قدر وړ دی او داسي بحثونو ته دوام ورکول، فکر کوم چې ښه کار دی ځکه د نظرياتو د تفاوت نه يو څه زده کوو. د دوی د تبصرو په دوام غواړم چې دا څو کرښی نوری هم د تاسي سره شريکې کړم.

د افغانستان اوسنۍ جګړه لس کال د مخه نه ده پيل شوې بلکه د ۷۰ومې لسيزې د سر نه پيل شوې ده چې د ۸۰ ومی لسيزې پورې لومړی د شرق او غرب تر منځ نيابتي جګړه وه چې بيا د ۹۰ ومې لسيزې نه وروسته د منطقې د هيوادونو ترمنځ لومړی د هند او پاکستان او وروسته د ايران او عربانو ترمنځ نيابتي جګړې وې. د ۲۰۰۱ ميلادي کال نه وروسته د دې جګړه لمن يو ځل بيا د ۷۰ او ۸۰مو لسيزو په شان پراخه شوله او داسي ښکاريچې تاريخ بيا تکراريږی او افغانستان به بيا د منطقې دهيوادونو تر منځ يوځل بيا ښکار شي که زموږ سياسي قشر(تکنوکراتان، چارواکې ، او حتی جنګي ډلو مشران او مليشايي قوتونه) د پوره

احتیاط او سیاسي اګاهۍ نه کار وانخلي (چې دا تمه کول ورنه هم ګرانه ده) نو مونږ به یو ځل بیا د ستونځو سره مخامخ شو چې داځل به زمونږ حالت د تیر وخت نه بدتر وي. دوه مهمو ټکوته د درنو دوستانو پام را اړوم:

۱.یو ملك همیشه د سیاسي نخبه ګانو په وسیله نجات مومي او ثبات خواته یي سوقوي او هم د سیاسي نخبه ګانو له لاسه په مصیبتونو اخته کیږیچې ښه مثال یي په دې ورځو کې د مصر دی چې سیاسي نخبه ګانو ونه شو کړای چې ملك سمې لارې ته سوق کړي. په افغانستان کې د مشروطه خواهانو نه نیولې تر ریفورمستانو او مترقي خواهانو نخبه ګانو د عدم مرکزیت او د سیاسي تفاهم د نه لرلو په پایله کې افغانستان د مختلفو مصیبتونو سره مخامخ شوچې مونږ ټولو یي تاوان په خپلو سترګو ولیده. دا حرکتونه کله د دربارونو له خوا رهبري کیدل، کله د بهرنۍ ملکونونه او کله هم د ملت نه د خودجوشه حرکتونو په شکل و.

۲.بله مسله دا ده چې ایا افغانستان په نړۍ او یا په سیمه کې په دې موقف کې دی چې د دنیا د جریاناتو او یا د سیمې جریاناتو ته تغیر ورکړي او که نه؟ زما په فکر نه دی. نو افغانانو ته دا په کار ده چې د خپل ځان غم وکړي او د افغانانو لویه هوښیارتیا به همدا وي چې د نورو په نیابتي جګړو کې ځانونه ښکیل نه کړي.

هغه د دری د  ژبه متل دی چې وايي غم خود را بخور که لاغر نه شوی. او يا په پښتو کې  متل دی چې وايي کله دې لاس د تيږې لاندې شو نو په ډير مهارت به ييترې خلاصوی که نه ژوبليږې.

**واحد هيله من صيب بيا ليکلی و:**

«که زموږ سياسي قشر (تکنوکراتان، چارواکې ، او حتی جنګي ډلو مشران او مليشايي قوتونه) د پوره احتياط او سياسي اګاهۍ نه کار وانخلي (چېتمه کول ورنه هم ګرانه ده) نو مونږ به يو ځل بيا د مشکلاتو سره مخامخ شو چې داځل به زموږ حالت د تير وخت نه بدتر وي.» – مياخېل صېب دايوه لويه تشه ده چې افغان اولس ورسره مخامخ دی. له يوې خوا اولس دغرب، شرق او ددې کورنيو وسله والو دټوپکوترماشولاندی ګيردی، ځان نشي خوځولی اوله بله پلوه يې تراوسه (دځان سره پخپله دمرستې) خلاقيت نه دی پيداکړی چې په نتيجه کې  يې (پرماشۍ) ګوتی ماتې کړي اوځان ازادکړي . کله چې کارمل دروسانوسره کابل ته راغی نو خلقيان يې په دې بهانه وډبول چې امينيستان دي . بيابه چې هرپښتون ځان وخوځاوه، دامينيست ټاپه به پرې وهل کېده او پدغه وخت کې  هرامينيست واجب الجزاو. همدغه تاکتيك دکرزي ادارې اوامريکايانو هم عملي کړ. هرپښتون پاڅونوال يې د طالب او القاعده په نامه نابودکړخو په اصلي طالبانواوالقاعده پسي ونه ګرځېدل . دې خلکو خدمتګارو او پاکو افغانانو ته  موقع ورنه

کړه چې د افغانستان چارې خو حد اقل نیمایي سمې چلېدلی وای. که لنډه یې ووایوو نوافغانستان نه سیاستپوه لري، نه سیاستګر. که یې درلودلای نو لږ تر لږه کورنۍ چارې به مو سمې چلېدلی. دا خو ولا که عقل هم وي چې په وار وار سړی هماغه چاته مراجعه کوي اوطمع ترې کوي چې په هرځل یې کندی ته ورټېل وهلی وي! افغانستان دولتي بدلوون ته اړتیالري اوداکارپه پاك اتفاق، پاك تړون ، پاکه رایه، پاك وجدان، پاك ولسي ځواك، پاك هوډ ، پاکه لاربښوؤنه، پاکووسیلو ،پاکه محاسبه اوددې ټولود رغند اوبی خنډه چلښت لپاره پاك سیستم ته اړتیاده چې په خواشینۍ سره تراوسه نشته . ترکومه ځایهچې دجګړو په ارزیابۍ پوری اړه لري نو دهند اوپاکستان جګړه د خاوری پرسروه ، دشرق اوغرب جګړې دسیاسي اواقتصادي سیستمونوپرسروې خوافغانستان پکې دبزکشۍ د بزې حیثیت درلودچې مختلفوچاپ اندازانو په ځغلولواوراښکورلوکې بخی بخی کړاودخانګل خولۍ یې ترې جوړه کړه چې ببرته ګنډل یې ډېرمشکل شو ل . زه په اوسنیو افغانانوباورنه لرم چې دوی به وکولای شي چې دځان ژغورنی لپاره کوم تخلیق رامنځته کړي اویا پخپله داسییوه معجزه وشي چې په هرفساد کې ملي احساس راوټوکېږي ، توبه وباسي اوځان اصلاح کړي .

**ما یې بیا په خواب کې ولیکل**:

**هیله من صیب ستاسي نظر د قدر وړ دی هغه کسانو چې باید رشد نه وی کړی ډیر رشد وکړ او اوس هر څه په واك کې لری او هغه کسانو چې باید رشد یې کړی وای د دې پر ځای په تیرو څو لسیزو کې او باالخاصه په تیرو لسو کلونو کې و ټکول شول او رشد یې و نه کړ اما دا هم سمه نه ده چې ناهیلي شو او ووایو چې هیڅ امکان د دې نشته چې زموږ وطن جوړ شي البته ایډیل حالت مشکل دی چې رامنځته شي خو لااقل د دې مخه باید ونیول شي چې بیازموږ مظلوم ملت ته بسترې په شا نشي. له اسمانه ملایکې نه نازلیږی،افغانان باید د خپل ځان غم پخپله وخوري او هغه ستونزېچې په مخ کې یې لري باید له منځه یوسي. د افغانانو مشکل نه د ظرفیت او نه د امکاناتو مسله ده بلکه غټ مشکل بی باوري او بی اعتمادي ده.یو قوم په بل قوم باندې بې باوره دی اودا ډیر زیات عوامل لري خو که مونږ یوه ګوته بل چا ته نیسو نو څلور ګوتي باید ځانونو ته هم ونیسو چې مونږ پخپله خپل مشکل داسي سرحد ته رسولی چې اوس رانه د حل لار ورکه ده.**

## په سیاست پوهیدل

د اګست ۱۳مه نیټه کال ۲۰۱۳م

نن د فیسوك یو ملګري سعیدالرحمن نیازي لیکلي و چې ورونه یې وربانډی اعتراض کوي چې ده د اقتصاد رشته لوستې خو بر عکس سیاسي او ټولنیزې لیکنې کوي. ما ورته په ځواب کې ولیکل چې سیاست تر هر څه ډیر مهم دی ځکه په ورځنیو کارونو کې اشتباه یوازې یو شخص، کورنۍ او یا کم کسان متضرره کوي خو سیاسي اشتباهات ټول ملك، سیمه او حتی ټوله نړۍ ته صدمه رسوي.په سیاست هر څوك باید وپوهیږي او د سیاسي لوبو په اړوند باید بې تفاوته پاتې نه شي . د امریکې غوندې هیواد کې په سلو کې شپیته د کالجونو نه فارغ کسان په خپلو رشتو کې کار نه کوي نو دا ضرور نه ده چې سیاست مدار دې خامخا په سیاسي علومو کې زده کړې وي. سیاست او مدیریت انسان ته د الله تعالی طبعي پیرزوینه ده ځکه ډیر داسې کسان شته چې سیاست او یا د مدیریت په څانګو کې یې زده کړې وي خو سیاست مدار او یا ښه مدیر نه وي ځکه چې طبیعي استعداد او خوځښت په کې نه وي. یا به بله معنی یو سړی به ښه اقتصاد پوه وي خو ښه بزنس مینیا تاجر به نه وي ځکه د تجارت کولو لپاره یو څه نور اوصاف د تجارت کولو په کار دي. او که سیاست مدار وي او هم په سیاسي علومو کې یې زده کړې وي نو دا د دې معنی ده

چې په خوړو نور خواړه ورزيات کړيیعنې  دا د دې معنی نه ده چې د سیاسي علومو زده کړه ښه نه ده.

## ښه کار کوی د مانه پوښتنه مه کوی



خدای ښښلی پلار مې او زه: د جون میاشت ۱۹۸۹ م کال، پېښور او دویم عکس
په ۱۹۹۰ م کال د پیښور په اکادمی ټاون کې زما په کور کې اخستل شوی دی.

**د اګست ۱۷ مه نېټه، ۲۰۱۳ میلادی کابل د واشنګتن هوايي ډګر**

ما اکثره ټولنیزې خبرې او اجتماعي ژوند، د ښېګڼو روحیه او طرز د خپل مرحوم پلار، سید محمود حسرت نه زده کړي دیچې ډېر ښه ښوونکی او مدبر مدیر و او د مطالعې سره یې ډېره زیاته مینه وه او هر ځل به چې ورسره کېناستم نو په خبرو او جرګه به یې نه مړیدم خو د ده دا مینه او جرګه یوازې له ما سره نه وه بلکه د هر مشر او کشر سره وه، نهایت سخي ، مشوق کوونکی او با جرئته انسان و ، هغه دوستانو چې هغه لیدلی و کېدای شي چې زما د دې خبرو تصدیق وکړي. خدای دې وبښي همیشه به یېمونږ ته ویلې چې ښه کار کوئ له مانه پوښتنه مه کوئ خو که بد کار مو کاوه نو بیا له ما یو ځل پوښتنه کوئ. نو زه اوس ګرانو

دوستانو ته هم د هغه خبره رانقل کوم چې همیشه په ښو کارونو کې د چا نه پوښتنه مه کوئ او ډیر عادي انسان هم ښه او بد پیژني او نه څوك ستاسي مخه نیولی شي چې ښه کار مه کوئ. مونږهر یو که د ورځېیو ښه کار وکړو نو دیرش میلیونه ښه کارونه په افغانستان کې د ورځی کولای شو او فکر نه کوم چې هر حکومت د ټولو نړیوالو مرستو سره سره په ورځ کې دیرش میلیونه ښه کارونه وکړای شي. راځی چې د ورځی د یو ښه کار په نیت فکر وکړو او عملي یي کړو. فکرکوم چې د دې کار لپاره به هیڅ ممانعت نه وي او نه به زیاتې پیسي وغواړي د چا چې څه د وسه پوره وي هغه دې وکړي. یو چاته په پراخه تندییو جام اوبه ورکول او یا سترې مشي، د خپل مور او پلارنه احترام، په کورنې اوکلی کې د خلکو سره ښه سلوك او اخلاق، دا ټول کارونه هم د ښو کارونو په لړ کې راځي نه زیاتې پیسي غواړي او نه زیات علم ته ضرورت شته هر څوك په دی پوهیږي خو عمل غواړی.

**مرا از خیر تو امید نیست شر مرسان**

د پورته مطلب ترجمه

د افغانستان ټولو خلکو ته او خاصتا د فوټبال ټیم ته د دې بریا لویه مبارکي وایم. دې بریا دا وښودله چې افغانان خپل هیواد پخپله رهبري کولای شي او دا به له افغاناتو سره دنړیوالو او د سیمی هیوادونو لویه مرسته ویچې افغانان پریږدیچې خپل سرنوشت پخپله و ټاکي. مونږ د نړۍ او ګاونډیانو نه دا هیله لرو

که کمک نه شي کولای نو ضرر دې نه رارسوي. مونږ د دوی د خیر نه امید نه لرو خو شر دې نه رارسوي.

**زما د پورته لیکنی په اړوند یوتن ډیوید میکستل چې مستعار نوم یي دی ولیکل:**

خوبست به امید پیروزی تیم ملی افغانستان درجنګ دیورند وسرحد اتك ورهبری وکپتانی خودت ورنه مجبوریم کپتان جدید انتخاب کنیم تارهبری کند ومربی خو درك ندارد.

**نو مایي په ځواب کې ولیکل چې:**

افغانستان را مربی های زیاد خراب ساخته و مربی خوب ان است که ملك را به جنګ نه کشاند بلکه ملك را از جنګ نجات دهد. جنګ به هر منظور که باشد جنګ جنګ است و عواقب اش همیشه بدتر از دست اورد ها میباشد، خاصتا در شرایط موجوده که ملك ما از هر طرف و از هر لحاظ نهایت صد مه دیده.

## د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالی د پوهنی مدیر په شهادت غمرازی

د اګست۲۳مه نیټه،کال ۲۰۱۳ م کال



که څه هم ما د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ د پوهنې مدیر شهید الحاج محمد عظیم خان (نایل) له نږدې نه پیژانده خو له ډیرو ملګرو او دوستانو نه مې د ده دپوهې، برده بارۍ او د پوهنېدچارو کې د چپرهار ولس او خلکو ته د خدمت اوریدلي دي. د چپرهار ولس په تعلیم مین ولس دی او تر کومه حده چې ماته معلومه ده د افغانستان په ټولو ولسوالیوکې د چپرهار غوندې منظم کار په هیڅ ولسوالۍکې د تیرو دوه دری لسیزو نه راپدی خوا نه ده شوی. که څه هم دا ولسوالۍ ډیره نا امنه سیمه ده خو د دې سره سره د ولس او خلکو په ملاتړ د دې ولسوالۍ تعلیمیافته دولتي چارواکو، مشرانو، علماو، استاذانو، لیکوالانو، روڼ اندو ځوانانو او سوداګرو د دې ولسوالی ځوانانو ته د تعلیم او تربیه بیلا بیل پروګرامونو زمینه برابره کړې او منظمې مرستي یې د تعلیم د کچه لوړیدلو او نورو خیره کارونو لپاره ورسره کړي او د دوی دا کارونه د قدر وړ دي.

زه د چېرهار د خلکو او خاصتا با درده او تعلیمیافته ولس ته د الحاج محمد عظیم خان نا ځوانمردانه شهادت تسلي وایم او خدای پاك دې دوی ته او د شهید کورنی ته صبر جمیل ورپه برخه کړي او ده ته دې جنیت فردوس نصیب کړي. هر څوك که په هره پلمه د تعلیم په مخ کې خنډ واقع کېږي او زموږ تعلیمې ستېې او بنیادونه له منځه وړي د ښښنی وړ نه دي او د افغانستان د ولس سره لویه جفا کوي.

## د افغانانو د توازن حس خراب شوی دی

د اګست ۲٤مه نېټه، کال ۲۰۱۳م کال، جرمنی

پخوا د انسان حواس پنځه و: لامسه (د لمس کولو حس)، شامئه (د بوی کولو حس)، ذایقه (د مزی د څښلو حس)، سامعه (د اوریدو حس) او باصره (د لیدو حس). خو اوس پوهان وايیچې دا حسونه له دې هم زیات او اتو ته رسیږي او حتی بعضې یې له دې هم زیات ګني. د کابل پوهنتون استاد غلام دستګیر خاورین سره می یو څه موده پخوا خبری کولې هغه وایي چېیوله دې حسونو نه د توازن حس دی چې انسان د توازن حس په درلودلو سره سم په لار ځي. که وګورو کله که په تورتم کې یو انسان په زینو قدم کېږدی نو بیا د توازن حس په ذریعه نور قدمونه سم اخلي.همدا شان دا د توازن حس په نورو پرندګانو او حیواناتو کې هم شته دی. د بیلګه په توګه د پیشو د توازن حس د هغې په بریتونو کې دی. که د پیشو یو بریت پریکړې نو هغه په دیوال نشی تللی او راغوزځیږي. همداشان د کوترې د توازن حس د هغه په تندیکې دی. که د کوترې په تندی پلستر ولږول شی نو هغه پرواز نشي کولای.

نو په دې اساس د افغانانو د توازن حس په څو لسیزو کې خراب شوی دی او د پارکنسن د مریض په شان په لاره سم نشي تللی ځکه چېزموږ اجتماعې رشد بی توازنه شوی دی. په یوه کور کې یو د تره ځوی د لوږې مري بل نه پوهیږیچې خپلې پیسي څنګه مصرف کړي. یو بې سواده پاتې دی د بل د تعلیم کچه ډیره زیاته

شوې ده. دا ډول بې توازنه اجتماعي رشد تضادونه رامنځته کړي دي او په هر کور او کلي کې ، او حتی په ملي سطحه زموږ ولس او چارواکې په دې اخته دیچې احمد څه وکړل او محمود څه کوي او ټول د یو بل پر ضد دسیسي او توطیي جوړوی. ټول ملت په داسي مسایلو او وړو خبرو اخته دی چې باید هیڅ فکر پرې ونه کړي. زموږ سیاستوال او چارواکې هم هره ورځ نوې نوې خبره راپیداکویچې ولس پرې مصروف وساتي او د اصلي او مهمو موضوګانونه د ولس توجه بلې خواته اړوي. نو په دی توګه لاژمي لاري چاري ولټوو څو د افغانستان د توازن حس سم شي او هم د ملت اصلي توجه اصلي او مهمو موضوګانو ته راواړل شي.

**واحد هیله من صیب خپل درد د پورته لیکنې په اړوند داسې اظهار کړی و:**

میاخېل صاحب ډېره په زړه پورې موضوع مولیکلې خو داشیان په علمي اوساینسي پوړونوپورې اړه لري اوستاسوپه وینا بې توازنه خلك په دې پوړونونشي أووښتی. مایووخت دافغانانومشکلات راوشمېرل اودحل دماشې لاندې مې ونیول. دفکرمردکي پرې ونښتل خویو یې هم سورې نه کړ. بیامې دې ته فکرشوچې افغاني مشکلات دومره پېړاودمرمۍ ضددي چې کله کوم مشکل ضربه کړي نووبه وینیچې مردکې داسي له ځانه تمبوي لکه تبۍ چې نینې له ځانه تمبوي . نوماوېلی راځه داګرانه چاره، یانی دپیسو

لګښنت يې ازمېښت کړه خوچېيووړوکې  مشکل مې په مادي تله وتاله نو په زړه کې  مې وويل چې دابه نوڅوك ورکوي اوله کومه به کېږي؟ هرڅه مېچې فکرلکه شرمخ د هرچاغ څاروي په لکۍ پورې ونښلاوه نوپرته له يوې رسالغتې بل څه په لاس رانغلل . په افغانستان کې چې څوك غريب وي نو خلك ورپورې خبرى کوي اوواييچې ژونديې له سپي بدتردى خو دلته په امريکاکې  دغه متل کارنه کوي . زه خوچې کله ځينى سپي ووينم نوځانته ووايمچې کاش دافغان پرځاى دغه امريکايي سپى وى ځکه چې ژونديې څومره ښکلى دى. دنړۍ ښکلي جينۍ يې په غېږکې نيسي ، نه له ډاکټره خبروي، نه له کوراوډوډۍ. کرکه ترې هيڅوك نه کوي اوژونديې يواځې په مزوکې  وي. که ووايمچې ژوندمې له سپي اوخره بدتردى نودرواغ به مې وئيلي وي ځکه چې دادواړه طايفى په امريکاکې  ترانسانانوښه ژوندلري. زه په دې هم حيران يمچې دا افغانان دخرواوسپوسره ولې دوښمني لري؟ خوبيامې فکرمينې  ته واوړي اوددې په ارزونه چې وخت هم ضايع کړم نو نتجه يې دارااووځي چې مينه خوهم په افغانستان کې  ترټولودرون جنايت اوترټولولويه ګناه ده . لنډه داچې اقتصاد، سياست ، کلتور اوان مذهب مو بخۍ بخۍ شوى دى. دابه دچا پلارورغوي !؟ روسانو خپلوپلويانوته په افغانستان کې  کوپونونه ورکول، امريکايانواونوروغربيانو په پاکستان کې  راشنونه ورکول. ددوى له کوپوني اوراشني نسل څخه به دافغانانوپه ټرپر، غيرتي ،

**توریالې ، اوننګیالی ملت څنګه جوړشي؟ بس همداسي ګدایګر به یې پرېږدوو!**

**ما یې په ځواب کې داسي ولیکل:**

**هیله من صیب ډیره مننه د زړه پوری تشابهاتو نه او واقعا چې دردونه زیات شي بیا انسان د مایوسي خواته بیایي او داسي فکر کویچې هیڅ نشي کولای خو د ژوند فلسفه د کړاونو ترڅنګ کوشش، زحمت او امیدونه دیچې انسان فعالوی او شرایطو ته د تسلیمیدو مخه نیسي او باالاخره د پراګنده څاځکو د راټولیدو نه یو څه جوړیږی.**

په مینه او درنښت

**سیاست لوبه ده**

د اګست د میاشتی ٢٤مه نیټه، کال ٢٠١٣م

**جرمنی**

**اسد دانش صیب نن د فیسبوک په صفحه لیکلی و چې:**

د نور رحمن لیوال د قوله چې سیاست تل لوبه ده خو ګټې یې هغه ثوک چې ګډون پکې کوي، او بایلي هغه ثوك چې نورو ته میدان پرېږدي. همداشان حفیظ الله تراب لیکلي و چې پخوا سیاست د خدمت لپاره و، خو اوس د تجارت لپاره کېږي.

**ما یي په ځواب کې داسي ولیکل:**

دانش صیب دلیوال صیب خبره سمه ده او داخبره چې تراب صیب کویچې سیاست پخوا د خدمت لپاره و سمه نه ده که د سینوهه کتاب ولولۍچې تاسي چاپ کړی نو انسان نه بدلیږی خو د هر څه پرتله کول نسبي شکل لري. پخوا سیاستمدارانو یوه ګوته په خوله کوله اوس پنځه واړه ګوتې او حتی د پښو او لاسونو ټولې ګوتې په خوله کوي. نو بیا مې د پورته لیکنې په دوام دا لاندې لیکنه وکړه.

## ایا دسیاست شاوړي[7] اوسو او که په سیاست کې برخه واخلو؟

د اګست ۳۱مه نیټه، کال ۲۰۱۳ د دوبی هوایي ډګر

سیاست که ښه کار دی او که بد خو د سیاست نه تیښته هم ممکن نه ده ځکه همدا سیاستوال دي چې په یوه نوم او بل نوم د ولسونو په سرنوشت او ژوند باندی لوبې کوي خو اګاه او هوښیار ولس هغه دی چې د ولس زیات اکثریت په سیاست کې برخه واخلي او د خپل سرنوشت په راتلونکې کې کم تر کمه سهیم وي. که مونږ په سیاست او سیاسي لوبو کې برخه وانخلو او پریږدو چې نور څه کوي او زمونږ په هکله څه تصمیم نیسي نو بیا دا حالت د تسلیمۍ دی او د دی په ځای چې په نورو اعتراض وکړو نو ښه به دا وی چې چوپ اوسو او پریږدو چې د نا سالم سیاست سیلاب مونږ چېرته رسوي. ایا د شاوړو (د غرنو د لرګو ټوټېچې په سیند کې راوړل کېږی) په څیر نیول کېږو او سوځول کېږو او یا سمندرته رسیږو او ورکېږو؟

په سیاسي لوبو کې ایډیال حالت نشته. زما په اند د افغانستان راتلونکې انتخاباتو کې ، ولس د څلور لارو نه د یوی لارې د غوراوی خوښه یا option لري:

[7]هغه لرګي او خاشاك چې په سیندونو کې راځي هغوي ته شاوړي وايي او هغو څوك چې د سیند غاړو ته ژوند کوي هغه رانیسي او د سوخت موادو په توګه بې استعمالوي. په کونړ کې دا لغات عام دی.

۱. د موجوده وضعې تحمل چې د قدرت سر د یو سره او تنه یې د بل سره ویچې دا وضعیت هم د نظام دوام د سوال سره مخامخ کوي.
۲. داسې نظام راتګ چې سر او تنه دواړه د یو ګروپ او یو سمت سره ویچې دا حالت هم د نظام دوام د سوال سره مخامخ کوي.
۳. د سر او تنه تر منځ یو نسبې تناسب موجود ویچې هم په ملك کې دننه او هم د ملك نه بهر د خلکو لپاره د منلو وړ وي.
۴. د سر او تنه تر منځ جنګونه دوام پیدا کړي چې دا حالت هم د ولس او وطن لپاره ښه نه دی.

که څه هم دریمه لار د سیاست په دې ګرم تنور کې د ایډیال شکل لري خو که دا لار تقویه نه شي زما په اند راتلونکې راته تشه او تته ښکاري. اوس به دا درنو دوستانو ته پریږدو چې کومه لار په راتلونکې کې انتخابوي. ایا په سیاسي لوبوکې د شاوړ په څیر بی تفاوته پاتی کیږی او یا د دغه پورته لارو نه یوه خوښوي او دهغې لارې لپاره کار کوي.

## نن ډېر خفه يم

د سپتمبر دريمه نيټه، کال ۲۰۱۳م ، کابل

**د خفګان اصلي قصه اوږده ده، شخصي نه ده، کتابونه پرې ليکل کېږي خو د زړه د براس ويستلو په خاطر په اجمالي شکل يو څو خبرې ليکم:**

دانګلستان صدراعظم، وينستن چرچل ويلي و چې استعمار هغه وخت په يو ملك کې برياليی کېداي شي چې مشران يي خاين او اکثريت ولس يي نادان وي. زه فکر کوم همدا حالت زموږ په وطن راروان دی. زموږ د اپوزيسون او پوزيستون په نامه مدني ټولنې او روشنفکران او بی خاصيته مشران د وطن په حالاتو ډير سطحي فکر کوي او د خپلو نا څيزو ګټو او خودخواهۍ له وجهې، دا ولس يي د يوې داسي معما سره مخامخ کړی چې هيڅوك نه پوهيږي چې په کومه لار راوان يو. د ولس نه يي لار ورکه کړی ده، او ولس هم د دوی د دسسيسو، چلونو او چنو وهلو په دام کې راګير دی او نه پوهيږی چې څه وکړي. تاسي به وواييچې ما خو هيڅوك پرې نه ښودل او ټول مې په يوه غشي وويشتل نو څوك به دا بيړۍ ساحل ته رسوي شايد څوك دا هم وواييچې دا د خارجيانو کار دی اوبعضې به وواييچې دا حالت په مونږ ګانډيانو راوستی دی. زما په اند دا حالت مونږ پخپله په خپل ځان راوستی دی البته خارجي عوامل به د کټلست رول

لوبولی وي خو مونږ او زموږ مشران د دی بېسرنوشته حالاتو د راوستلو پړه پر غاړه لري. تیر ماښام راته یو ملګریچې لوی دولتی چارواکی دی وویلچې د دې وخت ارمان به وکړئ نو ما ورته وویلچې ارمان به خود کوو چې د دې وخت چارواکو همداسې حالتو ته زمینه برابره کړې ده چې د دی نه بدتر حالت راشي او بیا په اوسني کفن کش باندی شکر وکاږو.

څه موده پخوا راته یوه ملګري لیکلي و چېد ډاکټر نجیب په هکله څه فکر کوې؟ نه پوهیږم چې د څه مطلب په خاطر یي دا پوښتنه کړی وه خو ما په ځواب کې ورته ولیکل چې د ډاکټر نجیب سیاسی ژوند زه په درې مرحلو تقسیموم. اوله مرحله کې د خاد د مشر په حیث د ده کارونه غندم، په دویمه مرحله کې چې د دولت مشرتابه ته ورسید په اخره کې یو څه ښې خبری کولې او ارماني فکر یي درلود خو په خپل سیاست کې ناکام شو نو ما ته د یو ناکام سیاست مدار په توګه ښکاري او دریمه مرحله یي د مظلومیت ده چې د طالبانو له خوا په دار وځړول شو نو دا طبیعي ده چې د مظلومیت په حالت کې انسان د بل انسان سره خواږې لري او زه هم د ده د وروستني حالت سره خواږی لرم. دا قصه مې ځکه ولیکله که مونږ واقعا د تیرو وختونو ځینې دورېچې مونږ یي ستایو د صحیح معیارونو په کنډه وتلو نو ډیر کم ښه به پکې پیدا کړو خو دا چې حالات د هغه وخت نه بدتر شوي نو ځکه مونږ هغه

دورې هم ستايوچې د ستايلو څه نه لري. همدا حالات اوس هم دي.

نن مازديګر راته يو ملګري تيليفون وکړ او په خبرو يي ډير مايوسه شوم چې څومره زموږ مشران د حالاتو سره بې پروا برخورد کوي او پنځه روپو او موقتي چوکيو او په کروزين موټرونو کې د يو څو باډی ګارډانو په خاطر، ملي مصالح، ايمان او وجدان هر څه د پښو لاندې کوي او فکر کويچې دوی به تل او د ابد لپاره په چوکيو او قدرت کې پاتې وي او دا لوبې به کوي. خو مونږ او تاسې په تيرو دری څلور لسيزو کې وليدل چې ډيرو کسانو په ډيرې بې شرمۍ او بې حيايي پيسې پيداکړې او لوړ مقامانو ته ورسيدل خو نه يي د دې پيسو نه څه خوند واخست او نه يي خپل مال او قوت په کوم جاريه صدقه باندی مصرف کړ چې په اخرت کې به يي په درد وخوري ، نه يي ښه نوم پاتې شو او نه ترې صالح او نيك عمله اولاد پاتې شو چې لااقل دوعا ورته وکړي. د دې خبرو نمونې او بيلګې په محلي او ملي کچه ډيرې دي خو دا چې انسان نه بدليږي او د دې ټولو حوادثو نه پند نه اخليچې کله همدا انسان اشرف المخلوقات شي او کله د درنده حيوان نه بدتر شي. خدای دې خير کړی او عاقبت به خير!!! مناسبه نه بولم چې د عاقبت قصه دلته وليکم خو شايد زياتو دوستانو ته معلومه وي. بيا هم عاقبت به خير!!!

**د پورته لیکنې په اړوند حلیم فدایي صیب لیکلي و:**

**میاخیل صیب خوابدی کېږه مه!**

زموږ یوه درانه ملګري او ریښتیني افغان د کورنیو چاروزارت پخوانی مرستیال شامحمود میاخیل صیب د فیسبوك په خپل وال لیکلي دي چې نن خوابدی یم! او د ډېرو مشرانو څخه یې د ګېلې په دود هغوی ته ددوی اصلي دنده او د مشرتوب ځانګړتیا ور یاد کړېده. کومه کېسه چې نوموړي کړېده، زه هم ترې خبر یم او دې ته ورته کېسې ډېرې دي چې د یوه تاریخي مسوولیت په توګه به د فکر او عمل جرګه هم د کتاب په بڼه او هم که اړتیا ولېدل شي د یوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې وروسته له خپلو ملګرو سره له مشورې اعلان کړئ.

محترم میا خیل صیب خوابدی کېږي مه، افغان ولس په دواړو حالتونو کې ګټونکې دی. هر مشر چې هر ډول نیت او اراده ولري، دا به ستاسو په شان مفکرینو او ریښتینو افغانانو د فکر او قلم په زور سره په مناسب وخت کې تفکیك کړئ. دا هم لویه لاسته راوړنه ده چې یو مشر په دقیق ډول و پیژندل شي. نو خوابدی کېږه مه، خوشحاله اوسه! تاسو هم یو مشر یې او مشران له تهمتونو، ناهیلیو، زندانونو او ګواښونو سره مخ کېږي، همدا ګواښ به انشا الله د یوه واحد زعامت د رامنځته کېدو لپاره یو فرصت شي. نو میاخیل صیب خوابدی کېږه مه!

**امان هوسا صیب لیکلی و:**

ګران میاخیل صاحب : زما له نظره زموږ په هیواد کي سیاست د چل او فریب ورکولو یو هنر دی او په دې هنر کي واکداران تر ټولو مخکي دي ،تر څو زموږ ولس دغه هنري لوبه ونه پیژني او نیغ په نیغه واکدارانو ته ونه دریږي نو همدا حالت به روان وي ،هیله ده چې ولس د غفلت له خوبه را ویښ شي.

**محمدالله ارین صیب د پورته لیکنی په اړوند یې لیکلی و:**

میاخیل صیب کله چې عملي کچه کمه وي، په تولنه کې اقتصادي فقر، د ریښتوني سیاست نشتون وي فکر قوت او لرلید هم پوره پوره کمزوری وي، دې ته په کتو سره په افغانستان کې سیاست یوازې او یوازې شخصي ګټې بلل کیږي چې همدې خبرو هیواد د ناورین لوري ته بیولي دي او هره ورځ نور هم هیواد د ورانۍ په لور ځي.

**محترم علم سیال صیب لیکلی و:**

خدای د خوشحاله لره د وطن په غم خفه- د طب له نظره دا ښه ده چه د زړه براس سوړ کړې . په دې حساسو تاریخي شیبو کې باید په وطن مین او یاد خلك ولس ته پیغام ورکړي - که خپله ماڼیجن هم وي ځکه چه ولس نه لاره ورکه ده او په دی حساس وخت کې د پوهانو او وطند وستانورغنده مشورو او لیکنو ته اړتیا لري.

**ما بیا د دوی دوستانو په خوب کې ولیکل چې:**

غواړم چېبیو څه واضح کړم !ورونو مونږ نه د حالاتو نه لرې پاتېیو او نه مو تیښته کړې او فکر کوم زموږیو شمیر با درده او با احساسه ملګري ډیر فعال دي، بې له کوم نوم او امیتاز نه هلې ځلې کوي په خپلو شخصي امکاناتو، او دا هلې ځلې یې د قدر وړدی. خو ستونځه دا ده چې کله سړی د سیاسي لوبو په منځ کې وي او زیات معلومات درسره وي او څه چېکېږی او ګوري یي نو سړی د یو لړ مایوسۍ سره مخامخ کېږی او دا مایوسي په دې معنی نه ده چې ارام کېنو. زموږ د یو شمیر ملګرو هلوځلو پوره فشار وارد کړی چېیوه معقوله لار پیدا شی خو په مقابل کې تخریبات زیات دي او زموږ د میاشتو هلې ځلې سبوتاژ کوي. مونږ همیشه د ولس نه خبرې کوو خو دا ولس بی سا او شل ولس دی . د مونږ نه مې مطلب با احساسه، پوه او تعلیمیافته طبقه ده.اول خو پنځه کسه تعلیمیافته طبقه په یوه لارنه ځي او دویم که پنځه کسه په یو لار لاړ شي نو بیا هم ولس یي تر شا نه ودریږي خو یو چارواکي او یا جنګ سالار ورته په یوه هوټل کې مړۍ برابره کړه نو په زرهاو نفر ورته ورځي. ډیر وخت ته او حتی څو نسلونو ته ضرورت دی چې ولس رابیدار شي، خپلې ګټې وپیژني او ښه ته ښه او بد ته بد ووايي. متاسفانه زموږ ټولنې نه د خیرات خورو ټولنه جوړه شوې ده او هر چا چې ورته زیات خیرات ورکاوه هماغه کس ته زیاتې دوعاوي کوي.

**واحد هلیه من صیب بیا ولیکل چې:**

په افغانستان کې ملت څېرې دی؟ ملت خو خپل تعریف اوصفتونه لري، په سرحداتوکې دننه وي، هویت لري، رسمیت لري، خپلواکي لري، خپل اختیارلري، اتفاق لري، غیرت لري، قانون لري، دولت لري، قضاییسیستم لري، اداري سیستم لري، ملي اقتصادلري، ملي عایدلري، ملي شتمنیانی لري، ویاړونه لري اوداسي نور...ایا افغانان داشیان لري؟ نه، په والله بالله که یې لري. څه چې تاسووینئ هغه دپردیوپه پیسو جوړشوي شیان دي چېسیمبولیکې بڼې لري خوترشایې ډېرې ژورې پالیسیانی، هدفونه، ستراتیژیانې اوتاکتیکونه پټ دي. دانویوکتاب خبرې دي چې په یومضمون کې نشي نغښتلی. که په لنډ یې ووایوو نو د افغانانو ولاکه یااقتصاد سم وي، یاسیاست او یا مذهب. زما ښه یادیږي چې د پېښور په کبابیانو کې یو وهابي په جومات کې ممبر ته وخوت او د خبرو سره سم یې کښېنته راوغورزاوه او د وهلو او ټکولو پرې اشر جوړ شو. دا نو د وهابیانو لومړې څرګند بدل وو خو کله چې یې دوه کېلو غوړي او دوه کېلو دالو وېشل پېل کړل بیا په زرګونو ورورسېدل او وهابیان شول. ما په باجوړ، دیر، ملکنډ، صوابۍ، هریپور، جلوزو، کچه ګړهي او نورو افغان کمپونو کې دراشن خورو افغان کډوالو لپاره کارکړی. ماته د دوی غیرت او ننګ ټول معلوم دی. لکه څنګه می چې وویل، افغانان د څو پیسو خلك دي نور هیڅ نه دي!!!

**د هیله من صیب په ځواب کې ما ولیکل**:

هیله من صیب ستاسي نظر سره باالکل موافق یم خو د یو ملت جوړولو لپاره باید کار وشی او همدا زموږ او ستاسې تر منځ د خبرو، نظریو شریکولو او پیشنهادونه شایدزموږ سترګې وغړوی او په نورو دوستانو او خاصتا ځوانانو لپاره یوه مفکوره ورکړي ځکه چې موږ خپل تاریخ او ځان سم نه دی پیژندلی او چې ځان سم ونه پیژنو نو نور موږ هم نه شي پیژندلی.

## د خره مینه لغته ده

د سپتمبر دولسمه نیټه ، کال ۲۰۱۳ م، کابل

دېکې هیڅ شك نشته چې هره بریاچې افغانان په هره کچه وطن ته راوړي د خوشالۍ او استقبال وړ ده. که څه هم له یوه طرفه تیر ماښام د افغانستان د فوټبال ټیم په بریاچې د هندوستان نه یې مسابقه وګټله ډیر زیات خوشاله شوم خو په دې شکل چې دا خوشالۍ د کابل په ښار کې ولمانځل شوله ډیر زیات خفه شوم. پښتو کې متل دی چې وایي د خره مینه لغته ده نو زموږ بعضې افغانانو او خاصتا دولتي چارواکې چې د معینانو او وکیلانو په کچه ولیدل شول چې د خپلو کورنو مخې ته یې د باډیګاردانو سره هوایيډزې کولې ډیر د تاسف ځای دی ځکه دا جنابان دومره نه پوهیږیچې هره مرمۍچې ویشتل کیږی یوچیرته به خامخا راغوزیږي او د کابل ښار چې میلونونه خلك په کې اوسیږی او ټول ښار د انسانانو نه ډك دی خامخا به د چا په سر راغورځیږي.امنیتي پوستو موظفینو هم دا ډول بیځایه مرمۍ ویشتلي. د کابل په بیلابیلو ځایونو کېزموږیو شمیر وطنوال په دې ډزو کې د اسمانی مرمیو په راغورځولو زخمیان شوي هم دیچې ډیر د افسوس ځای دی. ایا خوشالي څوك په دې ډول لمانځي چې خپل نور ورونه په هوایي ډزو زخمیان کړي؟ دا خو پریږده چې تیر ماښام ډزو په کابل کې وښودله چې د کابل ښار کې څومره سلاوې شته او که خدای نا خواسته یو مشکل پیښیږي

نو څه به کېږی او دا چې دې ډزو په لومړي سر کې ځومره تشویش خلکو ته پیښ کړی دی، جلا خبره ده. دې ډزو دا هم وښودله چې د افغانستان د ډې ډې آریا د بې وسلی کوله پروسه ناکامه پروسه وه. درنو دوستانو تاسي قضاوت وکړئچې ایا د دې خوشالۍ لمانځل په دې ډول سم و که نه؟ تاسې قضاوت وکړئ شاید زما قضاوت د نورو دوستانو سره فرق ولري.

ډیری دوستانو د پورته تبصره په هکله خپل نظریات لیکلي و او دا ډول لمانځنه یي غندلې وه چې د دوه دوستانو تبصري دلته رانقل کوم.

**محترم واحد هیله من صیب لیکلی و:**

مبالغوي خلك می سخت بدې شي اوپه افغانستان کې په اوسني فسادي دایروکې خویې حساب نشته ! «نن په غزني کې یوځوان طیاره کشف کړه»، «فلانی دنړۍ په ځوانولیډرانوکې لومړې شو»، «فلاني شل ګزه خېزوواهه»، «افغانستان د آهوپه نامه موټرجوړکړ»، «فلاني دبنګله دېش پهلوان ته ماتی ورکړه» اوداسي نوری ډېری غلواومبالغې. اوس دماشومانودلوبوهیلیکوپترونه خرڅیږي ، یوواخلئ ، خلاص یې کړئ اونقل ترې وکړئ، داڅه سخت کاردی ؟ یا دبنګله دېشیانوبی چارګانو په وجودکې څه دي؟ یوخبټهور ورپسي ولېږئ نیمایي بنګله دېش درته راځملوي! مونږټول خوشحاله یوو چې دافغانستان دفوټبال ټیم د جنوب اسیا

قهرمان شو خولا نړۍ واله قهرماني اوداولمپيك دسروزرومډالونه خويې لاته دي ګټلي. خراسانيان پکې خپل خره څربوي، دانتخاباتو کانديدان پکې ځانته شخوندونه وهي اوهمدااوس خبرشوم چې افغانان ملت ته پکې يوه پۍ مخې مورهم پيداشوه. ربښتيا وايیچې دناديده لورنه کېده خوچې کله وشوه نونوم يې ورته ۰۰۰ کېښنود.

**همداشان ډېر محترم ورور استاد غلام دستګير خاورين صيب ليکلی و:**

ګرانه وروره ! همدا اوس مو په ديپارتمنت کې پر همدې موضوع خبرې کولېچې سترګې مې ستا پر تبصرې ولګيدې. دا تول هغه څه چې مو ويل ستاسو په تبصره کې راغلي و. هو بالکل همداسې ده . بايد زياته کړمچې موږ د خوشالۍ او غصې کچه نشو ټاکلی. خوشالي مو هم له حده وتلې وي او خپګان مو هم. يو وخت مې په يوه کتاب کې لوستي و چې افغانستان د افراط او تفريط ملك دی. يو مثال يي همدا د فټبال د ګټلو په برخه کې غبرګون دی چې تاسې په کره توګه چاڼ کړه.

## قومي او سیاسي ټیکه داران

د سپتمبر ۱۴مه نیټه، کال ۲۰۱۳ م، کابل

د **۱۳۵۸** کال په لومړۍ شپو او ورځو کې چې مهاجر شولو نو د کونړ په غرونو کې اوسیدو، دجهاد حرکتونه او هلې ځلې روانې وې،یوه ورځ د یو ګوند محلي غړی د خاص کونړ سیمې ته نږدې د څپرې په کلیکې چېرته چې خدای بښلی پلار مې اوسیدو راغی چې دی وګوري. پلار مېچې ډیرې سختې تبې نیولی و او بړستن پرې پرته وه نو د دې محترم خبرو ته یې د بړستنې لاندې غوږ نیولی و. دغه محترم چې اوس هغه هم خدای بښلی دی خبرې او لاپې پیل کړې،پلار ته مې وویلېچې مدیر صیب[8]زموږ ګوند په افغانستان کې پنځه میلونه کسان لري او یوازې په خاص کونړ ولسوالۍکې مونږ ۱۲۰۰ کسه ملګري لرو چې دوه سوه کسه یې مسلح دي او غواړو چې د تاسي سره ایتلاف وکړو. پلار مې ورته وویلېچې زه د احصاییه مدیر وم او د افغانستان احصاییه راته معلومه ده دا چې ستاسي وړوکی ګوند پنځه میلیونه کسان ولري نو دا لوی لوی ګوندونه خو به د تاسې نه زیات او یا د تاسي سره که مساوي غړی هم ولری نو په دې ډول د افغانستان نفوس د سل میلیونو نه هم زیاتیږي. حال دا چې د افغانستان نفوس (په هغه

[8]زما پلار په خپله سیمه کې د مدیر صیب په نامه شهرت درلوده ځکه د هجرته نه د مخه د کورنیو چارو په وزارت کې مدیرو

وخت کې) د ۱۵ میلیونو څخه زیات نه و. نوپلار مې ورته وویلچې دا دولس سوه کسان دې هم ستا وي خو ماته شل کسه معرفي کړه کافي دیچې په شریکه به جهاد کوو. هغه شخص ورك شو او بیا ډیر وخت وروسته مونږ په پیښور کې ولید نو پلار مې ورته وویلچې هغه شل کسه خو دې هم ورك شول او لادرکه شولې.

ګرانو دوستانو د دی کیسې نه مې مطلب دا دی چې په دې ورځو کې د بیلا بیلو نومونو په نامه حرکتونه اعلانیږي او هر ګروپ ځانونو ته غټ غټ نومونه لکه د شرق ، غرب، شمال، جنوب، سرحدي قومونو، د نخبه ګانو، متخصصانو، مدني، غیر مدني او داسې نورو شورا ګانو او حرکتونو نومونه ورکوي او هره شورا دا ټټر وهیچې د دغه سیمې، ډلې او ګروپ ټول خلك د دوی پسې روان دي. زما په اند دې ډلو او افرادو خپل اعتبار له لاسه ورکړی دی. څه موده د مخه د دغه ډلو نه یوې ډلې د شورا یوې غونډه ته وغوښتم چې نوم یې ډیر غټ و او ما فکر کاوه چې ډیر خلك به راجمع شوي وی خو باالاخره اوه اته کسه هم نه و خو د لسونه زیات خبریالان راغلی و. ګرانو دوستانو تاسي څه فکر کوئ چې ایا د دغه سیمو کسان به ټول دې محترمانو پسي لاړ شی او که نه؟

## د مشر لالا په خاطر دلته راغلی دی

د سپتمبر ۱۸مه نیټه، کال ۲۰۱۳ م، د سرینا هوټل اسلام اباد، پاکستان

مونږ او تاسي وایوچې د څلوېښتو ملکونو عسکر افغانستان ته راغلي دي خو د دې ملکونو اکثریت ملکي او فوځي غړو موجودیت د مشر لالا یعنې د امریکا په خاطر دي لکه چې په کلیکې یو ملك او یا خان چېرته ځي نو یوه ډله د هغه د خوشالۍ په خاطر ورسره روانه وي. یوه د سترګو د لیدو قصه می راپه یاد شوله چې دوه درې کال د مخه د هالینډ په سفارت کې د لوګزامبورګ د هیئت په خاطر میلمستیا وه چې د افغانستان د دفاع، داخله اویو شمیر نورو چارواکو په شمول زه هم دغه میلمستیا ته دعوت شوی وم. د لوګزامبورګ د دفاع وزیرچې د پراختیایي وزارت مشر هم و دا خبره تکرار تکرار کوله چې د دوی هیواد هر تابعه د افغانستان لپاره پنځه پنځه ډالره مرسته کړې ده. نو ما ترې پوښتنه وکړه چې ټوله مرسته مو څومره ده؟ ده بیا همدا خبره تکراروله چې د دوی هرکس پنځه ډالره د افغانستان سره مرسته کړی ده. دلوګزامبورګ هیواد چې وړوکې اروپایي هیواد دی ټول پنځه لکه نفوس لری نو د دوی ټوله مرسته دوه نیم میلیونه ډالره وه. بیا ماترې پوښتنه وکړه چې څومره عسکر په افغانستان کې لری؟ نو هغه وویلی چې اوه کسه او هغه هم د کابل هوایي ډګرسره د ایساف په مرکز کې دي. د اوه کسو عسکرو لپاره تقریبا لس کسه هیئت د وزیرانو په کچه راغلی و.

زما په اند که مشر لالا یعنې امریکه تصمیم ونیسي اود افغانستان نه ووځی نو دا نور پخپله وځي ځکه دوی په ځانګړی ډول په افغانستان کې پاتی کېدای نشي. نو په دې خاطرزموږ دا تحلیل ګران چې وایي د ځلوېښتو هیوادونو عسکر دلته راغلی دی رښتیا خبره ده چې هر یو هیواد یو څّه نمایندګي لري خو په واقعیتکې اکثریت د امریکا په اوږو بار دي ځکه دوی نه طیارې لري، نه جنګي ظرفیت ، نه دومره پیسې او نه په افغانستان کې څه خاص ستراتیژیك او اقتصادي ګټې او اهداف لري. اکثریت دا هیوادونه د ناتو د چتر لاندې دلته ځکه راغلل چې عراق ته نه تلل او افغانستان ورته ارام او اسانه ښکاره کېده چې د امریکا سره همدردي وښايي.

## دسولې نړۍ واله ورځ

د سپتمبر میاشتی ۲۱مه نیټه کال ۲۰۱۳ م

نن د سولې نړیواله ورځ د افغانستان د مدني ټولنو له خوا د هیواد په بیلابیلو سیمو کې ولمانځل شوه خو د افغنستان دولت له خوا بیا دغه ورځ پیکه لمانځل کېږي دوی باید دا ورځ په داسې شاندارو مراسمو لمانځلی وای ترڅو د دې ورځې د سولې وړانګو د جنګ او ټوپک اوازونه، د خپلی شعاع لاندې راوستي وی. په هر حال زه هم یوې غونډې ته چې د کابل د ښځو په بڼ کې د مدنی ټولنو د صلح شبکې له خوا جوړه شوې وه ورغلی وم او ډیره دلچسپه وه چې په سل ګونو ښځو، ماشومانواو نارینه و پکې ګډون کړی و ما پکې هم یو څو خبرېوکړې او غواړم چې زما د خبرو نچوړ له تاسې دوستانو سره شریك کړم:

ولې مونږ د سولې ورځ لمانځو ځکه چې دجنګ پایلې، تاوان او عواقبچې په هر ملحوظ او هدف وي، ډیرې خطرناکې او زړه بوګونونکې پایلې لري. د تیرو څو لسیزو جنګ د افغانانو لپاره ژوندی تاریخ دی، سوله همیشه او په هر حال کې د جنګ او یا د جنګ د دوام نه ښه ده. په لومړۍ نړیواله جګړه کې یوازې د جنګ د ځاني تلفاتو اندازه **۳۷** میلیونه کسان و او په دوهمه نړیواله جګړه کې د جنګ د ځآني تلفاتو شمیره د ۶۰ نه تر **۸۵** میلیونه پورې اټکل شوې ده چې په هغه وخت کې د ټولې نړۍ د نفوسو په

سلو کې دوه نیمسلنې ته رسیدله. که خدای نا خواسته بله نړیواله جګړه پیښېږي نو د تلفاتو کچه به بیخي زیاته وي ځکه اوس دنیاوالو نورې پر مخ تللېوسلې لکه اټومي سر ګولولې او کېمیاوي وسلې جوړې کړي دی. که د د دریمې سړې جګړې د وسلو تولید او نیابتي جګړو اندازه ولړول شي نو د ځاني او اقتصادي تلفاتو اندازه خورا زیاته ده. د ۲۰۰۱ م کال نه د افغانستان په جنګ باندې تر اوسه **۶۵۹** میلیارده ډالره مصرف شوي دیچې په دې توګه په هر ساعت کې لس نیم میلیونه ډالره د افغانستان په جنګ مصرفیږی. حال داچې اوس هم د افغانستان د نفوسو په سلو کې ۴۰ په فقر کې او په سلو شل د فقر خط ته نږدې دي. زما په اند که د جنګ دا پیسې او انرژي په انکشاف او د انسان د هوسایني په منظور استعمال شوې وای نو په نړی کې به هیڅوك غریب نه وی. د جنګ مخه هغه وخت نیول کیدای شي چې تحمل او برده باري او متقابل احترام موجود وي ځکه جنګ د ویرې، عزت او مفاداتو د ټکر په نتیجه کې رامنځته کیږی. د دې لپاره چې د جنګ لاملونه له منځه یوسو نو باید خپلو ماشومانو ته د سولې روحیه ورکړو او د جنګ د عواقبونه یې خبر کړو ترڅو د سولې روحیه د ماشومانو، د کورنیو، قومونو او ملتونوتر منځ د کلتور جز وګرځي.

**واحد هیله من صیب لیکلی و:**

میاخېل صاحب داستاسونېك نظردی خود سولې ګړدود له جنګي ذهنیت سره نه جوړېږي . سوله په سالمودماغوپورې تړلی وي اوجګړه په لېونودماغوپوری، نواوس یې وتلئ چې په افغانستان کې به څوفیصده خلك چې دولتي چارواکې هم پکې شامل وي ، سالم دماغ اوفکرولري

**ما یې په ځواب کې ولیکل:**

هیله من صیب ستاسي خبره سمه ده خو فکر بدلول یا عادت بدلول متداومه هلو ځلو، هوډ او کار ته ضرورت لري ترڅو د سولې د طرافدارانو تعداد زیات او د سولې د دښمنانو تعداد کم شي نو بیا به دایمیسوله رامنځته شي. متاسفانه په تیرو څو لسیزو کې د جګړه مارو تعداد ډیر زیات شو او د سولې طرفداران اوس د دوی د اغیز لاندې دي خو دا حالت باید تغیر وخوري ترڅو خلك خپل عادي ژوند په ارامه تیر کړي. د داسې غونډو او هلو ځلو ضرورت زیات دی البته اوسنۍ هلې ځلې کافي نه دیچې هر څه ته تغیر ورکړي.

## مثبت تغیر څنګه راتللی شي؟

د سپتمبرد میاشتی دیرشمه نیټه، کال ۲۰۱۳ م، کابل

خدای پاك مونږ په افغانستان کې ، د همدی قوم په منځ کې پیداکړییو او که هر چېرته لاړ شو او په هر حالت کې ووسو د دې قوم ښه او بد زموږ په ژوند اغیز لري او د دې قوم د دایره نه وتلی نه شو. تغیر هغه وخت راتلی شیچې تعلیمیافته یا د روشنفکرانو طبقه داسې میتود غوره کړیچې د ولس په ژبه، کلتور او چاپیریال اګاه وي او د هغوی سره د افهام او تفهیم ژبه ولري او باالاخره زموږ تعلیمیافته او روشنفکران د ولس په منځ کې داسې ځای پیدا کړیچې ولس فکر ونه کړیچې دوی د ولس نه بیګانه دي. مشکل دا دی چې تعلیمیافته طبقه او روشنفکران د ولس په منځ کې د خارجیانو غوندې ښکاري نو په دې خاطر په ولس کې ځای نه لري خو د دوی په پرتله یو جنګ سالار د ټولو بدوصفتونو سره، د ولس په ژبه پوهیږي او هغوی کولا شي په خپله ګټه په زرګونو کسان سرك ته راوباسي او د خپل قوت مظاهره وکړي خو په سل ګونو تعلیم یافته بیا پنځه سوه کسه هم سرك ته نه شي راویستلی. ګاندي که څه هم په هندویزم یي عقیده نه درلوده خو د هندویزم پیرو و او ویل به ییچې زه ځکه د هندویزم پیرو یمچې زما ولس پرې عقیده لري او پیرویيي کوی. د ولس عنعنات که ښه هم نه وي خو د دې لپاره چې مثبت تغیر راولې نو باید تر یو وخته د هغوی په شان عمل وکړې تر څو ولس تا خپل وګڼي او ستا

خبروته غوږ کیږدی. د مشروطه خواهانو نه راپدې خوا چې هر مترقی حرکت جوړ شوی هغه ځکه شنډ شوی چې د دی حرکتونو د مشرانو او پیروانو کړه او وړه د ولس د ارزښتونو سره توپیر درلوده او په ټکر کې سره و نو ځکه کامیاب نه شول. تاریخ ښودلې ده چې ښه مشران او روشنفکران د یوې ټولنې هغه وخت مثبت تغیر راوستلی شیچې د خپلو ولسونو په عیني او ذهني شرایطو اګاه ویاو مسوولانه برخورد د واقعیتونو په بنیاد وکړي نه د احساساتو په رڼا کې ځکه د احساساتي برخوردنو په نتیجه کې ټولنه دومره شاته پاتېکېږی چې د یو بل سالم حرکت جوړیدل کلونه او حتی نسلونه نیسي. د تیرو دورو د مشرانو د احساساتي برخوردونو له امله اوس مونږ قرباني ورکوو خو زموږ د دې مشرانو او روشنفکرانو د غیر مسوولانه برخوردونو له امله به زموږ راتلونکی نسل قربانیورکوي.

**امان هوسا صیب د پورته لیکنی په هکله لیکلي و:**

شامحمود جانه : زه په دې نظر یم چې موږ هیڅ وخت د پرمختګ ستراتیژي نشو بدلولای،خو ستراتیژي ته د رسیدو دپاره تکتیکونه بدلولای شو،زموږ ارمان دې هیواد ته تمدن او علم راوستل دي ،نو په هر تکتیک چې روڼ اندي کولاي شي دغه هیواد دې د تمدن په لور روان کړي،موږ به تل دداشان بهیر ملګري یو. خو تکتیک باید دومره ارتجاعي او زوړ نه وي چې موږ پخپله شاته ولاړ شو او

یووروسته پاتی راڅخه جوړ شي.موخې ته رسیدل تر هر څه مهم دي، چې هغه د تمدن د کاروان سره یوځاي تلل دي او بس. نیکمرغه اوسې.

**زما ځواب دا لاندی څو ټکې و:**

هوسا صیب زما او ستا مطلب یو دی خو کوم تکتیکونه چې تر اوسه کارول شوي مونږ یې ډیر شاته غورځولییو او اوس مونږ د دومره افراطي نسل سره مخامخ یوچې هیڅ فکر سړی نه شي کولی. البته ډیر عوامل به لري خو مهم عوامل یې ملي غلطې پالیسۍ وېچې منطقوي او بین المللی هیوادونو ته یې داسي زمینه مساعده کړه چې د خپلو اهدافو په خاطر یې مونږ استعمال کړو، خو اوس دوی سره هم د حل لاره نشته دی. که له یوه پلوه مونږ ډیر ښه او با احساسه ځوانان لرو خو د بل پلوه همدومره افراطي ځوانان هم لرو چې نه زموږ کلتور پیژني، نه مشر پیژني، نه ملا پیژني، نه غم پیژنی، نه خوشالي او ځانونه وژني. د دوی فکر بدلول څو لسیزو ته ضرورت لری، هغه هم په دې شرط چې ښه کار وشی، ښه حکومت او ښه مشران ولرو چېیو ملي او هر اړخیز حرکت په لار واچوئ تر څو د دې افراطیت مخه ونیسئ.

**صمیم خالد صیب لیکلی و:**

محترم میاخیل صاحب تاسو د مشکل اساسي ټکي په ګوته کړل راځی چې اوس د دې مشکل د حل لاره ومومو او عملي اقدام

پورته کړو څکه یوازې خبرې نه مشکل حل کولا شي او نه هم ګټه رسولای شي.

**زما ځواب داسي و:**

صمیم صیب زه په دی خبره متفق نه یمچې خبرې مشکل حل کولای نشي. وایيچې د ټوپك زخم ښه کیږی خو د خولې زخم نه ښه کیږی. ښي خبرې د اعتماد فضا رامنځته کوي او د مشکلاتو لپاره د حل لار سړی پیدا کولای شي. اوله مهمه او غټه مسله زموږ د خلکو تر منځ بې اعتمادي ده او هر څوك د هر چا په خبره شك کوي او شك باید وکړي څکه چې مونږ ټول د مختلفو لارو او سوړو نه په کراتو کراتو چېچل شوییو. دویمه مسله سیاسي تشکل دی. تر څو مونږ او تاسې په یو سیاسي تشکل کې چې افراطی بڼه ونه لري، سره راټول نه شوو هیڅ نه شو کولای او ټول کارونه به مو په مقطعي شکل کې وي. بدبختانه د سیاسي تشکل جوړول هم څه اسانه کار نه دی څکه چېزموږ سیاسي تشکلات هم د افراط په چوکاټ کې جوړ شوي و او نتیجه یي مونږ او تاسي په څو لسیزو کې ولیده خو د دې امکان شته چې سیاسي تشکل یو نه بلکه دوه درې او یا زیات د هیواد د موجوده شرایطو په رڼا کې جوړ شي نو بیا سالم رقابت کولای شيچېزموږ مشکلات حل کړي.

**محترم محمود محمودی صیب لیکلی و:**

ډیر محترم میاخیل صاحب: ستاسي لیکنه ډیره پرمعنی ده او زه کامل یقین لرم چې دروڼ اندو د ناکامۍ راز هم په همدغه نقطه کې دی. ولی زه هم یو فکرلرم اوهغه داچې دافغاني اجتماع دخلکو سره په یوی مسلې باندې نتیجې ته رسیدل دومره ستونزمن نه دي او په ښه استدلال اووضاحت سره کولای شیچې مقابل جانب قانع کړي او خپل طرف ته یي واړوی. خو یوشی چې زه یي اندیښمن کړی یم هغه دروڼ اندو توافق او همغږي د دیني عالمانو (هغه عالمان چې هغوی په مدرسو کې زده کړې کړیدي او دیني زده کړییي په عصري پوهنتونو کې ندي کړي) سره ډیر مشکل دی. زموږ خلك چون ډیر مذهبي او عقیدوي خلك دي همیشه کوشش کوي چې هره مسلَه ددیني عالمانو ددیدګاه څخه وګوري او دهغه وروسته هوکړه یا نکړه وکړي. که چیرې زموږ ځوانان دیني زده کړې د محرومیت او مجبوریت په فضاکې د مجبوریت له وجهې ونکړي او دهغوی ټولې ستونزې په نظرکې ونیول شي او په ډیر عصري او کاملا مجهزو مدرسوکې چې هلته د هغوي خوراك څښاك او دژوندانه نور سهولتونه په پوره خلوص سره په نظرکې نیول شوي وي زده کړه وکړي نو زه فکر کوم چې هغوی به پدغه یویشتمه پیړۍ کې دښه ژوند کولو اوددې لپاره دښه پرمختګ او دبین المللي ټولنې سره دښه تعلق او توافق په ساتلو کې هیڅ قسم دریغ ونکړی. بلکه داکوشش به کوي چې

دخپلو افغاني روڼ اندوسره قوي اړیکې وساتي اودوطن دپرمختګ لپاره په ګډه توګه دنړیوالوسره سیالي وکړي. زه پدې عقیده یمچې کله هم یو روڼ اندی د مذهبي پیشواسره په توافق کې وي او نظریات یي سره ټکر ونکړي نو عام وګړي به په پوره خلوص او همت سره دخپلو روڼ اندو او مذهبي مشرانوسره په صف کې ودریږي او دپرمختګ اودښه بدلون لپاره به نه ستړی کېدونکې کاروکړي.

**زما ځواب دا لاندی څو ټکې و:**

محمودی صیب زه ستاسي د لیکنی سره توافق لرم چې څنګه د منبر، دفتر او ټغر تر منځ همغږي راولو نو ښه خبره ده. ځکه کله چې د حکومتونو، ديني او روحاني او قومي کړیو تر منځ یو مناسب تناسب مونږ درلودلی دی نو په افغانستان کې ارامي راغلې ده خو کله چې دا تناسب له منځه تللی ګډوډی زیاته شوې ده. خو د دې تر څنګ، مونږ دین باید د یوې خاصې طبقې پورې منحصر نه کړو ځکه اسلام د هر مسلمان ملکیت دی او هیڅوک یي ټیکه دار نه دی. مونږ هر یو باید تر یوه حده په اسلام کې معلومات ولرو. د اسلام فرق د نورو ادیانو سره همدا دی چې اسلام د چا انحصار او ملکیت نه دی. محمد مصطفی (ص) دحجت الوداع خطبه یي ښه نمونه ده چې عرب په عجم، تور په سپین، سپین په تور....... هیڅ تفوق نه لري او بهتر د مسلمانانو نه هغه څوک دی چې د ټولو نه متقي تر وي.

## مایوسي د کرکټ ټیم د استقبال په اړه

د چارشنبه ورځ د اکتوبر دریمه نیټه کال ۲۰۱۳ م، کابل

درنو دوستانو!

که څه هم زه نه لوبغاړی یم او نه سپورتي خبرونه ډیرتعقیبوم خو د ځوانانو لپاره سپورت کول او په سپورتي لوبو کې برخه اخستل اړین او مهم ګڼم ځکه لوبې له یوه خوا د ځوانانو د صحت لپاره ښې دي او هم دوی ته د ټیم په شکل کې د کار کولو او دسپلین د زده کړو ښه وسیله ده ځکه نن سبا بې له ټیم ورك Team work نه هیڅ کار ښه په مخ نه ځي او دا د اداره او مدیریت ښه اصل دی. زموږ سیاسي لوبغاړي هم په همدې دلیل ناکامه دیچې نه ټیم لري او نه په ټیم عقیده.

مایوسي په دېکې ده چې پرون د افغانستان د کرکټ ټیم د نړۍ په کچه د کنیا د قوي ټیم نه په دویم ځل دوه لوبې په یوه اونۍ کې وګټلې او هم د کرکټ ټیم په هیواد کې لومړنی ټیم و چې د نورو لوبو لوبغاړو ته یې روحیه ورکړه چې د نړۍ د لوبو په اتلولۍ کې ځانونه وځلوي او د افغانستان د سپورت د ټیمونو د مخکښانو په نوم ییبادولی شو. خو نه په فیسبوك کې او نه په هیواد کې دننه د دې خوشالۍ په هکله هغه ولوله چې د فوټبال ټیمیوازی په منطقوي لوبوکې ګټلې وه موجوده ده. که دوستان ما پیژني ما ته قومي او سمتي مسایل هیڅ اهمیت نه لري او هر افغاني ټیمچې لاسته راوړنه راوړي د قدر او استقبال وړ ده خو د کرکټ په

ټیمکې چې اکثریت پښتانه دي، استقبال یي هم د وطن په کچه او هم د پښتنو په منځ کې لږ پیکه راته ښکاره شو او مایوسه یي کړم.

دلته راته مشهور کومیدی سندرغاړې خدای بښلې حضرت بار استاد یوه ټوقه راپه یاد شوله. یوه ورځ دی هوتل ته ورغلی وه نو هوټلچې ورنه پوښتنه کړی وه چې څه خورې؟ ده ورته ویلي وچې څه لرې؟ هوټلچې ورته د خوراکونو نومونه اخستي وه چې په دې منځ کې ورته ویلی وه چې سالن هم شته. حضرت باز استاد سالن نه پیژنده نو فکر یي وکړ چې همدا ښه خوراك به وي نو سالن یي فرمایش ورکړ او غوښتل ییچې سالن هم وپیژني. هوټلچې ورته لږ سابه په یوه واړه قاب کې راوړل.و حضرت باز استاد چې سابه لیدلی و نو هوټلچې ته یي ویلي و چې همدا سالن دی؟ هوټلچې ورته ویلی و چې هو!ده ورته ویلي و چې خدای مو خوار کړه په دې نومونو همدا سابه مونږ په کاسه کېاچوو موږ ورته سابه وایو او که دا سابه تاسې په وړوکي قاب کې اچوئ نو سالن ورته وایي. لوبې خو ټولو لوبې دي خو کرکټ راته سابه ښکاري او فوټبال راته سالن.

**محترم نصیر اندیشه په استرالیاکې د افغانستان سفیر د پورته لیکنی په هلکه لیکلی و:**

میا خیل صاحب، مایوسي را بخود راه ندهید. تیم کریکت ما یك قدم از رسیدن به جام جهانی فاصله دارد. ما برای پیروزی شان لحظه شماری داریم. و انشاالله میزبان شان در استرالیا و زیلاند جدید می باشیم. فوتبال هم از ماست .. فقط اینکه پیروزی در سطح منطقه و در مقابل کشور های همسایه ارزشی حساسي برای ما و شما دارد... و مشکل در کریکت این است که همسایه هایرا که در فتبال مغلوب می کنیم در کریکت سر آمد جهان اند... ولی بهر صورت ورزش وسیله ای وحدت است و کریکت جای خود را در ورزش کشور یافته و هیچ کسي هم منکر آن شده نمی تواند.

**ما يي په ځواب کې داسي ولیکل:**

جناب سفیر صاحب اندیشه! نهایت تشکر از کامنټ تان قابل قدر است و هم از حمایت تان از کرکت و فرموده شما صحیح است که به خاطر بازی های خراب گذشته همسایه ها، موفقیت ټیم فوتبال جذبات مردم افغانستان را به موج اورد و ما هم هر فرصت کې برای وحدت افغانستان میسر میشود باید استفاده کنیم. مایوسي من به همین خاطر بود که باید از کرکت هم استفبال باالمثل می کردیم که همسایه های ما که در کرکت مهارت خاص دارند وارخطا میشدند.

## د وټ اچولو اهمیت

د اکتوبر درېیمه نېټه، ۲۰۱۳ م کال، کابل

په ډیموکراټه ټولنه کې یو وټ هم خاص اهمیت لري او هر څوک په دې پوهیږي چې د دوی وټ نه ضایع کیږي. په ۲۰۰۰ م کال کې د څو وټونو په نتیجه کې جارج بوش د امریکې جمهور ریس شو خو په غیر دیموکراتیکه ټولنه کې د وټ نه پرته نور شیان لکه زر، زور، اوتقلب په انتخاباتو کې خاص اهمیت لري. څکه د شلمې پیړۍ مشهور دیکتاتور جوزف ستالین ویلې و چې :

It is enough that the people know there was an election. The people who cast the votes decide nothing. The people who count the votes decide everything.

(دا کافي ده چې خلك په دې خبروي چې انتخابات وشول خو هغه څوك چې وټونه اچوي هغوی تصمیم نه نیسي بلکه تصمیم هغه څوك نیسي چې وټونه شماري).

دا پورته دوه حالته که مونږ مقایسه کړو د دواړو حالاتو احتمال په افغانستان کې شته دی خو زما امید د ګرانو هیوادوالو (خویندو او ورونو) نه دا دی که کارتونه نه لري، باید کارتونه واخلی او په راتلونکو ټولوانتخاباتو کې (ولسمشرۍ، پارلماني، ولایتي، ولسوالۍ، کلیوالي، او ښاروالۍ شوراګانو) کې برخه واخلي او د خپلې خوښې کاندید ته رای ورکړي. دا ویره باید مونږ د ځانونو

نه لري کړو چې زموږ وټ اهمیت نه لري. که مونږ دا ویره ولرو چې زموږ وټ اهمیت نه لري، دا پخپله د ناکامۍ او ولس رایو ته د نه اهمیت زمینه برابروي. که زموږ وټ یو یا دوه ځلې ضایع هم شي فرق نه کوي ځکه باالاخره زموږ وټ اهمیت پیداکوي. که مونږ انتخاباتو کې برخه واخلو فقد یویا دوه ساعته وخت به زموږ ضایع شي. خو زه د د دې دوه ساعتونو د وخت ضایع کولو او په قطار کې د ودریدلو نه دومره خوند اخلم چې هیڅ اندازه نه لري لکه زه چې د خپلوملګرو سره میله ته وتلی اوسم. کله به چې د مهاجرت په وختونو کې په نورو ملکونو کې وټونه اچول کېدل نو مونږ به ورته خړې خړې کتل او د وټ اچولو حق به مو نه درلوده. نو درنو دوستانو رائۍ خپل د دې حق نه باید ګټه واخلو. هم په انتخاباتو کې اوهم په سیاسی لوبو کې باید فعال اوسونو بیا د دې چانس کم دی چې زموږ وټ اهمیت پیدا نه کړي. سیاست او قدرت د هغه چا دی ځوك چې فعاله او منظم دی. دا کسان چې مو نږ او تاسې پرې اعتراضونه کوو، دوی فعاله او هم منظم دي ،نو په ګیلو او ګذارو څه نه کېږی.

## څنګه ماهي په افغانستان کې نیول کیږي؟

د اکتوبر د میاشتې خلورمه نېټه، کال ۲۰۱۳ م، کابل

د سپتمبر د میاشتې په درېیمه نیټه مې د AP آژانس یو خبر ولوست چې لیکلي يې و د بغلان ولایت د دوشي په ولسوالۍ کې پولیسو هغه مهال شپږ ماشومان د راکټونو په ډزو کې ووژل چې په سیند کې یې ماهي نیول. د دې ماشومانوعمرونه د ۱۴-۱۰ کلونو په منځ کې و او دوه نور زخمیان شوي هم دي. د والي ویاند احمد جاوید بشارت دا خبره تاید کړه خو وویل چې پولیسو د ماشومانو د وژلو قصد نه درلوده خو دوی په سیند کې د راکټ په ویشتلو ماهي نیول چې د راکټ یوې مرمۍ سر واخست او دا ماشومان یې د سیند نه هغه خوا ووژل. په فارسي کې متل دی چې وایي: عذر بد تر از ګناه.

د ځمکې په سر خو افغانانو د انسانانو په وژلو، د ځنګلونو په چپه کولو، په شمال کې د پستې ونو د جرړو په ویستلو، د ټانکونو او طیارو د اوسپنو په خرڅولو او څه چې فکر کوئ صرفه ونه کړه خو په روانو اوبو کې د زنده جانو په له منځه وړلو هم صرفه نه ده شوې. لومړی به یې ماهي په سیندونو کې په ډینامیټو، په اوبو کې د جنراتورونو په وسیله د برقي شارټونو، په دستي بمونو او داسې نور وسیلو له منځه وړل خو اوس په دی دیموکراتیك نظام کې په راکټونو ماهي او انسانان یو قسم وژني

او له منځه یې وړي. په افغانستان کې ډیموکراسي او ازاد بازارتعریفونه همدا دي چې د چا څّه خوښه وي هغه ته ډیموکراسي وايي او ازاد بازار ته فساد ازاد لقب ورکړل شوی دی. په نوره دنیا کې د محیط زیست د تحفظ په خاطر د ډیرو اقتصادي او زیاتو لنډ مهاله ګټو نه هم حکومتونه او هم ولس تیریږي خو مونږ هغه کارونه کوو چې د وحشت نه هم یو قدم مخکې دی. خدای دې دې ملت ته هدایت وکړي.

## وايي سياسي اشتباه تلافي نه لري

د اکتوبرپنځمه، کال ۲۰۱٤ م، کابل

همدا نن ماښام راته ډير يو محترم سړي تيليفون وکړ او راته يې وويلې که جلالي صيب ته ووايې چې د يوتن کانديد سره مرستيال شي نو ډير ښه به وي. ما ورته وويل چې زه فکر نه کوم چې جلالي صيب دا وړانديز قبول کړي خو بيا يې اصرار وکړ چې ته دا پيغام ورته ورسوه. ما جلالي صيب ته تليفون وکړ او د دې مشر پيغام مې ورته ورسوه. نو جلالي صيب اول په خندا شو او بيا يې وويل چې ته دې مشر ته ووايه چې دی ما نه پېژنی ځکه د چوکۍ او مقام لپاره زه نه د چا سره مخالفت لرم اونه د چا ملاتړ کوم، په انفرادي توګه زما نفوذ د دې ټولو نوماندانو نه زيات دی خو مسله د افغانستان د ثبات ده چې يو قوي او متحد ټيم کولی شي دا جاله ساحل ته ورسوي او معذرت ترې وغواړه.

تبصره په پورته وړانديز!

کله چې شطياني حواص په انسان غالب شي نو بيا انسان ړوند او کون شي، هم ترې عقل لاړ شي او هم احساس. ويل کېږی چې د چا چې پوهه زياته وي د هغه شيطان هم لوی وي. څوك چې د ولسمشرۍ د کانديد په توګه ځانونه نوماندوي نو دوی به خامخا د ځانونو سره فکر کړی وي چې دوی د نورو افغانانو نه زياته وړتيا ، پوهه او توان لري چې د دې وطن دا نيمه ډوبه جاله ساحل

ته ورسوي. د انتخاباتو په دې سيزن او دور کې هره ورځ نوي کشفيات کېږي او نا شودي خبرونه اوريدل کېږي نو داسې راته ښکاري چې د دې بعضې نوماندانو چې ځانونوته نخبه ګان وايي، قدرت ته د رسيدو په خاطر، شيطانی حواسو په دوی زياته غلبه کړې چې هر بوټي او خاشاك ته لاس اچوي خو دا نه ګوري چې دا بوټي او خاشاك ريشې لري او که نه؟ زما په اند دا صاحبان به دوی هم د ځانونو سره په سيند لاهو او سمندر ته په ډيره امانتدارۍ ورسوي. بريالي نوماند او چارواکي لپاره دري ټکي ډير مهم دي چې هم ښه اجنډا ولري، هم ښه ټيم او هم سياسي جرئت او اراده چې خپله اجنډا عملي کړي که کوم نوماند د ښې اجنډا او ټيم سره بريالی هم نه شي فرق نه کوي ځکه کولی شي چې د ښه اپوزيسون په توګه په راتلونکې کې رول ولوبوي او باالاخره په بله دورکې بيا دا ټيم قدرت ته ورسيږي. د ښه نوماند لپاره مشکله ده چې د ناسالمه ټيم سره قدرت ته ورسيږي او که قدرت ته ورسيږي هم، نو خپله اجنډا تطبيقولی نشي او بيا د ناکامۍ سره مخامخ کېږي. نو ځکه وايي چې سياسي اشتباګانې يو ځل تکراريږي او تلافي نه لري او ډير کم کسان دويم ځل چانس پيداکوي.

## اوس هم لا وخت تیر نه دی

د اکتوبر نهمه نیټه، کال ۲۰۱۳ م،کابل

د څلور پنځو نوماندانونه بر سره د جمهوري ریاست اکثریت نوماندان چې د انتخاباتو د شرایطو د پوره کولو لپاره کوم یولك کارتونه راټول کړي دي، د خپلو کارتونو په اندازه یو لك رای هم نشي ګټلی؟ نو سوال دا دی چې ولې دوی ولاړ دي. که څه هم دا ډول تحلیل زیات وخت او کار ته ضرورت لري خو په لنډ ډول د دوی د نوماند کېدو دا دوه موخي خو راته واضحه ښکاري: اول شاید دوی غواړي په دې ډول ځانونو ته کاذب شهرت وګټي او بیا په خپلو ریزومیو Resume یعني سوانحو کې ولیکې چې دوی هم یو وخت د جمهوري ریاست څوکۍ ته کاندید و او دویمه خبره دا ده چې د چا سره یو څه معامله د پیسو او یا چوکۍ لپاره وکړي. په انګریزي ژبه کې یو متل دی چې وایي مخکې له دې چې کېنې لومړی باید ودرېږې.(دا ګمان دی او الله تعالی مې دې په دې ګناه نه نیسي).

اوکه دا دوه خبرې نه وي نو بیا خو دا ولس ملامت دی ځکه دې کې هیڅ شك نشته چې انسان خود خواه دی اودهر چا صفت که څوك وکړي او ورته ووایې چې ته خو سل متره ټوپ وهلی شې، د تا نه بل پوه، بارسوخه او په ولس مین کس په ټول افغانستان کې نه شته، او ټول ملت ستا تر شا ولاړ دی نو خامخا په انسان باندې

د خود خواهۍ حواس غالبه کېږي او د خدای پاك په توکل د لوبې میدان ته وردانګي او بیا د نوماند صیب په سر کې د پادشاهۍ نغارې ډنګیږي. که ولس د هر چا د وزن اونفوذ په اندازه د چا صفت وکړي او لږ رښتیا دوی ته وواییي نو بیا د دې ښاغلو د مغزو نه هم د پادشاهۍ هوا لرې کېږي او ځمکه ته راټیټېدلی شي.

**څنګه یې غر هماغسې یې کربوړی. که د نوماندانو نه ګیله لرئ نو ګیله مه کوئ باید ګیله د خپلو ځانونو نه وکړو.**

په تیرو څو میاشتو کې ماته پته ولږیده چې د ولس نه زیاد احتمالي نوماندان هم ډیر ګنګس و او زیادتره یې په دې نه پوهیدل چې څنګه ځانونه تر څنګ کړي ځکه دومره بې اعتباري، تعهد شکنی، بې وعدګي او حتی د شرم خبره وه چې د هر یو نظر او قول د ورځې درې ځلې د دوډۍ خوړولو سره، پنځه وخته د لمانځه کولو سره او دوه وخته دپیشمني او تهجدو دلمونځو سره په مکرره توګه بدلیدل. کومو احتمالي نوماندانو چې خپله سیاسي اراده نه درلوده او بل پورې تړلي و نو دهغوی بیچاره ګانو خورا بد حال وچې یو ځل به د خپل نظر او منطق په اساس تصمیم نیوه او دویم ځل به یې د خپل سیاسي حمایت کوونکي د ګټو او منطق په اساس خپل تصمیم ته هر لحظه تغیر ورکاوه (په هر حال دا د ماضي خبره ده په حال باید و غږیږو).

**اوس هم وخت شته دی چې دا ۲۷ کسه نوماندان لږ په خپل ګریوانونو کې سر ټیټ کړي او د واقعیتنونو په بنیاد د هغه چا نه ملاتړ وکړي چې دا نیمه ډوبه کشتۍ ساحل ته رسولی شي. وخت لا تیر نه دی. (دانتخاباتو کمیسون وروسته د جمهوری ریاست د ۲۷ نوماندانو یوازی ۱۱ اعلان کړل چې شرایط یي پوره کړې و)**

**دا دغمیزو وطن دی**

د اکتوبر ١٤مه نیټه، ٢٠١٣ م کال

**بیا بل اختر راغی څوك پکې خوشالي کوي څوك د خپلو عزیزانو د غم په ویر دي، څوك میلې کوي ځینې جنازې کوي، څوك په سودا اخته دی په بازارو کې څوك په روغتونو کې د خپلو مریضانو احوال پرسي کوي، پرون هم د نن په شان دی، د نن خلك د پرون په شان دي، دا دود د پرون د قربانۍ دی خو نن نه پوهیږو کومه قرباني د چا لپاره؟ پرون سهار راروان وم دکابل په لور، د جلال اباد ښار د صحت عامه د چوك سره وم چې یو لوی انفجار وشو، لاره بنده شو ه. د امنیه د قوماندانۍ تر څنګ دوه پولیس او درې لاروي ووژل شول، اوه نور زخمیان شول. دوی به هم کورنۍ لري، خپلوان او عزیزان به لري، څه حال به وي د دوی د کورنیو؟ بې وسه به وي که مالدار، د تدفین او تداوي پیسې به لري که نه؟ کورنۍ او ماشومان به یې په ماتم وي نه پوهیږم د څه لپاره قرباني شول دوی؟ دا یوه غمیزه نه ده چې وژاړو، د ا د غمیزو وطن دی خدای دې ورحمیږي په دې ولس.**

**وهاب صدیقي صیب لیکلی و:**

**محترم میاخیل صاحب: دغه حالات چې تاسې ورته اشاره کړې ډیر دردوونکی دی همدااوس زما په ذهن کې دشهیدانو آخري سلګۍ ، دزخمیانو زګیروي ، دیتیمانو ، کوندو، میندو، پلرونو،**

خویندو ، ورونو او خپلو خپلوانو د ژړاګانو غږونه زماپه غوګونو کې انګازې کوي ، زه داختر درارسیدو نه خبر یم خو کوم اختر؟

**واحد هیله من صیب د پورته لیکنې په اړوند لیکلي و:**

الله تعالی دهیڅ قام اوملت حال نه بدلوي ترڅوچې خپل حال پخپله بدل نه کړي . دمیاخېل صاحب نه بخښنه غواړم خو تاسویې په سرسترګووینئ چې اکثره پښتانه دخپلوزیاتروغمیزومسؤول دي . پښتانه خولومړی هغه څه نه دي چې دعوه یې کوي، دوی نه فکرلري، نه اتفاق، نه علم، نه عزم، نه مشر، نه سیاستوال، نه اقتصاد، نه خپلواکي اونه هویت . که دا لري، تاسویې راوښایاست چې په کوم ځای کې یې پټ کړي !؟ دافسوس خبره خوداده چې داټول شیان چې ما یادکړل ، پښتانه یې کولی شي خونه یې کوي . علم دوی ته کفردی، تکنالوژي کفرده، پرمختګ کفردی، شفاخانه جوړول جرم دی، مکتب جوړول جرم دی اوداسي نوردانسانیت وسیلې. ددوی مسلماني په جهالت ولاړه ده، غیرت اوننګ یې یواځې په ښځوپورې تړلی خوچې بیایې خرڅوي نونه ننګ وي اونه غیرت. الله تعالی دوی ډېرښه پېژندلي دي ځکه اندك رحم اوتوجه ورته نه لري. دتاجك، ازبك او هزاره سیموکې هیڅ نه وي خوچېرې چې داوچ ډانګکي وي هلته آخ وډب وي. دوی دخدای اوداسلام څخه سم برداشت نه دی کړی اونه یې دکولوورتیا لري.

**د هیله من صیب په ځواب کې بیا ما ولیکل**:

هیله من صیب باید هیله من اوسو. دې کې هیڅ شك نشته چې خود کرده را چاره چیست خو امید به ساتو چې خدای دې ټولو ته د عمل توان ورکړي ځکه پوهه شته خو د عمل کمبود دی.

## د لوی اختر مبارکي

۱٤ اکتوبر ۲۰۱۳ م کال

### دعرفه ورځ

ګرانو دوستانو، خویندو او ورونو! د عرفه د مبارکۍ ورځې او د لوی اختر مبارکي تاسې او ستاسې کورنیو ته وړاندې کوم. که څه هم افغانستان د غمیزو وطن دی خو د ژوند فارموله همدا ده چې انسان باید د ژوند ټولې ښې او بدې ورځې ولمانځي او د خوږو ا و ترخو مزه وڅکي او د ښه راتلونکي په خاطر هلې ځلې وکړي. د هرې غمیزي پسې ښادي او د هرې ښادۍ پسې غمیزه شته او دا دود او دستور د ژوندانه دی چې د ژوند د حرکت فارموله به همداسې د قیامت د ورځې پورې روانه وي. راځئ چې دا خوشالي سره په شریکه ولمانځو، دوستانو او خپلوانو کره لاړ شو، د مریضانو او مشرانو پوښتنه وکړو او د یتیمانو په مخونو لاسونه راکاږو. په دې رخصتیو کې تاسې ته ښه وخت د الله د درباره غواړم.

## د خان عبدالولي خان سره یادګاري عکس

د اکتوبر ١٤مه نیټه، کال ٢٠١٣ م، کابل



دا پورته عکس د اګست په میاشت کې زما د ماما ځوی حاجي نصیر ستوري په جرمني کې ما ته راکړ. دا عکس په ۱۹۹۶ م کال کې زما ماما خدای بښلي ډاکتر کبیر ستوري چې د جرمني نه پیښورته راغلی و او زه د امریکه نه، د خدای بښلي خان عبدالولي خان سره یو ځای په ولي باغ کې واخست. ولي باغ د پیښور د چارسده په سیمه کې دی. مرحوم ولي خان ماته خپل دوه جلد کتابونه چې د ده د ژوند یاد داشتونه دي په خپل خط سره ډالۍ کړ چې اوس هم د ما سره شته دی. په دې وخت کې طالبانو نوی کابل نیولی و او ولي خان وویل چې پښتانه په دواړه خواو کې

د سخت مشکل سره مخامخ دي که له يوې خوا ISI طالبان د خپلو اهدافو لپاره تقويه کوي خو دا نه پوهيږي چې د دې عواقب پاکستان ته د افغانستان نه خطرناکه دي ځکه د طالبانو اصلي ځآله خو په پاکستان کې ده چې شل زره مدرسې لري او حالات به د دوی د کنترول نه ووځي. اوس راته همداسي ښکاري چې حالات د پاکستان د کنترول نه راته وتلي ښکاري.

## د لوګر والي ارسلا جمال په یاد

۱٤ اکتوبر ۲۰۱۳ م د لوی اختر لومړۍ ورځ



په ډېرې خواشینۍ سره مو خبر تر لاسه کړ چې د لوګر والي ارسلا جمال نن سهار په یوه بمي چاودنه کې چې د اختر له لمانځه نه وروسته یې خبرې کولې ووژل شو. ارسلا جمال نږدې ملګری، دوست او همکار و چې په تیرو څو لسیزو کې یي د هجرت او مهاجرت په وختونو کې او هم په تیرو دولس کلونو کې په بیلابیلو دندوکې خپل ولس ته خدمت کړی و نو د نوموړي شهادت یوه لویه ضایعه ده. د جمال صیب کورنۍ، دوستانو او ملګرو او هم د افغانستان وطندوستو خلکو ته د الله د دربار نه د صبر جمیل غوښتنه کوم او خدای پاك دې جمال صیب ته جنت فردوس په نصیب کړي. امین یا رب العالمین

## مړ ولس مړي لمانځي

د اکتوبر شپاړسمه، ۲۰۱۳م کال

د یوپلوه راته د شهید ارسلا جمال د مسکا نه ډکه خندا د سترګو سترګو شي له بله پلوه راته د دې مړ ولس په حال ژړا راشي چې دا ولس همیشه مړي لمانځي، د مړو توصیفونه کوي، د مړوپه یاد شعرونه وایي، او ان تر دې چې د مړو زیارتونو ته سجدې کوي خو کله چې څوك ژوندی وي هغه بیا په دې ملت کې هیڅ قدر نه لري. ارسلا جمال قدر او د داسې نورو نومیالیو چې په دې ولس کې شهیدان شوي، قربانۍ یې ورکړې هیڅا په ژوند ونه نازول. که خفه نه شو، مونږ خودکشه، بیګانه پرسته ولس یو. تر څو به مونږ مړي لمانځو، زموږ شخصیتونه په ژوند ټکول کیږی، رټړول کیږی او څومره چې شخصیت کشي کېدی شي هماغومره مونږ خپل نومیالی بدناموو او شرموو یې. که زموږ شخصیتونه چې زیات صفتونه ولري او د سلنی یا فیصدۍ اندازه یې زیاته وي هغه نه ستایو خو یوه وړوکې اشتباه یې چېرته کړي وي هغه محکوموو او سپکوو یې حال دا چې شخصیتونه خو پرېږده، پیغمبران هم اشتباه کوي. ژوندي ملتونه د ژوندیو قدر کوي، هغه ستایي او د شخصیتونو تبارز ته زمینه مساعدوي. که څوك اشتباه وکړي هغه نه محکوموي. د ژوندیو ملتونو مشران همیشه د استعدادونو اشتباګانې اصلاح کوي او سمه مشوره ورکوي او روزي یې خو په دې وطن کې په استعدادونو سرچپه میچېنې کیږی، هغه وژل

کېږي، شهیدانیږي، او چې مړه شول بیا دې خدای وبښي اوستاینې یې کوو. راځئ چې د ارسلا جمال دشهادت نه په ګټه خپل مړي او ژوندي باید دواړه وستایو، شخصیتونو ته تبارز ورکړو تر څو مونږ د شخصیتونو د قحط الرجال سره چې اوس مخامخ یو نجات پیدا کړو. که دا ونه کړو نو زموږ نور ژوندی شخصیتونه به یو د بل پسې ځي، وژل کېږي به او زموږ حال به د یوې ورځې نه بلې ورځې ته د خرابۍ په حال کې وي. وایي سل دې ومره خو د سلو سر دې مه مره. خدای دې زموږ دا سرونه نور په خپل امن کې وساتي.

**واحد هیله من صیب د پورته لیکنی په اړوند لیکلی و:**

میاخېل صاحب داتاسوچې څه لیکلي دي، دا ژوندۍ تجربې دي چې ختمیږي نه. دا ټول شیان سره له پوچ غرور ، سرچپه ننګ اوغېرت سره هره ورځ په کورکلي اوښارکې راسره دي. یوه ورځ په پېښنورکې دڅو تکړه ملګروسره په یوکورکې مېلمانه شوو . لا ناست نه وو چې دغتې ږیرې اولونګۍ یوسړې چې په سترګي مشوکې راوپېژاندل شو چې حاجي صېب و، هم راغی، برکونج ته تېرشو، ددرازتوشکې پرسر یې غټ بالښت ته په یواړخ تکېه ووهله ، لونګۍ یې له سره لرې کړه مخې ته یې کېښوده او له فلانیه څنګه یې، واړه زړه ښه دي سره یې دکورله خاوند پوښتنه وکړه چې دامېلمانه څوک دي . هغه ورمعرفي کړو. بیا خبرې د

پاکېستاني پولیسو، د مجاهدینو، جګړو، افغان مهاجرینو په سر وشوې، آن تردې چې دخبروسمت د انسانیت خواته شو نوحاجي صېب د ټولوخبره ونیوله اولومړی یې په خپله لهجه یوآیت قرأت کړ او بیا یې ووئیل چې ګوره تاسوخوبه تعلیمونه کړي وي خو ما د قرآن ترجمه کوله او هلته مې دا برداشت وکړ چې انسان یوائې مومن ته وئیل کېږي او کاپیران په انسانانو کې نه حسابیږي. بس مونږ خپلو منځو کې یو بل ته وکتل او نور غلي شوو، د ځای او خلکو نزاکت ته مو وکتل او هیڅ مو ونه وئیل خو کله چې له دغه کوره رخصت شوو نو بیا مو پرې تبصرې پیل کړې. د دې قیصې څخه می مطلب دا دی چې زموږه د ټولنې دیني برداشت او ورسره یو تباه کوونکې ذهنیت روزل تل پرته له چون او چرا څخه پاتې شوی او په نسلونو یې بدې اغېزې کړي دي. زموږ هغو شاعرانو چې د حاجي صاحب د شملې په څېر قرقرې او جهالتونه یې ستائیلي، ډېر په قدرپاتې شوي دي خو داسې شاعران لکه خوشحالخان خټک چې په خپله ټولنه کې ببولالوته نه دی تسلیم شوی، دخپلې زمانې یو درېه دره شاعرتېرشوی دی او دپېړیووروسته پرې ځینې پښتانه پوه شوي دي چې رښتیا سترانسان و. دپښتون مثال داوښ دی، هیڅ اندام یې سم نه دی او کېنه یې هم داوښ په څېرده. دپښتون لورکه په ګډوپسې صحراته روانه وي، هیڅ پروانه لري خوکه مکتب ته ځي نوبیا دپښتون ننګ اوغیرت خرابیږي. ترڅوچې پښتانه خپلې ټولې نیمګړتیاوې

سمې نه کړي، اصلاح ته غاړه کېنږدي، په ځان کې بدلون رانه ولي، زهري ذهنيت او دعلم اوتکنالوژۍ څښتن نه شي ولا که بې يا سم پښتون کړئ، ياسم مسلمان اويا دښه نوم څښتن. همداسې لکه دانن به دپرديولپاره قرباني ورکوي اوبيا به يې هما غه پردي ملامتوي هم.

**د پښتو ژبې د محاوره لپاره څومره لغاتونه په کار دي؟**

د اکتوبر ۲۲ مه نېټه کال ۲۰۱۳ م

**محترم حلیم فدایي صیب د خپل فیسبوك په صفحه لیکلي و چې:**

**یوه پوښتنه، یوه جایزه!**

د پښتو او دري ژبو د زده کړې لپاره څومره کلماتو ته اړتیا ده ترڅو په رواني ورباندې خبرې وکړای شي؟

**یك سوال یك جائزه!**

برای اموختن زبان پشتو ودری به چند کلمات ضرورت است تا یك نفر بتوانند به سهولت صحبت نماید؟

ما یې په ځواك کې دا سي ولیکل:

فدایي صیب روانې خبرې د **۵۰۰-۲۵۰۰** لغاتو پورې او مروجه لیکنې تر اته زره لغاتو پورې استعمالیږي. البته د لغاتو پانګه زمونږ د ژبې د ډکشنرۍ د **۲۵۰۰۰** زره په شاوخوا کې ده خو انکلیسي ژبه بیا هر مسلك لپاره جدا جدا ډکشنري لري او مروجه د کشنري د انګلیسي ژبه د **۵۰۰۰۰۰** زرو پورې ده. نو اوس راته ووایه چې مونږ څومره کار ته ضرورت لرو چې سمه ترجمه وکړو او څنګه اتهلینه های وې ترافیك د خپلې ژبې په یو لین سرك باندې برابرولی شو او زمونږ د ترافیك بیچاره به څه حال وي.

## انتخابات وسیله ده که هدف؟

د اکتوبر۲۳مه نیټه، ۲۰۱۳ کال

درنو دوستانو! په فیسبوك او نورو رسانوکې ډیری لیکنې او خپرونې د **۲۰۱۴**م کال د ولسمشریزو ټاکنو په هکله کیږی او داسې ښکاري چې انتخابات ټولو ته هدف ښکاري خو ماته وسیله ده. البته نوماندانو ته به هدف وي چې قدرت لاسته راوړي او د قدرت په وسیله د خپلو هواخواهانو ګټې وساتي. تر اوسه پورې په نوماندانو او یا د هغوی په ټیمونو باندې سلیقوې خبرې کیږي چې فلانی د فلاني نه ښه دی او هر څوك د خپل ذوق او سلیقې په اساس قضاوت کوي. تر اوسه ډیر لږ بحث د نوماندانو په پروګرامونو کیږی او نه نوماندانو خپل پروګرامونه ولس ته تشریح کړي دي. که راتلونکي انتخابات د ښه حکومتدارۍ لپاره یو نوی پړاو او اغاز و نه اوسي نو د افغانستان مشکل به په خپل ځای پاتې وي. ولس به د راتلونکې نظام نه بیزاره وي،، داخلي کشمکشونه به وي، او نړیوالې مرستې به مخ په ورکېدو وي او دنظام مشروعیت او کړنې به د سوال لاندې وي. نو ځکه ما ته انتخابات هدف نه دی بلکه وسیله ده د ښه حکومتدارۍ د پیل لپاره.

**د ښځو حقوق په اسلام کې**

۲٤ اکتوبر ۲۰۱۳ م کال

**نن درنې لیکوالې او شاعرې پروین ملال د خپل فیسبوک په صفحه لیکلي و:**

دورځې، په فیسبوک کې په سلګونوداسې عکسونه چېپه کې میرمنو او نجونو د بوقرې یاچادري څخه نیولې تر عربي او ایراني حجابونوپورې اغوستې وي، دنظرونو د ټولولو د پاره خپرېږي. کله ښځه د چاکلیټ سره مقایسه کېږیاو کله د بل څه سره. زموږ په ټولنه کې دښځو اسلامي حقوق له دغې مقایسې یوازې په حجاب کې توشیح کېږي .ځومره به ښه وایچې په افغاني ټولنه کې مو دښځو نور اسلامي حقوق هم په دغه ډول توشیح کولای .

**د پروین ملال د پورته لیکنې په اړوند مې داسې ولیکل**:

پروین ملال خورې! اول د هرې سیمې ولس خپل دود د لباسونو لري او یو لباس ته هم اسلامي لباس نه شو ویلی. د هرې سیمې خپل دود پوه شه او کار یې. دویم په اسلام کې عورت د ښځه او نارینه لپاره تشریح شوی او هر لباس چې په هماغه محتوا برابر وي هغه د اسلام د اصولو سره برابر اسلامي لباس دی. زموږ د پښتنو ښځو لباس چې غټ پلونی یې اچولی وي او حجاب یې پټ وي هغه د بل هر لباس نه ښه دی او ښکلی ښکاري. دریم مونږ ته اسلام په سنتي ډول رارسیدلی او د ځانه د اسلام په نامه تعبیرات

کوو او زیادتره وخت خاصتا پاکستان او نورو هیوادونو ته د هجرت نه وروسته لفظي اسلام په دې مانا چې د یو کتاب نه یوه جمله رااخلو او هغه په غلط کانټکس یعنې بیځایه استعمالوو بی له دې چې د دغه الفاظو او یا خبرو ټول اړخونو باندې پوه شو چې دا لفظونه ولې او د څه لپاره استعمال شوي دي. څلورم مونږ افغانانو او خاصتا پښتنو نیمی اسلام اونیمی کلتور منلی دی او هغه مو سره مکس یا ګډوډ کړی دی. که واقعا اسلام ته ګورو نو ښځو ته د نارینه نه که زیات حقوق نه وي ورکړل شوي نو کم هم نه دي ورکړل شوي او د ژوند په ټولو ساحو کې باید فعال رول ولري. دا لوی بحث دی خو اوس په همدی څو ټکو کې یي خلاصه کوم.

## د فساد کچه څنګه کمیدی شي؟

۲٤ اکتوبر ۲۰۱۳ م کال، د پنجشنبه ورځ، کابل

د هر چا نظریات د فساد د کچه د کموالي په هکله شاید جدا وي خو معاصر او قدیم علما په دې عقیده دي چې د فساد کچه هغه وخت کمیدی شي چې حکومتداري ښه شی او ښه حکومتداري د ښه مدیریت پورې تړاو لري. زما شخصي تجربه هم دا ده چې که د یوې ادارې په سر کې ښه، پاك او مدبرمدیروي نو د فساد کچه اتومات په سلو کې پنځوس راکميږي. فساد یوازې د رشوت اخستلو ته نه وایي بلکه د قدرت نه سؤ او غلطه استفادې ته فساد وایي. اوس نو تاسې فکر وکړئ چې د رشوت نه برسیره که دولتي او غیردولتي ادارو ته نظر واچوو چې د قدرت نه څنګه سؤ استفاده کېږی نو داسې دولتي او غیر دولتي ادارې به ډیرې کمي وي چې په هغه کې فساد نه وي نو ځکه افغانستان په فساد کې اول نمره دی. بعضې وخت د بدو کسانو هم یوه خبره نیمه ښه وي. د پاکستان پخواني جمهور ریس جنرال پرویز مشرف په خپل کتاب In the Line of Fire کې لیکلي و چې په پاکستان کې په سلو کې لس کسان چې هر څه وکړي خامخا په فساد کې دخیل دی خو په سلو کې لس کسان د خدای، وطن اونورو دلایلو په خاطر په فساد کې دخیل نه دي. همداشان سلو کې اتیا پاکستانیان ګوري چې څوك په قدرت کې دی. که فاسده ډله په قدرت کې وي نو دا اتیا سلنه خلك ورسره یوځای کېږي نو د فساد کچه په

سلو کې نوي سلنې ته رسيږي او که ښه ډله قدرت ته ورسيږي نو دا اتيا سلنه خلك د دې ډلې سره يو ځای کيږی او د ښو کسانو ډله نوي سلنه کيږی. دا مطلب مې په دې خاطر وليکه چې افغانستان کې فساد په کان باندې بدل شوی دی. ډير کم کسان به وي چې د فساد د کان رنګ او خوند به يې نه وي اخستی. څو کاله مخکې په ډيره اسانۍ سره معلوميدی شو چې څوك په فساد کې دخيل يا ککړ دي او څوك نه دي خو اوس د دې تشخيص ګران کار دی. هغه کسان چې د فساد پر ضد چيغې وهي که د هغوی کره او وره، جايدادونه (منقول او غير منقول) او قدرت نه سؤ استفادې اندازه واخستل شي نو شايد چې همدوی د نورو نه زيات په فساد کې دخيل وي. زما وړانديز دا دی چې اول بايد په راس کې د فساد د ورکيدو لپاره يوه با اراده او اعتباره ډله قدرت ته ورسيږي نو بيا دا نور کارونه سميږي او د فساد کچه اتومات په سلو کې پنځوس راکميږي او که لږې هلې ځلې نورې هم وشي نو بيا د فساد کچه نوره هم ډيرژر راکميدی شي. شايد دوستانو سره دا سوال وي چې با اراده ډله څنګه قدرت ته رسيدی شي؟ نو دا هم د ولس د ارادې پورې اړه لري، ښه کسانو ته رای ورکوي او که خرابو کسانو ته؟ په دې شرط چې شفاف او عادلانه انتخابات په راتلونکې کال کې وشي. په همدې اميد بايد خپله رای سمه استعمال کړو او که د ولس نيت او اراده سمه شوله نو د مشرانو يا چارواکو اراده او نيت هم سميږي. تاسې ته ښه د جمعې ورځ غواړم د ښو کارونو لپاره.

## يوه مهمه تاريخي قصه

دنومبردريمه نيټه ۲۰۱۳ م کال

د سينوهه کتاب چې مې کله لوسته نو په دغه کتاب کې ذکر شوي و چې انسان نه بدليږي او واکداران د قدرت لپاره د هر چل او دوکه نه کار اخلي او د خپلو نږدې ملګرو نه تر هغه وخته پورې ګټه اخلي چې د ده قدرت ته خطر نه وي او کله چې د ده قدرت ته خطر پيدا شي نو بيا هماغه مقتدر واکدار د خپل قدرت د ساتلو لپاره د خپلې کورنۍ، ملګرو او حتی د ناموس خيال هم نه ساتي او هغوی له منځه وړي، د ظلم او حتی د وحشت نه ډك داسې کارونه کوي چې د انسانيت سره هيڅ تړاو نه لري او د وحشي حيوان نه بدتر شي. هورم هب چې د سينوهه په ملګرتيا قدرت ته ورسيد نو بيا يي سينوهه تبعيد کړ او بيرته يي پرينه ښود چې مصر ته ستون شي. د داسې پيښنو مثالونه زموږ په ټولنه کې او هم په نورو ملکونو کې ډير زيات شته دی. وزير فتح خان خپلو ورونو ړوند کړ، شاه شجاع انګريزانو په ميدان پريښود، نور محمد تره کې خپل وفادار شاګرحفيظ الله امين ووژه او داسې نور. د اکتوبر په شلمه نيټه په يو سفارت کې ميلمه وم چې د شوروی اتحاد د دورې يو شمير پخواني سفيران هم په ميلمستيا کې و او هر يوه يې ډيرې جالبه قصې درلودې نو ما د يوه نه پوښتنه وکړه چې ولې دا قصې د کتاب په شکل نه ليکې چې د تاريخي سند په توګه پاتي شي خو هغه سفير افسوس وکړ او وويل

که واقعیتونه لیکم نو زه پخپله د دغه تاریخ یوه برخه یم او هغه نشم لیکلی.

په هر حال قصه داسې وه چې کله ډاکتر نجیب الله د ملل متحد په دفتر کې نظربند و نو په غاړښ یې ډیر سخت درد و او د پخواني شوروي اتحاد د سفارت نه یې غوښتي و که کوم ډاکتر ورته ورولیږي چې تداوي یې وکړي. تر دغه وخته بهرني سفارتونه لا د کابل نه ټول نه و وتلي. د هغه وخت سفیر ورته ویلي و چې دوی داکتر نشي ورلیږلی ځکه کېدای شي د استاد رباني حکومت خبر شي او هغوی دا بده وګڼي. دغه دیپلومات بیا سفیر ته ویلي و که داسې وي چې کمك نه کوئ نو لااقل خبر خو ورته ورکړئ چې هغه کومه بله چاره وکړي. دغه دیپلومات وویل چې بیا یي زه ورولیږلم او ما ورته په ډیره خواشینۍ سره ډاکتر نجیب الله ته وویل چې مونږ ډاکتر نه شو رالیږلی. د دې وړې قصې مطلب دا دی چې تر ځو قدرتونه تر چا ګټه اخستلی شي تر هغې د سړي نه کاراخلي خو چې کله یې ګټه نه وي نو بیا د خپل وفادار ملګري د غاړښ د تداوي غم هم نه خوري. ښه د عبرت قصه ټولو واکدارانو ته ده.

**په پورته لیکنې دوستانو خپل ډیر زیات نظریات وړاندې کړي و چې د بیلګې په توګه زاهد مومند صیب لیکلي و:**

جناب میاخیل صیب همداسې ده ؛ اکثره اوسني سیاست پوهان ددغو خلکو مثال دپخوانو عربو دهغې خرما سره تشبیه کوي چې عبادت به یې ورته کوو خو کله چې به وږي شول نو بیا به یې همدا خرما خوړله.

**داکټر صیب ابراهیم شنواري لیکلي و:**

کارمل هم له حامد علمي سره د خپل ژوند په وروستۍ مرکه کې ویلي وو چې په بهرنیو قوتونو پورې خپلې هیلې تړل ملتونو ته ګټه نه کوي. یوازنۍ لار له خپلې شړې سره پښې غزول او په خپل همت ژوند تیرول دي. خو بیا ناوخته وه!!!!

## د ځوانانو ستونزې په راتلونکې کې

د نومبر د میاشتې پنځمه ۲۰۱۳ م کال

**څو کاله پخوا، خدای ببښلی پهلوان سید محمد قوماندان چې په هغه وخت کې د ننګرهار د فواید عامه رئیس و، د سهار د چایو لپاره حاجی سید داود، د AMRC مشر او زه د یو شمیر نورو دوستانو سره میلمانه کړي و. پهلوان سید محمد مونږ ته وویل چې تاسې هسې د مونږ پسې خبرې کوئ چې مونږ جنګ سالاران یو او کار نه شو کولی. جهاد خو ختم شو، خو زما دې مجاهدینو ته ګوره چې زه یې شرم چې خپلو کورونو ته لاړ شئ خو دوی خپلو کورنو ته نه ځي او دلته د ډاټسن په شا کې چې د ما سره ګرځي، په دوړو او خاور سپیره وي او کله ورته په یخنۍ کې بړستن او ډوډۍ هم نه رسیږي، خوشاله وي. ما ورته وویلې چې ولې دوی خوشاله دي؟ هغه وویل، دوی ځکه دلته خوشاله دي چې که کورونو ته لاړ شي نو پلرونه یې پرې دهقاني کوي او دوی دهقاني نه شي کولی او دې دوړو کې د ډاټسن موټر په شا کې چې ناست وي خوشاله دي. دې خبره زما غوږونه خلاص کړل چې په راتلونکې کې به د ځوانانو ستونزې ډیرې زیاتې وي ځکه ډیری به یې هیڅ کاروبار نشي کولی او په ټولنه او حکومت باندې به بار وي.**

د دغه خبره نه تقریبا شل کاله کېږی او دافغانستان د نفوسو د ۷۰-۶۰ سلنه (احصایې ټولې تخمیني دي) ځوانان دي نو دا ځوانان په څو ګروپونو ویشلی شو:

۱. د یو شمیر ځوانانو ماغزه بیخي وینځل شویدي، د خپلې ټولنې، کورنۍ، کلچر او تاریخ نه لري پاتې شویدي، خپل هیواد او خلك ورته بېګانه او کافر ښکاري، بې هدفه هم ځان وژني او هم نور

۲. د افغانستان ټول پوهنتونه او د لوړو زده کړو موسسات هر کال د دیرش زرو په شاو خوا کې فارغین لري. دولتي او خصوصي سکتور په شریکه، لس سلنه د دې فارغینو نه هم نشي جذبولی چې کار ورته پیدا کړي او اکثره دا د پوهنتونو فارغین په آزاد مارکېت کې رقابت هم نشي کولی ځکه چې د پوهنتونو علمي سطحه ډیره ټیټه شوې ده، نه کافي استادان شته او نه درسي لوازم.

۳. د دې فارغینو نه چې څوك واسطه او وسیله یعنې پیسې ولري نو ځانونو ته به په دولتي ادارو کې کار پیداکړي خو د دوی تولید یا کار کچه به ډیره ټیټه وي ځکه که په واسطه مقرر شوې وي نو په کار به نه پوهیږي او که په وسیله یعنې پیسو مقرر شوې وي نو پیسې به پیدا کوي.

دولتي اداري به فلج وي چې اوس هم مونږ او تاسې ګورو چې په دولتي ادارو کې همدا حال دی.

۴. د دې زیاتو پوهنتونو جوړول په هره کوڅه کې یوه لویه جفا د افغانستان د راتلونکی نسل سره وه چې د دې ترخه عواقب به زموږ ټولنه وروسته ګالي. د دې ځوانانو به د پوهنتون شهادتنامی په لاس کې وي، نه به ورته کار وي او نه به دوی د خپلو شهادتنامو د زده کړو په چوکات کې څه یاد وي چې په ورځني ژوند کې ترې کار واخلي. دوی به هم په خپلو کورنیو او ملت باندې د معلولینو او معیوبینو په شان باروي. ښه بیلګه یې په سلګونو د طب ډاکټران دي چې د خپل مسلك په چوکات کې کار نه کوي او نه یي کولی شي او په نورو کارونوکې لکه ترجماني یا اداري کارونو باندی اخته دي. د پوهنتونو نه زیات فارغین به هم د قوماندانو د باډی ګاردانو په شان نه دهقاني کولی شي او نه بله کومه غریبي.

۵. د زیاتو پوهنتونو په ځآی که زیات حرفوي زده کړو مرکزونه جوړ شوي وی نو ډیر به ښه وی ځکه چې د حرفوي زده کړو فارغین خو ځانونو ته کار پیداکولی شي او هم به دوی په حرفوی کارونو نه شرمید لی. د نورو هیوادونو خاصتا د ایران، هند، پاکستان او ترکې زیات

مسلکي کسانوپه ځای به دوی دلته په خپل وطن کې کارکولی.

۶. په پرمختللي هیوادونو لکه جرمني هم د لسم ټولګي نه وروسته یو امتحان اخلي او هغه شاګردان چې ښې نمرې وانخلي نو هغه بیا په مسلکي مکاتبو کې ځای په ځای کوي چې یو مسلك یاد کړي او لوړې زده کړې بیا نشي کولی. په افغانستان کې هم داسي یو پروګرام باید وی چې د ضرورت په اندازه مو د پوهنتونو فارغین درلودی خو په دی شرط چې د لوړوزده کړو په وزارت کې واسطه او وسیله باید ونه کارول شي او یوازې د استعداد او لیاقت په چوکات کې هر څوك چې استعداد او لیاقت لري باید لوړې زده کړې وکړي.

زما په اند ځوانان په راتلونکې کې د سختو ستونځو سره مخامخ دي که د اوس نه یو صحیح پلان باندې کار ونشي نو د راتلونکې نسل مشکلات به زموږ په پرتله ډیرزیات وي. دیرش پنځه دیرش کاله د مخه د چا چې انګلیسي ژبه او ټایپ زده و ډیره غټه خبره وه خو اوس دوه او درې شهادتنامې کافي نه دي او رقابت د ځوانانو لپاره زیات دی. اوبه د ورخه لاتیرې نه دي، راتلونکی نظام باید ځوانانو ته ښه پروګرامونه جوړ کړي چې ځوانان په تولیدي کارونومصروفه کړي. په راتلونکې کې د ځوانانو د منجمنت یا

مدیریت ستونځه به تر هرې بلې ستونځې یوه ډیره لویه ستونځه وي. دوستان شاید نور نظریات هم ولري خو اوس زما په فکر دا راته یوه ډیره مهمه ستونځه ښکاري نو ځکه یې ما یادونه وکړه چې کورنۍ، ولس او دولت باید ټول دې ستونځې ته متوجه وي ځکه د دې ستونځې حل په ځانګړې ډول یوازې د دولت له وسې هم پوره نه دی. هر څوک باید د خپلو اولادونو لپاره پلان ولري او د هغه په تعلیم او تربیه باندی جدي فکر وکړي. هره کورنۍ باید د اضافي او تجملي مصارفاتو مخه ونیسي او هغه پیسې باید د اولادونو په تعلیم او تربیه مصرف کړي.

**د فقر ریښې په افغانستان کې**

**یا**

**ریشه های فقر در افغانستان**:

د نومبر د میاشتې دولسمه نیټه، کال ۲۰۱۳ م

د پورته عنوان لاندې امرالله صالح په فیسبوك کې یو مطلب لیکلی و چې زما خوښ شو:

آیا معادن داریم ؟ بلی

آیا میدانیم که معادن داریم و معادن با ارزش داریم ؟ بلی

آیا در مورد معادن خود با کدام کشور همسایه مشکل و جنجال داریم ؟ نخیر

آیا به مقدار کافی آب داریم ؟ بلی

پس چرا زمین های بی اب خویش را سیراب نمی سازیم ؟ بهانه ما ناتوانیست

پس ناتوانی ما درچیست ؟ در رکود فکری ما .

آیا جرئت اعتراف به رکود و بن بست فکری خویش را داریم ؟ نخیر.

ما گدا هایي استیم که بر سر گنج نشسته ایم.

روشنفکران و تصمیم گیران ما یك خروار حرف دارند و یك مثقال اقدام .

چرا ده ها سال است میگویم افغانستان بیچاره و فقیر است و ازین فقر خجالت نمیکشیم ؟ مشکل فرهنگ و تفکر ماست.

فقر زدایي نه در شعار و کلی گویي بلکه در عمق اندیشه و عمل حلقه بلند سیاست و حاکمیت افغانستان وجود ندارد.
اگر میخواهید واقعیت فقر را لمس و حس کنید فقط چند ساعت درین شهر پیاده بگردید. سیمای خشکې ده دست فروشان جوان در واقعیت سیمای افغانستان واقعی است.
گسستگی در کجاست ؟ در سیاست ؟ نبود نهاد های قانون محور؟ همسبتگی ملی ؟ آیا اینکه این فاجعه را بازهم به تقدیر خویش ربط دهیم ومنتظر معجزه باشیم.

**د پورته مطلب په امتداد ما هم دا لاندې څو ټکې ولیکل**:

په اقتصادي بحثونو کې وايي چې په کومو حالاتو کې یو ملك ترقي کولی شي که مطب مو دا وي چې زیاتې منابع ولري نو جاپان خو هيڅ طبیعي منابع یا زیرمې نه لري خو د نړۍ د مترقي هیوادونو په ډله کې دی خو برعکس سوډان، نایجیریا، زایر یا پخوانی کانګو زیاتې منابع لري خو د نړۍ د وروسته پاتي هیوادونه په قطار کې راځي او د دې تر څنګ په داخلي جګړو کې اخته هیوادونه هم دي. که دلیل دا وي، هغه هیوادونه چې هلته دیموکراسي په کې شته ترقي کوي نو په چین کې خو دیموکراسي نشته نو ولې د انکشاف کچه يي هر کال زیاتیږيي او اوس دنړۍ دویم لوی اقتصادي هیواد دی. که دا ووایو چې اقتصادي انکشاف په هغه هیوادونو کې زیات دی چېرته چې امن

وي نو په ازبکستان کې خو امن شته اما پر مختللی هیواد نه دی. نو په دې اساس اقتصادي پانګونې ته، پانګوال دوه څیزونو ته اړتیا لري. اول امن چې د دوی سرمایه له منځه لاړه نشي او دولت باید په خپله ټوله سیمه باندې حاکم وي او قانون تطبیق کولو توان ولري. دویم د قراردونو قوانین یا Contracting Law ده او دهغه تطبیق باید په بې طرفانه توګه وشي یعنې قضایي سیستم د یو ملك باید یوازې د قراردادونو د قوانینو په رڼا کې فیصله وکړي او هغه فیصلې باید د حکومت له خوا تطبیق شي. نو په دې توګه د پانګوالو سرمایه خوندي ساتل کېږي او هغوی تشویق کېږی چې په یو ملك کې سرمایه ګذاري وکړي. د چېن هیواد یا نورو هیوادونو چې خلك هلته پانګونه کوي همدا شرایط برابر کړي نو ځکه د دغه هیوادونو انکشاف هر کال مخ په زیاتیدو دی.

**د جلال اباد ښاریانو ته زیری!**

دنومبر ۱۳مه نیټه، کال ۲۰۱۳ م

**همدا اوس د شپې په نهه بجو د جلال اباد ښار د بهسودو په پل باندې تیریدم چې د ښاروالۍ کارکوونکې یو څو بیلره قیر راوړی و او پل ته یې د قیر اخېړ ورکاوه. یو څو ورځې خو به دا نوی اخېړ انشاالله کار ورکړي او د دې پل عمر به هم یو څو ورځې اوږد شي او د زنکدن حالت به پرې هم یو څه ښه تیر شي ځکه چې د ورځې له خوا دا پل د رکشو، لاریو، خرګاډو، زرنجونو موترسایکولونو، او تراکتورونو د عبور او مرور نه ډیر سخت په عذاب دی او هیڅوك ورته توجه نه کوي.**

## د حاجي ګل کریم سره غرمه

د نومبر ١٤مه نیټه، کال ۲۰۱۳ م

د حاجي ګل کريم د زامنو ودونه و نو زه يې هم غوښتی وم او کله چې ما د ده باغ وليده نو دا لاندی تبصره می په فيسبوك کې وليکله چې د فيسبوك د دوستانو له خوا ضد او نقيضې تبصرې پرې وشولې چې څو تبصرې او زما ليکنې دلته رانقلوم. قضاوت به بيا لوستونکي پخپله وکړي چې دا بحث د کوم ځای نه پيل او چېرته ورسيده. که د ګل کريم حاجي عمر ته وګورو نو دجهاد د پيل په کلونو کې يعنی ۱۳۵۷ هجري شمسي کال کې به دی د لسو کلونو نه زيات نه و. حاجی ګل کريم په دې دوره کې لوی شوی او باالاخره د جګړې د يو لوبغاړي په توګه د ورور د شهادت نه وروسته پاتې شوی دی. نو سوالونه دا دي چې ايا دی فکرا، عقلا او په تيوريکي شکل جګړه ته داخل شوی او که ووايو چې جګړه په ده باندی هم د نورو افغانانو په شان تحميل شوې ده؟ ايا د ټولو شاړو دقوم د ښه او بدو اعمالو دی مسووله دی او که نور څوك؟ ايا جرم انفرادي دی او که څوك په يوه ډله کې او يا د يو قوم سره تړاو ولري نو د هغه قوم او ډلې په تور به دی هم محاکمه کېږي؟ څوك به څوك محاکمه کوي ځکه د دې خبيثه دايره سلسله په لنډ ډول د ۱۳۵۲ هجري شمسي کال نه پيل شوې ده چې د څلويښتو کلونو نه زياته موده وشوله ايا څوك پاك او بې طرفه پاتې شوی دی چې لاسونه يې پاك وي او نور محاکمه کړي؟ ايا

بیطرفي پاکې ده او که نه؟ او هم پاك کسان څنګه باید قدرت ته ورسیږي ؟ ایا اډیالستکي حالت امکان لري او که نه؟ د درنو لوستونکو نه هیله ده چې د پورته پوښتنو په رڼا کې دا لاندې تبصرې ولولي.

**زما لومړنی تبصره**:

**نن غرمه می په ښیوه ولسوالي کې د حاجی ګل کریم سره د هغه په باغ کې تیره کړه، ډیره زیاته خواري یې په باغ کې کړه ده چې یو وخت مونږ په دغه سیمه تیریدو او کونږ ته به تللو نو ټولې شګې او خوړ و. د املوکو د ونې تر څنګ مو دا عکسونه هم واخیست. د ښیوه ولسوالۍ قوماندان سمونمل حبیب ساپی هم راسره و.**





**عنایت ساپي صیب لیکلی و**:

**میاخیل صیب خوشاله یم چې لا هم د خلکو په منځ کې یې، او د ډیرو هغو کسانو څخه مستثناء یې چې دوه ورځې یې په ښار کې نه وي تیر کړي خو د کلي خواره انسانان یې هیر کړي وي.**

**الله نور سیلاب صیب لیکلی و:**

رسمي دوره باندې تللي یاست که بله خبره ده

**ماورته ولیکل:**

زما رسمیات د ځآن سره دي د دوستانو او خپلوانو لیدو ته راغلی یم

**سید ساپي صیب لیکلی و:**

میاخیل صیب نوشجان پدې وخت کې جلااباد دیر خوند کوي. زه چه اروپا ته راغلی یمه، تر اوسه مې د لمر ورانګې په ځان ندي لګیدلي.

**ما ورته ولیکل:**

مننه ساپی صیب د هر ځای بیل بیل خوند وي خو د وطن دشتې او میرې او خاصتا باغونه او شنې سیمي خاص خوند لري

**حیات پیاوړی صیب لیکلي و:**

میا خیل صاحب دا انډیولي په کومه خوشحالۍ کښې ده. ته فکر نه کوې چې دا ډول باغونه د نورو په وینو خړوبه کېږي. لعنت يې په خاوند او لعنت يې په باغ.

**ما ورته ولیکل**:

حیات صیب کېدی شي چې ستاسې په نیوکه کې مبالغه وي خو دا سیمه پخوا ډاګ او شګه وه او ما لیدلې وه. په هر حال دا خو د نورو هغو نه ښه دی چې په دوبۍ او نورو هیوادونو کې یي سرمایه ګذاري کړې ده.

**نجیب الله شنواري لیکلي و چې**:

میاخیل صیب! دا خو سمه خبره ده چې دا شین بڼ یي جور کړی .خو سوال دادی چې دا بڼ په کومو پیسو جوړ شوی ایا دغو اشخاصو بیتالمال ندی چور کړی ایا دغو اشخاصو د ملت په سر نوشت لوبې ندي کري.ایا ددې بڼ له هرې سانګې نه دمظلوم د وینو بوی نه رازي.او ستاسو خبره ددې کور ودان چې دلته یې دبیت المال په پیسو بڼ جور کړی دی.مجرم که هر چېرې وي مجرم دی که په هر ځای کې وي.

**ما د شنواري صیب په ځواب کې ولیکل**:

زما په اند جرم جرم دی که هر چا کړی وي خو په تیرو څلویښتو کلونو کې د خبیثه دایره ساحه دومره پراخه ده چې ښه او بد یې ټول سره ګډوډ کړي دي او که واقعیتونو ته وګورو نو په سلو کې ۹۰ زموږ ولس په یو یا بل شکل په دې لانجو او جګړو کې ککړ دي. ډیر کم کسان په شعوري توګه په دې جګړو کې اخته شوی او په اکثریت ملت دا ستونځې تپل شوي او ملت په غیر شعوري

توګه د مجبوریتونو له امله په جنګونو کې اخته شوي دي. که مطلب دا وي چې په سلو کې ۹۰ ولس محاکمه شي نو دا به مشکله وي نو په همدې لحاظ د اوږده جنګونو نه وروسته په هیواد کې انتقالي عدالت د جنوبي افریقا په څیر مهمه مسله ده چې هم عدالت تامین شي او هم نظم او ثبات په ټولنه کې پاتې شي. هره ډله او هر شخص باید په خپلو نیمګړتیاو اواشتباهاتو اعتراف وکړي او د راتلونکې نسل لپاره د عبرت د درس په شکل پاتې شي. دا اوږد بحث دی. اډیالستکي او افراطي نظریات که په هر شکل وي زموږ مشکل حل کولای نشي او همدا علت دی چې زموږ مشکلات ورځ په ورځ زیاتیږي او کمیږي نه. په هر حال د هر چا قضاوت د هغوی د معلوماتو او دیدګاو یعنې لرلید په چوکات کې وي او زه شخصا ورته احترام لرم چې هر څوك خپل نظریات، نیوکې او پیشنهادونه وړاندې کړي. ستاسې نیوکې هم په خپل ځای دي.

**حیات پیاوړي صیب بیا ولیکل:**

میاخیل صاحب ته هم بالکل د نورو په شان یې دتورزن او .... فرق نه کوې. چې ته خوشحاله یې فکر مو وي ټوله دنیا خوشحاله ده. د چا جفا او خیانت درته لکه چې هیڅ په نظر نه راځي. که ته د ګل کریم او امثالهم دفاع یا انډیوالي یا د کړنو تعریف وکړې نو بیا خو ..... ستا په باور په هیواد کښې خیر خیریت دی. یعنې

سمسمکی دی. میاخیل صیب په دې نظام یو څو محدود کسان خوشحاله دي چې څه برخه پکې ورته رسیدلي د ټول ملت د محرومیت په اړه هیڅ فکر نه کوي. میاخیل صیب ډیرې لنډې او اوږدې نه دې پکار او نه په دې نظام کې د خبرو کولو څه ګنجایش پاتی دی. دا نظام نر غوندې بدلون غواړي او بس. میاخیل وایې چې په یو ګل نه پسرلی کېږي.

**ما د پیاوړي صیب په ځواب کې ولیکل:**

سمه ده حیات صیب! زما مطلب تاسې سم نه دی لوستی. څنګه بدلون راوستلی شئ؟ په چا بدلون راولئ؟ د کوم نظام نه محاکمه شروغ کوئ؟ د ظاهر خان د دور نه که د داود خان د دور نه، د کمونیستانو نظامونو نه او یا د مجاهدینو د دور نه، د طالبانو د دور نه او که د اوسني نظام د پیل نه؟ یا هم د ظاهر خان د دورونو نه د مخکې حکومتونو نه یې پیل کوئ؟ نو که دا محاسبه پیل کړئ نه به مدعي وي او نه به مدعي علیه، تر اوسه یورې زموږ غوندې په شمار تعلیم یافته چې ځانونو ته پا ك وایي او انتفادونه کوي هېڅ داسې معقوله لار ولس ته معرفي نه کړه چې ولس راټول کړي او نه تعلیم یافته د ولس په راټولو پوهیږي ځکه د دوی او د ولس تر منځ ډیره فاصله ده او د دوی په خوله څوك پیاز هم نه خوري. ننګرهار یې ښه مثال دی. د جمهوري ریاست د نوماند سلسله یې بله ښه نمونه ده چې پنځه تعلیم یافته په یوه لار سره لاړ

نه شول. زه فکر کوم چې تعلیم یافته کسانو چې څومره د قلم په څوکه دې ملت ته مشکلات پیدا کړي دومره شاید دې نورو نه وي. بیا هم ستاسې نظر ته احترام لرم او دا ستاسې نظر دی.

**پیاوړي صیب بیا ولیکل:**

میاخیل صاحب محترم دا بحث په فیسبوك نه شي تکمیلیدای. خو دومره وایم که چېرې مونږ خپلې ملي ګټې پر شخصي مقدمې وګڼلې ټول مسایل به حل شي. مشکلات په را زېږولو کښې ټول خلك پړه نه شو بللی. ډېر مشکلات د بې مسوولیتۍ په وجه را پیدا شوي دي. دا هم د یادولو وړ ده چې هر تعلیم یافته روشن فکر نه دی. او وروستۍ دا چې مونږ سره طرحه شته او کار پرې روان دی خو هغه چې مونږ یې وړاندیز کوو ډېر دروند کار دی او دراندہ کار ته هر څوك غاړه نه ږدي. خلك یې داسې غواړي چې کار دې بل څوك کوي او ملك دې د دی وي، مونږ وایو ولس باید واك ترلاسه کړي. په لنډ ډول یو ځل بیا عرض کوم چې اوسنی حالت د هیواد او خلکو په ګټه نه دی. پیښې د مِثبت پر لور نه بلکه د منفي پر لور پر مخ درومي.

**ما ورته بیا ولیکل:**

حیات صیب! واقعا دا مهم او مشکل بحث دی. دې کې زه شك نه لرم چېتاسې به طرحه ونه لرئ خو هره طرحه ته مشتري پیداکول او د خلکو قناعت حاصلول چې ملاتړ ترې وکړي سخت کار دی. په

دې کې هم در سره موافق یم چې زموږ حالات په سمه نه دي روان.
بیا هم ستاسې دټولو د نظریاتو نه مننه خدای دې وکړي چې زما
په تبصرو خفه شوی نه یاست په درنښت.

**حیات صیب بیا ولیکل چې:**

تاسې د محاکمې خبره کوئ او موږ لمړی د نظام جوړونې.
محاکمه وروستۍ خبره ده خو حد اقل د یو خاین شخص او خاین
نظام سره انډیوالي پکار نه ده. بله خبره ما دا کړې وه چې دا
ستونزه درنده ده او دروند او بنسټیز کار غواړي او خلکو ته
قناعت ورکول ځکه ګران شوي چې خلك ثقیل کار ته غاړه نه ږدي.
زموږ یو څو باسوادان چې په مؤقتي ډول ورته د پیسو ګټلو فرصت
برابر شوی، همدا حالت خلکو ته مثبت تصویر کوي. زه تاته فقط
یوه لنده خبره کوم او هغه دا چې اوسنۍ اداره د دلال بیروکراټانو
په لاس ده او پوهیږئ چې دلال فقط خپل کمیشن اخلي که نه نو دا
نظام پردی دی. زه تاته یوه حواله درکوم او په دې اړه هم لږه
مطالعه وکړه. د سوشل ډاروینیزم اجتماعي طرز فکر په اړه. نو پوه
به شې چې د نظام وا کداران په څه اخته دي او د عامو وګړو په اړه
څه او څومره فکر کوي. زما په نظر اوسني واکداران دلال بیروکاټ
او سوشل ډاروینیستان دي. نو که څوك ددې نظام د بدلون فکر نه
کوي نو بیا د هغوی په نظر د افغانستان دا نور نفوس ټول مړ شي.

ما نور څه ونه لیکل خو حیات صیب بیا د نظام جوړونی خبره کوي او محاکمه خبره شاته اچوي خو دا نشي پیشنهاد کولی چې څنګه قدرت نیسي او بیا به وروسته څنګه حکومتداري کوي. دا بحث په دې مانا دی چې زموږ تعلیم یافته یا روشنفکران په اډیالیزم کې غرق دي او د ولس سره د دوی فاصله ډیره زیاته ده. په همدې ورځو کې ګل کریم حاجي په درې ورځو کې د ښیوه، دره نور او ننګرهار ته په زرهاو کسان د واده لپاره راغوښتي و او ټول ورته راغلي و حال داچې ګل کریم نه رسمي دنده لري، نه با سواده دی اونه کوم لوی عالم. د دې نه معلومیږي چې دی د ولس سره نږدې دی او د ده په خوله په زرګونو کسان سره راجمع کیږي یا په اصطلاح ستریت پاور (Street Power) یعنې د ولس قو ت د ده سره شته دی خو زموږ تعلیم یافته سره د ا دستریت پاور یا ولسی قوت نشته دی. ښه د حل لار به دا وي چې زموږ تعلیم یافته او روشنفکران د پوه او عقل تر څنګ د ولسی قوت په درلوده هم فکر وکړي که نه په کتابخانو کې ډیر کتابونه وي خو چې ویې نه لولي او کار ترې وانخلي څه په درد نه خوري.

## کونړ سفر

د نومبر د میاشتې د ١٦-١٣مې نیټې پورې

ګرانو دوستانو! د کونړ په سفر کې د خاص کونړ ولسوالۍ ته لاړوم. په خپل کلي، منګوال کې مې غرمه تیره کړه ، د خپل مرحوم پلار سید محمود حسرت او ورور سید معصوم او نورو دوستانو او خپلوانو قبرونه ته مې په خپله پلرنۍ هدیره کې دوعاګانې وکړې، خدای دې قبولې، او زموږ او ستاسې په ټولو مړودی الله تعالی ورحمیږي. په دې سفر کې مې د منګوال د لیسې نه هم کتنه وکړه چې د دغه لیسې ودانۍ او یو شمیر نورې ودانۍ زما په کوشش ښخوا جوړې شوې وې. ما په ۱۹۹۳ کال کې درې مکتوبونه د کونړ ولایت د ازادیدو نه وروسته په خاص کونړ ولسوالۍ کې جوړ کړل. او س په دغه ولسوالۍ کې ۲۷ مکتبونه شته دی چې ۹ یې لیسې او یو دارالمعلمین دی. په نه لیسو کې درې د نجونو لیسې، یوه د زراعت لیسه او یوه مدرسه شامله ده. دا یو شمیر عکسونه د خپلې حجره، کلي او په دغه سیمه کې د باغونو د یوشمیر دوستانو سره می اخستي تاسې سره هم شریکوم. د خاص کونړ ولسوالۍ غټه ستونځه په اوسني وخت کې ، د ویالې د سربند خرابي ده چې د کونړ په سیند باندې د حکیم اباد د پله په وجه خرابه شوې ده. که دا ویاله جوړه نشي، د خاص کونړ ولسوالي۲۴ زره جریبه ځمکه به حاصل ونه کړي او دا به دې ولسوالۍ ته او هم د کونړ ولایت لپاره یوه لویه ستونځه

وي. نو په دې خاطر د یو شمیر سپین ږیرو سره د کونړ والي شجاع الملك جلاله سره چې د خاص کونړ ولسوال محمد رحمان دانش هم راسره و وکتل چې په لنډ مهاله توګه د دې سربند چاره وکړي چې اوبه راشي تر څو د غنمو فصلونه ونه سوځي او په اوږدمهال کې دا سربنه باید سم جوړ شي. په پراختیایي کمکونو کې وایي چې کمکونه باید په داسې ډول وشي چې چا ته ضرر ونه رسیږي څکه هغه کمکونه چې وروسته د ولس د بې اتفاقۍ یا ضرر سبب کېږي باید ونه شي. دی ته په انګلیسي ژبه کې Do No Harm Policy وایي. د حکیم اباد پل اوس د خاص کونړ خلکو سربند خراب کړی او د ګټې نه یې تاوان ډیر دی. د زیړي بابا د پل ملا هم د بې کیفته کار له وجهې ماته ده. عکسونه دا دي:





د کونړ والي شجاع الملوک جلاله سره د خاص کونړ د یو شمیر مشرانو کتنه

د منګوال کلي زموږ حجره د ملګرو او دوستانو سره




د خاص کونړ ولسوالۍ د منګوال لیسه د خاص کونړ سربند د کلګرام (حکیم اباد) سره




د کونړ په سفر کې د خدای بښلي غازي میرزمان خان چې په لوی خان شهرت لري، او د هغه د ځوی مرحوم محمدهاشم زماني مزارونو ته هم ورغلم او د دوی ارواحو ته می دوعا وکړه. الله دې قبول کړي. غازي میرزمان خان، د استقلال د جنګ د څلورمې جبهه یعنې چترال او ارناوې د سیمو مشر او قوماندان و. محمد هاشم زمانی شاعر، لیکوال او مبارز و. غازي میرزمان زما د مور له خوا نیکه هم دی. د دوی د مزارونو یو څو عکسونه تاسې دوستانو سره شریکوم.




لومړی دوه عکسونه د غازي میرزمان قبر دی او لاندې دوه عکسونه ، ښي خوا د غازی میرزمانخان او چپ خواته د مرحوم محمد هاشم زماني مقبرې دی.

**د پورته عکسونو د دې سفر په هکله راته اجمل عالمزي صیب لیکلي و:**

میاخیل صیب زما سلامونه ومنه له ژوند څخه لکه چې ناهیلی شوې چې مړوته دې مخه کړه.

**ما یې په خواب کې ولیکل:**

اجمل جانه! د ژوند نه هیڅکله نا هیلی نه یم خو د مړو نه باید سړی عبرت واخلي. زه فکر کوم چې د ما نه به هیڅوك په ژوند کې خوشاله نه وي. نه په چا پور لرم نه د چا پوروړی یم. نه د کورونو او بیلډنګونو غم راسره شته او نه د کانټینرونو او بزنس. نه په کور کې د بچو او اولادو سره مشکل لرم او نه په کور او کلي کې . د اولادونو حق مې چې هغه تعلیم دی هم ادا کړی دی. نه د چوکۍ او مقام ارزو لرم نه چاته مې واسطې او زارۍ کړي چې چوکۍ راکړه. خو یوازینۍ ارزو مې دا ده چې امن په دې وطن کې وي او په خپله تبه یعنی خوښه، په ازاده او ارامه فضا کې په دې وطن کې وګرځم او د دوستانو او خپلوانو احوال واخلم . نور د تقاعد په غم کې یم او که څه لیکلی شم هغه باید ولیکم. نو اوس ته ووایه چې زه ناهیلی یم او که خوش بخته چې دغه می حالت دی. واه د هغه چا په ځان چې د کوټې نه راوتلی نه شي.

**د ملنګ جان قبر**

په همدې سفر کې مو د ملي ولسي شاعر مرحوم ملنګ جان استاد قبر زيارت وکړ او دا لاندې تبصره ما په فيسبوك کې وليکه چې د سلو نه زياتو دوستانو پرې تبصرې وليکلې حتى په افغانستان کې د ملګرو ملتو د عمومی سر منشی پخوانې خاص استازي Kai Eide وليکل چې دا کوم ځای دی زه پری نه پوهيږم چې څه مو ليکلي ځکه ډيرو کسانو پرې تبصرې ليکلي دی. بيا ماورته د ملنګ جان استاد په هلکه معلومات ورکړل. زما وړوکې تبصره داوه:

د مرحوم ملي ولسي شاعر ملنګ جان استاد د مقبره نه مې نن کتنه وکړه او دوعا مو د هغه مرحوم روح ته وکړه. هغه پخوانی د مرمرو تختې چې پرې ليکنې شوې وې ماتي شوي خو امانت د هغه په مقبره باندې ساتل شوی دی.

**اسد دانش صيب ليکلي و**:



زه اوس پوهيږم چې زما په رنګه يو بې چاره سړی ،هم داسې ليکې او ستاسې په رنګه يو چارواکې هم نو اوس خبره لږه ګډه وډه ده تاسې بايد ژرتر ژره دا مجرمين پيدا او سزا ورکړئ.

**ما ورته په خواب کې ولیکل:**

دانش صیب زه اته نیم کاله پخوا چارواکې وم اوس زه هم ستاسې غوندی بیچاره یم

**یوې خور په نامه د هیله جهان د هالیند نه لیکلي و:**

مونږ د خپلو لوی کسانو تاریخ ته چې مړه دي ضرورت لرو چې پیدا یې کړو او خپل تاریخ وپیژنو. نو عجله وکړه چې دا ځآی جوړ شي او مونږ یي بې له ایران او پاکستان د مرستې جوړکړي شو.

**اسد دانش صیب بیا ولیکل:**

په دې پوهیږم خو اواز دې تر ما لوړ دی ځکه مې وویل ، زموږ سترګې تاسې ته دي چې تاسې هم ځان کمزوری معرفي کوئ بیا سمه ده نو د نر په رنګه ښنه بۀ وغواړم.

**هیله جهان بیا ولیکل:**

میاخیله ته موږیعنی سرمایه دار سړی یي او زه متیقنه یم چې تاسې دا لویه مقبره جوړولی شئ مګر زه نه غواړم چې د تاسې نه وغواړم چې دا جوړه کړه مګر په فیسبوك باندې د خلکو نه غوښتنه وکړه چې مونږ چې څه کولی شو. دا د دې مانا به ولري چې مونږ په خپلو منځو کې وحدت ټینګ کړی وی.

**ما هیله جاني ته ولیکل**:

**هیله جانې**! زه همیشه سرمایه دار یم ځکه چې رحمان بابا وایي:

قناعت مې د خرقه لاندې اطلـــــس دی
په ظاهر ګدا پټ د درست جهان پادشاه یم

**ددانش صیب د تبصره په اړوند ما ولیکل چې**:

مننه دانش صیب! ستاسی د حسن نظر نه، په شریکه به اواز اوچت کوو ځکه د یو کس په اواز څوك روږه نه ماتوي

**عبدالهادي هادي لیکلي و**:

نو خو ګران میاخیل صیب! ملنګ جان خو په ټول افغانستان پورې اړه درلوده، دا ځل واخله دا ځواني او خرابات ته وکړه چې د ملنګ جان قبر ته یو نوی پوښ ورکړه، د خدای رحم دی، دومره نه یې خراب چې دا درباندې بوج شي، خو په همدغې لړې قربانۍ او لګښت به د ملنګ جان د ټولو ارادتمندانو زړه کې یولوی ځای پیدا کړې او سخت ثواب به وګټې. یا هو ، توفیق درته غواړم.

که څه هم د ملنګ د مقبره لګښت دومره پیسې نه غو ښتلې خو دوستانو تقاضا د مانه وه چې دا کار باید وکړم . هماغه و چې د ملنګ جان د قبر تر څنګ زما د تره زامن اوسیږي نو ما خپل د تره ځوی وحیدالله میاخیل ته دنده وسپارله چې دا دقبر لوحه جوړه

کړي او لګښت به يې زه ومنم. کېدای چې دا زما په فرهنګی مرستو کې د دوستانو له خوا حساب شی.

وحيد الله مياخيل او کورنۍ يې د مقبرې لوحه بيا جوړه کړه خو پيسې يې له ما وانخستلې الله پاك دې ورته په دنيا او اخرت اجر ورکړي .

## د کابل امنیتي تدابیر د ضرورت په اساس دي که فیشني جنبه لري؟

د نومبر۱۸ مه نیټه ۲۰۱۳ م کال

نن او پرون د کابل ترافیك په عمومي توګه د پنځمې، دریمې، اومې او دویمې ناحیو په ساحو کې په خاصه توګه د مشورتي لویې جرګې د دایریدو په خاطر دومره خراب و چې د افشار او چارراهي قمبر دسیمو نه درې ساعته یې ونیول چې وزیر اکبر خان ته ورسیدم. زما په اند امنیتي ارګانونه سره مشترك پلان او هم اهنګي نه لري او د هرې ساحه امنیتي حوزه او پوستې ځانګړې ترتیبات لري او په خپله خوښه لارې او کوڅې بندوي او د کابل ولس ته یې لوی سر درد پیداکړی دی. تر کومه حده چې ماته معلومه ده په سلوکې نوي مسلح کسان چې د چارواکو، قوماندانو، یا نورو زورواکو پسې ګرځي فیشني شکل لري که د ربنتیاو وخت راغی نو دا باډي ګارډان هیڅ نه شي کولی. دا باډي ګاردان د دې لپاره دي چې دوی خپلو ګاونډیانو ته خپل زور وښايي او یا په سرکونو غریبانان، تکسي وانان، د رېړیو والا او پلي کسان تهدید کړي. په سلو کې نوي چې کومې کوڅې چارواکو بندې کړي او یا یې پوستې په لارو کې جوړې کړې دي د امنیتي تدابیرو سره هیڅ تړاو نه لري.په ښار کې دننه مسلحوکسانو او تعقیبي موټرو ته هیڅ ضرورت نشته حتی وزیربايد هم تعقیبي موټر د کابل په ښار کې ونه لري، معینان، ریسان او نور خو پریږده. څومره چې زیات مسلح کسان په کوڅو

او بازارونو کې لیدل کېږي هماغومره د خلکو اعتماد په حکومت کمیږي او د خلکو انزجار زیاتیږي. د ظاهري امنیت ترڅنګ مخفي پولیس او استخباراتو کارمندان باید زیات وي خو زموږ مخفي او استخباراتي کارمندان هم فیشن کوي او مخابرې یې ښکاره نیولي وي او په چوك کې ولاړ وي چې هر څوك یې د ورایه پیژني. امید دی چې امنیتي ارګانونو مشران د کابل ترافیك ته یو سم پلان جوړ کړي او هغه تطبیق کړي. د کابل ترافیك د چارواکو او امنیتي ارګانونو له خوا خراب دی ځکه دوی ترافیکي قوانین نه مراعاتوي نو بیا مشکله ده چې په ولس هم قانون تطبیق کړي. دا مسله اوس په ښکته سطحه سره نشي حل کېدی تر څو د کابینه په سطحه سمې او عملي فیصلې ونشي. اول باید وزیر خپل ډریور او باډي ګارډان کنترول کړي او په دې یې مکلف کړي چې د ترافیکي قوانینو مراعات وکړي. همدا مشران باید د ترافیکو سره همکاري وکړي او په هر سرك چې کوم زورمند د ترافیکي قوانینو خلاف ورزي کوي هغه ودروي او ترافیکو ته یې حواله کړي تر څو د ترافیکي قوانینو مراعات کول د ولس په کلتور باندې بدل شي. اوس خو د ترافیکي قوانینو د نه مراعات کولو کلتور په افغانستان کې رایج دی.

## دوه وړې تاریخي قصې

د نومبر شلمه نیټه، کال ۲۰۱۳ م

**اوله قصه**:

خدای بښلي تره مې وکیل عبدالقادر، راته ډیر پخوا قصه کوله چې د داود خان د صدارت په وخت کې د پاکستان سره د پښتونستان په سر حالات خړپړشول (۱۳۳۹ هجری شمسی کال). داود خان د سفر برۍ یعنې د تیارۍ او جنګ امر ورکړاو د باجوړ په سیمه کې د پاکستاني قواو سره نښته هم وشوله چې د کونړ او د مشرقي د نورو دریو ولایتونو ډیری سپین ږیږي چې په تش لاس تللي و شهیدان شول. د جګړې نه د مخه، غلام فاروق خان چې د مشرقي سیمی ریس تنظیمه و کونړپه مرکز، چغه سرای کې د مشرقي سپین ږیرو ته وویل چې زه د تاسې نه د صحابه کرامو غوندې غزا غواړم. یو سپین ږیری ورته جګ شو او ورته یي وویل چې د صحابه کرامو په وخت کې به پیغمبر مخکې و او صحابه ورسره و. ته په جلال اباد کې ناست یې او د مونږ نه د صحابه کرامو غوندې غزا غواړې. ته مخکې شه مونږ درپسې یو.

دا مطلب می په دې خاطر ولیکه چې بعضې کسان چې په افغانستان جهاد غواړي ارام په خپلو ځایونو کې ناست وي اود افغانستان بچي په خپلو فتواګانو باندې وژني او یا هم بعضې په

نوروهیوادونو کې میشته دي او د هغه ځای نه د افغانستان د جوړید شعارونه ورکوي.

**دویمه قصه:**

د ساپو د انقلاب نه مخکې سردا محمدجان خان د کونړ ولایت حاکم اعلی یعنې حکمران و ولس ترې ډیر په تنګ و خو پاك سړی و. کله چې پادشاه، ظاهر خان کونړ ته راغی نو یو تن سپین ږیري میرزا محمد غفار خلکو ته قسم واچاوه چې زه به درته عریضې لیکم او تاسېیي پادشاه ته ورکړئ. کله چې پادشاه راتله نو په لاره کې هرچا ورته د حکمران نه د شکایت عریضې ورکولې نو کله چې پادشاه چغه سرای ته ورسید نو د کونړ مشرانو ته یي وویل چې تاسې ډیر بدبخته خلك یاست چې ما تاسې ته ملایکه یعنې پاك سړی رالیږلی او تاسې د دې نه شکایت کوئ. میرزا محمد غفارچې ما لیدلی و او وروسته د کونړ نه تبعید شو په بلخ ولسوالۍ کې اوسیده، نو وویلې چې خبره خو خرابه شوله او عریضو کار ورنه کړ نو ودریده او پادشاه ته یي وویل چې زما پوښتنه دا ده چې ایایوازې دا کونړ ستا ولس او رعیت دی او که نور افغانستان هم؟ که دا ملایکه چې تا د حکمران په توګه رالیږې که دا د رحمت ملایکه وی نو ښه دا ده چې د ځان سره یي بوزې او دا رحمت د افغانستان په نورو سیمو هم وورېږي او که دا دغضب ملایکه وي نو هم ښه دا ده چې مونږ ترې خلاص کړې. پادشاه چې

د کونړ نه تللو نو حکمران يي هم د ځآن سره بوتلو خو په عوض يي د هغه اوښي سردار دوست محمد خان راولیږه او ورسته د ساپو په جنګ کې میرزا محمد غفار يي هم د کونړ د نورو مشرانو سره لکه شهسوار، سلیمی، امان الملك او داسی نور د کونړ نه د بلخ ولایت ته تبعید کړ. تعبیر او تفسیر د دویمې قصي هر ډول چې تاسې وغواړئ هغسې يي کولای شئ.

**د طوطیانو مصوونیت په استرالیا کې؟**

د نومبر ۲۵مه نیټه، ۲۰۱۳ م کال، استرالیا

نن ورځ مې د دوستانو، خپلوانو او انډیوالانو سره د استرالیا د میلبورن ښار کې تیره کړه او هم د ډنډیډونګ غره ته لاړو او هلته مو د طوطیانو سره ښه ساعت تیر شو. د طبیعت دا ښکلا، سکون او د طوطیانو میني ته می چې کتل نو د وطن په سوچ کې شوم چې هلته په وطن کې مرغۍ خو پریږده چې د انسانانو له لاسه په هوا کې نه شي تیریدلی، انسانان هم د یو بل نه تښتي او ویره لري، یو بل وژني او حتی د اوبو ماهیان هم په راکټونو ولي او د ساعت تیرۍ لپاره بیا د ماهیانو په ښکار کې ماشومان وژني. دلته د مرغانو او طوطیانو ژوند مصؤونه دی خو زمونږ په وطن کې د انسانانو ژوند هیڅ مصؤونیت نه لري بیا وایو چې خارجیان ملامته دي. که خارجي ټوپك او چاودیدونکي مواد افغانانو ته ورکوي چې خپل ورونه ووژني نو افغانان خو هم باید دا عقل ولري چې خپل ورونه ولې  ووژني. نو اوس تاسې دوستان د دې طوطیانو د مصؤونیت نه قضاوت وکړئ چې مونږ څومره په بدبختیو کې ککړ یو.







**که دا هڅګک او بنګک وی نوخدای پاک دی عاقبت په خیر کړي**

د نومبر ۲۷مه نېټه، ۲۰۱۳ م کال، میلبورن، استرالیا

د مشورتي لوې جرګې نه یوه ورځ د مخه یعنې د نومبر په شلمه نېټه د کابل نه د استرالیا په لورې وخوځېدم چې د ادیلید په ښار کې د فلندرز پوهنتون له خوا په جوړ شوي کنفرانس کې برخه واخلم. د کنفرانس موخه دا وه چې تر ۲۰۲۰ م کال پورې به په افغانستان کې څه ډول حالت وي او نړیواله ټولنه څنګه مرسته کولای شی چې افغانستان بیا د ۱۹۹۲ م کلونو د ستونځو سره مخامخ نه شي.

د کابل نه د وتلو په وخت د پل تخینك سره نږدې زمونږ د کور شاوخوا ټولې لارې بندې وې او د جرګه نه دوه ورځې د مخه په یوه ځانګړي برید کې د اردو یو شمیر عسکر او ولسي وګړي د تعلیم او تربیه پوهنتون سره مخامخ مړه او ژوبل شوي وو . امنیتي تدابیر ډیر شدید نیول شوي و او د موټرونو په تګ او راتګ سخت بندیز و او د کابل ښاریانو ته مشورتي لویې جرګې دایریدل سترتکلیف او یو لوی عذاب و.

سوالونه دا دي چې د عسکرو اوپولیسو ۲۴ ساعته پیره د کابل په دې یخه هوا کې، د دوی مرګ ژوبله او د کابل د ښاریانو تکلیفونه د څه لپاره؟ ایا د دې جرګه دایریدو ته ضرورت و که نه؟ که ضرورت و نو ولې فیصلې بابیزه وګڼل شوې؟ ایا د داسېجرګو دایریدلو او د فیصلو نه منل به د لویې جرګې تاریخي اهمیت ته ګټه رسولې وي که تاوان؟ د جمهوري ریاست نوماندانو موقف په داسې حالاتو کې د لمس وړ دی که نه؟ ایا دا نوماندان څه فکر او پروګرام د افغانستان لپاره لري او که نه؟ ایا د جمهوری ریاست نوماندان د جمهور ریس کرزي روباټان دي چې د تحرك توکمې یي د هغه سره دي اوکه دوی پخپله هم څه تفکر او نظر لري که نه؟ ایا د جمهوری ریاست نوماندان خپل مستقل او ازاد موقف او نظر لري او که نه؟ او داسی نور سوالونو ته ځوابونه زما د شخصی اند له پلوه په لاندې توګه دي.

۱. د دې جرګه دایریدو ته هیڅ ضرورت نه و ځکه ستراتیژیك تړون د ۲۰۱۰ م کال د مشورتي لویه جرګې په مشوره امضا شوی و او هغه تړون د ملي شورا له خوا هم په مطلق اکثریت تاید شوی دی. د بهرنی قواو پاتې کېدل، د هغوی رول او مالی مرستې د دغه ستراتیژیك تړون یوه ماده وه چې تخنیکي کار ته یي اړتیا لرله. د افغانستان او امریکې تخنیکي ګروپونونه په دې دوه کاله کار وکړ او دواړه خواوې توافق ته سره رسیدلېدي. په تخنیکي لحاظ څه مشکل نه و. زما په اند په دې جرګه باندی مصارف بیځایه اود دولت د بودجه نه سؤ استفاده وه. خلکو ته تکلیف او د څو بیګناه انسانانو قرباني دجرګه د امنیت لپاره نه بښوونکی جرم ګنم.

۲. د جمهور ریس کرزي له خوا د دې جرګه د پریکړونه منل، ولو که د ولس اصلی نمایندګانو په دې جرګه کې برخه نه درلوده، د جرګې دود او دستور ته په سپکه سترګه د کتلو په معنی ده او یا خپلې خبرې ته په سپکه سترګه کتل او د جرګې ټولو ګډون والو ته د توهین معنی لري. د دې جرګه فیصلښه منل پخپله د دې معنی لری چې د جرګې دایریدل بې ضرورته و او دا جرګه د شخصي مقاصدو لپاره یوه وسیله وه نه د ملي ګټو لپاره.

۳.د جمهوری ریاست د اکثرو نوماندانو چوپه خوله پاتې کېدل د دې جرګې په هکله دوه معنی لري. دوی ویره لري که واقعیت ووایي نو بیا شاید جمهور ریس کرزی د دوی سره مرسته ونه کړي

ځکه دوی په خپلو ځانونو اعتماد نه لري او نه اکثریت د دوی د ولس په منځ کې ریښې لري. که د جمهور ریس کرزی د موقف نه ملاتړ وکړي نو بیا شاید په راتلونکی کې امریکا د دوی سره مرسته ونه کړي په دې شرط که انتخابات وشي او د دوی نه کوم یو کامیاب شي او قدرت ته ورسیږی. نو دا بیچاره نوماندان هم په دوو کې حیران دي چې څه وکړي. په دواړوحالتو کې دوی د لنډ مهاله او اوږد مهاله ستونزو سره مخ دي. دوی د ځانه اراده نه لري دم غنیمت د دوی لپاره ښه دي.

۴.زما په اند دافغانستان وضع ګونګه وه او نوره هم ګونګه شوله او دا ګونګه وضع د ملت په خیر نه ده. مشر لالا وایي یا به زه یم او که نه اوسم نو زما یي په راتلونکي څه. ولس پوه شه او راتلونکی جمهور ریس او بې شرمي یي.

۵.اوس تاسې دوستان فکر وکړئ چې د دې بیچاره ملت په غم کې څوك دي او که نه؟ ما په خپلو ډیرو مقالواو کنفرانسونو کې دا خبره همیشه تکرار کړې چې د افغانستان مشکلات سیاسي دی نه تخنیکي خو امریکایان هم د ملا نصرالدین په خره سپاره و او فکر یي کاوه چې په زیاتو پیسو او عسکرو به د افغانستان مشکل حل کړي چې دا دواړه تخنیکي ښه لري، نه زیاتو پیسو کار ورکړ او نه زیاتو فوځونو. وایي مور د وړی له حاله څه خبر دی. دوی خو به لاړ شي او په مخه دې ښه وي ځکه نه زمونږ په

خوښه راغلي او نه زمونږ په خوښه پاتې کېږی خو مشکل د غریب ولس دی چې نور نه د جنګ د دوام طاقت لري او نه د طالبانو د وخت په شان په زندان کې د شپو او ورځو تیرول.

۶. په ۱۶ د سپتمبر ۲۰۰۱ م کال یعنې په امریکه کې د سپتمبرد یولسمې نیټې د پیښې نه پنځه ورځې وروسته چې امریکا په افغانستان د حمله نیت درلوده ما او یو امریکایی پروفیسور د واشنګتن پوست په مشهور اخبار کېیو اوپیدیعنې مقاله ولیکله که امریکا د روسانو غوندې اشتباګانې وکړي نو دوی به هم د روسانو غوندې د شکست سره مخامخ شي او د امریکا قوت او پیسی څه نه شي کولای. تاریخ تکراریږي او امریکا د روسانو غوندې هو به هو اشتباګانې وکړې. خو ماړه کولای شي چې د روسې غوندې بیا ځانونه جوړ کړي خو غریب ولس او افغانستان بیا د دې جوګه کېدای نه شي چې په خپلو پښو ودریږی. که هر څومره ښه احساس ولرو خو چې عقل راسره نه وي نو مونږ به بیا ډغری خورو او سرونه به سره ماتوو. که مو دا پالیسۍ او دا مو هنګك اوبنګك وي خدای پاك دې عاقبت په خیر کړي.

**تیر ماښام د میلبورن په ښار کې د پروفیسور عبدالرسول امین د مړینې څلورمه کلیزه ولمانځل شوه**

د نومبر ۲٦مه نیټه د استرالیا د میلبورن ښار، ۲۰۱۳ م کال

تیرماښام د هیواد نومیالي استاد، لیکوال او ملي شخصیت، پروفیسور عبدالرسول امین د مړینې څلورمه کلیزه د استرالیا د میلبورن ښار کې د خدای بښلي امین صیب د کورنۍ، خپلوانو، دوستانو او علاقه مندانو له خوا ولمانځل شوله چې ما هم پکی ګډون وکړ. د دوستانو په تشویق ما هم یو څو خبرې د امین صیب د ژوند او شخصیت په هکله وکړې. امین صیب چې د کابل پوهنتون پخوانی استاد او هم په موقته دوره کې د معارف وزیر و، په سلهاو شاګردان یې درلودل او د ده ژوند ټوله برخه په مبارزه کې تیره شوې وه. په وړوکوالي کې د ده کورنۍ د کونړ نه هرات ته تبعید شوله، وروسته شبرغان ته او هغه ځای نه دی پیښورته لاړ او د پیښور په پوهنتون کې د لسانس او ماسترۍ تر کچې زده کړې وکړې. امین صیب وکړی شول چې د پیښور پوهنتون د محصلینو د اتحادیې انتخابي مشر شي. ده دا انتخابات د اربابانو د بانفوذه کورنۍ نه په هغه وخت کې وګټل.

امین صیب چېماله نږدې پیژنده او **۱۹۸۵** کلونو په موده چې زه د امریکا غږ رادیو خبریال وم نو زما دفتر هم د امین صیب په دفتر کېیوځآی د افغانستان د ازادو لیکوالانو په اتحادیه کې د

یو څه وخت لپاره و. په هغه وخت کې چې د افغانستان پوه او تعلیم یافته قشر په پیښور کې د سخت تهدید سره مخامخ و نو د امین صیب دفتر د تعلیم یافته قشر لپاره دویم کور و ځکه ده ورسره به همیشه مرسته کوله او زیادتره تعلیم یافته قشر د هماغه ځآی نه نورو هیوادونو ته مهاجر شول او ژوند یې په امن کې شو.

امین صیب همیشه خپله خبره په ډیر جرئت سره کوله او همیشه به په ملی مسایلو خبری کولي. هیڅکله زما نه یادیږی چې امین صیب په مادی مسایلوغږیدلی وی او همیشه به یې خپلي خبری په یوه قصه او متل باندی پیل کولی ترڅو د مخاطب توجه ځانته واړوی. امین صیب د مشرانو سره مشر او د کشرانو سره کشرو او هیڅ شخصی عقده یې نه درلوده. زما پیشنهاد په دغه غونډه کې داو چې اکثریت د امین صیب دوستانو د هغه په هکله ډیري تاریخي قصی لری که هغه راټولی شی او د یوه کتاب په شکل چاپ شی نو دا به یو لوی کار وی چې له یوه خوا به مو د امینصیب د استادی او مبارزی حق ادا کړی وی او له بله خوا به هم د دی تاریخي قصو نه پند او عبرت اخستی وی. په دغه غونډه کې ما هم د امین صیب د قصو نه دوه یې دلته وکړی چېیوه قصه یې دلته د تاسی سره شریکوم.

انګلیسی ژورنالستی کریستینا لیمب په ۱۹۸۹ کال د پاکستان په هکله تحقیق کاوه چېیو کتاب یي هم د پاکستان په هکله ولیکه چې د دیموکراسی دمبارزي په نامه یادیده. یوه ورځ کریستینا لیمب د امین صیب دفتر ته راغله او د معمول په شان ډیر ژورنالستان او دیپلوماتان د امین صیب دفتر ته راتلل. کله چې دا ژورنالسته لاړه نو د اي اس اي نفر د امین صیب دفتر ته راغلل او ورته یي وویلی چې ته دا ښځه څنګه پیژنی ځکه دا خو د م آی سکس یعنی د انګلستان د جاسوسۍ د شبکه سره کار کوي او مونږ دا تعقیبوو. امین صیب ورته په خندا وویل چې تاسې معلومات راټول کړي نو په دغه معلوماتو څه کوئ. د ای اس ای نفرو ورته وویل چې مونږ دا معلومات خپل صیبیعنې مشر ته په پیښور کې ورکوو. امین صیب بیا ورته وویل چې بیا د پیښور صیب په دې معلوماتو څه کوي؟ هغوی ورته وویل چې زمونږ صیب یي بیا اسلام اباد کې خپل صیب ته ورکوي. امین صیب بیا ورته وویل چې ستاسې د اسلام اباد صیب بیا په دی معلوماتو څه کوي؟ هغوی ورته وویل چې نور مونږ ته هم معلومات نشته دی. امین صیب ورته وویل چې نور به یي زه درته ووایم. دا ښځه هم چې معلومات راټول کړي په پیښور کې یي خپل صیب ته ورکوي او هغه یي بیا په اسلام ابادی کې خپل صیب ته ورکوي. هلته په اسلام اباد کې ستاسې مشر صیب او د دې ښځې مشر صیب سره خپل بکسونه د یو بل مخ ته ږدي او معلومات سره تبادله کوي نو تاسې هسې ځانونه ستړی کوئ.

امین صیب دی خدای وبښي او جنت فردوس دې نصیب شي.

**د شطرنج لوبه روانه ده**

۲۷ نومبر ۲۰۱۳ م کال، میلبورن، استرالیا

په افغانستان کې د شطرنج لوبه روانه ده هر څوك يو بل ته نقل ورکوي خو هيڅوك نه پوهيږي چې لوبغاړي څه کوي او ټال چال (د جمهور ريس کرزی له خوا د مشورتي لوې جرګې د پريکړو په اساس امنيتي تړون نه دستخط کول د ا مريکې د متحده ايالاتو سره) ګټه لري او که نه؟ نو زه هم نن د شطرنج لوبې ته د استراليا دميلبورن ښار د ډنډيدونګ پلازه کښيو څو شيبې ځير شوم خو لوبه کوونکي راته د افغانستان د سياسی لوبغاړو په څير ضعيفه په نظر راغلل. د



شطرنج د لوبې په کتو سره راته يوه قصه راپه ياد شوله چې محترم محمد حسن ولسمل په خپل کتاب، زوړ حمام کې ليکلې وه. وايي د هاشم خان د صدارت په وخت کښيو مديرچی لودين نوميده د وزير په دنده د شپې له خوا مقرر شو. (ګورئ پخواني مديران داوسني وزيرانو نه ډير پوهيدل). مدير صيب سهار وختی د هاشم خان کورته ورغی چې د هغه نه مننه

وکړی خو هاشم ورته ویلی و چې بچیم شطرنج را یاد داری یا نې؟ مدیر صیب ورته ویلی و چې هو. نو هاشم خان ورته بیا ویلي و:دروقت بازی شطرنج، پیاده جای وزیر را میګیرد مګر وقتیکه بازی شطرنج خلاص شد، پیاده پیاده است و وزیر وزیر. دا چې مدیر صیب پوه سړی و، بیرته کورته ستون شوی و اوښوك چې بهمبارکی ته ورتلل نو ورته به یې ویل چې دا موقتی مقرری د یوڅو ورځو لپاره ده او زه به بیا خپله پخواني دنده بیرته اجرا کوم نو مبارکی مه راکوی. نو اوس دا عکس او تاسی.'

## مل هم چېغي وهي او غل هم

د نومبر ۲۹مه نېټه ۲۰۱۳ م کال، د دوبی هوایي ډګر

په سوشل میډیا او یا تصویري رسنیو کې چې د بعضې تحلیګرانو خبرې او نظریاتو ته بعضې وخت ځیرشم او یا بعضې کسان چې د نړدې نه پیژنم نو داسې راته ښکاري چې په اوسنی حالت کې د غل اومل، دصادق او خاین، د وطن فروش او وطن دوست، د پاك او ناپاك فرق کول راته مشکل ښکاري ځکه غل د مل نه زیاتي چېغي وهي. پخوا د مجاهدینو، خلقیانو، طالبانو، د حکومت طرفدارو او د حکومت مخالفینو، د صادقو او خاینو، او همداسی نورو ډلو سره صفونه معلوم و خو اوس دا صفونه سره داسی ګډوډ شوي چې هیڅوك نه پوهیږي چې څوك د چا سره دی اوڅوك ښه او څوك بد دی. همدی وضیعت دومره بی اعتباري او بدګماني د افغانانو تر منځ راپیداکړې چې هیڅوك په یو بل اعتماد نه شي کولای او د هر چا خبرې، نیت او عمل ته دشك په سترګه سره کتل کیږي. کېدای شي چې زما داخبره سمه نه وي خو ماته داسې ښکاري. بعضی وخت سیاسی حلقې چې غواړي د خلکو نظریات مغشوش کړي او توجه د اصلي موضوعاتو نه بل طرف ته وګرځوي نو خپلو کسانو ته دنده وسپاري او د عامه اذهانو د مغشوشولو د پاره بیمورده موضوعات په مطبوعاتو کې مطرح کوي چې د وطن د اصلي موضوعاتو سره هیڅ اړخ نه لري.

دلته مېیوه قصه راپه یاد شوله چېیووخت په چارسده کې د پاکستان د جماعت اسلامی د ګوند له خوا یوه غونډه جوړه شوې وه او د مجاهدینو ځینې مشران هم ورته بلل شوي و. د اسلامی حزب د مشرانو دا عادت و چې کله به غونډو ته تلل نو دوه درې موټرې ځوانان به یي هم دشعارونو او یا بعضې وخت د غونډو د ګډوډولو او تخریب لپاره هم د ځانونو سره بیول. په دی غونډه کې د اسلامی حزب یو مشرد پخواني پادشاه، ظاهرشاه په اړه ډیرې بدې خبرې وکړې او د دې سره راغلي ځوانانو به د هرې خبری سره مرګ په ظاهر شاه شعارونه ورکول.

کله چې نوبت مولوی محمد یونس خالص ته ورغي، نو بی له مقدمی او بسم الله یي وویل چې ای خلکو دا د ظاهرشاه نماینده تاسی وپیژانده؟ ټولو ورته وویل چې نه. نو مولوی خالص ورته وویل چې د ظاهر شاه نماینده همدا د ا سلامی حزب په مشری چې خبری کوی، دی ځکه چې زمونږ ظاهر شاه هیڅ په یاد هم نه وي خو دی یي مونږ ته یادوی او همدا د ظاهر شاه لپاره ښه تبلیغ کوي.

ګرانو دوستانو نور تاسی پوه شه، تحلیل او نظر مو، الوتکې ته د ختو وخت دی.

## مرده یک ګپ است

د دسمبر د میاشتی لومړی نیټه، ۲۰۱۳ م، کابل

وايي د ملانصرالدين نه چا پوښتنه کړی چې څوکاله عمر لري؟ ملا نصرالدين ورته په ځواب کې وويل چې ديرش کاله. لس کاله وروسته بيا د ملا نصرالدين نه همدغه سړی پوښتنه وکړه چې ملا صيب څو کلن يې؟ ملا نصرالدين ورته بيا وويل چې ديرش کلن يم. دغه سړی ملا نصرالدين ته وويل چې دا څنګه کېدای شي چې ديرش کاله مخکې هم ديرش کلن وی او اوس هم ديرش کلن. ملا نصرالدين ورته وويل چې مرده يك ګپ است. رحمن بابا هم وايي :

**لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم**

**که خزان راباندی راشی که بهار**

تقريبا څلور لسيزي وشوی چې د افغانستان موجوده وضع اوحالات د ملانصرالدين د ځواب يا د رحمن بابا د دې شعر په شان دی. ټول يو حالت دی. ښځي اونر وايي خدايه افغانستان ازاد کړې او صلح په افغانستان کې راولې. نه صلح په افغانستان کې راغله او نه ارامي. په قدرت کې اومخالف دواړه د صلح او ارامۍ لپاره سره په جنګ اخته دي. جنګي ډلي دا فکر کوي چې په جنګ صلح راتلای شي خو داسی نه ده. صلح په تحمل، زغم، يو بل ته په احترام او د عدالت په تامين سره راتلای شي.

همداشان زمونږ ملا او عامي، روشنفکر او تعلیمیافته، لیکوال او تحلیلګر، سیاست مدار او سیاست پوه، مشراو کشر، ځوان او زوړ، ټول د نونسمې او شلمې سدیو په زړوسبستو اخته دي او د دوی په فکرونو او عمل کې هیڅ نوی تغیرنه وینم. ټول په دې فکر دي چې نور دې مونږ ته هر څه جوړ کړي او بیا مونږ پریږده چې په غوړو بریتونو لاس کش کړو او لاپې ووهو. زما په اند د افغانانو فکرونه او عملونه زاړه دي ترڅوچې زمونږ فکرونه او عملونه مثبتې خواته په یو نوې طرز تفکر باندی تغیر ونه کړي مونږ تغیر نه شو راوستلای او همدا یو حالت به وی. نه به مرګ وی او نه ژوند. یو شاعر وایي:

خـــــدا آن ملت را ســـروری داد
که تقدیرش به دست خویش بـنوشت
به آن مـلت ســــــروکاری نه دارد
که دهقـــانش بــرای دیگران کشت

## نیوکې یا انتقاد زما په لیکنو

د دسمبر د میاشتی څلورمه نیټه، ۲۰۱۳ م کال، کابلث

دوه ورځې د مخه په فیسبوك کېیو ملګري د ساجد سلیم په نوم شاید چې مستعار نوم یي وي، زما په لیکنو انتقاد کړی و او راته یي لیکلی و چې:

یاره! یو خو ستا دا ملا نصرالدین ډیرخوښیږي، ان په کتاب کې دې هم ددې خبره ذکر کړې، میاخیل صیب خپه نه شي نور خوند نه کوي دا ملانصردین نورمه یادوه ته خو پوه سړی یې په منطق او استدلال خبره وکړه.

**ما ورته په ځواب کې ولیکل:**

ساجد سلیم صیب فکر کوم چېیوازی د ملا نصرالدین نوم دی بدې شي او دهغه د نوم په لیدو سره دې نور استدلال هم نه دی لوستلی په هر حال ستاسې نظر هم د قدر وړ دی. په دې به زه بله لیکنه د فرصت په وخت کې وکړم.

د پورته نیوکې په اړوند غواړم چې په لنډ دول دا څو کربښې ولیکم. زه هیڅکله په انتقاد نه خفه کېږم خو لیکنې زیات ډولونه لري: اکادیمك او تحقیاتي لیکنې، ادبې او فلسفي لیکنې، طنزیه او ساده لیکنې، سیاسي او اجتماعي لیکنې، تاریخي او دیني لیکنې او داسې نور. په هره لیکنه کې د محتوا ترڅنګ دا بایدوکتل شي چې د لیکوال مخاطب څوك دی او څه قسم الفاظ

او کلمات باید استعمال کړی ترڅو لوستونکی د لیکلو نه سم مفهوم واخلي. که ادبی لیکنه وي نو د لیکوال مخاطب یوازې هغه کسان به وی چې څوك په ادب او ژبه کې ښه معلومات لري خو د دې ډول لیکنولوستونکي ډیر کم دي. که یو ژورنالست د یوه اخبار لپاره لیکنه کوی د هغه لیکنه باید دومره ساده وی چې هر څوك لیك او لوست وکولی شی هغه پری پوه شي یعنې د شپږم صنف زده کوونکی هم پري پوه شي او ژورنالست د ثقیلو او غیر مروجه کلماتو د استعمال نه باید ډه ډه یا خود داري وکړي. که ژورنالست د رادیو لپاره کومه لیکنه کوي دهغه لیکنه باید د اخبار د لیکنې نه هم ساده وي ځکه هغه باید بیسواده او بې تعلیمه اوریدونکو سویه هم په نظر کې ونیسي ځکه اوریدونکی خبر یا راپور یو ځل اوري او د دویم ځل چانس ورسره نه وي نو اوریدونکی باید په یوه ځل اوریدو سره د خبر یا راپورنه سل په سلو کې ګټه واخلي او پرې پوه شي.

په فیسبوك کې زما لیکنې مروجه او ساده لیکنې دي ځکه په فیسبوك کې ما سره هرډول ملګري شته چې زیادتره یې ځوانان دي. په فیسبوك کې زما لیکنې طنزیه لیکنې دي او په هره لیکنه کېیو پیغام شته دی دا چې د چا خوښیږي او که نه جدا خبره ده. په نړدې راتلونکي که به دا لیکنېډیر ژر چاپ هم شي تر څو هغه کسان چې د انترنیتیا فیسبوك سره اشنایي نه لری هم ترې ګټه واخلي.

زما لیکنې همیشه په روانه اوساده ژبه دي څنګه چې زه پښتو ژبه په کلي او کور کې وایم هماغسی غواړم چې ویي لیکم تر کوم حده چې لاژم لغات د موضوع اړوند موجود وي. زما په لیکنه کې زما مخاطب همیشه هغه کسان وي چې څوك لیك او لوست کولي شی او هغوی پرې پوه شي یا په اصطلاح زما لیکني د عاموخلکو په ژبه دی. زما کتابونه هم ګزارشي شکل لری او زیادتره لیکنی زما د خپلو سترګو مشاهدات دی او تحقیقاتي بڼه نه لري. تفسیراو تعبیر د لوستونکو کار دی او وروسته نور لیکوالان کولای شي چې زما کتابونه د موخذ په توګه ترې کار واخلي. دا چې زه ولې کله کله په خپلو لیکنو کې د ملا نصرالدین او یا شخصی تجربو مثالونه راوړم دا زمونږ د ورځني ژوند او خبرواترو دود دی چې د واقعیتونو تر څنګ مثالونه ډیر تاثیر لري او لوستونکي د ویلو سره نه ستړي کیږي. د افغانستان نه په غیر، د دنیا ډیر مهم شخصیتونه د لیکوالانو ګروپونه لري چې هغوی ته بیانې لیکي او زیادتره لیکوالان کوشش کوي چې مشرانو ته په بیانیو کې داسی ټوکې او طنزیه کلمات استعمال کړي چې د اوریدونکو توجه ځان ته وګرځوي.

نو ساجد صيب د ملا نصرالدين مثالونه هم بد نه دي او دا ددې معنی نه لري چې ټولې خبرې د ملا نصرالدين د خبرو بابيزه يا بکواس دي. هر متل او مثال زمونږ په ټولنه کې د تجربو په نتيجه کې رامنځته شوی دی او متلونه په اجتماعي علومو او ادبياتو کې د ځان لپاره خاص ځای او اهميت لري. حتی په قران شريف کې هم الله تعالی د خپل وخت سره سم مثالونه ذکر کړي دي. د بيلګه په توګه الله تعالی مسلمانانو اوخاصتا د هغه وخت عربو ته مثال راوړی چې تاسې وګورئ اوښ ته چې څنګه ما پيداکړی دی. دا چې ولی يي د اوښ مثال راوړی هدف يي همدا و چې په هغه وخت کې اوښ يو عجيبه مخلوق و او د عربو ورسره سروکار و. همداشان موقوف حديث شريف دی چې د هر چا سره د هغه د سويه په اندازه وغږيږئ.

دوستانوپه پورته ليکنه ډير ښه نظرونه ورکړي و چې ما لاژمه ونه بلله چې د ټولو نظريات دلته رانقل کړم ځکه زيات توصيفي شکل يي درلود. يوازی د رفيع الله ستانکزی صيب ليکنه دلته رانقل کوم:
مياخيل صاحب کور دې ودان چې خپل لوړوالی دې ښوولی دی او په نقد دې خوښي ښوولې ده، دا په خپله د يوه لوړ فکر لرونکي انسان نښه ده. پاتې شوه، ستاسې د ليکنو خبره، ستاسې له ليکنو نه موږ ځوانان ډېر څه زده کولای شو، ځينې ليکنې دې

بیاژوندی تاریخ دی، که چېرې راتلونکي کې څوك په دې دوره باندې لیکل کوي، نو ورته خام مواد تاسې برابر کړي دي، نورې معلوماتي لیکنې دې هم هرو مرو معلومات له ځانه سره لري، د همدې په پار یې ډېری خلك لولي. ستاسې د لا نورو لیکنو په هیله، د همدې لامله په ډېرو موضوعګانو کې له تاسې سره خبره شریکوم او د معلوماتو غوښتونکی کېږم – ژوندی دې اوسې.

**د دی دوستانو د نظریاتو په هکله ما دا لاندې څو ټکي ولیکل:**

مننه د ټولو دوستانو نه او خاصتا زمونږ دتکړه ځوان لیکوالانو د تشویق او تبصرو نه. که لیکوال ښه وي او که نه خو که لیکوال د انتقاد نه ویره ولري نو هیڅکله بیا څه نشي لیکلی. که انتقاد نه وي اصلاحات نه راځي او همیشه هره لیکنه ښه کېدي شي. هم باید لیکنو ته دوام ورکړو او هم باید انتقاد ومنو او هم باید سالم انتقادونه په نورو وکړو.

د هغه ورور مطلب هم جدی نه و او دټوکې په شکل و او د هغه حق دی چې انتقاد وکړي. ما ته یي هم د بلې لیکنې زمینه مساعده کړه چې مننه ترې کوم. هیڅوك مکمل نه دی او هر څوك نیمګړتیاوې لري او زه هم ډېرې نیمګړېتاوی لرم. بله دا ده چې زه د پوهانو په ډله کې نه راځم زه زده کوونکی یم او هر ورځ یو څه زده کوم. زما زده کړې زما ژوند او تجربه ده او دا مې ارزو ده چې د دوستانو سره خپل نظریات شریك کړم.

**ډاکتر لطیف یاد د ملا نصرالدین په هکله دا لاندې معلومات لیکلی و:**

ملا نصرالدین ته ترکان خوجا یا خواجه نصرالدین وایې، افغانان او ایرانیان یې ملا نصر الدین (ملا نصرودین) بولي،عربان یې دخجا نصرالدین او افندي نصرالدین په نامه پیژني۰

ملا نصرالدین د یوه روایت پر بنسټ په اوومې هجري پیړۍ کې چې د۱۲۰۹ زیږدیز کال سر ه سمون خوري دسلجوقي واکمنۍ په زمانه کې دتر کیې دخورتو په ښار ګوټي کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستلي دي ۰

دملا نصرالدین پلار خواجه عبد الله نومیدچې هم یې دیني علو م زده ول اوخلکو ته یې دیني لوستونه ورکول او هم په هماغه ښار کې دجمعې دلمانځه خطیب او امام و۰ ملا نصر الدین په کوچنیوالي کې لیك لوست دخپل پلاره زده کړ۰ دی له هماغه کو چنیوالي نه یو ځیرك ،هو ښیار او حاضر جوابه ماشوم و۰ ملا نصرالدین ورو سته بیا دعلو مو دزده کړې لپاره دقو نیې ښار ته لاړ او تر زده کړو وروسته دکار دموندلو په تلاښ کې یې دقو نیې ښار پریښوداو اق شهر ته چې دتر کیې یو بل ښار ګوټی و ولاړ او هلته یې ددیني زده کړو دښوونکي،مدرس او امام په توګه خپله دنده سرته رسو له۰

دده دټوکو ټکالو،لطیفو او کیسو نه جوتیږي چې نو موړی د میرمنې او اولادونو څښتن و. دده زیاتره ټوکې ټکالې،لطیفې او کیسې په مجازي او حقیقي ډول یو له بل سره اوبدل شوي چې لوستونکي ورته اریان پاتې کیږي چې ملا نصرالدین څومره هوښیار او ځیرك انسان و.

دملا نصرالدین د ټوکو ټکالو او لطیفو سره نه یوازې دتر کیې،ایران او افغا نستان خلك اشنایي لري، بلکې دده دټوکو ټکالو او لطیفو سره دتاجیکستان، ازبکستان، اذربایجان، پا کستان، هندوستان اوعربي هیوادونو خلك هم اشنا یي لري. همداسبب دی چې دده ټو کې ټکالې او فکاهې په ترکي، البانیایي،عربي،ارمني،اذري،بینګالي،بوسنیایي،بلغاریایي، کوردي،چینایي، روسي،هندي، ایټالوي،یوناني، پښتو، پاړسي، رومانیایي،سربیایي او اردو ژبو کې شته. همداراز یو نسکو۱۹۹۶-۱۹۹۷ کال دملا نصرالدین دنړیوال کال په نامه سره اعلان کړی و. ترکانو په اق شهر کې دده په نامه یو پارك هم جوړ کړی دی.

ویل کیږي چې ملا نصر الدین په **۱۲۷۵** او په بل روایت په **۱۲۸۵**عیسوي کال کې په اق شهر کې له دې نړۍ سترګې پټې کړي دي. ویل کیږي چې دملا نصرالدین مقبرې ته دنړۍ دګوټ ګوټ نه خلك ورځي او هم داق شهر خلك ورته ډیر درناوی کوي.

**د نیلسن منډیلا مړینه**

د دسمبر پنځمه ۲۰۱۳ م کال

د نړی مهم او مشهور مبارز نیلسن منډیلا چې د **۲۷** کاله بندیخانې او د نژادي تبعیض پر ضد د اوږدې مبارزې نه وروسته د جنوبي افریقا لومړنی توربوستی جمهورریس شو نن د **۹۵** کلونو په عمر مړ شواو دی د عدم تشدد ژوندی سمبول و. د نیلسن منډیلا په مړینه د نړۍ مشرانو او د بیلا بیلو قومونو او مذهبونو د پیروانو له خوا زیاته خواشیني وښودل شوه. زما په اند د نیلسن منډیلا نوم او شهرت یوازی د هغه د مبارزې په خاطرنه وچي د خپل ولس او د دنیا د خلکو او قومونوپه منځ کې یې خاص ځآی درلوده بلکه د هغه نوم او شهرت هغه وخت په نړۍ کې خاص ځای پیداکړچي د قدرت نه وروسته یي خپل مخالفینو ته عفوه وکړه او د شخصي عقدې په خاطریی خلك ونه ځورول او هم د یوي دوره جمهوری ریاست نه وروسته یي قدرت په خپله خوښه پریښود او خپل ولس ته یي ښه او اساسی تهداب کېښود چې د جنوبی افریقا پرله پسی مشران اوس د هغه نه پیروی کوی.

## دامنیتی تړون په هکله څو خبری

د دسمبر۷مه نیټه، ۲۰۱۳ م کال، کابل

د امریکا دمتحده ایالاتو سره د څوکالو تاوده بحثونو نه وروسته د امنیتی تړون بحث یو مهم پړاو ته رسیدلې ده چې ایا دا تړون به امضا شي او که نه؟ ایا دا تړون د افغانانو په ګټه دی او که نه؟ ایا د دی تړون پر سر ناندرې، خبرې او د افغانستان له خوا نه امضا کول چنې وهل دي او که د شخصي او تاکتیکي اهدافو لپاره ځنډول کېږي؟ ایا د امریکا متحده ایالات د دې تړون امضا ته زیات ضرورت لري او که افغانان؟ د دی سوالونو او ورته نورو سوالونو په هکله افغاني او نړیوال شنونکي اومطبوعاتی رسنیو هرورځ بیلابیلې مقالې او نظریات خپروي چې تر ډیر حده د افغانانو نه یي لار هم ورکه کړې ده. زما په اند، دافغانستان او دامریکا د متحده ایالاتو دحکومتونو نه هم اوس لار ورکه شوی او دواړه خواوي نه پوهیږی چې دا چني وهل ترکومه حده تاکتیکي شکل لری او تر کومه حده د دواړو خواو موقفونه واقعي بڼه لري ځکه د دواړو خواو موقفونه په تیرو څو میاشتو کې ثابت شکل نه درلوده او وخت په وخت تغیر یي موندلی دی.

د ډیري افغانانو سره چې زه غږیدلي یم، دوی دا فکر کوي چې د جمهور ریس کرزی او د امریکا د حکومت ترمنځ دا چني وهل تاکتیکي شکل لري او جمهور ریس کرزی دا تړون امضا کوي او

حتییو لوړ پوړی چارواکې راته دوه درې ورځې د مخه وویل چې دواړه خواوې غواړي چې دا تړون ښه وشاربې ترڅو ښه پوخ شي نو حتما امضا کېږي. ما ورته وویل چې سمه ده خو زما ویره دا ده چې دا تړون دومره پوخ نه شي چې بیا د خوړولو نه وییعنې په شاربلو او پخولو کې غوښه ونه سوځي. ځکه اوس یې هم د خلکو په منځ کې تشویش پیداکړی او حتی د خوراکي او ضروري توکو بیه په سلو کې تقریبا دولس سلنه په تیرو دوه اونیوکې د ژمي په دې سړه هوا کې اوچته شوې ده. یولیتر پطرول د **۵۷** افغانیو نه ۶۶ افغانیوته او افغانۍ د یوډالر په وړاندې تقریبا **۵۹** افغانیو ته راټیټه شوې ده.

د پورته سوالونو په هکله غواړم چې دا څوټکي درنو دوستانو سره د فیسبوك له لارې شریك کړم.

زما په اند، د افغانستان اکثریت ولس د جمهور ریس کرزي په شمول په دې باوري دی چې د تړون امضا د افغانستان د ملی منافعو په ګټه ده چې د مشورتی لویه جرګه پریکړه یې ښه ثبوت دی. د امریکا د متحده ایالاتو سره د دې تړون امضا څلور ځانګړې ښیګڼې لری:
**اول**:د افغانستان ولس په دې باوري کېږي چې نړۍ افغانستانبیا د شوروی اتحاد د وتلو نه وروسته  په څیر ځانته نه پریږدي او د

افغانستان حکومت سقوط نه کوي او نه بیا د نوي ومې لسیزې په ډول افغانستان د داخلي او نیابتي جګړو ښکار کېږي .

**دوم**: د افغانستان امنیتی ارګانونو ته هم یو نوع ډاډ ورکول کېږي او دوی کولي شي چې خپلي دندې په ښه توګه اجرا کړي.

**دریم**: امنیتی تړون زمونږ ګاونډیانو ته هم پیغام ورکوي چې افغانستان سقوط نه کوي او دوی مجبور دي چې دافغانستان په هکله په خپلو ستراتیژیوکي تغیر راولي. زما په اند زمونږګاونډیان د خدای په خاطر، د اسلامی اخوت په خاطر او یا د ګاونډیتوب په خاطر خپلو پالیسیو کې تغیر نه راولي تر څو دوی په افغانستان کې دننه ثبات ونه ګوری

**څلورم**: که محدود امریکایي قواوې په افغانستان کې وي نو دا د دی ضمانت کوي چې دنیا خپلي ژمني چې یي په توکیو او شیکاګو کې کړي دي عملي کړي که نه د دنیا ژمني د تبلیغیانو د نیت په شکل دي چېخلك نیت کوي دا چې نیت به کله عملي کوي او یا یي د سره نه تر سره کوي جدا خبره ده.

زما په اند چې څومره چني دواړو خواو د ملي ګټو او یا شخصي او تاکتیکي اهدافو لپاره تر اوسه ووهلې دا کافي دي او اوس دواړه خواوی نور څه نه لري چې پري بحث وکړي او یا خپل ولسونه د دي تړون په امضا او یا نه امضا قانع کړي. جمهور ریس کرزی

اوس هم په دې فکر دی چې کولي شي امریکا نوره هم دی ته مجبوره کړي چې د ده شرایط ومني خو دامریکا دحکومت دملی امنیت مشاوري سوسن رایس کابل ته د خپل سفر په وخت په واضحه توګه وویلي چې د خبرو اترومرحله ختمه شوې ده.

جمهور ریس کرزی د امریکا سره د ستراتیژیك تړون په اړوند د تاید رای د ولسی جرګه نه، همداشان د ۲۰۱۰ م کال د مشورتیلوی جرګه نه او هم تیره میاشت د دوهمې مشورتي لوی جرګې نه واخستله او ټولو ورته په واضح توګه وویل چې دا تړون امضا کړي. نو اوس د دې تړون د امضا او نه امضا پړه او نه پړه د جمهور ریس کرزی پر غاړه ده.

زما په اند که دواړه خواوی د دی بحران مدیریت سم ونه کړي افغانستان د مشکلاتو سره به زیات مخامخ شي ځکه د امنیتي تړون امضا، امریکا ته د دوی د اهدافو لپاره وسیله ده او دافغانستان لپاره په موجوده وخت کې د هدف ارزښت لري. امریکا کولای شي چې خپل منطقوي او بین المللی اهداف د نورو لارو هم لاسته راوړي خو د افغانستان لپاره به ګرانه وی چې خپلي ګټي بې له امنیتې تړونه نه خوندي کړي. که افغانستان دا فکر کوي چې د دی تړون نه وروسته به د افغانستان ټول مشکلات حل شی دا هم سمه نه ده ځکه د افغانستان د مشکلاتو د حل لپاره دا تړون یوه وسیله ده تر څوافغانان په اوږد مهال کې د خپلو

مشکلاتو لپاره په تدریجي توګه د حل لارې پیداکړي او باالاخره په خپل ځان متکي شی. که افغانان او د دوی مشران دا اراده پیدا نه کړي چې خپل مشکلات پخپله حل کړي او د نورو په طمعه وي نوداسې ډیر تړونونه او کمکونه به د افغانستان ستونځې حل نه کړي او ځنګه چې مونږ په تیرو پنځه دیرش کلونو کې د نړیوالو د مرستو او مداخلو نه ګټه وانخستله همداسی به یي په راتلونکي کې هم څه تر لاسه نه کړو.

## ایایوازې پوهه، عادتونه او خصلتونه بدلوي شي که نه؟

د دسمبر ۱٦مه نیټه، ۲۰۱۳ م کال، کابل

زیادتره مونږ او تاسې وایو چې احمد یا محمود نه پوهیږي نوځکه بد کار کوي، خپل ورور او وطن ته ضرر رسوي او یا ضرري کارونه کوي. زما په اند داسې نه ده ځکه هرنارمل انسان د ښه او بد په فرق پوهیږی او حتی ماشوم هم په دې پوهیږی که تود چاینك ته لاس نږدې کړي نو سوزي او تود چاینك ته لاس نه نږدې کوي.

بعضی وخت داسی هم کیږي چېیو سړی پوهه هم لري او ښه نیت هم لري خو بل ترې ضرر ګوري د بیلګه په توګه د یوښه ډاکترنه چې پوهه او ښه نیت هم ولري کله کله مریض ترې د عملیات په وخت کې مري او هغه ته ضرر رسوي.

زما مطلب دا دی چې اکثریت مضر کارونه لکه ځان، وطن یا نوروته ضرر رسول په دې پورې اړه نه لري چې ایا انسان پوهه لري او که نه ځکه هر څوك په دې پوهیږی چې، ورور وژنه ښه کار نه دی، رشوت اخستل ښه کار نه دی، د چا مال خوړل ښه کار نه دی، د ځمکوغصب او د دولتي مالونو نه سؤ استفاده ښه کار نه دی، دروغ ویل او حرام خوړل ښه کار نه دي، ګندګي د کور تر مخه او یا د سرك په منځ کې غورځول ښه کار نه دی او داسی نور

دې ورته بد کارونه دي چې اکثریت  پرې پوهیږي خو بیا هم یې په ارادي او غیر ارادي توګه انسانان هره ورځ تر سره کوي.

نو په دې اساس یوازې پوهه د انسان عادتونه او خصلتونه نه شي بدلولی ترڅوچې پوهه د انسان په ورځني ژوند کې عملي شکل ونه نیسي او باالاخره پوه د انسان اوټولنې د کلتور جز ونه ګرځي. د بیلګه په توګه په امریکه او نورو پرمخ تللی هیوادونوکې د سرك په منځ کې ګندګي اچول د فاضله دانیو نه د باندې جرم دی او نقدي سزا حتی د زرو ډالرو او یا د هغه نه زیات هم لري او که پولیس څوك پرې ونیسې نو سمدستې یې جریمه کوي. اوس دا د خلکو د کلتور جز ګرځیدلی چې هیڅوك د کورپه دننه کې، د کور په مخ کې، او یا د سرکونو او پارکونو په منځ کې ګندګي بیځایه نه اچوي او وړوکی ماشومان هم دا کار نه کوي او دا یو قسم بې فرهنګه کار دی خو دلته په افغانستان کې دا فرهنګ نشته او هر څوك ګندګي د کور په مخ کې اچوي که فاضله داني نږدې هم وي په هغه کې نه اچوي ځکه دا کار زمونږ د فرهنګ جز لاته دی ګرځیدلی ولو که هر څوك پرې ښه پوهیږي چې دا بد کار دی.

یوه قصه می راپه یاد شوله چې دوه کاله د مخه حج ته تللی وم چې د نبوی مسجد په صحن یا میدان کې مفتې کېلېیو چا تقسیمولې نو سخت پرې ازدحام واو زیادتره یې زمونږ دوطن حاجیان و نو یو حاجي په دې اړ او دوړ کېیوه کېله ونیوله او سمدستي یې نوش

جان کړه او د کېلې پوستکی یي د نبوی مسجد د صحن په منځ کې لرې ګذار کړخو دبعضی نورو هیوادونو حاجیانو چېد پوستکو غورځول بیځایه د دوی د ورځني ژوند د فرهنګ جز نه و نو سبحان الله یي ډیرځله ووایه. زه لاړوم هغه د کېلې پوستکی می رااوچت کړ او په فاصله دانی کې می واچوه.

د دی لیکنې نه مي مطلب دا دی چې څنګه د پوهې او علم ترڅنګ خپلي پوهې ته عملي بڼه ورکولي شوچې پوهه زمونږ په خصلتونو او عادتونو کې تغیر راولي تر څو باالاخره پوهه په ورځني ژوند کې زمونږ د ډیرو ښوکارونو د کلتور، دود او فرهنګ جز وګرځي او ډيري ښه کارونه پخپله بې د قانون د تنفیذ او یا د زور د لارې وکړی شو؟ ستاسی د نظریاتو په هیله.

**محترم شرافت میاخیل د پورته لیکنی په اړوند د سعودی عربستان نه لیکلی و:**

میاخیل صیب! نن می یو عربي کتاب لوستلو هلته یي لیکلی وه چې ایمان دری شیان دي.اقرار په ژبه تصدیق په زړه او عملي کول یي د بدن په اندامونو. پخوا مونږ ته ملایانو دا دریم نه وو ښودلي خو دې کتاب په حدیث شریف او ایات شریف ثابت کړي وه لکه تا چې د کېلې پوټکي لرې کړ دا په اقرار او نیت نه لرې کېدلو.نو مشکلات شته الله ج دی رحم وکړی.

## د افغانستان د پوهنتونو د زړو استادانو تعصب د نوی ځوانو استادانو سره

### او دي ګانو مبارزه!

د دسمبر ۲۱مه نیټه، کال ۲۰۱۳ م، کابل

څو ورځې د مخه د کندهار د پوهنتون نه یو ځوان استاد راته تلیفون وکړ او د خپل د رهنما استاد نه یي راته شکایت وکړ چې زما علمي درجه نه راکوي او زه په حقه یم او دا استاد په نا حقه دی ځکه زما تحقیق نوی دی او دا اوس هم په زړو خبرو اخته دی او ځان یي د اوس وخت د علمی ضرورتونو سره نه دی عیار کړی نو ته ورته ووایه چې زما په حق کې ظلم ونه کړي او په دې ظلم ډیر سخت خفه کیږم ځکه زه په حقه یم. په فیسبوك کې یي راته داسې پیغام رالیږلی و:

میا خیل صاحب سلام درته کووم: په الله قسم هر اړیکه او لیکنه مې زوروي خو څه وکړم !! ډیر زیاتي راسره روان دی او زما هره قانوني او صحي خبره به هم څوك وانه وري ځکه ډیر زیات علمي واټن زما او د استاد تر منځ په شکلي لحاظ پروت دی .........ته ووایه زه ډیره بخښنه غواړم د هیلي په شکل یي وایم چې زما موضوع له استاد سره په ډیر حکمت خلاصه کړي ځکه زه چې څومره فکر کوم استاد کله څنګه وي او کله څنګه وي !!؟

نه پوهیږم چې ددې استاد څه زړه دی په والله که په ځان کې څه خطا وینم خو دي چې هر څه وويل ما هيڅ نه ويل حتی ما له ځان څخه قانوني دفاع هم ونکړه د هغه نزاکت له مخې چې ما د يو مشر استاد په وړاندې اختيار کړ. اما استاد د دې حده لاړ چې وايي زه دې ردوم نو مياخيل صاحب زما دا تکليفونه مسافرۍ او داشرايط هيڅ په نظر کې نه نيسي او په والله چې يو طرفه پريکړې ته يې متې رانغښتې دي. زه هم بايد چې له ځانه قانوني دفاع وکړم خو مياخيل صاحب زه نه غواړم چې يو چا سره ځان په مشکل کې اخته کړم او که داسې وشي بيا به هم له تاسو سره مشوره کووم او آخره خبره مياخيل صاحب : باور وکه چې زه د هغه ځوانانو څخه نه يم چې خپل علمي او قانوني عيب پټ کړم خو دلته يو طرفه قضاوت کيږي نه پوهيږم چې ولې؟؟؟ستا سو خاص توجه غواړم.

د پورته موضوع او هم د ی ګانو په هکله دومره ليکم چې:
دی کې هيڅ شك نشته چې اکثريت ليکني يو څه نيمګړتياوې د املا، انشا، سبك او معنی په لحاظ لري او ډيرې کمې ليکنی به پيداکړي چې د هره اړخه ښې او مکملې وی. زمالپاره هغه ليکني ښې ليکني دی چې عام فهمه، د وخت او زمان د ضرورتونو سره سمې ليکني وي چې پکې ولس او بل الخاصه ځوان نسل ته يو پيغام وي. خو يو تعداد منتقدين چې کتاب راواخلي نو سمدستي

د لیکنې یا ګانو ته ګوري او که یا ګاني یې سمې نه وي نو سمدستي حکم صادروي چې داکتاب ښه نه دی. زما یو نږدې خپلوان دی چې تقریبا څلویښت کاله د ادبیاتو د پوهنځي استاد و او همیشه چې زه ورسره کېنم نو د نورو په لیکنو انتقاد کوي او غټ انتقاد یې همدا یا ګاني دي. نو زه همیشه چې د ده دکورنۍ د کشرانو سره ټوقې کوم نو ورته وایم چې‌پیاره ستاسې دې تره خو په څلویښتو کلونو کې د یا ګانو نه بل څّه نه دېیاد کړي او نه یې بل څه تدریس کړي دي.

که یو څوك د دی یا ګانو په استعمال پوه هم وي، خو په کمپوترکې د یا ګانو په ټایپولو عادت نه وي او هغه سمې نه شي لیکلی. ښه دا ده چې زمونږ لوستونکي زیات د لیکنې په مفهوم، مطلب او پیغام باندی تبصری وکړي. زیادتره د یاګانو منتقدین هغه لیکوالان دي چې په خپلو لیکنو، تحقیق او ریسرچ کې هیڅ نواوری نه لري او هماغه زړې لیکنې د یو ځای او بل ځای نه راخلي او چې کله په لویو مجلسونو کې مقالې لولي نو د سړی زړه ورته تنګ شي او په ډیرو خبرو یې خو هیڅوك پوه هم نه شي. زما په اوسنۍ لیکوالانو کې د محترم غفور لیوال صیب لیکنې او تحقیق خوږېږي او نو ا وری په خپلو لیکنو کې لري خدای دې نور هم ورته توفیق ورکړي. خدای دې وکړی چې زمونږ ځوان لیکوالان د نوي وخت او زمان سره سم نوی نوې لیکنی او تحقیق وکړي

چېولس ترې ګټه پورته کړي او زاړه استادان هم باید خپل سیټونه نوو او ځوانو استادانو ته خالي کړي ځوك چې د دې وخت او زمان مطابق په تحقیق، ریسرچ او د تدریس په نوی میتودولوژي پوهیږي.

**د پورته لیکنی په اړوند ډیر محترم استاد غلام دستګیر خاورین لیکلی و:**

اوبه له پاسه خړې دي. باید له هغو کسانو سره چې په قضا، ښوونه، روزنه او داسی نورو بنسټیزو څانګو کې په خیانت لاس پورې کوي له نورو نه ورته زیاته سزا ورکړ شي . امام غزالی په خپل کتاب احیا العلوم کې وایي چې د علما و دنیك کارونو بدله لس چنده ورکول کیږي هماغسې ددوی د ناروا کارونو سزا هم لس چنده وي. نظام که سم شي هرڅه به ښه شي خو که نظام سم نه وي هغه کسان چې دپیغمبر پر ځاي ناست دي هغوی به هم رشوتونه خوري. خدای دې ورته زهر کړي.

**ښاغلی سحراب کاکړ لیکلی و:**

میاخیل صاحب پنځه کاله مخکي ما هم دا مشکل درلودل خو ما یو څو ډالره ورکړل او خپل مونوګراف مي واخیست ولي ما بله لاره نه درلود.

**ښاغلي حمیدالله قادری صیب لیکلی و:**

میاخیل صاحب خو په خواشینی سره باید ووایم چه په افعانستان کې په ډیره لویه کچه او په ټولو عرصو کې د ځوانانو مخه نیول

شوې او د پرمختګ او ابتکار مخ کې يې خنډونه موجود دي. او دا د هيواد د ورسته پاته والي او مافيايي ډلو د بقا يو غوره عامل دی.

## دځوانانو بې شمیره ستونزې

د دسمبر د میاشتې ۲۵مه نېټه، ۲۰۱۳م کال

**جلال آباد**

د اوښ نه چا پوښتنه کړې وه چې دا اورمېږ دې کوږ دی نو اوښ ورته ویلي و چې زما کوم ځای سم دی چې ته مو د اورمېږ په غم کې یې. د افغانستان ستونزې خو ډېرې زیاتې دي او حل لارې چارې هم ورته په نړدې وختونو کې مشکله یا ستونزمنې ښکاري ځکه تر څو چې د یو ملك رهبري سمه نه شي ترهغې پورې به دامشکله وي چې د یو ملك د ستونزو لپاره په عامه توګه د حل لارې چارې پیدا شي. د دې ستونزو په لړکې د ځوانانو ستونزو راته خورا زیاتې ښکاري او همیشه مې ځوروي.

د چارشنبه په ماښام د جلال آباد ښار په پارك هوټل کې د خپلوانو واده ته تللې وم چې زمونږ د میز کېڼ او ښي اړخونوته په دوه میزونو کې د ځوانانو دوه ډلې ناستې وې چې زما په اغلب ګمان د یوه میزترشاوخوا ناست ځوانان واده ته بلل شوي نه ښکاره کېدل او په خپل سرراغلي و. په هرحال زمونږ د میز ښی اړخ ځوانانو د سګرټو څښلو ته داسې په سیالۍ سره زور ورکړی و چې د بخارې د لوګیو په شان یې لوخړې د خپلو خولو نه ویستلې او زمونږ د میزخواته به یې د سګریټو لوګي پوه کول. ما سره نږدې ډاکتر صیب فقیرمحمد شرفمل ناست و او مونږ ډېرد دې ځوانانو د

سګریت څښلو د لوګي نه په تنګ شولو خو ما ورته په ډیر ارامه سره اشاره وکړه چې مونږ نور ساه نه شو ویستلی که دا سګریت څښل بند کړئ نو ښه به وي. کور یي ودان د دی میز کسانو د سګریت څښل بند کړل. څنګه چې د دی میز ځوانانو د سګریتوڅښل بند کړل نو د چرسو بوی مو د سږیو شو نو ګورو چې زمونږ د میز کیڼ اړخ ځوانانو په سګریتي وهلو پیل وکړاو ټول نشه ښکاریدل داسی ښکاري چې د واده د تالاړ نه بیرون یي هم ځانونه په چرسو څښلو ښه بمبارد کړي و. یو سګریتی به لاخلاص نه وچي دوی به بل سګریتی لږولی واو پخپلو منځو کې به یي په نوبت سره څښل او هیڅ فکر یي هم نه کاوه چې دوی په صالون کې نورو خلکو په منځ کې ناست دي. نو بیا ما خپل یو تن ملګری ته وویل چې دوی ته ووایه چې دا د چرسو څښل بند کړئ ځکه زمونږ وضعیت یي هم خراب کړ نو یو چې ډیر نشه و نو پروا یي ونه کړه خو که مو نور په بندولو اصرار کړی وی نو جګړه هم پیښیده خو ډاکتر صیب شرفمل راته وویل چې په ننګرهار کې، په هر واده کې همداسی بدحال وی غوږ وریسی مه ګرځوه. مونږ هم نه غوښتلچې د واده خوند خراب شي غلي کیناستو خو د هوټل کارکوونکي راغلل او دا ډله چرسیان یي بلی خوني ته بوتل.

د دی وضعیت په لیدو د واده په خوند پوه نه شوم او زمونږ تبه یي خرابه کړه چې زمونږ ځوانان په څه ستونزو اخته دي او دا ځوانان

به په راتلونکې کې په ټولنه بار وي. بریالي صمدي هم ټولی انقلابي او د غم نه ډکې سندرې ویلې او چا ورته غوږ هم نه ایښوده. رابه شو د ځوانانو ستونزو ته.

د جمهوری ریاست اکثره نوماندان وایي چې د افغانستان د نفوسوپه سلو ۷۰-۶۰ سلنه ځوانان دي خو دا صاحبان په دې خبر نه دي چې د دي ځوانانو ستونزي څه دي. دې کې هیڅ شك نشته چې ځوانان د افغانستان راتلونکی کې فعال رول لوبولي شي خو که دا ځوانان سمی لاری ته سوق نه شي، د ځوانانو دا قوت به په تخریبی او نا سالمو لارو مصروف شي. زما په اند دافغانستان ځوانان په عام ډول په دري برخو وویشلشو چې هره برخه ځانته ځانګړې ستونزې لري.

۱.اوله برخه د دې ځوانانو تعلیم یافته یا هغه ځوانان دي چې مکتب او پوهنتونو ته یي لارپیداکړې ده. د بیلګه په توګه، د لوړو زده کړو وزارت د ارقامو په استناد، سږکال دوه لکه او پنځوس زره ځوانان د دولسم ټولګیو نه فارغ شوي دي چې د دی جمله نه شپږ پنځوس زره شخصي او دولتي پوهنتونو ته او تقریبا شپیته زره نیمه عالي موسساتوکي جذب شوي دي. که داسلسله همداسی روانه وي نو هرکال تقریبا پنځوس زره محصلین د پوهنتونو نه خلاصیږی چې په سلوکي لس سلنه هم د دې ځوانانو،ځانونو ته کار نه شي پیدا کولای ځکه د افغانستان

دولتي او شخصي سکتور د دومره فارغینو د جذب قابلیت نه لري. د دې نه برسیره دافغانستان د پوهنتونو کچه ډیره ټیټه ده، دوی به ډیپلومونه ولري خو د کاري مارکیټ پوهه، زده کړه او تجربه به ورسره نه وي. دوی دهقاني هم نشي کولي نودوی به په کورنیو او ټولنه باندې بار یا بوج وي او د بیلا بیلو رواني او اجتماعي ستونزو سره به مخامخ وي. هغه ځوانان چې استعداد هم لري د هغوی په منځ کې رقابت ډیر زیات دی ځکه زمونږ په وخت کې به چې د یوچا څو ټکې انګلیسي او تایپ زده و نو ځانونو ته مو کار پیدا کولي شو خو دا ځوانان اوس د سخت رقابت سره مخامخ دي. زه پخپله هره ورځ ډیر زوریږم چې په لس ګونو کسان راته تلیفون کوي او کار پسې ګرځي او زه هم څه ورسره نه شم کولای که کوم یو ته چېرته د کار زمینه برابر کړم نو بیا په هغه ورځ ډیرخوشاله یم چېیوتن ته خو کار پیدا شو.

۲.دویمه عمومي کټګوري هغه ځوانان دي چې نه یي مکتب ویلی او نه په بل کاروبار پوهیږي چې اکثریت یي په مخدره موادو روږدې دي. د UNODC د ۲۰۰۹ م کال د سروی په اساس د یو میلیون نه زیات کسان چې ځوانان، ښځې او ماشومان پکی شامل دي په مخدره موادو روږدي دي او څو ورځې د مخه د مخدره موادو پرضد د مبارزې نوی وزیر وویل چې دوه میلیونه کسان روږدي دي. که دوه میلونه کسان ونیسو نو ویلو شو چې دوه

میلیونه کورنۍ په مخدره موادو روږدې دي ځکه دا د کورنیو لپاره یو لوی ستنونزه ده ځوک چې په کورونو کې روږدي کسان لري. د کابل د ښارپه چوکونو د دې روږدو کسانو خیرات غوښتل یي ښه نمونه ده چې په یخنۍ کې د ښځو او ماشومانو سره ولاړ وي او سوال کوي.

۳.دریمه کتګوری هغه ځوانان دی چې مغزونه یي د نورو له خوا وینځل شوی او یا د افغانستان نه اوس بیګانه دي. د هغوی چې ماغزه وینځل شوي، هغوی د افغانستان د رسم، دود، کلتور او هر څه نه بیګانه شوي دي او پردي یي د وطن پرضد کاروی. ځانونه الوزوي او یا د کندهاریانو په اصطلاح ځانونه پټاو کوي، نه جومات پیژني، نه واده، نه کلي او نه کور، نه مکتب پیژنی او نه بازار او بیګناه انسانان وژني.

نو اوس تاسی قضاوت وکړئ چې زمونږ د ځوانانو ستونزي څومره زیاتې دي او څومره کارته ضرورت لري چې د ځوانانو دا ستونزې حل شي. په هره کچه د ځوانانو لپاره کار پکار دی ترڅو دوی واقعا د افعانستان یوه واقعي سرمایه شي. زه فکر کوم چې د هیواد د بیا رغوني اصلي او زیر بنایي پروژه باید ځوانانو ته د کار او سم تعلیمي نظام برابرول وي ترڅو دوی په راتلونکی کې د خپلو وطنوالو لپاره د خدمت جوګه شي.

## احزاب ولی رشد نه کوی؟

د ۲۰۱۳ م کال اخری تبصره د دسمبر۳۱مه نیټه، هرات

**داحزابو رشد نه کول یو لوی بحث دی خو د فیسبوك له لارې زه غواړم چې په اجمالیيا مختصره توګه دې موضوع ته اشاره وکړم. د افغانستان په موجوده او راتلونکي کې داحزابو د منفي او مثبت رول نه انکارنه شي کېدای خو دا چې ولې احزاب رشد نه کوي هم باید وڅیړل شي. هیله ده چې دا وړه تبصره د مشت نمونه خروار په توګه ولولۍ او خپلې تبصرې راسره شریکې کړئ څکه ماته ډېر مهم بحث ښکاري.**

**د ۱۹۶۴ م کال د اساسی قانون په اساس احزابوجوړیدو ته اجازه ورکړل شوې وه خو پادشاه محمد ظاهر شاه د احزابو قانون توشیح نه کړ او احزابو د شرایطو د پوره کولو نه پرته په علني او مخفي توګه خپل فعالیتونه پیل کړل چې د دې احزابو غټه برخه په کیڼ اړخه یعنی چپي ډلو (خلق، پرچم، شعله جاوید...) ښي اړخه اسلامی ډلو لکه (جوانان مسلمان، خدام الفرقان، فیضاني ډله...) او نیشنالستیيا سوسیال دیموکراتانو ډله لکه افغان ملت پورې تړاو درلوده. د احزابو د قانون د نه توشیح له امله، میانه رو یا ملي ډلو رشد ونه کړ. د ښووني او روزني او کورنیوچارو د وزارتونو د پخواني وزیر، ډاکتر عبدالقیوم خان په قول چې څو کاله د مخه یي ماته په امریکه کې ویلي و چې پادشاه د میانه رو**

ډلو د جوړېدو او رشد مخالف و ځکه د دغه ډلو جوړېدل يي خپلې پادشاهۍ ته تهديد ګاڼه. اکثريت ميانه روو شخصيتونو په جمهوری نظام باندې باور درلوده او جمهوريت شاهي نظام ته ګواښ و. په دې اساس پادشاه د کيڼ اړخو او ښي اړخو ډلو د رشد نه ويره نه درلوده او دا فکر يي کاوه چې د دوی اډيالوژی او پروګرامونه د افغانستان د ملت د ذهنيتنونو نه بيګانه دي او رشد نه شي کولای. ترڅو چې د ده خپل تره ځوي سردار داود خان د کيڼ اړخو ګوندونو (خلق او پرچم) په ملاتړ شاهي نظام له منځه يوړ او دی د قدرت په ګدۍ کېناست. ښي اړخو ډلو مشران د داود خان سره مخالفت وښود او ده هم د دې ډلو د مشرانوپه نيولو پيل وکړاو څه يي پاکستان ته پناه يوړه او د داود خان د رژيم پر ضد يي د پاکستان په ملاتړ په کونړ، لغمان، پنجشير، ننګرهار او پکتيکا ولايتونو کې مسلح عمليات وکړل خو ناکام شول.

کله چې داود خان روابط د پخواني شوروی اتحاد سره خړپړشول نو کيڼ اړخو (خلق او پرچم) د شوروی اتحاد په ملاتړ کودتا وکړه او د داود خان رژيم يي راوپرځاوه او دوی د افغانستان د ټولو طبقو په ځورولو، وژلو، بندي کولواو توهينولو لاس پورې کړ. اکثريت کسان د خپلې ويرې او د ژوند د خوندي ساتلو په منظور پاکستان او ايران ته پناه يوړه چې هلته لا د پخوا نه د ښي اړخو ډلو( حزب اسلامی، جمعيت اسلامی، حرکت اسلامي....) تشکل او هستې

موجودې وې او یو قسم انحصاري شکل یې جوړ کړی و چې نورو ډلو اویا د ملي اندیښنو مشرانو ته مشکله وه چې په ازاده توګه فعالیت وکړي.

دي احزابو ته هم په افغانستان کې دننه د پخواني شوروی اتحاد له خوا او هم په پاکستان او ایران کې د اسلامي او غربي هیوادونو له خوا بي حسابه او د احتساب نه پرته پیسې ورکړل شولي. زما په اند دا چې نن مونږ د نړۍ په کچه په فساد کې اول نمره یو نود افغانستان د فساد لړۍ د دي ګوندونو سره د بی حسابه پیسود مرستو او په خپله خوښه مصروفولو نه پیل شوي ده. د موجوده حکوت چارواکې اکثره د همدې ډلو محصول دی نو ځکه ورته د دولتي مال خوړل نصوار هم نه ښکاري او که د هري منبع او هرې نا مشروع لارې نه ورته پیسې په لاس ورشي هم صرفه نه کوي او په ډیر افتخار سره یي ترلاسه کوي. تفصیل ته یي ضرورت نشته ځکه هرڅه په کافي توګه د تاریخ پاڼو ته سپارل شوي دي.

په دی توګه په تیروڅلویښتو کلونو کې دا احزاب چې اوس هم په بیلا بیلو شکلونو په رسمي او غیررسمي توګه د افغانستان په قدرت کې شریك دی د افغانستان په بدبختیو او د افغانستان په ورانولو کې عمده رول لري. همدا دلیل دی چې دافغانستان ولس په احزابو اعتماد او باور نه لري که څه هم د افغانستان موجوده اساسي قانون د احزابو فعالیت ته اجازه ورکړي او د احزابو قانون

د جمهور ریس کرزی له خوا توشیح شوی هم دی. اکثره وخت زه د دې احزابو د مشرانو نه په خصوصی غونډو او مجلسونو کې او هم د خورا زیاتو سیاسي مبصرینو له خوا په رسنیو کې اورم چې جمهور ریس کرزی د احزابو رشد ته زمینه نه مساعدوي خو زه د دوی د دې نیوکه سره موافق نه یم او هم په دې نه پوهیږم چې د دې خبره نه د دوی مطلب څه دی. ایا دوي غواړي چې جمهور ریس کرزی دی د دولت بودجه په دې احزابو وویشي او یا په بودجه کې دې احزابو ته کوم نوی کوډ جوړ کړي چې دې احزابو ته د پیسو نوی مدرك پیدا شي؟ که جمهور ریس کرزی په نورو چارو کې ملامتوو خو په دي هکله دې راته ملامته نه ښکاري ځکه قانون د احزابو توشیح شوی دی.

دا چې خلك په احزابو اعتماد نه لري نو زما په اند دا لاندی پنځه عمده عوامل زه په ګوته کولي شم:

**اول**: د احزابو تاریخچه او د دوی تیر کړه او وړه د دې باعث کیږي چې ولس په احزابو اعتماد ونه کړي ځکه اکثریت مشران د دې احزابو اوس هم هماغه پخوانی څیرې دي چې د ولس په منځ کې خپل اعتبارله لاسه ورکړی دی.

**دویم**: د دي احزابواکثریت مشران د خپلو حزبونو په نوم، منشور او اجندا پخپله شرمیږي او نه غواړي چې د خپلو احزابو په نامه ځانونه ولایتي او پارلماني شوراګانو ته او یاهم جمهوری ریاست

کرسۍ ته نوماند کړي. دا جنابان د خپلو احزابو په نامه سیاست نه کوي او هر یو یې ځانونه مستقل نوماندان بولي.

**دریم**: د دی نه برسیره دا احزاب د دې جنابانو شخصی ملکیت دي اود حزب په منځ کې په دیموکراتیکو اصولو عقیده نه لري نو ځکه په دې احزابو کې شخصیتونه رشد نه شي کولای او دا احزاب به د دې شخصي مالکانو د عدم موجودیت په پایله کې له منځه ځي اونوم او نشان به یې ورکیږي.

**څلورم**: کوم مشکل چې دې احزابو جوړ کړي هغه دا دی چې دوی د نورو احزابو د رشد مانع ګرځي ځکه اوس هم دوی سیاسي، اقتصادي او نظامي قوت لري اوولس د دوی د دې قوتونو په نفوذ د دوی پیروي کوي نه د دوی د منشوراو مرام په اساس. که تاسې د دې احزابو غونډو ته وګوري نو په شمارخیرې به همیشه ګوري چېیوبل ته یې لاسونه سره ورکړي وي. د دوی دا یووالی هم کاذب شکل لري ځکه کله چې د دوی ګټو ته بهرنی تهدید متوجه شي نوبیا دوی یو بل ته سره لاسونه ورکوي خو چې کله بهرنی تهدید له منځه ورك شي نو بیا یې هر یو په خپله لار ځي او یو د بل غوښې سره خوری او دافغانستان ملت د دوی دقربانی ګډوری شي.

**پنځم**: دا چې دا احزاب په خپل منشور، مرام او اورګانیزشن باندې عقیده نه لري نو د اپوزیسون رول لوبولو ته هم تیار نه دی او د حکومت سره همیشه جوړ جاړی کوي او که لږ امتیاز هم وي د حکومت سره یوځای کېږي ځکه که حکومتي قوت د دوی سره نه وی نو دوي ډیر ژر محوه کېږي.

په دیموکراتیکه ټولنه کې د احزابو د اپوزیسون رول ډیر مهم دی ځکه که حاکم ګوند او ډله سم کار ونه کړي نو ولس د اپوزیسون په طرف کېږي او باالاخره اپوزیسون ګوند حاکم کېږي او په همدی شکل ولس ته متبادل چانسونه وي چې په دی ډولیو تعادل چې چېك او بیلانس ورته وایي ساتل کېږي او هیڅ ډله او حزب خود سری نه شي کولای او ټول د قانون په چوکات کې کار او ژوند کوي. همدا علت دی چې په موجوده نظام کې د چېك او بیلانس تعادل نشته او خود سری زیاته ده.

**د پورته لیکنی په هلکه ګران هیواد لیکلی و**:

بحث مو ډیر وارد او په زړه پورې په لار اچولای. ستاسې په شان زما لپاره هم دغه موضوع یوه فکري وسوسه ده. ډیرې قصې دي چې په موضوع پوري جدي تړاو لري او د دولت/ملت جوړونې په لار کې جدي اغیز لري او وبه یې لري.

**سلام مجاور صیب لیکلی و:**

دسیاسی مشرانوتیرتاریخ په ولس کې منفي لیډلوری دومره چاغ کړی،ګوندخو په تندروله که ورته ووایي دیومشرخواته ورځو دورایه به درته ووایي چې څه پکی شته اوکه نه.

**روشن خادم صیب لیکلی و:**

ډیره په زړه پوری موضوع ده. تر دی مخکی دوه نوری پوښتنې باید ځواب شي اول دا چې د افغانستان غوندې ملك کې په داسې حالت کې د احزابو څومره ضرورت دی؟ بله داچې دا د دیموکراسي تجربې د ګیدړانو نه پړانګان جوړ کړه نوایا دا وخت داسېیوې خطر ناکې تجربې ته مساعد و او که نه؟ خبرې ډیرې دي خو هر څه وران دي وطن د یوډیر لوی خطر سره مخ دی چېعلاج یې پکار دی.

**شکور وزیری صیب لیکلی و:**

زمونږ ولس او وګړي د پاره د ګوند او ډلې جوړولو نه مخکې ښونې، روزنې او مډرن معارف ته ضرورت دی ، هر څومره چه معارف وده وکړي او د ولس لیډلوری اوچت شي په همغه کچه د ځوانانو ذهنیت او مسؤلیت پذیری لا زیاتیږی. ولس او هیواد په دی څلورو لسیزو کې د کم سوادو ګوندیانو د اعمالو له لاسه ټوك ټوك شول ، یقیناً او په رښتیاګو چه پخواني فقید پادشاه ظاهرشاه ته د دغو داړه مارانو کچه او ظرفیت جوته وه !

**د روښن خادم او وزیری صیب په ځواب کې مې ولیکل:**

روښن صیب! دلیکنې نه مو مننه. که مونږ اساسی قانون غواړو او منختب جمهور ریس او پارلمان غواړو نو د احزابو شتون حتمي او ضروري دي. نو د حاکم ګوند او ډله او هم د اپوزیسون ګوند ته ضرروت شته دی چې چیک او بیلانس رامنځته شي او هر څوك د قانو ن په چوکات کې باید کار وکړي او قانون باید په ټولو یو قسم بې له تبعیضه تطبق شي. که دا نه وي نو بیا دکتاتوری نظام ته ضرورت دی چې دکتاتور چاته مسووله نه وي او د دولت چارې په خپله خوښه د خپل قدرت لپاره چلوئ. د دکتاتوري نظام مشکل په دې کې دی چې اول خو د دولت اکثره پیسې د شخصي قدرت ، واك د ساتلو او تحکیم لپاره لږول کیږی نه دولس د ښیګڼې لپاره. بل مشکل دا دی چې د دکتاتوري نظام پایله همیشه ښه نه وي او ملك د بحران او جنګونو سره مخامخ کیږي.

وزیري صیب مننه! خو د دیموکراسی په بحث کې دا ویل کیږي چې کله په امریکه کې جمهوري دیموکراتیك نظام پیل کیده یعنی تقریبا ۲۴۰ کاله پخوا په هغه وخت کې د امریکه د تعلیم کچه او هم اقتصاد د اروپایي ملکونو نه ډیره ټیټه وه. بل دا چې تعلیم هم پخپله په مخ نه ځي تر څو یو با اعتباره دولتي سستم موجود نه وي چې ولس سمی لارې ته سوق کړي، روحیه د وطن دوستي او مسوولیت پذیری ورکړي او چارواکې یي د ولس لپاره الګو او نمونه شي.

**حیات پیاوړی صیب لیکلی و:**

میاخیل صاحب په ښه موضوع مو بحث کړی. او له شکه پرته د ملي او مستقلو ګوندونو جوړښت او شتون ته جدي اړتیا ده. د ناسالمو او پردیو په لاس جوړ شوو ګوندونو شتون د ربښتینو ګوندو د جوړښت او رشد مخه نیولې ده. هغه ځوك چې دا خبره و نه مني نو دا معنی چې هغه سړی یا ټولنه په خلا کښې اوسیږي او ځان او خپله ټولنه زمونږ د نړۍ څخه بهر په تجرید کښې مطالعه کوي او د کومې سیاسي تجربې پرته فایرونه کوي. په ناسالم نظام کښې تعلیم هم غیر متوازن او رشد یې نا سالم دی.

**امان الله اتل صیب لیکلی و:**

میاخیل صیب تاسو دي ژوندي وي، ډیري دپام وړ موضوع مو راخستي ده، په ریشتیا هم له ډیر پخوا هیواد کي احزاب چې په ملي او هیوادنۍ کړ نلارو راجوړ وي نه مو درلودل او نه یي نن هم لرو، کوم احزاب چې نن په هیواد کي سیاسي لوبو ته ځانونه را برګ کړیدي سیاسي پوهه نه لري، ځکه دې وروستي تاریخ په هیواد کې وښوده چې دغو سیاسي احزابو سیاسي او دیموکراتیکي لوبي ونه کړي، او هر واري چې توانیدلي د خپلو شخصي ګټو لپاره ژبني، منطقوي، مذهبي او فرمایشي یا پروژوي سیاست کوي، لکه څنګه چې تاسو ورته اشاره کړي ده، بي له شکه تر هغي پورې په هیواد کي دیموکراتیک، په ملي او هیوادنۍ

ګټو سمبال او راتلونکی لرلید لرونکی احزاب را منځ ته نشي نه به هیواد جوړ شي او نه به چې وایي امنیت او پوهه راشي، ملي او د محوري قدرت جازبه لرونکي احزابوته سخت ضرورت دي، خداي خو لوی دی.

**عبدالولی وفا صیب لیکلی و:**

میاخیل صاحب دیره جالبه موضوع ده. زه ستاسو سره موافق یم چې کوم ملک کې دیموکراتیک نظام وي هلته بإید احزاب موجود وي دا اوس چې مونز وینو عام خلک راروانو انتخاباتو کي برخه اخستلو ته لیوالتیا نه ښایي بنیادي علت یي د أحزابو نه موجدیت دي. خو دا چې ولې احزاب را منح ته نه شول زما له نظره د یو ملي فکر، ملي انګیزې او ملي مشرتابه نه موجودیت یي لوي علتونه دي.موږ د دېپردیو په پیسو پرګرامونو، راغلو سیاسي ټیکدرانو نه دا هیله ولرو نو دا به زمونز تیروتنه وي دا خلك د اولس سره د مخامخ کیدو سترګي نه لري. باید یادونه وکړم چي دا موجوده ډلې احزاب نه دي.

**روښان خادم صیب بیا لیکلي و:**

ډیر ښکلی، منطقي او تحلیلی بحث دی چې کېدای شی نور هم اوږد شي اویقین لرم چې ډیر ښه مطالب به ور څخه تر لاسه شي او یا اقلا هغه خلك چې د فیس بوك له بې معنی او بې محتوا خبرو او عکسونوڅخه ستړي شوي داسې یو څه په لاس ورشي چې په لوستو ارزي او داسې یوه پانه په لاس ورشي چې خپل علمي فکر د نورو سره شریك کړي . په دنیا کښې دا واقع شوي چې د همدا رنګه بحثونو څخه نوې سیاسي فکرونه، مکتبونه اوفلسفې منځ ته راغلي دي. زما ددې خبرې ښه مثال الماني فیلسوف هابر ماس دی چې په ۱۹۲۹ کال دالمان په دوسلدورف کې پیدا شوی او بیا د همدارنګه بحثونو په نتیجه کې دفرانکفورت د مکتب بنیاد کېښود اوټول په ګډه د مارکس د نظریاتو په ترمیم بوخت شول اود هغه دافکارو په مقابل کښې لګیا شول. خبر راڅخه اوږده نشي لنډ دا چې خپل مطلب ته راګرځم هابرماس په خپل یو کتاب کې چې (دانساني علایقو پیژندنه )نومیږي په هغه کې دمناظروي دیموکراسۍ په باب وای په واقعیت کې دیموکراسۍ دمناظرېیوه طریقه ده. هدف مې دادی چې دارنګه مثبت بحثونه کېدای شي د ډیرو نویو خبرو پیل شي. ما دټولو وروڼو مختصر ارزښتمند نظریات ولوستل څوټکي زما په نظر دټولو په نظریاتو کې مشترك دي. اول داچې ټول د یوې دیموکراسۍطرفدار دي چې د احزابو انکشاف او پرمختګ په کې خوندي وي . بله خبره دا ده چې دا

اوسنۍ احزاب هغه حزبونه او ډلې نه دي چې دملت د سياسي ضرورتونو او کمبوداتو ځواب ووايي. خویوه خبره د نورو اوږدو بحثونو وړ ده چې اول بايد حزبونه جوړ او بنيادي شي که اول د ټولنې خلك د سواد ، پوهې اوتر يوې اندازې دعلمي مسايلو سره بلد شي. په بيسواده ټولنه کې حزبونه خلك د ځان پسې راکاږي او حزبي ديکتاتوري پيل کېږي. او ددې خبرې برعکس دديموکراسۍ د پياوړتيا مخه نيسي نو علاج څه دی.

**د خادم صيب د ليکنی او د سوال په اړوند ما وليکل**:

خادم صيب! ستاسی د ليکنی او حسن نظر نه مننه. زما په اند احزاب په دوه ډوله رشد کولای شي.

**اول**: احزاب د يوشخص په محور جوړيږی بيا هغه شخص که سياسی پوهه او درايت ولری نو د ملی ګټو لپاره ملی پروګرامونه د خپل ټيم سره ملت ته وړاندې کوي او په عمل کې دا ثابتوي چې د دوی پروګرامونه ملي صبغه لري او د قدرت نه وروسته هم په خپلو ژمنو او وعدو وفاداره پاتي کېږي. او باالاخره داسې ګوند د ګوند په دننه کې په ديموکراسۍ هم بايد عقيده ولري او د کدرونو رشد ته زمينه مساعده کړي يعنې ګوند د دغه شخص د رشد نه وروسته بايد په قحط الرجال باندې اخته نه وي. ګوندونه بايد داسې کدرونه وروزي چې د هغه ځای ډك کړي. ښه مشر او ليډر هغه دی چې د هغه د مرګ او يا لرې کېدو نه وروسته د اقتدار خلا بايد نه وي او ملت په ګوند او نوی رهبری باندې باوري وي.

**دویم:** د دوامدارو او پر خپل وخت ټاکنو په پروسه کې اشخاص رشد کوي او بیا دا اشخاص په یو ملي پروګرام باندې سره یو ځای کېږي او ګوندونه تاسیس کوي. دا لار اوږده ده خو په هر انتخاباتو کې د دې ګوند عمل او پروګرام او هم اشخاص د ملت له خوا ارزول کېږي که ښه و نو رای ورکوي او په دې توګه د ګوند نفوذ زیاتیږي. او که ارزیابي یې د ملت په وړاندې ښه نه وه نو نفوذ د ګوند کمیږي او اقتدار د لاسه ورکوي او بیا د اپوزیسون رول ادا کوي نو په دې توګه تعادل د قواو او احزاب رامنځته کېږي او انحصاري حالت د اقتدار له منځه ځي. که مونږ دې ته صبر وکړو چې تعلیمي سطحه او د خلکو شعورلوړشي هغه هم بې له یوې ښې ادارې او اورګنا یزشن نه ممکنه نه ده.

د دې دوه تګ لارو نه برسیره، هر ملي شخیت او ګوندونه باید د اشخاصو رشد ته زیاته پاملرنه وکړي ځکه په ا خر کې ښه حکومتداري او دګوندونو رشد منل شوي، پوه او با تدبیره مشرانو ته اړتیا لري چې په کاري ټیم، اورګنایزیشن او دیموکراسۍ باندی عقیده ولري تر څو دولتي او غیر دولتي اداري نهادینه شي او دفردي اشخاصو د کنترول نه ووځي.

**تجربه یعنی څه؟**

د جنوری ۱۱مه نیټه، ۲۰۱٤ م کال، ویرجینیا، امریکا

تجربه په لغوي توګه هغه کار ته وايي چې بل چا ازمولي وي. که ښه کار وي او پايله يې ښه وي نو د هغه کار د تجربه تکرار احسن يا ښه کار دی او که پايله يې خرابه وي نو بيا بايد بل يې تکرار نه کړي. همدا شان په بله توګه ويلو شو چې تجربه د زده کړې لنډې مرحلې ته وايي. پخوا به په افغانستان کې که يو تن ډريور کېده او يا به يې ديني او ساينسي تعليم کاوه نو د يو استاد سره به يې په کلونوکلونو شاګردي کوله او استاد به هم ورته ټول چلونه ژر نه يادول تر څو چې شاګرد يې ژر استاد نه شي ځکه استاد بيچاره ويريده چې شاګرد به د دې ځای ونيسي او د ده بازار به بيا سوړ او اهميت به يې کم شي. خو اوس خبره داسې نه ده او دې نړۍ ته د معلوماتو نړۍيا Information Age وايي. معلومات يا د تجربو ساتل سرمايه ده.

کومی تجربي چې په ساينسي، اجتماعي او سياسي علومو کې تر اوسه پوری شوی اودنيا د پر مختګ اوسنۍ مرحلې ته رسيدلی ده، دا د پيړيو پيړيو د تجربو پايلې دي او د دې تجربو ريکارډ دنيا والو سا تلی دی او د ضرورت په وخت کې د تيرو تجربو نه ګټه اخلي نه چېدوي هره موضوع باندې بيا بيا په تکراري شکل تجربې کوي. هره تجربه او اکتشاف د هغه چا په نامه ثبت کېږی

چا چې کشف کړې او سرته رسولې ده او دی ثبت ته په انګلیسی ژبه کې Patent وایییعنی د امتیاز خاوند کېږي. افغانستان چې ډیر غریب هیواد دی نو د دې توان نه لري چې هره ورځ نوې نوې تجربې وکړي نو باید د نورو د ښو تجربو نه ګټه واخلي. دا چې مونږ ځانونو ته تش په نامه د مخترع لقبونه ورکوو چې فلانی په فلاني ځای کې الوتکه جوړه کړې ده او یا یي نوی بایسکل کشف کړی دی او د دنیا نابغه او مخترع دی سمه خبره نه ده.

زمونږ یو ملګری و همیشه به یي ویلی چې د ما سره د ۱۵۰ کلونو تجربه شته دی نو مونږ به ورته ویلي چې دا څنګه کېدای شي؟ ځکه ستا عمر خو د ۵۰ کلونو نه زیات نه دی. ده به ویلي چې زما پلار چې وفات کېده هغه د سلو کلونو و نو ما د هغه ټولي تجربې د ځان سره ساتلې دي او د پنځوس کلونو تجربه خو زما خپله ده نو په دې اساس زه د یو سلو او پنځوس کلونو تجربه لرم. زما په اند مونږ تجربه یا Experience ځکه نه لرو چې د تیرو تجربو نه ارشیف لرو او نه پرې عمل کوو نو هره ورځ نوې نوې تجربی کوو او فکر کوو چې په دې توګه به افغانستان پرمخ لاړشي، داسې نه ده، مونږ د دنیاوالو په پرتله ډیره ابتدایي تجربه د ژوند په ټولو اړخونو کې لرو. همدې خیالي القابو مونږ ته خیالی غرور راکړی او د دنیا نورو کسانو ته په ټیټه سترګه ګورو او فکر کوو چې هغوی نه پوهیږی او د الله تعالی ټوله لورونه یوازې په افغانانو شوی ده.

## دوه تجربې د روغتون د بستر نه درسره شریکوم

د جنوری ١٦مه نېټه، د فیرفکس روغتون، ویرجینیا، امریکا

د خپلې مورکۍ، کورنۍ او دوستانو د دعاګانو او دالله تعالی په فضل زما عملیات په خیر تېرشو او مخ په ښه کېدو یم نوځکه دا لاندې دوه تجربې درسره شریکوم چې د عکسونو په اړوند تشویش ونه کړئ.

څو ورځې د مخه ما د (تجربه یعنې څه؟) تر عنوان لاندې لیکلي وو چې د زده کړې لنډې مرحلې ته تجربه وایي نو د هغه لیکنې په ارتباط دامعلومات د تاسې سره شریکوم کېدای شي وخت مو ونیسم خو که فرصت مو درلود او ویې لولی نو شاید خوښ مو شي.

ډیر وخت امریکې ته نه وم تللی نو زما عینکې خرابې شوې وې. په کابل، اسلام اباد، دوبۍ او هندوستان کې می څوځو ځلې نوې عینکې جوړې کړې چې د کابل او هندوستان په پرتله، زما زړې عینکې چې په امریکه کې مې اخستې وې او اسلام اباد کې مې ورته بل نوی چوکاټ پیداکړی وو نو یو څه ګوزاره یې کوله اولوستل می پرې کولی شول. خود هندوستان او کابل عینکو هیڅ کار ورنه کړ او په دواړو ځایونو کې زما تقریبا ٨٠٠ ډالره په عینکو جوړولو ولړیدلې. د شادوشمشېرې سره نږدې یوه ډاکتر صیب راته وویل چې په امریکه کې ډاکتران سم کار نه کوي او

قوي نمبره په مريض مني نو ما تاته سمه نمره درکړه او اکثريت کسان د امريکې نه چې راځي نو دلته عينکې جوړوي. ماته يي د ساده فکر وکړ او زه هم ساده شوم خو دا چې زما ضرورت وو نو څه مې ورته ونه ويل او عينکې مې پرې جوړې کړې، عينکې چې مې په سترګو کړې نو په کمپيوټر مې پرې کار نه شوکولی او ورته بيا ورغلم چې تاسې خود Progressive عينکو وعده کړې وه چې لرې، متوسط او نږدې ليدل به درې واړه پرې سم کولی شم خو دا سمې نه دي. عينك فروش راته وويلې چې داکټر صيب ما ته همداسې نمره راکړې او دا Progressive عينکې دي. داکتر صيب چې په هماغه عينك فروشۍ کې کار کاوه راته وويل چې دا سمې عينکې دي او مونږ ديد يوازې د لرې او نږدې تعينوو نو بيا Progressiveپخپله بدلېږي او نور مونږ څه نه شو کولی او دا يي راته هم وويل چې امريکې ته لاړ شې نو ته به همدا مشکل ولرې. څرنګه چې امريکې ته پس له ډيره وخته را روان وم نو ما هم څه ورته ونه ويلې او د ځان سره مې وويلې چې په رښو سترګو يې دوکه کړم خو ښه ده چې نور جنجال بايد جوړ نه کړم ځکه دلته دوه خبرې دي يا دا چې داکټر او عينك فروش سره شريك دي او همداسې خلك دوکه کوي او يا خو دا بيچاره نه پوهيږي ځکه د ديد د معلومېدو هماغه زاړه وسايل ورسره دي او په هماغه ۱۹مه پيړۍ کې ژوند کوي او د دنيا د نوو اکتشافاتو نه بې خبره دی.

امریکې ته چې راغلم لمسیانو مې راته سمدستي هغه پخوانۍ عینکې هم ماتې کړې او هماغه عینك فروشۍ ته ورغلم چې دا یې راته جوړې کړې دي . اول یې راته په ډیر انسانیت همدا زړې عینکې جوړې کړي او بیا یې زما دید معاینه کړ. دلته دومره مجهز وسایل وو چې یو کال د مخه ما نه وولیدلي، زما زوړ ریکارد یې راوویست چې زه یې یوه بل داکتر ته معرفي کړی وم. نو ما ورته وویل چې هغه معاینه خو ما نه ده کړې خو ده وویل چې دا دی بیا یې درته لیکم او چې یې وکړې نو ښه ده. دوه جوړه نورو عینکونمرې یې راته ولیکلې چې اوس دواړه ښه کار کوي یو یې د متوسط او نږدې دید او بله جوړه د لرې، متوسط او نږدې دید چې لمر سره رنګ هم بدلوي. د معاینې او دواړو عینکو بیه **۵۲۱** ډالره شوله چې د کابل په پرتله ارزانه او ښې عینکې دي. دلته می د انګریزانو دا متل راپه یاد شو چې وایي سرمایه داره نه یم چې ارزانه شیان واخلمI am not rich to buy cheap thingاو په پښتو هم وایي چې ارزانه بی علته نه وي او قیمته بې حکمته نه وي. دوی ریکارد ثبتوي او د هغه په بنیاد بیا نوې تجربې کوي نه زمونږ د داکتر صیب په شان چې په زړو معلوماتو اوس هم ټینګار کوي.

دویمه تجربه دا وه چې یو کال د مخه زما ټانسلزTonsils و نو په امریکې کې داکتر ته ولاړم او هغه زه د خوب مطالعه د پاره ولیږم

او نتیجه دا شوه چې زه شدیده Sleep Apnea لرم او ژر تر ژره باید د دی چاره وکړم ځکه چې وروسته په قلب تاثیر لري او ستروك یا فلجیدو باعث هم کیږي. زه په لومړي قدم کې باید د Sleep Apnea ماشین د خوب په وخت کې وکاروم اوهم باید سپورت وکړم چې د بدن وزن مې لږ کم شي نو په سلو کې ۶۰-۷۰ پورې امکان شته چې زه ښه شم که دا ونه کړم نو باید عملیات وکړم او هغه هم ګرنتي نه دی خو چانس یي په سلو کې د ۳۰-۴۰ پورې دی. د داکتر سره د مشورې نه وروسته د ټانسلز لرې کېدل واضحه وو نو دا مې لاژمه وګنله چې حتمي ټانسلز لرې کړم ځکه دی هم راته ستونځي جوړکړي دي. نو دا مشوره مي هم د داکتر سره وکړه چې راځه دا د Sleep Apnea درې واړه نور عملیاتونه هم په یووخت کې وکړه ځکه د تانسلز دعملیاتو سخته خوهسی تیریږی نو ټوله به یوه سخته شی ځکه څلور واړه عملیاتونه د مرۍ پورې اړه لري. افغانی چل می کاوه چې سر مې په ټولو. کله چې زما زوی، داکتر نایل محمود میاخیل چې د مونږ نه لرې په یوه شفاخانه کې کار کوي خبر شو راغی او وروسته د ډیر بحث نه یي زه قانع کړم چې یوازی د ټانسلز عملیات وکړه ځکه که دا دری نور عملیاتونه هم وکړې چانس یي کم او وروسته خطر یي زیات دی چې بیا به ماشین هم کار نه کوی. داسی خطر هغه وخت کې سړی قبلوي چې د انسان ژوند ته خطر وي او ستا ژوند ته اوس خطر نشته دی ځکه قلب او فشار دی سم دي. دا

ددې معنی نه لري چې په بدن کې د یوې پرزې لرې کېدل ضرر نه لري نو هغه به خامخا سړی لرې کوي. د بېلګې په توګه د اپندسك د غدې د لرې کېدو په خاطر ځوك عملیات نه کوي. څرنګه چې د ده ځوابونه زما د قناعت وړ وګرځیدل ولو که د ما نه کشر و خو هغه مې ومنل او یوازی د ټانسلز عملیات مې وکړل.

د دې دوه مطلبونو په هکله زما هدف دا دی چې مشوره باید سړی د هغه چا نه واخلي چې د مشورې صلاحیت، پوهه او تجربه لري. د زراعت په هکله مشوره د داکتر نه نشي غوښتلی او په صحی چارو کې تجربه د زراعت پوه نه شي غوښتلی البته په بعضې رشتو کې شخصي تجربې هم اهمیت لري او سړی کولی شي چې مشوره ورکړي خو په مسلکي چارو کې دا کار نه شي کېدی.دویم دا چې ما مخکې لیکلي و چې افغانستان غریب هیواد دی نو هره ورځ سړی باید تازه تجربې خاصتا په مسلکي برخوکې لکه د سترګو د داکټر صیب په شان ونه کړي او د نورو د تجربو نه ګټه واخلي. د بعضی کتابونو د لیکلو نه به دا ښه وي چې زمونږ لیکوالان ښه او مسلکي کتابونه ترجمه کړي.

کله چې زه روغتون ته د عملیات لپاره لاړوم نو د موتر د پارك کولو نه نیولې د روغتون د پذیرایۍ، عملیات خانې او بیرته خارجېدو پورې ما **۲۵** مرحلې حساب کړې ځکه چې زما په نوم یې **۲۵** ستېکرونه لیکلي و او د هر ستیکر مسوول معلوم و. دوی

دلته داسې سیستم جوړ کړی و چې دهر تن کاراو مسوولیت معلوم و او هر چا خپل کار سم د مسوولیت سره پر مخ بېوه او د بوبل په کار کې مداخله نه وه. دېو تن کار به چې ختمېده نو بل تن ته به بې حواله کولم، نه چېغې وې نه سورې او ټولې مرحلې د دې لپاره ټاکل شوې وې چې د مریض سمه تداوي وکړي او حتی د مریض سره خپلوان او پایوازان هم په هر څه پوه کړي چې د مریض او د هغه د خپلوانو سره هېڅ نوع سوال او تشویش نه وي.

دا سیستم په یوه یا لس کلونو کې نه دی جوړ شوی بلکه دا سیستمونه په پېړیو او څو لسېزو کې جوړ شوي دي، هغه ثبت شوي او محفوظ شوي دي او اوس دوي ترې عملي کار اخلي. یعنی د تېروتجربو نه ګټه اخلي او نوې تجربې ثبتوي. د بېلګه په توګه دلته هر قلم نوې دوایي چې کشف کېږي لس کاله نیسي چې د کشف نه وروسته مارکېټ ته د تولید اجازه ورکول کېږي تر څو د هغه دوایي اغېز او منفي تاثیرات سره مقایسه او پرتله کړي. کله چې زه په خپل حال وم اود بیهوشي نشه یي نهوه راکړې نو هغه خوا دې خوا مې کتل نو څوی مې، ضیا محمود راته وویلې چې څنګه هغه دې خوا ګوري، عملیات ته به خو وارخطا نه یې ما ورته وویل نه عملیات ته وارخطا نه یم خو زما فکر د وطن د مریضانو، داکترانو او روغتونو په طرف لاړو چې هلته داسې حال وي چې لکه د منډیي په منځ کې روان وي، شور وي، زوګ وي، مریض،

یایواز، داکتران او نرسان ټولې منډې وهي څوك د داکتر پسې ګرځي، چا دوا راروانه کړې وي اود چا نه خونه ورکه وي. دلته ارامه ارامي ده، هر څوك خپل کار کوي او د لس ګونو کسانو عملیاتو لپاره تیاری نیسي نو دا به کوم وخت وي چې زمونږ په وطن کې روغتون داسې منظم او پاك وي. زما په اند په دې روغتون کې د عملیاتو سېستم دا لاندې اړخونه درلودل:

**اول**:دا سیستم د مریض د ښه علاج او خدمت او د مریض د خپلوانو او دوستانو ته د خدمت د عرضه کولو په مقصد جوړ شوی دی. څه چې سړی فکر کولی شي هغه سهولتونه مهیا شوي دي. د سترې مشي نه نیولي، دمعلومات برابرولو، د عملیات په ټوله مرحله کې تماس نیول، د خوراك او څښاك او داسې نور سهولتونه تر خارجیدو او خدای په امانۍ پورې. حتی داکټر د شپې نا وخته درته پخپله تیلېفون کوي چې څه مشکل خو نشته.

**دویم**: د دې سېستم په تطبیق کې نوې تکنالوژي خاص رول لري. د بیلګه په توګه زما په سر یې یوه وړوکې اله تیره کړه سمدستي یې زما د تبې یعنې حرارت درجه معلومه کړه داسې اله دوه درې کاله د مخه ما نه وه لیدلې.

**دریم**:دا سیستم قیمتي دی ځکه د سیستم تطبیق په سلو کې ۹۹ په تکنالوژۍ ولاړ دی چې غریبو هیوادونو ته مشکله دی داسې

سیستم جوړ او تطبیق کړي خو د دې سیستم د تکنالوژۍ نه پرته د خلکو برخورد د مریضانو سره پیسې نه غواړي ځکه کومه رویه چې داکټر، نرس او نورعمله د مریض سره کوئ هغه زمونږ په اصطلاح د آبۍ او دادا زوی یي هم د چا سره نه کوي ځکه داسې ښه رویه د دوی د سیستم او د کلتور جز ګرځیدلې ده او هر څوك خپل کار په ښه او سمه توګه اجرا کوي خو که سم کار ونه کړي نو بیا مجازات او مکافات هم شته دي او هغه تطبقیږي.

زه افغانستان کې هم څو ځله روغتونو او داکترانو سره د کتنې لپاره ورغلی یم او ډیري داکتر صیبان مې ملګري او خپلوان دي خو د دوي رویه او برخورد مې چندا ن نه دی خوښ شوی. که وسایل او امکانات نه وي خو ښه رویه کول خو پیسې نه غواړي. داسې حال په ټولو ادارو کې دي خو دا چې زه د داکترانو سره مخ وم نو ځکه مې د داکترانو مثال راوړ. خدای دې وکړي چې داکتر صیبان خفه نه شي.

**پېژندل د دوست او دشمن**

پښتو متل دی چې وايي نه دومره خوږ شه چې خلک دي وخوري يعنې قروت دې کړي اونه دومره تريخ شه چې خلک دي وارتوي

د جنورۍ ۱۷ مه نيټه ۲۰۱٤ م کال، ويرجينا، امريکا

د هرچا نظر دهغه دپوهه، تجربه، معلوماتو، د حالاتو نه د برداشت اخستلو او طرزتفکر په چوکات وي چې ځان، وطن او دنيا د کومې زاويه نه ګوري. کله چې زه د چا د انتقاد په هکله څه ليکم نو مطلب مې دا نه دی چې زه په انتقاد خفه کېږم خو غواړم چې د بحث يوه موضوع راوسپړم او د دوستانو نظرونه سره پرتله شي او يو مثبت خواته زمونږ نظرونه سره بسيچ شي.

يوه دوست زما د دوه تجربوپه هکله ليکلې و چې ما د امريکا صفت کړی او شفا د الله د طرفه ده. امريکا د افغانانو او مسلمانو دشمنه ده.

زمونږ د افغانانو مشکل دا دی چې مونږ دوست او دشمن نه پيژنو او د دې علت دا دی چې مونږ خپل ځان نه پيژنو نو ځکه خپل دوست او دشمن هم نه شو پيژندلي او هميشه په احساساتي ډول برخورد کوو. حديث شريف نقل قول دی چې ؛من عرف نفسه فقد عرف ربه؛ چې ځان ونه پيژني نو ته خدای هم نه شي پيژندلی. دې کې شك نشته چې شفا د الله د طرفه ده خو د د نيا کارونه واړه په دنيا شي او اجل مطلق چې راغي نو بيا بل څوك هغه بدلولی نه

شي خو داجل معلق بدلون د مرض په تشخيص،علاج او تداوي لازمي او شرعي مسله ده پيغمبرانو هم کړې ده چې هغوی الله ته د مونږ نه نږدې و او ځانونو ته يې د بشر خطاب کاوه او په بشري پالنه يې عقيده درلوده. تداوي چې هر څېرته وي او د هر چا په لاس وي ګناه نه ده.

ما د سيستم صفت کړی او د تجربو نه ګټه اخستلو په هکله مې ليکلي نه د امريکا په عمومي پاليسۍ باندې چې ښه کوې او که بد. که چا ته مونږ د دشمن خطاب کوو نو د دشمن قوي او کمزورې نقطې بايد ټولې وپيژنو او بيا که دشمني ورسره هم کوو نو د دشمن قوي او ضعيفه نقطې به مونږ ته معلومې او بيا به مونږ خپل ځان وتلو چې ايا مونږ ورسره دشمني کولی شو او که نه. که چا ته دوست هم وايو نو بيا د دوست قوي او ضعيفه نقطې هم بايد مونږ ته معلومه وي او که د دې وسه ولرو نودوست ته به سمه مشوره ورکړو او که لا وسه مو زياته وه نو ضعيفه نقطې به ور اصلاح کړو.

راغلوسياست ته:
په سياست کې دوست او دشمن نشته دی، نه سرحد شته دی او نه مشترکه جغرافيا، نه مشترك دين شته او نه مذهب، نه قوم شته او نه ژبه خو مشترکي منافع شته دي. تر څو چې د دوه ملکونو مشترکي منافع سره شريکې وي ترهغې پورې د هغه ملکونو سره

دوستي دوام پیداکوي او چې کله سره د مشترکو منافعو زمينه قطعه شوله نو بيا دوستي نشته او هر څوك خپل کار کوي.په شخصي دوستۍ کې هم دا فارموله ده. ډير مثالونه په نړۍ کې شته دي چې کله د دوه هيوادونود منافعو په منځ کې ټکراغلي نو کافر هيواد د کافر هيواد سره جنګونه کړي او مسلمان هيواد د مسلمان هيواد سره جنګونه کړي دي.

مونږ بايد دا قضاوت د ځانونو سره وکړو چې ايا مونږ د ګاونډيانو، منطقوي او نړۍ والو هيوادونو سره جنګ او دشمنۍ کولو شو او که نه؟ او که د دې ضرورت دی چې مشترکي منافع پيدا کړو او هر چا سره په خپله اندازه دوستۍ يا دشمني وکړو. خو داسې راته ښکاري چې ځينې زمونږ افغانان غواړي چې افغانستان مريخ ته په خيالي دنيا کې ورسوي چې د ټولو نه لوړ وي او بيا د هېچا سره رابطه ونه لري، او ځانته يوه بيله دنيا جوړ کړي. که دا امکان لري نو بسم الله زما هم درسره دوعا ده او که دا کار امکان نه لري نو بيا مونږ اول ځانونو ته تعريفونه پيدا کړو چې زمونږ ګټې څه دي او څنګه خپلي ګټې تر لاسه کولی شو اوبيا د چا سره څنګه او په کومه کچه دشمني او دوستي وکړو. پښتوکي متل دی چې وايي نه دومره خوږ شه چې خلك دي وخوري يعنې قرت دې کړي اونه دومره تريخ شه چې خلك دي وارتوي.

## پنځه ځوانان شهیدان شول

د جنوری ۲۳مه نیټه،کال ۲۰۱٤ م، ویرجینا، امریکا



محصل شهید شـــو فـــــــارغ نشو
مور بې په چېغو چېغو ټول کړل کتابونه

زما لویه ګناه دا ده چې افغان یم نن مو بیا پینځه تنه شاه زلمي
چې څوك دپوهنتون نه فارغ او څوك اوس محصل وه خاورو ته

وسپارل (پورته عکسونه اولیکنه د فېسبوك نه) د دغه پنځو شهیدانو د دوه تنو عکسونه او د دوی قبرونه.

د جنورۍ په درویشتمه نیټه د لغمان ولایت د علینګار په ولسوالۍ کې پنځه ځوانان په داسې حال کې د نامعلومو وسله والو له خوا شهیدان شول چې په خپلو منځو کې یې د کرکټ لوبه کوله. په دغه پنځو کسانو کې یوتن عاشق الله الکوزی نومیده چې د شرعیاتو د فاکولته د دریم صنف محصل و. دا پورته انځوربښي خواته د خدای ببنلي عاشق الله دی.

درنو دوستانو تاسې د دې ځوان ظاهري او باطني انځور ته نظر واچوي چې په شرع برابر، د شرعې علومو زده کوونکو او د غیبت او د خلکو ځورولو په ځاي یې د ملګرو سره لوبه کوله نو زما په اند د دوي مسلماني، وطن دوستي او انسانیت د هغه چا نه چې د دوې په وژنه کې لاس لري او یا یې د دوي د شهادت فتوا ورکړې په زرګونو مراتبه بهتره او غوره دې. نو دا واضح ده چې دا ډول وژنې او د افغانستان جګړه دیني او مذهبي اړخ نه لري او یوازې استخباراتي جنګونه دي چې زمونږ بېګناه ولس د دې جنګونو په منځ کې قرباني کېږي. خداي دې ورحمیږي په دې ولس. زمونږ ځوانان د دوي به دوکو او خبرو باید ونه غولیږي او خپل ورونه سره ونه وژني.

**دپورته ليکنې په هکله وکيل صيب سميع الله ساپي ليکلي و:**

مياخيل صيب سلام، ستا انساني احساس دئ، خدايګوسخت غمجن يم اودا فکرمې آرامي ته نه پريږدي چې دامرګونه، ورانکاري اوپه تيره دعلم اوپوهې سره اوبيا په ځانګړي توګه د پښتنو په سيموکې د چا لخواپه سيستماتيك ډ ول ترسره کيږي؟ آيا داخپله دهمدې سيمې دخلکوزبږنده ده چې لکه لړمه، بچيان بې پرې راټول اوخوري بې ! اوکه د پلاراومور په تربيه کې غلطي ده... زما په اند د چريکي عملياتو مخنيوی که په لويوښارونوکې لږ ستونځمنه وي، مګرپه کلوکې چې ټول د يوکلئ، د يوه فاميل حيثيت لري، د خاين اوظالم سره که دکلي او سيمې کسان همکارنه اوسي، ناشونې ده دعمل خاوند وژغورلشي. له پښتني پېغوره ډ که د شرم خبره خولادا وه چې ويل کېده به: " د بېغيرته کلي به کډ وال ملك وي" نو که دغه تروربستان د سيمې له منځه نه اوسي اوپنجابيان، بنګله ديشيان، تاجکيان، اوزبکان، ايرانيان اوعربان دلته راځي او په خا صه توګه پښتانه بې په نښه کړيدې؛ يا بايد خپل کلي همدوی ته شړ کړي اوترې وتښتي يادې خپلو ترمنځ د"پښتنو" په ځيرنره تړه وکړي چې خاين يې ګيرکړی او په داردې وځړوي. بيله هغې هم دولت نشته، اوکه وي هم دځان لپاره دئ دغلا اوچوراشتراکي دولت چې پخپله په زرهدارو بنګلوکې بيشرمه شپې ورځې اړوي...

## د کونړ د ځوانو شاعرانو او لیکوالانو سره خبري

د دسمبر ۲۵مه نیټه، ۲۰۱۳م کال، کونړ، چغه سرای

د ابرار د موسسي او USIP په نوښت د کونړ ځوانانو، شاعرانو، لیکوالانو او ژورنالستانو د کونړ ولایت په مرکز چغه سرای کې د دسمبر په **۲۵**مه نیټه **۲۰۱۳**م کال، د صلح په اړوند مشاعره جوړه کړې وه چې زه هم دغه غونډې ته د کونړ تکړه او مشر شاعر اولیکوال محمد حسن حسام صیب سره یو ځای بلل شوی وم او په دغه غونډه کې مو برخه واخسته. د کونړ د ځوانانو خبرو او شعرونو ته مونږ پوره غوږ ونیوه او د دوی استعدادونه ډیرد ستاینې وړ و. د ځوانانو اکثره شعرونه د خپل ماحول، ژوند اوستونځو نه الهام اخسته خو د دې سره د دوی مورال او لرلید ډیر ښه واو تا به فکر کاوه چې هر یو یې د سیاست فاکولته ویلي او په سیاسی لوبو ښه یوهیدل چې څه کېږي او څوك یې کوي. خو د دې ترڅنګ د دوي په شعرونو کې د ځوانانې د احساساتو غلبه هم زیاته وه او فکر یې کاوه چې هره نیمګړتیا په احساساتو سمدي دي.

د غونډې په پای کې ما په خپلو خبرو کې دې ځوانانو ته وویل چې **۳۵** کاله د مخه زه هم ستاسې غوندي ځوان وم، احساسات مو درلودل، په دې غرونو کې مو منډې رامنډې وهلې، د جهاد مشرانو او د دوې دوستانو په شا ټپولو او شاباسی یې راته راکوو خو که اوس مونږ د تیرو **۳۵** کلونو وېډو بیا واچوو او ویې وګورو

نو مونږ ډیرې اشتباګانې کړې دي. زما هیله د تاسې نه دا ده هغه اشتباګانې چې مونږ کړې هغه تاسې ونه کړې د چا په شاباسی ونه غولیږې، خپلو زده کړو او راتلونکې باندې فکر وکړې. هر یو باید د صلح او امنیت سفیر په خپل کلې او ټولنه کې واوسیږئ. هغه انرژې چې تاسې ته الله درکړې او یا هغه امکانات چې مونږ او تاسې یې لرو دهغه نه باید په تعمیري چارو کې یعنې په بیا جوړونه کې ترې ګټه واخلو او خپله انرژې په منفي توګه استعمال نه کړو. که هریو مونږه په ورځ کې یو ښه کار وکړو نو افغانان په ورځ کې په میلونو ښه کارونه کولې شي خو دولت په ټول توان او قدرت په زرګونو ښه کارونه د ورځې نه شي کولې. په راتلونکې سیاسي مسایلو کې باید فعاله برخه ولرو او په راتلونکې انتخاباتو کې باید بې تفاوته ونه اوسو ځکه راتلونکې انتخابات په افغانستان کې د دایمي صلح په وړاندې یو مهم ګام دي. که انتخابات ونه شي او یا انتخابات د درغلیونه ډك وي چې پایلې خلکو ته د قبول وړ نه وي نو افغانستان بیا هم د یو لوې بحران سره مخامخ کیږي. مونږ باید ډیر د نورو په طمعه ونه اوسیږو ځکه په تیرو **۳۵** کلونو کې مونږ ته د شرق او غرب، د عرب او عجم ډیرې پیسې او فوځونه راغلل خو زمونږ مشکل یې حل نه شو کړای ځکه چې مونږ پخپله تر اوسه د جوړیدو اراده نه ده درلودلې. تر څوچې د وطن جوړولو او وروګلوۍ اراده په خپلو منځو کې پیدا نه کړو ترهغې دا وطن جوړیدی نه شي.

د غونډې د مخه د کونړ ولایت د محصلینو استازو د ماسره اړیکه درلوده او راغلل چې که مونږ ورسره د کونړ د پوهنتون نه د لومړی

دورې د فراغت مراسمو ته د یونیفورم په جوړولو کې مرسته وکړی شو. حسام صیب او ما ورسره وعده وکړه چې مونږ به درته دا یونیفوم برابر کړو. ۴۸ زره افغانۍ چې محصلینو ته د کونړ پخوانی والي فضل الله وحیدي صیب ورکړې وې هغه یې حسام صیب ته ورکړې او نورټول بار چې درې څلور لکه افغانۍ کېدلې، حسام صیب په غاړه واخسته. حسام صیب ته خدای اجر ورکړي.

## د افغانانوپنځه اساسي ستونځې؟

د جنوری ۲۵مه نیټه، ۲۰۱٤م کال، ویرجینا، امریکا

د اداره او منجمنت د اصولو په اساس د مسایلود حل په لارو چارو کې لومړی مرحله ته د پرابلم نښه کول یا مشکل منل وایي، دویمه مرحله یې د مشکل تشخیص دی، دریمه مرحله یې د مشکل لپاره د حل لارې چارې دي، څلورمه مرحله یې د حل د لارو چارو نه د یوې لارې غوره کول دي، پنځمه مرحله یې د غوره شوې لارې عملي کول دي، شپږمه مرحله یې ارزیابي د مشکل ده چې ایا په دغه غوره شوي د حل لارې له امله مشکل حل شوې دي او که نه او اومه مرحله یې د قناعت او یا عدم قناعت ده. پورته مرحلې د تصمیم ګیرۍ د مرحله په نامه هم یادیږي ځکه چې په هره مرحله کې باید لازم تصمیم ونیول شي.

سوال دا دی چې ایا افغانان خپلې ستونځې نه شي تشخیصولای او که لازم تصمیم نه شي نیولای. زما په اند افغانان په دواړو حالاتو کې مشکلات لري نه خپلې ستونځې تشخیصولای شي نه د ستونځو د حل په هکله تصمیم نیولای شي. زه غواړم چې په مختصره توګه د افغانانو پنځه مهمو ستونځو ته یادونه وکړم. البته درانه لوستونکي شاید نورې ستونځې هم په نظر کې ولري.

**اوله ستونزه**: افغانانود خپل تاریخ نه کاذب او خیالي برداشت اخستي دي. دا چې افغانان د دنیا د ټولو هیوادونو نه په هر څه

کې ښه دی نو بیا ولې محتاجه او خدای په قهر اخته دی. که سوال داوي چې نور افغانان دې ته نه پرېږدي چې ځانونه جوړکړي نو دې کې هم لوېه کمزوري خبره پرته ده ځکه افغانان دومره ناتوانه دي چې د نورو د لاس اله دي او نور په دوي لوبي کوي. که دلیل دا وي چې افغانان په خپلو منځو کې نه جوړېږي نو دا هم کمزوري خبره ده چې افغانان خپل ځانونه پخپله نه شي منظم کولي نو همیشه نورو ته په طمعه دي چې دوي ځوك منظم کړي. که ووایو چې افغانان پنځه زره کلن تاریخ لري نو دا نور ځوك دي چې افغانانو ته درس ورکوي نو بیا هم افغانان غولیدلي دي ځکه دوي دخپل تاریخ نه سم برداشت نه دی کړی ځکه دا نور ولې د دوی نه مخکې شول او دوی وروسته پاتې دي.

**دویمه ستونزه:** افغانان همیشه د ستونځو د نه منلو یا د ستونځو د تردید په خیالي دنیا کې چکر وهي. دا چې ځوك ستونځې ونه مني نو بیا خو د ستونځو لپاره دحل لاري چاري خو د سره ځوك نشې پیدا کولي. د حل لاري چارې خو خلك ستونځو ته هغه وخت پیداکولی شی چې دا ومني چې مشکل شته دي. افغانان خو د سره دا نه مني چې دوي زیاتې نیمګړتیاوې لري نو ځنګه به دوي خپلو ستونځو ته د حل لاري چاري ولټوي.

**دریمه ستونزه:** افغانان په نظام او اورګانیزیشن باندې عقیده نه لري. نظام او ټولنه همیشه په اصولو او اساساتو جوړېږي. د نظام

او ټولنې ټول غړي د نظام په لیکلي او یا د ټولنې په نالیکل شوو قوانینو عمل کوي. که تاسې د افغانانو سیاسي، فرهنګي او اجتماعي حرکتونو او اجتماعي ټولنو تاریخچوته نظر واچوي نو وبه ګورې چې هر یو حرکت څومره بچې زیږولي دي او هر حرکت او ټولنه په څو ټوټو ویشل شوې ده ځکه چې د ټولنې یا حرکت غړو په نظام او اورګانیزشن باندې عقیده نه درلوده او باالاخره هر حرکت او ټولنه د یوه شخص پورې تړل شوې ده چې کله مشر لالا له منځه تللي، هم یي حزب له منځه تللی او هم یي ټولنه تالا ترغې شوې ده. دا چې د سیاسي خوځښتونو او ټولني له لارې مشر لالا څومره نا مشروع سرمایه لاسته راوړې وه هغه هم د قارون د خزانو په شان د ده د له منځه تللو سره په نیل کې ډوبه شوې او نورو پرې مزې چرچې کړې دي.

**څلورمه ستونزه**: د افغانانو د سیاسي مشرتابه غلطو پالیسو، همیشه ناکامي او مشکلات خپل راتلونکي نسل ته په میراث پریښودلي دي. د دنیا په هر ملك کې سیاسي مشرتابه د یو لړ کورني او بهرني ستونځو سره مخامخ وي. ښه او بریالي مشر هغه دي چې کورني او بهرني ستونځو ته د حل لارې چارې د وخت د شرایطو او امکاناتو په رڼا کې پیداکړي ترڅو راتلونکي مشرتابه د لړو ستونځو سره مخامخ وي او خپل زیات وخت د خپل وطن په ابادۍ او نورو ښېګنو کې ولګوي. ناکام مشرهغه دی چې

راتلونکی مشرتابه ته او یا راتلونکي نسل ته لا زیاتي ستونځي په میراث پریږدي. نن چې افغانان د کومو ستونځو سره لاس او ګریوان دي علت يي د تیرو مشرانو غلطي پالیسي او ناکامي دي او زمونږ راتلونکی نسل به د اوسني مشرتابه د غلطو پالیسو او ناکامیو تاوان ورکوي.

**پنځمه ستونزه**: د افغانانو مشرتوب همیشه د یوه شخص پورې تړلی دی او شخص هم خپل مشرتوب، د کپچه مار په شان د نورو سرونو یا شخصیتونو په ټکولو او یا له منځه وړلو کې ساتلی دی ځکه چې د افغانانومشرتابه همیشه د ولسي ملاتړ نه برخورداره نه و. قدرت د افغانانومشرتابه ته په میراثي توګه، د توره په زور او یا د بهرنیانوپه زور ورکړل شوی دی. هغه نظامونه چې د یوه شخص په رهبرۍ ولاړ وي همیشه د ستونځو سره مخامخ وي. د شخص د انحصار نه اقتدار هغه وخت ولس ته انتقال کېدي شي چې ولس او مشرتابه يي دواړه په نظام او اورګانیزیشن عقیده ولري. هغه مشرتابه چې د اورګانیزیشن د اصولو په اساس رامنځته کېږي، د هغه سره ولسي ملاتړ موجود وي. افغانانو لا تر اوسه د ډله ایزه مشرتابه کلتور نه دي خپل کړي او د افغانستان بېړۍ به په طوفاني سمندر کې همداسې روانه وي او ترڅوچي ساحل ته په خیر سره رسیږي د سمندر د څپو سره به ډیر پرځول راپرځول وکړي، څه سورلي به يي له منځه لاړې شي، څه به

مريضان شي او څه به د نيم بسمل مرغه په شان شپې او ورځې تيروي. د هغه ورځې په اميد چې دابېړۍ سمندر غاړه ته په خير او سلامتۍ سره ورسيږي او افغانان د ډله ايز مشرتابه خاوندان شي.

**په ساده ژبه**

**د سیاست او دریورۍ پرتوالې**

د جنورۍ ۲۶مه نیټه، ۲۰۱٤ م کال، ویرجینا، امریکا

د ډریورۍ په کورسونو کې وایي چې ډریوري په دوه قسمه ده Aggressive Driving تهاجمي یا عجله یي ډریوري چې ډریور همیشه په منډه وي، د یونه مخ کېږي او دبل نه وروسته کېږي، هم ځان په خطر کې اچوي او هم نور. دویم ډول ډریوري ته Defensive Driving یا دفاعي ډریوري وایي. د دفاعي ډریوري مطلب دا دی چې ښه ډریور هغه دي چې نه نور ووهي او هم د نورو د وهلو نه ځان بچ کړي یعنې هم ځان ته وګوري او هم نوروته. ډریور مجبور دی چې څلور خواوې وڅاري، د خپل موټر قوت او تېزوالي باید ورته معلوم وي، د بل د موټر سرعت او قوت هم باید وپیژني، کوم وخت کې تېز شي او څه وخت کې ورو شي او څنګه او په کوم ځای کې د بل موټر نه مخکې شي یعنې په ډریورۍ کې تصمیم نیول تر بل هر شغل او کار نه زیات دي. په هره لحظه کې ډریور یو تصمیم نیسي چې هم ځان د ټکر نه بچوي او هم نور د ټکر نه بچوي. که ډریور لږه غلطي وکړي نوضرر یي هم ځانته او هم نورو ته رسیږي او حتی بعضې مهمي غلطي او اشتباه ګاني نه جبیره کېدونکي وي.

سیاست هم همداسې دي چې سیاسي مشربايد په هره مرحله کې يو مهم تصميم ونيسي، که تصميم يې دفاعي، سم او د وطن او خلکو په ګټه و نو هم ځان بچولي شي او نه هم ملت. او که تصميم يې عجولانه، تيز او په دې نه پوهيده چې څنګه ورو شي او چېرته تېز لاړ شي او شخصي ګټې يې په نظر کې نيولې وې نو داسې تصميم نه د ده په ګټه وي او نه د ملت په ګټه، خو تاوان د مشرتابه د غلطو تصميم نيولو او پاليسوټولو ته رسيږي او بيا هم بعضې تصاميم د سياسي مشرانو د سياسي خودکشي ته ورته وي چې بيا نه جبران کېدونکي عواقب لري. که د بس ډريور تېز رفتاري کوي، هم ځان په خطر کې اچوي او هم ملت نو د بس سورلي هم مسووليت لري چې د بس دريور د تيز رفتاري نه منع کړي او که دريور د تيز رفتاري نه شي منع کولي نو دا خو کولی شي چې ډريور ته ووايي موټر دی ودروه استاذه! مونږ نور د تاسره په دې موټر کې نه ځو.

**د پورته ليکني په هکله رفيع الله ستانکزي ليکلي و:**

د روانو چارو ښکلي انځور دی، خو دا د بس ډرېور خو همداسې روان دی، هېڅ اخوا دېخوا نه ګوري، يو ځای ملګرو ليکلي ول، چې سم د کابل – کندهار په لويه لاړ د احمدشاه ابدالي شرکت دی، چې هېڅ د سوارلۍ په کېسه کې نه وي او ځان رسول غواړي، خو هغه شرکت به طالبانو سره هم خپل لين لاره، چې په لاره به يې

د دوی موټر نه درول او له هوټليانو سره هم چې دوی به ورته موټر درول او سوارلۍ به هلته ډوډۍ خوړله خو دا ډربور داسې پاخه لينونه نورو سره هم نه لري، دا ځغاسته به يې لږ خطرناکه شي په دې صورت کې.

## دافغانانو حال

د جنوری ۲۹مه نیټه، کال ۲۰۱٤ م، ویرجینا، امریکا

وایي یو سړي ګناه کړې وه نو قاضي مجرم ته درې سزاګانې ټاکلي وي چې هره یوه د دې دریو سزاګانو نه دې خوښه وي نو هغه به درباندې عملي شي. شل روپۍ نقدي جریمه، شل د طالبانو دوري، او یا شل ورځې بندیخانه (قید). څرنګه چې دا بندي ډیرکنجوس سړي و نو په شلو روپو جریمه یې هم واره نه راتله او شل دوري ورته هم سختې وې چې قبولي یې کړي نو قاضي ته یې وویلي چې شل ورځې قید مې قبول دی. کله چې بندي لس ورځې په زندان کې تیري کړي نو ډیر سخت په تکلیف او عذاب شو نو قاضي ته یې وویلي چې قاضي صیب دا لس ورځې باقیمانده قید راته وبښه او د دې پرځای مي هغه دوري خوښي دي. قاضي ورته باقیمانده لس ورځې وبښلي او امر یي وکړ چې بندي شل دوري ووهي. کله چې بندي یي لس دوري وواهه نوباقي پاتې لس دورو ته نورنشو ټېګیندلای نو قاضي ته یي بیا عذروکړ چې د خدای لپاره دا باقي پاتې دورې راته وبښه او شل روپۍ جریمه ورکوم. په دې دول بندې هم لس ورځې بندیخانه تیره کړه، هم یي لس دوري وخوړې او هم یي شل روپۍ تاوان ورکړ.

که بندي کنجوسي نه وی کړې نو د دې دوه سزاګانو نه به بچ شوی وی. د پورته قصه په شان، افغانان هم ځان وژني، هم نور وژني،

هم خپل وطن خرابوي، هم لوټوي يي او هم کباړيي په نورو خرڅوي خو په اخره کې بیا هم نه پوهیږي چې دا هرڅه مو د کوم هدف لپاره وکړل، د چا لپاره مو وکړل او چا راباندې وکړل. افغانان اول کار کوي او ورسته فکر کوي چې دا کار مو د څه لپاره کړي دي او په ډیرو برخوکې همدا اشتباګانې په کراتو کراتو تکراریږي او بیا هم نه پوهیږي چې څه کوي. خو د دنیا پوه او اګاه ولسونه اول فکر کوي او بیا وروسته کار کوي او پوهیږي چې د څه لپاره لګیا دي، څه کوي او باالاخره کوم هدف لاسته راوړي. افغانان باید په هغه تاریخ چې دوي پرې افتخار کوي باید د هغې نه دعبرت درس واخلي او د تیرو او نورو د تجربو نه باید ګټه پورته کړي. که نه، نه تاریخ د دوی په درد خوري او نه د حال نه څه ګټه اخستلي شي او په راتلونکي کې به هم همداسې محتاجه او ذلیله وي.

## هم ګوند لري او هم د ګوند په نامه شرمیږي دا څوک دي؟

د جنوری ۳۰ مه نیټه، ۲۰۱٤ م کال، ویرجینا، امریکا

دا مهال د عدلې وزارت د ویب پاڼې په اساس په افغانستان کی ۵۹ ګوندونه او ۳۸۶۸ ټولنیز (اجتماعي) سازمانوته ثبت شوي دي. دا ګوندونه د هر ډول مفکورو پر اساس لکه اسلامي، نیشنالستي، ملي ګرا،چپي دیموکرات، ښي دیموکرات او داسی نورو اډیالوژیو پر اساس جوړ شوي دي او یا د دوی د مرامونو، مشرانو او پیروانو د سابقې نه داسې معلومیږي چې د پورته اډیالوژیو پیروان دي. د اساسي قانون پر اساس، د احزابو قانون جوړ شوی او جمهور ریس کرزي له خوا توشیح شوی هم دی. د احزابو فعالیت ته اجازه شته، غونډې جوړولی شي، خپل مرام خلکو ته تشریح کولی شي، بانکي حساب پرانستلی شي، اخبار چاپولی شي او ځینې یې تلویزونونه او رادیو ګانې هم لري. خو د دې تر څنګ د دې ډلو مشران او پیروان په حکومت او هم اساسي قانون باندې نیوکې کوي چې حکومت د ګوندونو د رشد لپاره زمینه نه مساعدوي.

ما سره دا سوال پیدا کیږي چې جمهور ریس کرزی نور څه وکړي چې د احزابو رشد ته زمینه مساعده کړي. که هدف دا وي چې د حکومت په بودجه کې، دی احزابو ته یو کوډ جوړ کړي چې هر

ګوند ته مستمرې پيسې د مياشتنى ورکړي او د دوي مشران پرې مزې چرچې وکړي نو دا جدا خبره ده. که نه اوس هم د دې ګوندونو يو زيات شمير مشران او غړي په يو شکل نه يو شکل د حکومت د امکاناتونه پوره ګټه اخلي.سره له دې چې زه د جمهور ريس کرزی د پاليسيو سره چندان موافق نه يم خو په دی برخه کی جمهور ريس کرزی راته ملامته نه ښکاری.

که څه هم د ديموکراسۍ او د يوبا ثباته نظام د تحقق لپاره د احزابو رشد ضروري خبره ده خو دا احزاب چې رشد نه شي کولای زما په اند درې مهم لاملونه لري:

**اول**:د احزابو تاريخچه په افغانستان کې چندان ښه نه ده او احزاب د موجوده مشکلاتو اصلي لامل دی. په دې خبره څوک سترګي نه شي پټولي.

**دويم:**دا احزاب او پلويان يي په اصولو سره نه دي راټول شوي بلکه د محدودو موخو او شخصي ګټو لپاره دوکانونه جوړکړي دي چې اکثريت يي د يو فرد په محور څرخيږي او د حزب په منځ کې هم په انتخاباتي اصولو باورمند نه دي.

**دريم**: د ټولو نه مهم لامل يي دا دی چې د دې احزابو مشران اوغړي په عين حال کې چې خپل ځانونه د ګوندونو غړي معرفي کوي د دې ترڅنګ د خپلو ګوندونو په نومونو شرميږي. که تيرو

پارلماني، ولايتي او رياستي انتخاباتو او هم اوسني انتخاباتو ته نظر واچوو نو د دې ګوندونو مشرانو او غړو ځانونه دمستقل يا ازاد کانديد په توګه نوماند کړي دي او د خپل ګوند په نامه مبارزه نه کوي. دلته دا لاندې دري سوالونه مطرح کېدای شي:

**الف:** ايا دوي د خپل ګوند په مرام او هدف باور نه لري چې ولس ته ځانونه د خپل ګوند په نامه معرفي کړي؟

**ب:** ايا دوي په دي پوهيږي چې د دوی ګوندونه د ولس په منځ کې ريښې نه لري نو رای نه شي تر لاسه کولای؟

**ت:** ايا دوی دې ته حاضر نه دي چې د اپوزيسون رول ولوبوي خو خامخا بايد ګټونکي وي؟

دا چې د دې ګوندونو مشران او غړي د خپل ګوند په نامه مبارزه نه کوي، د خپلو ګوندونو په مرام، نوم او نشان شرميږي، ځانونه د خپلو ګوندونو په نامه نه نوماند کوي نو بيا ولې نورملامتوي چې د احزابو رشد ته زمينه نه مساعدوي. که دوی د خپلو ګوندونو په نامه ځانونه نوماند نه کړي او د خپلو ګوندونو په نامه مبارزه ونه کړي نو څنګه به دا ګوندونه رشد وکړي. تاسې دوستان پخپله د دې ګوندونو مشران او غړي پيژني معرفې ته يې حاجت نشته دی.

**د انتخاباتي بهير پيل**

## په ماضی تاريخ او د حال په حالاتو به تصميم نيسم
## او په راتلونکی حالاتو به بيا وروسته قضاوت کوم

د فروری لومړی نيټه، ۲۰۱٤ م کال، ويرجينا، امريکا

ښه ده که بده ده د راتلونکي رياستي انتخاباتو په هکله مونږ دوه لارې لرو. يا به په انتخاباتو کې برخه نه اخلو، اډياليزم يا اډيال حالت پسې به ګرځو. د اډياليزم د مفکورو پيروان هميشه د يوې لارې په تمه ناست وي او يا د هغه لپاره کارکوي کوم چې ده ته ښه ښکاري. داسې کسان ولو که نظر يي هم سم وي هميشه د ناکاميو سره مخامخ کيږي. دويمه لار د رياليزم په بنياد افغانان بايد د يولسو کانديدانو نه د يو نوماند تايد او د هغه نه ملاتړ وکړي. د انتخاباتی لوبې د اصولو په اساس کله چې د نوماندانو لست نهايي يا فاينل شي نو ولس يوازې د هغه چا نه ملاتړ کولی شي چا چې ځانونه کانديد کړي دي. سياسي لوبه هغه څوك ګټي چې په لوبه کې برخه اخلي او منظم وي.

زما په اند که انتخابات هر څومره نيمګړي هم وی خو د دې نه غوره او ښه ده چې يو تن په قدرت قبضه لرولي وي او يا د زور له لارې د بل نه قدرت ونيسي. که کانديدان او د هغوی پلويان په خبرو سره يو بل راځملوي او د رای په زور قدرت ته رسيږي د هغه حالت نه ډيره غوره ده چې يو بل سره په مرميو وولي او خپل وطن خرابوي. زمونږ د پنځه زره کلن تاريخ همدا حال دی چې ټولو

واکدارانو د یو بل نه قدرت په زور نیولی دی چې پایله یې همدا ده چې افغانان د ستونزو سره مخامخ دي او افغانستان نړۍ کې خو پریږده، په سیمه کی هم د ټولو هیوادونو نه په هرلحاظ وروسته پاتې هیواد دی. که نه یې منو دا جدا بحث دی.

هر څوك د ځان لپاره جدا د قضاوت معیارونه لري. د اوسني یولسو کاندیدانو د معاونینیو په هکله د ولس سره ډیر سوالونه شته دی خو زما قضاوت د هر ټیم د مشر په هکله دی ځکه که کاندید سم نه وي نو بیا معاونین همیشه سر اخلي او که مشرسم وي نو بیا معاونین څه نه شي کولای. زما قضاوت د ماضي او حال په دې لاندې دریوټکو باندې ولاړ دی او په انتخاباتو کی به برخه اخلم:

**اول**: د کاندید سابقه ماته مهمه ده چې د خپل قدرت په وخت کې چې اکثریت یې وزیران او والیان دي، څومره د خپل کاري چوکاټ په محدوده کې فعاله و، څه ابتکار او لاسته راوړنه یې درلوده او که نه، او هم دې پخپله په فساد کې ککړ و او که نه؟

**دویم**: ایا کاندید کومه طرحه د راتلونکی حکومتدارۍ په هکله لري او که نه؟

**دریم**: ایا کاندید د دې پوهه او جرئت لري چې خپله طرحه عملی کړي او که نه؟

زما دا پورته قضاوت د کاندیدانو په ماضی کړنو او موجوده حالاتو په بنیاد دی. داچي ځوك يي ګټي هغه جدا خبره ده خو د راتلونکي جمهور رئيس په هکله قضاوت به د هغه په راتلونکي کارونو پوری اړه ولري چې ايا هغه وعدې يي چې د انتخاباتو په دوران کې د ملت سره کړې وې عملي کړي دي او که نه؟ ايا د ملت ستونزو ته يي د لارې حل پيداکړی او که د ملت ستونزي يي لانورې هم زياتې کړي دي.

دا د دي معنی نه لري که دکوم نوماند نه زه اوس ملاتړ کوم نو تر قيامت تر ورځي به د هغه نوماند تايد کوم ولو که کارونه يي سم هم نه وي. زه چا په پيسو اخستی نه يم، راتلونکی کی به هم ښه ته ښه او بد ته بد وايم. دا و زما قضاوت نور نو ګرانو دوستانو ستاسی خپله خوښه.

**د پورته لیکنی په هکله دوستانو زیاتي تبصری درلودې او زیادتره تاید کړی وه خو ښاغلي محمد اکرام افضلي ځانګړې تبصرې درلودې چې نظر یي د نورو سره متفاوت و. د ده دواړه تبصرې او زما ځوابونه دلته رانقلوم:**

ایډیالزم خپله هدف دی. په دنیا کې تغیر هم ایډیالستانو راوستی. په نوم ریالستان خو په هغه اکتفا کوي چې ورته په میراث کې پاتې وي. ټاکنې یوه جعلي پروسه ده چې د غرب ګوډاګیانو ته پکې مشروعیت په بیه اخستل کېږي. دغې پروسې ته مشروعیت ښنل د دین او وطن په خلاف کار دی. غربي ډیموکراسي په تیرو لسو کلو کې ثابته کړه چې دغه سیستم د ګوډاګیانو او جاسوسانو لپاره جوړ شوی او هیڅکله به هم د افغانستان لپاره ریښتونی زعامت برابر نکړي. د غربي استعمارګرو ځواکونو په شتون کې او د چورواکانو په نظام کې ټاکنې څه اهمیت لري؟ الله دې موږ ته بصیرت راکړي څو هم خپل ځان له ګمراهۍ وساتو او هم نورو خلکو ته د ګمراهۍ سبب ونه ګرځو.

ګران افضلی صیب! دا خبرې چې تا لیکلی زه ورسره موافق نه یم لکه څنګه چې تاسې زما د خبرو سره موافق نه یاست. دا ستاسې نظر دی او زه ورته د قدر په سترګه ګورم. که انتخابات نه وي نو

بله کومه طرحه شته دی او که نه؟ که مونږ په اوسني وخت کې د هر طرز فکر کسانو ته سم نظر واچوو او ستاسې په دې پورته فارموله کې يي تطبيق کړو نو افغانان ټول ګوډاګيان دی ځکه د هری طرح او نظر پیروان د یو چاله خوا په اول لاس، دویم لاس او یا دریم لاس حمایه کیږی او یا ترې امکانات اخلي. خو مونږ باید دا فکر وکړو چې د افغانستان مشکلات څنګه حل کولای شو.

**افضلي صيب بيا وليکل**:

مياخيل صيب زه تاسو سره موافق يم چې بايد د مشکلاتو د حل لپاره کار وشي اما دغه جعلي ټاکنې هم ځای نه نيسي. د بهرنی ځواکونو په شتون کې‌او د بون د تورې غونډې د سهم دارانو په واك کې آيا واقعا کوم بدلون راتلی شي؟ آيا دا هماغه چټلې څيرې ندي چې افغانستان يې په امريکايي يرغلګرو خرڅ کړی وو او په تيرو دوولسو کلو کې يې د افغان وژنې بازار ګرم کړی وو؟ زه ددې خبرې سره هم موافق نه يم چې ګواکې ټول افغانان ګوډاګيان دي ځکه چې ټول افغانان بهرني ګټو ته کار نه کوي او ډيری ايمانداره افغانان شته چې په نره د افغان ولس غږ پورته کوي او د استعمارګرانو د ظلم په خلاف ودريږي.

**زما ځواب ورته داسی و:**

افضلی صیب په احترام سره! تاسې بیا هم اډیال حالت بیان کړی دی د حل لار مو نه ده ویلې چې څه باید وشي او څنګه باید وشي. خفه کېږه رانه مه ځکه زه او ته سره ښه پیژنو او ملګری هم یو زما په اند دا خبرې راته هسې خیالي هوس ښکاري او فکر کوم چې افغانستان تصور مو په خیالي شکل په خپل ذهن کی ترسیم کړی دی. دا ښه کار دی چې اول سړی باید یو څهّ په فکر کې ولري او بیا هغه فکر لپاره کار وکړي خو عملي برخه یي راته هم غیر عملي ښکاري. ما هم نه دې ویلی چې موجوده وضع او څه چې په تیرو دیارلس کلونو کی شوی دي ښه دي ځکه زما مقالې او لیکنی خو ما له تاسې سره شریکې کړي دي او ما دا درك کړی، زما لیکنې په انګلیسي او پښتو ژبوچاپ شوي دی او دا ښه سند زما د نظر کیدی شي. د موجوده مشکلاتو په رڼا کې به په انتخاباتو کې هم مشکلات خامخا وي خو د انتخاباتو نه پرته هم بله لار نشته. انتخابات وسیله ده نه هدف. که هر څوك یي ګټي او همدا حالت وي نو بیا به هم افغانستان د مشکلاتو سره مخ وي. هغه به بیا په راتلونکې کې قضاوت کوو. بله خبره دا ده چې ته ماته ووایه چې افغانستان کله غیر استعماري نظام نه درلوده چې دبهر نه یي ملاتړ نه دی شوی؟ که دا کار په تیرو ۲۰۰ کلونو کی نه وي شوی نو په راتلونکې کی به هم امکان ونه لري. پژواك صیب ډیر پخوا ویلي و چې زه د هغه ملك نماینده یم چې ملك ازاد دی

او خلك يي غلام دي . ستا دملك وګړي چې په فقر کې ژوند کوي، ډيری ولس دی بيسواده دی او ټوله ورځ د يوبل خيرات خوری، د ګاونډيانو له خوا محاصره دی، څنګه دومره لوی او اډيال خبرې کولای شو. که د افغانستان تاريخ راته سم نه وي معلوم نو دا پنځه ديرش کاله تاريخ خو زمونږ په مخکې تير شوي دي، څه وشول، چا وکړل او چا راباندې وکړل او څنګه مونږ پخيله په غير شعوري توګه د دې ټولو بدبختيتو وسيله شو.

**ښاغلي اصيل خان ليکلی و:**

ډيره مننه مياخيل صاحب، څومره په ځای خبره ده [د اډياليزم د مفکورو پيروان هميشه د يوې لارې په تمه ناست وي او يا د هغه لپاره کارکوي کوم چې ده ته ښه ښکاري. داسې کسان ولو که نظر يي هم سم وي هميشه د ناکاميو سره مخامخ کيږي]. او که رښتيا رښتيا ووايو مونږ هميش د همدغه ايډياليزم قرباني شوي يو، هميشه د معجزو په تمه يو خو دا رانه هيره ده چې اوس د معجزو زمانه نه ده، اوس د عمل زمانه ده.

**د روسی فدراسیون په سوشي ښار کېد اولمپیک لوبې**

د فروری ۱۲مه نیټه، کال ۲۰۱٤م، کابل

**نن مې د روسې فدراسون د سوشي ښار کې د روانو اولمپیك د لوبو لست کاته چې افغانستان پکې دا ځل نه و نو سخت خفه شوم. دا یوه بله نښه ده چې په تیرو دوه کلونو کی افغانستان د پرمختګ په عوض شا خواته تللی دی. تیر ځل د افغانستان بیرغ د لندن په لوبو کی رپیده خو دا ځل تور، سور او شین بیرغ هلته نه ښکاري.**

**څرنګه چې ویل کیږی د خبرې نه خبري پیداکیږی نو عبدالله پیکار د پورته لیکنې په هکله لیکلی و:**

**جناب میاخیل صاحب! هغه ځل هم له افغانستانه ورغلو لوبغاړو غوښتل دخراسانیانو په نامه ګډون وکړي، ځکه لوبغاړي په کلي ډول د چنګیزي پنډیانو (هزاره ګانو) او غلام بچه ګانو (پنجشیریانو) څخه انتخاب شوي وو، یعنې افغان لوبغاړي ته په تیر ځل کې هم برخه نه وه ورکول شوې خوداچې دخراسان په نامه کوم خیالي هیواد تراوسه امریکایانو نه دی رامنځ ته کړی نو مجبوریې وه چې دافغانستان بیرغ یي لګولی و ، زه خفه نه یم چې خراسانیانو ته دګډون زمنیه برابره نه شوه .**

**ما ورته په خوب کې ولیکل چې:**

مننه پیکار صیب خو د څو تنو افراطي اشخاصو په خاطر چې په هر قوم کې شته دی مونږ باید دومره د افراط خواته لاړ نشو. په هر قوم کې ښه او خراب شته ځکه تا په قوسینو کې نومونه مشخص کړي دي او دا سمه خبره نه ده. یو شاعر وایي:

چې یې مور وی په دی خاوره زیږولی
که په هره ژبه ګویا وی خو افغان دی

**خو پیکار صیب بیا لیکلی و:**

ستاسې حسن نیت او حسن نظر ته په بیا بیا احترام، مګر زه اوس ډاډه نه یم چې موږ بویه یو ملت یو، موږ پاشلي خواره واره متخاصم قبایل یو، چې دتاریخ جبر په دغه جغرافیه کېسره راټول کړي یو ، په دغې جغرافیه کېچې افغانستان یې بولي دپښتون په نامه قبیلې دخپلې ناغیرۍ او بې ځایه غرور له کبله ډیر څه لاسه ورکړي او ډیر څه له لاسه ورکوي، کېدی شي چاره یې دا وي چې یا هم دیوې داخلي جګړې په صورت کې غیر پښتانه اقلیتونه تر وروستي بریده وتکول شي او هیواد یې له شره خلاص شي، او یا هم پښتانه دهیواد یوه برخه غیر پښتنو اقلیتونو ته په سوله ییز ډول پریږدي ځکه تر دې وروسته تجزیه شوي افکار او روحیات نه پیوند کېږي، پښتانه باید دا نوښت ولري چې له غیر پښتنو څخه لومړی په سوله او که نه کېږي په شدید جنګ ځانونه بیل کړي.

پښتانه بې له دې هم وژل کېږي، که چېرې په سنجول شوي ډول درې میلیونه پښتانه قرباني ورکړي، خاین اقلیت په کلي توګه دومره تضعیف کولی شي چې بیا به خپل سر او پښې احساس نه کړی شي. که داسې نه وی تقلبي شعارونه ددې هیواد مشکل نه شي حل کولی، یوه سمه پریکړه په کار ده.

**احمد شاه حقوقی صیب د پیکار صیب په ځواب کی لیکلی و:**

د سورت الحجرات ایت مبارك: یا ایهاالناس انا خلقناکم من ذکر و انثی وجعلناکم شعوبا وقبائل لتعارفوا ان اکرمکم عند الله اتقاکم . أي خلکو تاسو مو له یو نر او یوي ښځې نه خلق کړی یاست او تاسو مو قومونه او قبیلی ګرځولي یاست په دې خاطر چې یو بل سره وپېژنئ او نزدې شخص الله ته هغه څوك .قریب دی چې تقوا ولري . . نو سبب معلوم شو چې الله جل جلاله ولی قومونه او قبیلې پیدا کړي دی (لتعارفوا) نه په دې خاطر چې (لتفاضلوا ). هدف معرفت اقوام است نه فضیلیت قوم به قوم دیگر مگر استناد به تقوا وپرهیزگاری.

**د پیکار صیب د لیکنی په هکله ما بیا ولیکل:**

پیکار صیب ستاسی نظر خپل دی او زما خپل خو داسې افکار نه د پښتنو مشکل حل کولی شي او نه د افغانستان. بله خبره دا ده پیکار صیب که افغانستان تجزیه کېدلی شو نو اوس به د وخته تجزیه شوی وی. د شمال په پښتنو څه کوې؟ د یو قوم له منځه وړل

او یا حتی د یوانسان له منځه وړل جنایت دی که هر څوك یې کوي.

**پیکار صیب یو ځل بیا ولیکل:**

مننه جناب میاخیل صاحب ! خو زه وایم ، پښتون چې له خپل ورور سره په جنګ کې وژل کېږي، په کار ده له هغو اقلیتونو سره په جګړه کې ووژل شي، چې ددوی هویت له منځه وړي. خدای دی وکړي چې تاسې رانه خفه شوي نه یاست . ستاسې پروال مې دا ګوستاخي وکړه . په ډیر معذرت.

**استاد غلام دستګیر خاورین د دی بحث په اخره کی ولیکل:**

ما ستاسو دواړو په دیالوګ کی د ملي فکر پر بنسټ خبرې او د قومي او قبیلوي فکر بر بنسټ خبرې سره پرتله کړې. د ملي فکر پر خاوندانو څوك نیوکه نشي کولای خو قومي او ژبني مفکورې د انسان د فکر دایره تنګوي. هیله ده پښتانه دې دنورو پیښې نه کوي. بلکې له پښتنو سره پراخه سینه او زغم ښایي. تنګ نظري نورو ته پرېږدی.

## د افغانستان مشکل د مدیریت دی نه د نظام د جوړښت

د فروری ۱۳مه نیټه، کال ۲۰۱٤م کال، کابل

بعضی حلقی او د مطبوعاتو رسنۍ دې بحث ته لمن وهي چې ایا افغانستان کې ریاستي نظام ښه دی که پارلماني اویا مختلط. فکر کوم چې په دی بحثونو د خلکو او هم سیاستوالو وخت ضایع کیږي ځکه د دنیا په ټولو هیوادونو کی دا تجربې تکرار شوي دي. که مونږ لنډ پاکستان او هندوستان ته وګورو دواړو هیوادونو ته تقریبا یو قسم سیستومونه د انګریزانو له خوا پریښودل شوي و خو هندوستانیانو مدیریت او رهبریښه وه نو نن هندوستان ته د دنیا لویه دیموکراسی وایي او پاکستان لا هم د ستونزو سره مخامخ دی. همداشان، د امریکا ریاستی نظام چې د قواو په تعادل ولاړ دی کامیابه دی خو په بعضی نورو ځایونو کی بیا داسی نظام ناکامه دی ځکه یو قیمتي ماډل د حکومتدارۍ دی. یورپ کې جرمني فدرالي نظام لري، فرانسه مختلط نظام لري، انګلستان شاهي او پارلماني نظام لري، درې واړه سره پرمختللي هیوادونه دي او هم سره ښي اړیکي لري.

زه همیشه دا مثال ورکوم که د یو نوي ماډ ل موتر چلونکی ښه نه وي او په غلط لاس روان وي او بې احتیاطه موتر چلوي نو خامخا به ټکر کوي هم به ځان خوږوي او هم به نور او منزل د مقصود ته نشي رسیدلی خو که ښه ډریور په زوړ موټر کی ناست وي او د احیتاط نه کار واخلی نو هم نورو ته ضرر نه رسوی او هم منزل د مقصود ته په ښه توګه رسیدلی شي. نو په دې توګه د نظامونو ماډلونه او بدلونونه د افغانستان مشکل نه شي حل کولای.البته په

دی نظام کې د موازي او متعدده ادارو له منځه وړل ضروري دي او هغه یو قوی مدیریت چې سیاسي اراده ولري سمولی شي.

## څوک زيات محتاج دی؟

د فروری ۱۳مه نیټه، ۲۰۱٤م کال، کابل

**انانیکه دارا تر اند از همه محتاج تر اند**

**وایی ماړه (پیسه داره) د ټولو نه زیات محتاج دی**

ډیره ساده اصطلاح خو ډیر ژور راز په کی پروت دی. څوك چې زيات ماړه (پيسه داره) دی زيات محتاج ځکه دي چې د ښځې، بچو، خپلوانو، ملګرو، ګاونډيانو، باډی ګاردانو، اشپز، ولس او د هر چا خيال به ساتي او که يې ونه ساتې نو بيا هر يو ورپسې خبري کوي او وايي ګوره چې ځان يي ورك کړی دی او که خوار شو يعنی غريب شو نو بيا خو د هر چا د مسخرو او خندا شې. ماړه هميشه په ويره کې هم وي، هم د ځان نه ويريږي اوهم د نورو نه. يوه قصه می راپه ياد شوله، زمونږ په سيمه (خاص کونړ) کی يو لوی سود خورو چې مشرانو به ويل چې شل لکه روپی يي درلودلې، پخوا شل لکه روپۍ ډيري زياتې پيسی وې. خو کله به چې په خپله خونه کې ويده کېده نو خپله ښځه به يي هم په کوټه کې د ځان سره نه پريښوده چې ګوندې د پيسو په خاطر يي مړ نه کړي. نو ريښتيا ده چې ماړه د ټولو نه زيات محتاج او ويروندونکي وي.

**د افغانستان نه د شوروی اتحاد د قواو د وتلو په وخت یوه لنډه خاطره**

د فروری ۱۵مه نیټه، کال ۲۰۱٤ م، کابل

د **۱۹۸۹**م کال د فروری په **۱۵**مه نیټه د پخواني شوروي اتحاد د قواو د وتلو نه څو ورځې د مخه د پخواني شوروی اتحاد خارجه وزیر ادوارد شیواردنازه د فروري د میاشتې په څلورمه نیټه پاکستان ته عاجل یو ورځني سفر وکړ ترڅو د ملګروملتونو د قرارداد په اساس د موقت حکومت په سر رامنځته شوی رکود ته د حل لاره پیداکړي. په تیرو شلو کلونو کې د پخواني شوروی اتحاد دا لومړنی لوړ پوړی چارواکې و چې پاکستان ته یې سفر وکړ. مجاهدینو او پاکستانیانو په دې ټینګار کاوه چې په موقت حکومت کی باید هغه څوك نه وي چې د ملت په وینو یې لاسونه سره وي. په هغه وخت کی زه په پیښور کی د امریکا غږ رادیو خبریال وم نو بعضې سرچینو ماته ویلې و چې شوروی اتحاد دې ته حاضر و چې که په موقت حکومت کې د کابل رژیم ته دوه کسه د وزیرانو په توګه ومني نو دوی حاضر و چې معامله وکړي او موقت حکومت ته لاره هواره کړي خو مجاهدینو مشرانو او پاکستانیانو یو کس هم د کابل رژیم په موقت حکومت کی نه مانه. باالاخره شوروی اتحاد قواوی د فروری په **۱۵**مه نیټه د افغانستان نه ووتلې او د ډاکتر بجیب الله رژیم درې کاله نور هم مقاومت وکړ. د روسانو د وتلو نه وروسته د امریکا خاص استازی پیتر تامسن په جینیوا کې د پخوانی شوروی اتحاد د استازو سره د خبرو نه

وروسته پیښور ته راغی او د مختلفو رسنو د استازو سره یې هم غونډه درلوده. مونږ ترې پوښتنه وکړه چې روسان د افغانستان د مسله په هکله څه نظر لري. پیتر تامسن وویل چې کله دوی د افغانستان مسله د شوروی اتحاد د پلاوی سره مطرح کړه نو هغوی ورته وویل چې دوی د افغانستان د مسله په هکله خبری نه کوي ځکه دوی اوس په افغانستان کی نه دي او که تاسې د افغانستان د مسله په هکله خبری کوی نو لاړ شی د کابل د حکومت سره خبرې وکړئ. هغه وخت د امریکا حکومت د کابل رژیم په رسمیت نه پیژانده.

اوسني حالت ته چې ګورم نو زما هغه وخت نن راپه یاد شو نو ځکه می دا خاطره د تاسې سره شریکه کړه. په دې وخت کی د امریکا د قواو د وتلو او نه وتلو خبری روانې دي. د افغانستان حکومت وایي چې امریکا د صلح خبرو لپاره خنډ دی او نه غواړي چې طالبان د افغانستان د حکومت سره خبرې وکړي. که امریکا د افغانستان نه ووځي نو شاید امریکا او پاکستان دواړه د افغانستان حکومت ته ووایي چې تاسې پوه شئ او طالبان. خو د کابل حکومت ته به بیا شاید مشکله وي چې د خبرو اترو له لاری څه په لاس راوړي.

## وايي که د ټوپک نه زړه بدوې نو ننبه ورته لرې کېږده

د فروری۲۲مه نیټه، کال ۲۰۱٤ م، کابل

دا د هر انسان وجيبه، مکلفيت او مسووليت دی چې د بل انسان سره د مسلمانی، بشردوستی، ګاونډيتوب، وطن دوستی، انډيوالۍ او يا د خپلولۍ په چوکاټ کې مشروع مرسته وکړي، لاس ورکړي تر څو يو بل انسان د محکوميت او بيوزلۍ حالت نه راوباسي او يا د وخت د ضرورت پر اساس ورسره د وسې او توان په اندازه کمك وکړي. شايد دا مرستې مادي، اخلاقي او يا د رهنمايي په چوکاټ کې وي.

خو په افغانستان کې کارونه سرچپه دي. اول زمونږ زيادتره وګړي د يوبل نه نا مشروعه مرستې غواړي او يا داسې مرستې غواړي چې د سړي په وس پوره نه وي. که چا د خپلودوستانو، خپلوانو او يا پيژندګلو، نامشروعه هيلې او يا د وس نه د باندې غوښتنې پوره نه کړې نو سمدستي ورپسې ډانډس وهي، ورنه خوابدی کېږي اوکله چې مخامخ کېږي نو سمه سترګې مشي هم ورسره نه کوي. د دې کسانو عجيبه قضاوت دی، ځکه مرسته د انسان د وس او امکاناتو په چوکاټ کې هميشه محدوده وي. زما په اند اول خو خدای دې هيڅوك يو بل ته نه محتاجوي خو که محتاج هم شو او چا ورسره مرسته ونه کړه نو بايد دا کس د ځان سره فکر وکړي چې دغه کس که ګټه ورته نه ده رسولې نوضرريې خو ورته

هم نه دی رسولی او باید ورپسې بیځایه ډانډس ونه وهي او یا بیځایه ګیلې او ګذارې ونه کړي. دا مشکله ده چې یو کس د بل چا د ټولوحالاتو نه خبروی ولو که نږدې دوست او ملګری یې هم وي. نو دا متل دلته ښه صدق کوي چې غواړې د ټوپک نه زړه بد کړې نو نښه ورته لرې کېږده. که څوك غواړي چې د بل چانه خفه نه شي نو بیځایه او نامشروع توقعات باید ورڅخه ونه کړي.

## د کونړ ولایت د غازی آباد په ولسوالي کې د ملی اردو د سرتیرو دشهادت په یاد

د فروری ۲٦مه نیټه، کال ۲۰۱٤ م، کابل



عکس د فیسبوک نه

د کونړ ولایت د غازی آباد ولسوالۍ کې د ملي اردو د یوویشتوځوانانو شهادت د افغانستان ولس ډیر زیات خواشینی کړی دی. د دې پاکو شهیدانو د کورنیو سره د افغانستان ټول ولس ژوره غمرازي وښودله او دا یي نړۍ ته وښودله چې په افغانانو کې ملي احساس او غرور اوس هم ډیر اوچت او ژوندی دی. د افغانو ملي احساس نه وژل کیږي او نه افغانستان څوك

ټوټې ټوټې یا تجزیه کولی شي او که دا کار کېدلای نو په تیرو ځلورو لسیزو کې به لا پخوا شوی وی خو دا نا ممکنه ده. دافغانستان ستونزه په ولس او یا قربانیو ورکولو کې نه ده. افغانانو همیشه قرباني ورکړې او لایي ورکوي او دې ته همیشه چمتو دي چې د خپل هیواد نه دفاع وکړي او د دې هیواد ملي حاکمیت وساتي. د افغانستان ستونځه د سیاسي مدیریت کمښت دی چې د ولس د زور او قوت نه سمه ګټه نه اخستل کېږي ترڅو دا هیواد په خپلو پښو ودریږي. هغه مصیبتونه چې زمونږ په کنټرول کې نه دي او یا افاقي پیښیږی، دا ستونزمنه ده چې د داسې ستونزو مخه ونیول شي خو هغه ستونزي چې مونږ په خپل لاس پخپله جوړې کړي دي او یا زمونږ په کنټرول او د نفوذ په ساحه کې دي د داسې مصیبتونو مخه باید مونږ پخپله ونیسواو پړه یي باید په بل وانه چوو. د افغانانو زیاتي ستونزي Man Made Disasters یعنی په خپل لاس جوړي شوې ستونزې دي چې د دې ستونزو سره Natural Disasters یعنی طبعي ستونزي (د ګاونډیانو او بهرنیانو مداخلې او یا په وچه کې مهار بودن، د خپلو منابعو نه سمه ګټه نه اخستل) یا هغه ستونزې چې زمونږ د کنټرول دساحه نه وتلي دي یوځای شوي دي چې د افغانانو ستونزې یي څوچنده کړي دي. که مونږپه خپل ځان پخپله رحم ونه کړو نو د نورو نه د رحم تمه باید هم ونه لرو. د دی ټولو شهیدانو روح ته سلام او د دوی کورنیو ته دالله له درباره صبر جمیل غواړم.

**افغانستان ټیم د کرکټ لوبه د ایشایي کپ په سیالو کې د بنګله دیش نه وګټله**

د مارچ لومړی نیټه، کال ۲۰۱٤ م، کابل

نن د افغانستان ټیم د کرکټ لوبه د اسیایي کپ په لوبو کې د بنګله دیش نه چې د نړۍ په کچه مهم ټیم دی وګټله.د کرکټ بریا ټولو افغانانو ته د افتخار ځآی دی خدای دی افغانان په هر ډګر کې بریالي لري. په افغانستان کې اوس مهال سیاسي لوبې یعنې د ولسمشرۍ انتخاباتو سیالۍ رواني دي. که زمونږ سیاسي لوبغاړو د کرکټ په شان چکه ووهله نو همداسې خوشالي به وطن ته راوړي چې څنګه زمونږ د کرکت لوبغاړو راوړه او که وسوزیدل نو خدای دی د دی وطن مل شی.

## د بعضي ملکانو ملکی ګرمه ده خو وټ نه لري

مارچ دریمه نیټه، ۲۰۱٤ م کال، کابل

تیره اونی د خاص کونړ په ولسوالۍ کې د ځوانانو د ټولنو د غړو، مشرانو او استادانو سره مې د راتلونکې انتخاباتو په هکله خبرې درلودې نو یو تن ملك راته وویل که دی له یو کاندید نه پیسې واخلي او بیا ډاکتر صیب اشرف غني ته کمپاین وکړي نو په دې هکله زما څه خیال دی؟ ما ورته وویل چې زه دا کار نه کوم او نه بل ته دا توصیه کوم چې د چا سره دوکه او چل وکړي. مونږ با ید ځوانانو ته د اوس نه د چل او دوکې لار ونه ښایو او نه دوی چل او دوکې ته تشویق کړو. د دغه ملك صیب په دې خبره ډیر ځوانان ډیر خفه شول او وویل چې دوی ډاکتر صیب اشرف غني ته بې له کوم امتیازاتو او په خپلومصارفو کمپاین کوي. داسې راته ښکاره شوله چې بعضې ملکان هر دربار ته ورځي او د کاندیدانو نه څه پیسې شکوی یعنې وړه او غټه شوړه وهي خو دا راته هم جوته شوله چې په شوړو وهلو او یا ورکولو په دې انتخاباتو کې څوك رایه نه شي اخستلی ځکه ولس اوس بیدار شوی او د افغانستان اکثریت چې ځوانان دي د دا قسم خبرو نه يي بد راځي. زما په اند دوکه اوچل خو د انسان سره پریږده د حیواناتو سره هم سمه خبره نه ده. څوك چې د چا نه ملاتړ کوي په ښکاره دې وکړي ځکه دا د هر افغان حق دی چې د خپلې خوښې نوماند ته رایه ورکړي خو دوکې

ورکول ښه کار نه دی. نو په دې توګه د بعضي ملکانو ملکي ګرمه ده خو وټ نه لري.

د پسرلی صیب دا شعر هم د پورته لیکنی سره ښه صدق کوي:

رانده ټول عــمر پتې سترګې په امسا پسې ځي
بینا هغه دی، چې هم لارې هم رهــــــبر بدلوي
نه زور منطق چـــــلیږي یاره نه زاره فکـرونه
ځیرك زلمی په تادوه جنګ کــې هم سنګر بدلوي

**داکتر صیب ابراهیم شنواری د پورته لیکنې په اړوند لیکلي و:**

دا مسئله یو بل رواني اړخ هم لري. که یو ځل دې چا نه پیسې واخیستې او کار دې هم ورته ونه کړ، ستا روحیات هغه ته مات شول. که بل ځل ترې پیسې یا امتیاز واخلي نو کار هم ورته کوي. هغه څوك چې یو ځل وښوییږي د بیا ښوییدو چانس یې ډیر دی.

## ولې مو د داکتر صیب اشرف غنی احمدزی نه ملاتړ وکړ؟

د مارچ د میاشتی لومړی نیټه، ۲۰۱٤ م کال، کابل



په کونړ کې د داکتر صیب اشرف غنی احمدزی د دفتر د پرانیستلو په غونډه کې دوستانو زما دا پورته انځور د خبرو کولو په وخت کې اخستی اوپه فیسبوك کې يي خپور کړی و نو ما هم له تاسی سره شريك کړ.

د دې نه برسیره چې داکټر صیب اشرف غني احمدزی د نړۍ په کچه مفکر او عالم شخصیت دی، د څلورومشخصو اهدافو په خاطر مو د ډاکتر صیب احمدزي نه ملاتړ وکړ:

**اول**: د افغانستان د ثبات او د نظام د ښه کېدو لپاره زما په اند یوازنۍ لار د جمهوری رياست لپاره د **۱۹۹۳** هجري شمسي کال

راتلونکې ټولټاکنې دي. په دې توګه د افغانستان د راتلونکې په هکله باید هیڅ یو افغان او په خاصه توګه د هیواد تعلیم یافته او با سواده قشر(ځوانان، ښځي او نارینه) بی تفاوته پاتې نه شي.هر افغان باید د اساسي قانون په رڼا کې د خپل حق نه سمه او پرځای ګټه واخلي او خپله رایه باید د خپلې خوښې نوماند ته ورکړي. مونږ یوازې د یولسونوماندانو نه یو خوښولوی شو اود پوره سوچ او فکر نه وروسته مې د ډاکتر صیب احمدزي د نوماندتوب نه ملاتړ وکړ. دا چې بعضې دوستان په دې نظر دی چې په دې وخت کې سم او شفاف انتخابات ستونزې لري دا دهغوی نظردی خو ما ته بله سمه لار په نظر نه راځي. که غواړو چې افغانستان د بحران او لاریاتو ستونزو سره مخامخ نشي، په انتخاباتو کې باید برخه واخلواو دهیواد د سیاسي مسایلو په اړوند بې تفاوته ونه اوسو.

**دوم**: داکتر صیب اشرف غنی احمدزی د یوه کاله راپدې خوا د هیواد د یو شمیرمهمو شخصیتونو په تفاهم یو ښه پروګرام د افغانستان د راتلونکې حکومتدارۍ په اړوند د ملې اجنډا په نامه جوړ کړی چې کله کله ما هم پکې برخه درلوده. زما په اند دا یوازنی پروګرام دی چې ولسمشربه خپل دفترپه ولسواکۍ بدل کړي. ولسمشر مجبور نه دی چې هر څه پخپله وکړي او د اساسي قانون په چوکاټ کې به صلاحیتونه په ملي او محلي کچه پوه، با تجربه او پاکو اشخاصو ته وسپاري.

**دریم**: کله چې په ملي اجنډا باندې توافق راغی نو بیا دا مهمه نه وه چې څوک ولسمشر وي. په همدې اساس د یوسلسله هلوځلو نه وروسته د هیواد مهمو شخصیتونو د ډاکتر صیب اشرف غني احمدزي د ملي اجنډا په پروګرام توافق او د ده د نوماندۍ یې ملاتړوکړ. چې لومړی منډ (پل) د فرورۍ په پنځمه نیټه د فکر او عمل جرګې مشر او د هیواد او د سیمې په کچه نامتو لیکوال، مورخ او د پوځي چارو متخصص پروفیسور علي احمد جلالي، چې د کورنیو چارو وزارت پخوانی وزیرو، مات کړ. پروفیسور جلالي په کابل کې د یوی لوی غونډې په ترځ کې چې په زرګونو کسانو په کې برخه درلوده، د ډاکتر صیب اشرف غني احمدزي له نوماندۍ نه خپل ملاتړاعلان کړ. د ډاکتر صیب د نوماندۍ نه د ملاتړ لړۍ د یونه د بل پسې روانه ده او د دېکمپاین موجونه د ولس په منځ کې څپې وهي. په دې اساس د ډاکترصیباحمدزي د ملی اجندا د پروګرام نه یو شمیر زیات د هیواد برجسته شخصیتونه چې لاسونه یي په فساد، سمت او سمت بازۍ اویا قومي او ژبني اختلافونو ته په لمن وهلوکې ککړ نه دي او ملي ګټو ته وفاداره دي، ملاتړ کوي او د ډاکتر صیب احمدزی د ټیم غړي دي. هیڅ نظام بی له یو ښه ټیمه کامیابیدای نشي او دا ټیم دومره قوت لري چې د بعضې هغه اشخاصو مخه ونیسی چې د دې هیواد لپاره یي په تیرو څو لسیزو کې ستونزې پیداکړي دي او د قانون حاکمیت یې د سوال لاندې راوستی دی. دا محالډاکتر

صیب احمدزی په هیواد کې د ښه حکومتداری، د قانون حاکمیت او د افغانستان د انکشاف لپاره په ټولو ساحو کې ښه پروګرامونه او متحد ټیم لري چې یوازې په ملی اجنډا سره راټول شوي دي نه د چوکیود ویش په اساس. ډاکتر صیب احمدزي په کراتو ویلي چې دی به قدرت د شخصی سهامی شرکت نه د ملي ګټو په شرکت بدل کړي.

**څلورم:** د ملی اجندا او ښه ټیم تر څنګ، د افغانستان راتلونکی ولسمشر باید سیاسي اراده او جرئت ولري چې خپل پروګرامونه عملي کړي. که یو مشر سیاسي اراده او جرئت ونه لري ولو که ښه نیت، ښه اجندا او پروګرامونه او ښه ټیم هم ولری نشي کولای چې خپل پروګرامونه عملي کړي.زما په اندډاکترصیب احمدزی دا جرئت او سیاسي اراده لري او پخوا یي هم په خپلو نورو دندو کې ثابته کړې ده نو مونږ باوري یو چې دی به خپل پروګرامونه عملي کړي. دا په جرئت سره ویلی شم چې زما دا ملاتړ د چوکۍ، پیسو او یا نورو معاملو او دسیسو لپاره نه دی او که هرمشرپه هر وخت کې د ملي اجندا په خلاف کار کاوه نو دا جرئت لرم چې پرې انتقاد وکړم او لااقل د هغه په ماته کشتۍ کې سپور نه شم. د افغانستان د بریا ، سوکالی او آرامی په هیله.

**ایمل شمس نیوکه کړی وه چې**:

میاخیل صیب، یوازینی تشویش چه ټولو لپاره دی، هغه د هغه چارواکو نه دی، چه په دې اوسنی حکومت کې په لوړه پوستونو کې دي. د دوی موجودیت اوس حکومت د سوال لاندې راوستی او حکومت حکومت نه ښکاري. یو باډي ګارډ د سرك پر سر پولیس افسر په مخ وهي. یو باډی ګارډ په محکمه کې قاضي باندې حکم کوي. نو اوسنی حکومت د غلو، بدماشانو حکومت دی. همدا وجه ده چه د دنیا بدنام ترین حکومت لقب یي خپل کړی. اوس ددې بدنامه حکومت ۹۰فیصده چارواکې ددې اوسنیو ۱۱ کاندیدانو معاوینین، د شورا غړي، او مهم کسان شمیرل کېږی. نو څه ګرنټي ده چه دغه بدماشان به ددوی په اداره کې نه وي. او دکرزي د حکومت دوام راته ښکاري.داخبرې چه څومره کېږي دا یوازې شعارونه دي. ماته عملي نه ښکاري . په خبرو کلي نه ابادیږي. عملي تګلاره پکار ده.

**د ایمل شمس صیب په ځواب کې ما ورته ولیکل**:

شمس صیب سلامونه! دا وران ویجاړ وطن، **۳۵** کلن مریض په یوه نسخه ښه کېدلای نشي که یوې نسخې څه نتیجه ورکړه نو بیا نوری نسخې هم موثریت لرلی شي. که تاسې ته کومه بله نسخه چې عاجله شفا دې وطن ته راولي او کومه معجزه رامنځته شي نو راته یي وښایه ځکه زه هم ورپسې سرګردانه ګرځم او همدا زمونږ دټولو ارزو ده چې دا وطن ارام شي که هغه د هرچا په وجود کې

وی فرق نه کوي همدا لوبغاړي لرو که چکه (د کرکټ د لوبې شپږزه) يي ووهله نو د کامیابۍ په لورې به ځو که وسوزیده نو بیا دې خدای د ټولو مل شي.

**د پای خبره**:

**که خدای عمر راکړ نو نور داسې لیکنې او بحثونه به په راتلونکي کتاب کې راټول او درنو لوستونکو ته وړاندې کړم.**

په کونړۍ مینه او درنښت